# سیګار

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

د 2013 کال د جنوري 30 نیټه



د متحده ایالاتو کانګرس ته رپوټ

# د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار ځارنې ماموریت د قانون لخوا داسې تعریف شوې دی چې د هغو بسپنو، پروګرامونو او عملیاتونو په اړه

- چې د افغانستان بیارغونې لپاره تخصیص شوي یا هم په کومه بله لاره ورکړ شوي دي، پلټنې او تحقیقات په خپلواکه توګه په لاره واچوي او ترې نظارت وکړي.
- د هغو وړاندیزونو او پالیسیو مشري او همغږي کول چې د پروګرامونو او عملیاتونو د اقتصاد، موثریت او ګټې زیاتولو لپاره په پام کې نیول کیږي، او په داسې پروګرامونو او عملیاتونو کې د پیسو ضایع کیدو، چل، او ناوړه کارونې موارد موندل دي.
- داسې وسیلې چې د یادو پروګرامونو او عملیاتونو د نیمګړتیاو او ستونزو په اړه د بهرنیو او دفاعي چارو وزارتونه په بشپړ ډول خبرداره وساتل شي، او د اصلاحي کړنو ضرورت او پرمختګ ورته په ګوته کړي.

د افغانستان په بیارغونه کې هر هغه لوی قرارداد، مرسته، هوکړه لیک، یا د مرستې هر هغه میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا اداري لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شوو یا په هر ډول چمتو شوي پیسو په کارولو سره پلي کیږي.

سرچینه: P.L. 110-181، ”د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،“ 1/28/2008

(د دې رپوټ د هغو منځپانګو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**

**د افغانستان په فراه ولایت کې ماشومان**، د هغه ګوډي پرانونو سره لوبې کوي چې د افغان محلي پولیسو د صاحب منصبانو له لوري ورکړ شوي. (د DoD/USMC تصویر)

# په افغانستان کې د سیګار څارونکي ماموریت



ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان بیا رغونې لپاره

زه خوشاله یم چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونیزو مرستو په هکله د سیګار اتلسم درې میاشتنۍ رپوټ وړاندې کوم.

مونږ یو بحراني وضعیت ته رسیدلي یو. تر دوه کاله وروسته به د متحده ایالاتو د پوځ جنګي ماموریت په افغانستان کې پای ته رسیدلی وي، د افغانستان نوی ولسمشر به وټاکل شي، او د امنیتي چارو مسولیت به افغان حکومت ته وسپارل شي. دا پیښې کیدی شي په افغانستان کې د بیارغونیزو هڅو منظرې کې بنسټیزه بدلون راولي، او په نږدې وخت کې کانګرس 113 دورې پده اړه لوړه کړې ده چې دا ډېره مهمه دوره به اداره کوي. د دې دورې کانګرس غړي به د افغان اقتصاد پیاوړی کولو لپاره، او د حکومتولي وده موندلو لپاره ، د افغان امنیتي ځواکونو سره د متحده ایالاتو د مرستو کچه معلومه کړي.

د متحده ایالاتو کانګرس د افغانستان بیارغونې لپاره نږدې 89 میلیارده ډالره مرسته کړیده — متحده ایالاتو د هیڅ کوم بل هیواد د بیارغونې لپاره دومره مرسته نده کړې. د 13.8$ میلیارده ډالرو له جملې څخه چې په 2012 مالي کال کې د بیارغونې څلورو لویو پروژو لپاره تخصیص شوي و، نږدې 8.6 میلیارده ډالر یې تر اوسه ندي مقید شوي. د ولسمشر لخوا د 2013 مالي کال لپاره وړاندیز شوې بودیجه کې د افغانستان بیارغونې لپاره نږدې 10 میلیارده ډالر غوښتل شوي دي. که چې دا مقدار تخصیص ورکړ شي، نو د هغو مرستو کچه چې د پلي کونکو ادارو لپاره مقید کیدو ته چمتو دي 19 میلیارده ډالرو ته رسیږي. مونږ باید هرومرو ډاډه شو چې دا مرستې په عادلانه توګه لګیږي او د خوښې پایلې لري.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو سره د فرصتونو تنګیدل ، او د مالیه ورکونکو ډالرو بې سابقه پانګه اچونې په نظر کې نیولو سره، سیګار پدې اړه تحقیق کوي چې تراوسه مو له افغانستانه څه زده کړي او دا زده کړې څنګه کولی شي د پاتې مرستو سمه کارونه ډاډه کړي.

پداسې حال کې چې په افغانستان کې ډیر پرمختګ شوی، سیګار د 2009 کال څخه راهیسې په مکرره توګه د بیارغونې په ګڼو ساحو کې د ستونزو شتون ته — د ناکافي پلان جوړونې، همغږۍ، او کمزورۍ اجراتو څخه نیولی د پرمختګ د ارزولو لپاره د معنالرونکې احصایې نشتون پورې — اشاره کړې ده. مونږ په زیربنایي پروژو کې د ځنډونو، کمزوری رغونې، او د حد زیات لګښت کولو ګڼ مثالونه موندلي دي. مونږ د متحده ایالاتو په مرسته داسې جوړ شوي تسهیلات هم موندلي چې د خپلې موخې لپاره نه کارول کیږي. دا ستونزې که څه هم د فرصتونو او بې حسابه پیسو د ضایع کیدو لامل شوي، په څنګ کې یې ډیر شیان را زده کړي هم دي.

## اساسي پوښتنې

مونږ د خپلو کارونو، د نورو ځانګړي عمومي پلټونکو او د دولت د حساب ورکونې دفتر د کارونو په بنسټ دا لاندې پوښتنو پر ارزښت ټینګار کوو او باور لرو چې له پریکړه نیونکو سره مرسته کوي تر څو د پاتې بیارغونیزو بسپنو د سمې کارونې لپاره سمه پریکړه ونیسي. د دې رپوټ 1 برخه دا پوښتنې په تفصیل سره څیړي:

- آیا دا پروژه یا پروګرام د متحده ایالاتو د ملي ګټو یا سټراټیژیکو موخو په لاسته راوړلو کې واضحه مرسته کوي؟
- آیا افغانان دا غواړي او اړتیا ورته لري؟
- آیا دا پروژه یا پروګرام د افغان دولت، نورو پلي کونکو ادارو، او نړیوالو بسپنه ورکونکو سره همغږې شوي دي؟
- آیا امنیتي شرایط په موثر ډول پلي کولو او څارلو ته اجازه ورکوي؟
- آیا دا پروژه یا پروګرام داسې حفاظتي ګامونه لري چې اداري فساد، تشخیص، مخنیوی او یاهم لږې کچې ته راټیټ کړي؟

2530 CRYSTAL DRIVE ARLINGTON, VIRGINIA 22202

- آیا افغانان د پروژې یا پروګرام پرمخ بیولو لپاره مالي سرچینې، تخنیکي ظرفیت، او سیاسي واک لري؟
- آیا پلي کونکي ادارې د پایلې ټاکلو او د بریالیتوب د اندازه کولو لپاره ریښتونې محاسبې رامینځته کړې دي؟

ترکومه حده پورې چې ادارې دې پوښتنو ته مثبت ځوابونه ورکړي، مونږ باور لرو چې دا پروژه یا پروګرام مثبت بدلون لري او خپلې موخې ترلاسه کوي. پهرصورت، که چیرته پلي کونکي ادارې دې پوښتنو ته مثبت ځواب ورنکړي، مونږ باور لرو چې دوی د خپلې پروژې بیا ارزولو ته اړتیا لري. او که چیرې دوی بیا هم غواړي خپله پروژه پرمخ بوزي، دوی باید خپل دې کار لپاره څرګند دلایل راوړي.

سیګار به په خپلو پلټنو، تحقیقاتو او تفتیشونو کې دا اساسي پوښتنې په پام کې ونیسي. مونږ به د پروژو توجیه کولو څخه څارنه وکړو، او کانګرس هم دې کار ته هڅوو، ځکه چې پداسې بحراني وضعیت کې ناتضمین شوي پروژې او یا داسې پروژې چې د واقعي بریالیتوب چانس یې کم وي د ضایع کیدو له جدي ګواښ سره مخ دي.

سیګار په ځانګړی توګه په دې اړه اندیښمن چې د پوځي سرتیرو ایستل به د بیارغونې له مصارفو څخه څارنې باندې څه اغیزه ولري. سیګار او نورې پلټونکې ادارې د کابل څخه د باندې تر یو حده پورې د پوځي ترانسپورت او ساتنې پورې اړتیا لري. د متحده ایالاتو د پوځ له کمیدو سره سره د افغانستان په لرې پراته سیمو کې د بیارغونیزو پروژو څخه د څارنې ستونزه لاهم زیاته کیږي. هرې دولتي ادارې ته چې بیارغونې پروژې پلي کوي اړینه ده تر څو په نا امنو سیمو کې د بیارغونې له چارو څخه د څارنې په وړاندې ننګونې کمولو لپاره خپل پلانونه چمتوکړي. سیګار د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو ډالرو د خوندي ساتلو لپاره دا پلانونه له نظره تیروي او خپل پلان هم وړاندې کوي.

کانګرس سیګار ته ډیر پراخ مسولیتونه په غاړه ایښې دي، چې د دې له مخې مونږ کولی شو د وزارتونو او ماموریتونو په کچه له بیارغونیزو هڅو څخه څارنه وکړو، او د بیارغونې هڅو ته د ودې ورکولو لپاره پالیسي جوړونکو ته خپلې غوښتنې وړاندې کړو. مونږ خپل ماموریت په جدي توګه پر مخ وړو، او په افغانستان کې د بیارغونیزو هڅو بریالی کولو لپاره د پلي کونکو ادارو او کانګرس څخه ملاتړ کوو.

په درنښت،



جان ایف. سوپکو
ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان بیارغونې لپاره

# د منځپانګو جدول

## 1 برخه

**1 اساسي پوښتنې**
3 د پریکړه نیونکو لپاره مهمې پوښتنې
11 د پالیسي او عمل لپاره لارښونې



## 2 برخه

**13 د سیګار خارونکې فعالیتونه**
15 پلټنې
28 تفتیش
33 تحقیقات
36 درې میاشتني سرټکي: د سونګ توکو د غلا په اړه تحقیقات
44 ځانګړې پروژې
46 د سیګار بودیجه
47 د سیګار کارکوونکي



## 3 برخه

**49 د بیارغونې تازه خبرې**
51 عمومي کتنه
55 د مرستو وضعیت
69 امنیت
95 حکومتولي
123 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا



# د مینځپانګو جدول



## 4 برخه

155 نورې څارونکې ادارې
158 د څارنې بشپړ شوي فعالیتونه
164 د څارنې روان فعالیتونه

## ضمیمې او پای لیکونه

178 الف ضمیمه: قانوني شرایطو ته د ریوټ متقابل ماخذ
182 ب ضمیمه: د افغانستان د بیارغوني لپاره د متحده ایالاتو مرسته
184 ج ضمیمه: د سیګار لیکلي راپورونه
188 د ضمیمه: د سیګار تحقیقات او د شکایتونو شمیره
191 ه ضمیمه: اختصارات او لنډیزونه
194 پای لیکونه

”مونږ به په روان کال کې یوه بله موخه هم
ترلاسه کړو — افغان ځواکونه به په ټول هیواد
کې د امنیت مسولیت په غاړه واخلي. او د
راتلونکې کال 2014 له بشپړیدو سره سم د لیږد
بهیر هم پای ته رسیږي — افغانان به د خپل امنیت
بشپړ مسولیت په غاړه واخلي، او دا جنګ به یو
مسول پای ته ورسیږي.“

— د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما

سرچینه: سپینه ماڼۍ، د ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي ګډ مطبوعاتي کنفرانس، د 2013 کال د جنوري 11 نیټه.

# 1

# مهمې پوښتنې



# منځپانګې


| | |
|---|---|
| د پریکړه نیونکو لپاره مهمې پوښتنې | 3 |
| د پالیسي او عمل لپاره ښوونې | 11 |


**تصویر یې په تیره پاڼه کې**
د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیرې هیلري رودام کلینټن د بهرنیو چارو په وزارت
کې ولسمشر کرزي ته، د چپې خوا نه دویم کس، د یوې رسمې میلمستیا
کوربه توب کوي. د 2013 کال د جنوري 10 نیټه. (د بهرنیو چارو د وزارت تصویر)

# د پرېکړه نیونکو لپاره مهمې پوښتنې

د متحده ایالاتو کانګرس د 2002 کال څخه راپدیخوا د افغانستان د بیا رغونې لپاره 89 میلیارده ډالر تخصیص کړي دي؛ د کړکیچ د حل روانه لاره او د بودیجې غوښتنې د نورو میلیاردونو ډالرو غوښتنه کوي. دا مرستې د څو ځانګې درلودونکې هڅې په توګه کارول کیدې ترڅو یو باثباته افغانستان د داسې یوه دولت سره رامینځته کړي چې د خپلې خاورې د ساتلو او اداره کولو جوګه وي — هغه مهم فکتورونه چې د القاعدې په وړاندې، چې د 2001 کال د سپتمبر په 11 د متحده ایالاتو په وړاندې د طالبانو ترکنترول لاندې افغانستان څخه یې د پلان کولو او ترینګ لپاره کار اخیستي و، د امریکا د جګړې اغیزه کمه کړې ده. په راتلونکو دوو کلونو کې، لکه څنګه چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو شتون کمرنګه کیږي او د 2014 کال تر پایه پورې امنیتي مسولیتونه ټول د افغان ملي امنیتي ځواکونو پر اوږه اچول کیږي، د بیارغونې مرحله به اساس بدلون ومومي.

د اوس نه ترهغه وخته پورې، د کانګرس د 113 دورې نوي غړي او د اجرایوي ځانګې پرېکړه نیونکي دا موقه لري چې دا ډاډه کړي چې د بیارغونې په راتلونکې پړاو کې د تیرو لسو کلونو هڅې د داسې پروژو په لوري لارښونه شوي دي چې د اوږدمهاله کامیابۍ پایله له ځانه سره لري.

د دې حق لاسته راوړل عاجل او مهمه موضوع ده. د تخصیصاتو یا د حل یوې بلې لارې پرمخ بیولو له لارې، د اضافي لګښتونو له ورکولو سره به د هغو مرستو کچه چې متحده ایالات یې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د 2013 مالي کال ترپایه پورې ورکوي نږدې 100 میلیارده ډالرو ته ورسیږي. که څه هم د دې مرستو زیاته برخه د تیرې لسیزې په ترڅ کې ټاکلې او مصرف شوې دي، خو بیاهم پلې کونکي ادارې په میلیاردو ډالر لري ترڅو د لیږد پدې حیاتي دورې کې د بیارغونې کارونو ته بودیجه برابره کړي. د 13.8 میلیارد ډالرو څخه چې په 2012 مالي کال کې د بیارغونې څلورو لویو پروژو ته ځانګړي شوي وې، 8.6 میلیارده ډالر یې بیا ټاکل کیدو ته پاتې دي. برسیره پردې، غوښتل شوې ده چې په 2013 مالي کال کې د بیا رغونې د پروژو لپاره نږدې 10 میلیارده ډالر تخصیص ورکړ شي. دا ټولې مرستې ټینګې څارنې او کنترول ته اړتیا لري ترڅو پداسې پروژو کې ضایع نشي چې افغانان ورته ضرورت نلري یا یې ساتلی نشي، یا داسې پروژې چې په اسانۍ سره کار ونکړي. د متحده ایالاتو د هغو مرستو د تخصیص، ټاکنه، او مصارفو د بشپړ تحلیل لپاره چې د بیارغونې لویو پروژو لپاره یې ورکړې ده، د 3 برخې د 67–55 مخونه وګورئ.

د افغانستان طبیعي منظره د بدلیدو په حال کې ده. د متحده ایالاتو روان پلان داسې ښیي چې د 2014 کال تر پایه پورې به د متحده ایالاتو د 70,900 سرتیرو څخه زیاته برخه له افغانستانه وویستل شي؛ او د 36,000 نورو بهرنیو ځواکونو څخه چې دا اوس په افغانستان




**ځانګړی عمومي** پلټونکی جان ایف. سوپکو، د 2013 کال په جنوري کې د واشنګټن ډي سي په سټیمسن مرکز کې د خبرو په مهال. (د سیګار تصویر)

کې دي ډېره برخه یې ووځي. دا به هغو امریکایانو ته چې لا تراوسه په ځینو مهمو رغونیزو پروژو کې د څارنې، مدیریت، سلاکارۍ او ترینینګ په برخو کې کارکوي، د امنیت، طبي مرستې، او د پیښې د تشولو ستونزه نوره هم زیاته کړي. د دوي په ځای به د افغان پوځ او پولیس د سرتیرو 352,000 کسان او د افغان عامه محافظت ځواک په نوم یوه دولتي اداره د امنیت ساتلو مسولیت په غاړه اخلي. د 50 میلیارده ډالرو څخه زیاتې پیسې — د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکا د مجموعي لګښت له نیمایي څخه زیات — د افغان امنیتي ځواکونو د معاشونو، کورجوړولو، خواړه، ترینینګ، تجهیزات، او اسباب برابرولو په برخو کې لګول شوي دي. د امنیت ساتلو او د جنګیالیو ډلو له ودې څخه د مخنیوی کولو په برخه کې د دوی وړتیا دا تعینوي چې د بلې بیارغونې کار په خوندي او کامیابه توګه پرمخ وړل کیدای شي که څنګه.

که چیرې، لکه څنګه چې اداره پلان لري، داسې پروګرامونه د متحده ایالاتو د پوځي مداخلې ځای ونیسي، نو اړینه ده چې د بیارغونې د شته پروګرامونو تمرکز تیره او پایلې یې وده ومومي. ستراتېژیکه لارښوونه چې په 2012 کال کې د ولسمشر او د دفاع وزیر لخوا لاسلیک شوه یادونه کوي چې "متحده ایالاتو به په افغانستان او عراق کې د جنګ څخه وروسته پراو کې پرغیر پوځي وسایلو او پوځي – پوځي همغږۍ باندې ټینګار کوي" ترڅو د متحده ایالاتو د پوځ سترو ژمنو ته اړتیا کمه کړي. برسیره پردې، لارښونه زیاتوي چې، "نور به د متحده ایالاتو پوځونه داسې ونه ټاکل شي ترڅو د اوږدمهاله ثبات لپاره د لوړې کچې عملیاتونه ترسره کړي" (ټینګار په اصلي بنه کې).[1]

سیګار د خپلو پلټنو او تحقیقاتي کارونو، د ملګرو ځانګړو عمومي پلټونکو او د دولت د حساب ورکونې دفتر د څېړنو پربنیاد باور لري چې، کانګرس او د اجرایي څانګې اړوندې ادارې باید د روانو او وړاندیز شوو رغونیزو پروژو د ارزولو لپاره لاندې پوښتنې په ځیرکۍ سره په پام کې ولري:

- آیا دا پروژه یا پروګرام د متحده ایالاتو د ملي ګټو یا ستراتېژیکو موخو په لاسته راوړلو کې واضحه مرسته کوي؟
- آیا افغانان دا غواړي او اړتیا ورته لري؟

- آیا دا پروژه یا پروګرام د افغان دولت، نورو پلي کونکو ادارو، او نړیوالو بسپنه ورکونکو سره همغږی شوی دی؟
- آیا امنیتي شرایط په موثر ډول پلي کولو او څارلو ته اجازه ورکوي؟
- آیا دا پروژه یا پروګرام داسې حفاظتي ګامونه لري چې اداري فساد، تشخیص، مخنیوی او یاهم لږې کچې ته راټیټ کړي؟
- آیا افغانان د پروژې یا پروګرام پرمخ بیولو لپاره مالي سرچینې، تخنیکي ظرفیت، او سیاسي واک لري؟
- آیا پلي کونکي ادارې د پایلې ټاکلو او د بریالیتوب د اندازه کولو لپاره ریښتونې محاسبې رامینځته کړي دي؟

ځینې ادارې لکه د متحده ایالاتو په مشرۍ نړیوال سوله ساتي ځواکونه، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د امنیتي لیږد په دوره کې د پروژو او پروګرامونو د بیاکتنې لپاره ورته پوښتنې مطرح کوي. دا یوه ښه خبره ده. په افغانستان کې د امنیتي، مالي، او جیو پولیټیک شرایطو اندازه د دولت پراخه او د لوړې کچې هڅو ته دا تضمین ورکوي چې پداسې حال کې چې موقې لاهم پاتې دي د اصلاحاتو احتیاطي او اړین ګامونه چیک، ارزونه، تشخیص، او پلي کړي.

راتلونکې څیړنه به هره یوه مهمه پوښتنه وړاندې کړي او د مسایلو نمایشي مثالونه چمتو کوي، وروسته بیا د پالیسي او عمل لپاره لارښونې په ګوته کوي.

## آیا دا پروژه زمونږ ملي ګټو یا ستراتیژیکو موخو ته په رسیدلو کې واضحه مرسته کوي؟

په افغانستان کې د پوځ له کارولو څخه د امریکا موخه د 2001 کال په سپتمبر کې د کانګرس په یوه پریکړه کې داسې کښل شوې ده: "په راتلونکې کې پر امریکا باندې د داسې نړیوالو ترهګرو د افرادو، موسسو، یا ملتونو له برید څخه مخنیوی کول" چې د 2001 کال د سپتمبر د 11 په ترهګرۍ برید کې یې لاس درلودل.[2] له هغې نیټې څخه تردې دمه پورې، سپینه ماڼۍ د افغانستان په اړه خپلو ویناو کې د ملت جوړولو او یاغیانو سره د مبارزې یادونه کړې ده، او د متحده ایالاتو په ویلی شوي موخه کې یې د بیلګې په توګه، "د یوه ثبات لرونکي، معتدل او دیموکرات افغانستان جوړول چې د خپلو اتباعو حقونو ته درناوی وکړي، په خپله خاوره کې حاکمیت ولري، او د افراطیانو او ترهګرو په وړاندې جګړه کې د اعتماد وړ ملګری جوړ شي"، شامل کړې ده.[3]

په هرصورت، په نږدې وخت کې، ولسمشر اوباما په افغانستان کې ملي موخه بیرته د نړیوالې ترهګرۍ په وړاندې مبارزې خوا ته ګرځولې ده. ده په 2012 کال کې له افغانستان څخه د یوې کتنې په ترڅ کې وویل، "زمونږ موخه دا نده چې د امریکا په شکل یو هیواد جوړ کړو، یا د طالبانو هره نښه له مینځه یوسو. دا موخې د لازیاتو کلونو، لازیاتو ډالرو، او ډیره مهمه دا چې د لازیاتو امریکایانو د ژوند غوښتنه کوي. زمونږ موخه د القاعده له مینځه وړل دي، او مونږ د دې کار سرته رسولو په هڅه کې یو."[4]

نو په دې اساس، د بیارغونې هره پروژه ښایي وارزول شي او په منظم ډول بیا وارزول شي ترڅو وموندل شي چې ایا د اساسي موخې سره اړیکه لري که نه. د سیګار یوه نوې پلټنه، لکه (12-2 پلټنه)، موندلې دي چې د متحده ایالاتو په بسپنه ځینې پروژې چې د افغان زیربنا بودیجې لخوا ملاتړ کیږي، د یادې موخې په ضد کار کوي. پلټنې وموندل چې "کیدای

شي د AIF پروژې د COIN [د یاغیانو ضد] برخلاف اغیزه وکړي ځکه چې د متاثر شوو خلکو د هیلو په مینځ کې خلا را ولاړوي یا د اتباعو څخه ملاتړ نه کوي." کومې ستونزې چې پلټونکو موندلې وې د شپږو څخه تر پنځلسو میاشتو پورې ، د کندهار د پلبندۍ حل څخه پرته، د ټولو بریښنایي پروژو په شمول، د AIF د ډیرو پروژو ځنډول و.[5]

## آیا افغانان دا پروژه غواړي او اړتیا ورته لري؟

د یوې مرستې په وړاندې کولو کې ډیره ښه تجربه دا ده چې معلومه کړای شي آیا د مرستې ترلاسه کونکی دا پروژه غواړي او اړتیا ورته لري که نه. سیګار دا موندلې دي چې په افغانستان کې هرکله دا موضوع په بام کې نه نیول کیږي. د بیلګې په توګه د سیګار دوه نوي تحقیقاتي رپوټونه (4-13 او 5-13 تحقیقات) موندلي دي چې په کندز او ننګرهار کې د افغان سرحدي پولیسو پنځه تسهیلات چې د 26 میلیونه ډالرو په لګښت جوړ شوي و یا خو تش دي او یا هم د کومې موخې لپاره چې جوړ شوي دي نه کارول کیږي، له دوی څخه یوه یې د چرګانو د مرغانچې په توګه کارول کیږي.[6] دا ګرانه ده چې ومنل شي د مرستې ترلاسه کونکي یوې پروژې ته اړتیا لري او غواړي یې، پداسې حال کې چې وړاندې شوې خدمت یا خو نه کاروي یا هم د ناپلان شوي موخې لپاره یې کاروي.



دا د افغانستان په شمال کې د **افغان ملي پولیسو** د ولسوالۍ مرکز یو له هغو تسهیلاتو څخه ده چې قرارداد یې د متحده ایالاتو د انجینرانو د قطعې لخوا لاسلیک شوی دی. سیګار ANP داسې تسهیلات موندلي چې ناسم کارول شوي یاهم نه کارول کیږي. (د USACE تصویر)

## آیا دا پروژه د افغان حکومت، نورو پلي کونکو ادارو، او نړیوالو بسپنه ورکونکو سره همغږې کړای شوې ده؟

د سیګار د واک یوه برخه دا ده چې معلومه کړي پلي کونکي اداري ترکومه حده پورې د بیارغونې پروژې همغږې کوي. ځینې پلټنې په دې برخه کې د ستونزو شتون ته اشاره کوي. د بیلګې په توګه، د افغانستان د مالي سکتور پراخول، له دې هیواد سره مرسته کوي ترڅو د چلبازۍ نه اغیزمن شوی یو لوی بانک بیرته پر پښو ودروي، او د مالي جرایمو د کشف او مخنیولو لپاره مالي کنترول ته وده ورکول، د بیارغونې مهم هدف را برسیره کوي. خو د سیګار یوې پلټنې (11-13 پلټنه) کشف کړې دي چې یوه ډله چې د کابل بانک له راپرزیدو څخه وروسته په مالي سکټور کې کار کوي له دې نه پاتې راغلې ده چې د متحده ایالاتو د هیواد امنیت وزارت په حساب کې راولي، کوم چې له افغانستان څخه د ویستل کیدونکو پیسو له بهیر څخه په څارنه بوخت و. همدا رنګه پلټونکو اشاره کړې ده چې د دفاع وزارت د سوداګرې ثبات د عملیاتونو وظیفوي ځواک، چې د بودیجو بریښنایي لیږد د ورتیاو په اړه یې د افغانستان له ادارو سره مرسته کوله، د زیاتو پیسو د شمیرلو هغو وسیلو څخه نا خبره و چې د DHS لخوا نصب شوي ول. "د افغانانو ناسمه مرسته" یوه اضافي اندیښنه وه. "د ادارو محدوده خپل مینځي همغږي،" د پلټنې په وینا، "د متحده ایالاتو ادارې له دې ګواښ سره مخ کوي چې په متقابلو موخو کې کار وکړي یا، لږ تر لږه، په شته اړیکو او پروګرامونو کې د نفوذ کولو په وړاندې موقې له لاسه ورکړي."[7]

د بریښنا په برخه کې، د سیګار پلټنې او رپوټونه درې کاله کیږي چې د افغانستان د بریښنا د کمزوري سکتور د پرمختګ لپاره د یو ماستر پلان د نشتون په اړه نظر ورکوي. دلته د بریښنا رسونه د اعتماد وړ نده، تر ډیره حده پورې وارد شوې بریښنا پورې تړلې ده، او یوازې 28% افغانانو ته رسیږي. پدې ربع کې، د اسیا پراختیایي بانک — تر یوه حده پورې د متحده ایالاتو په بسپنو ملاتړ کیږي — د یو ماستر پلان طرح خپره کړه چې په 20 کلونو کې د 10 میلیارده ډالرو په لګولو سره د تولید، انتقال، او د شبکې پراخولو پروژو په مرسته د بریښنا پوښښ او باوري توب رامینځته کوي.[8] داسې پلانونه د متحده ایالاتو او نورو نړیوالو

بسپنه ورکونکو سره مرسته کوي ترڅو د جزیی هڅو څخه خبر اوسي او د داسې ورته هڅو څخه مخنیوی وکړي چې له امله یې په پلان جوړولو کې خلا رامینځته کیږي یا د نورو ادارو سره په متقابلو موخو کار سرته رسول کیږي.

د بیارغونې هره پروژه باید له دې اړخه وارزول شي چې د نورو پلي کونکو ادارو، افغان حکومت، غیر دولتي موسسو له قانوني پلانونو او عملیاتونو سره چې په سیمه کې یې لري، معرفي وي او ویجاړونکې اغیزه ونه لري.



د **ANSF روزل** شوي کسان تصدیق لیکونه ترلاسه کوي، د فراه ولایت، د 2013 جنوري. (د USMC تصویر)

## آیا امنیتي شرایط په اغیزمن ډول د پروژې پلي کول او څارنې ته اجازه ورکوي؟

د 2014 کال له پای ته رسیدو سره سم چې په افغانستان کې د امریکایانو جنګي دنده پای ته رسیږي پر ANSF باندې چې ټاکل شوې ده ترهغه وخته پورې یې شمیر 352,000 سرتیرو ته ورسیږي، عملیاتي پیټی زیات شي. ANSF د طالبانو-په مشرۍ د جنګیالیو داسې یوې ډلې سره مخ کیږي چې د دفاع وزارت په وینا "په توافقي او څرګند ډول شته دي، او دا وړتیا لري چې په زیات شمیر IEDs [د چاودیدلو چمتو شوي وسیلې] ځای په ځای کړي او په لوړه کچه بیل بیل بریدونه په لاره واچوي" او په همدې حال کې "د ودې کولو د پام وړ ظرفیت لري."[9]

که چیرې یاغي توب د ANSF د وړتیاو په وړاندې د یو لوی ننګونې په توګه خپل شتون وساتي، د متحده ایالاتو په مشرۍ د ایتلاف ځواکونو ویستل به د پروژو په سیمه کې د سفرکولو، مدیریت، سرته رسول، او څارنې د امنیت ساتلو په وړاندې ستونزې لاهم څوچنده زیاتې کړي.

دا ستونزې همدا اوس هم د پام وړ دي. لکه څنګه چې په USAID کې د ځانګړي عمومي پلټونکی دفتر رپوټ ورکړی دی چې، "افغانستان د ګواښ د لوړې کچې سیمې په توګه پاتې دی، او امنیتي مسایل اکثرآ د دې لامل ګرځي چې په ټول هیواد کې د پروژو پلي کول او څارنه له خنډ سره مخ کړي".[10] همدارنګه د سیګار د پلټنې یوې ډلې موندلې دي چې "USAID د امنیتي ستونزو له امله نده توانیدلې ترڅو له خپلو پروژو څخه سمه څارنه وکړي" (9-12 پلټنه).[11] په 2010 کال کې د سیګار پلټنې (3-11 پلټنه) رپوټ ورکړ چې په هلمند او کندهار ولایتونو کې د یو قرارداد کونکي له کارونو څخه چې د افغان ملي پولیسو لپاره یې تسهیلات چمتو کول د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعې کمزوری څارنه "په(شپږو واړو ساحو) کې د بې ثباته امنیتي حالت له امله و".[12] په همدې وخت کې، ایشیا فونډیشن چې یو څه بودیجه یې USAID ورکوي، دې ته اړ شو چې "د امنیتي لاملونو په وجه" د افغان عامه نظریو د ټولولو لپاره له 1,055 ځایونو څخه چې په 2011 کې غوره کړي و د 2012 کال د سروې لپاره یې 168 ځایونه بدل کړي.[13]

په روان وخت کې متحده ایالاتو او افغانستان د یو هوکړه لیک په اړه خبرې کوي ترڅو له 2014 کال څخه وروسته په افغانستان کې د پاتې کیدونکو امریکایي سرتیرو شمیر او وضعیت وټاکي. د دې سرتیرو شمیره چې هر څو وي، د بیړني غبرګون ځواکونو د لاسرسۍ، او طبي تخلیې ډلو سیمې له کمښت سره مخ کیږي. که چیرې د یاغیانو په ضد د جګړې مفکوره په جنجالي او بې ثباته سیمو کې د بیارغونې پروژو جوړولو او په لاره اچولو ته دوام ورکړي، د ساحې د ادارې او څارنې په وړاندې امنیتي خنډونه یوازې زیاتیږي. همدا اوس په افغانستان کې د سیګار کار کونکي ځینو سیمو ته په لاسرسۍ کې له ستونزو سره مخ دي.

د روانو یا وړاندیز شوو پروژو په ارزونه کې دې ټکي ته بشپړه پاملرنه پکار ده چې آیا امنیتي شرایط د اغیزمن مدیریت او څارنې اجازه ورکوي، او که چیرې نه ورکوي، آیا د پروژې

محدود شوې کچه د ضایع کیدو، ناکامۍ، یا د انسانانو ژوند ته له زیات شوي ګواښ سره د مقایسې وړ ده که نه.

## آیا د پروژې پلان داسې ساتونکي ګامونه لري چې اداري فساد کشف، مخنیوی، او کچه یې کمه کړي؟

په اداري فساد کې د افغانستان شهرت پراخ دی او ژورې ریښې لري. کله چې د جرمني هیواد د شفافیت یو غیرانتفاعي نړیواله موسسه د 2012 کال لپاره د نړیوال اداري فساد لست یې نوی کړ، کار پوهانو یې د سروې په پایله کې افغانستان له شمالي کوریا، او سومالیا سره د زیات اداري فساد درلودونکي هیوادونو په توګه د لست په پای کې راوړ.[14] د افغانانو په مینځ کې، د 2012 کال یوې سروې ښودلې دي چې اداري فساد په محلي حکومت کې 60%، او په ولایتي حکومت کې 70%، او په ملي حکومت کې 79% لویه ستونزه جوړوي.[15] د څارنې او ارزونې ګډه کمیټه چې په 2010 کال کې د افغان حکومت او نړیوالو لخوا د دې لپاره تاسیس شوې وه چې د اداري فساد پورې تړلي مسایل په پام کې ونیسي، رپوټ ورکړی چې افغانستان د اداري فساد په وړاندې د مبارزې او تعقیب کولو واک نلري، او داچې پدې برخه کې د هیواد ظرفیت د کارکونکو، قانوني او اداري جوړښتونو او څارنې له کمزورتیا څخه منځته راغلې ده.[16]

البته، اداري فساد یوازې افغانستان پورې تړلی ندی. او د اداري فساد په کړنو کې ګڼ شمیر بهرنیان، د متحده ایالاتو ګومارل شوي او ناګومارل شوي مامورین او لست شوي پرسونل، فیدرالي ملکیان، قرارداد کونکي، او فرعي قرارداد کونکي شامل دي. د بیلګې په توګه، د سیګار تحقیقاتو پدې ربع کې، مرسته وکړه چې د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی چې له افغانستان څخه د یو میلیونه ډالرو په قاچاق وړلو کې تورن و ونیول شي، او د متحده ایالاتو د پوځ یو بل قرارداد کونکی چې د 50,000 ډالرو رشوت په اخیستلو تورن و ونیول شي. د 2009 کال څخه دیخوا د سیګار زښتې زیاتې نورې پلټنې او تحقیقات د افغانستان په بیارغونه کې اداري فساد پورې اړوندو مسایلو ته اشارې کړې دي.

د قانون پلي کولو او مالي مسولیت منلو لپاره د اداري فساد په ضد د متحده ایالاتو متعدد الاداري، همغږې او ښتلې مبارزې ته اړتیا لیدل کیږي. د امنیتي لیږد څخه وروسته د بیارغونې په وړاندې لویه ننګونه دا ده چې د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان ژمنې په خپل ځای وساتل شي. د بیلګې په توګه، د 2012 کال په جولای کې نړیوالو بسپنه ورکونکو د ټوکیو په کنفرانس کې، "د دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ" رامینځته کړ، چې په هغې کې د افغانستان لپاره که چیرې د اداري فساد په وړاندې په مبارزه کې خپلې ژمنې په ځای کړي جایزې په پام کې نیول شوې دي.[17] له دې پلټنو څخه یوه (15-10 پلټنه) وایي چې "اداري فساد په افغانستان کې یوه نفوذ کونکې ستونزه ده چې د افغان حکومت مشروعیت ترسوال لاندې وړي او د نړیوالو پراختیایي هڅې کمزوره کوي،" او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت هڅوي ترڅو د اداري فساد په ضد یوه جامع ستراټیژي پلي او د فساد په وړاندې مبارزه کې د افغان حکومت اړتیاو ته بیاکتنه وکړي.[18]

له دې پوهې څخه پرته چې څنګه دا کار ترسره کیږي، او د پورتنیو مسایلو په پام کې نیولو سره چې د څارنې په وړاندې ستونزې مخ په زیاتیدو دي، اداري باید خپلې پروژې له دې نظره وګوري چې ترکومه بریده د اداري فساد له ګواښ سره مخ دي او د دوی مخنیونکي معیارونه کوم دي. سیګار او د څارنې او قانون پلي کولو نورو ادارو په افغانستان کې د اداري فساد په اړه خپلو پلټنو او څارنو ته ادامه ورکوي.

## ایا افغانانو د پروګرام د ساتلو لپاره مالي سرچینې، تخنیکي ظرفیت، او سیاسي واک لري؟

افغانستان نه شي کولی دومره عایدات تولید کړي ترڅو هغه دولت او امنیتي ځواکونه و چلوي چې په تیرو لسو کلونو کې امریکا او نړیوالو متحدینو یې په جوړولو کې ورسره مرسته کړې ده. د دې پرځای ارومرو باید په راتلونکي کې د خپل مرکزي اداري د بودیجو لپاره د امریکا او نړیوالو بسپنه ورکونکو پر مرستو تکیه وکړي. د نړیوالو بسپنه ورکونکو کمیټه د 2012 کال په جولای کې د ټوکیو په کنفرانس کې پریکړه وکړه چې، "افغان حکومت شایي ځانګړي، مهم، او دوامداره خو کمیدونکي مالي اړتیاوې ولري چې په ملي عایداتو یې نشي پوره کولی."[19] برسیره پردې، نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندق د 2012 کال په جون کې ویلي دي چې افغانستان شایي لږ ترلږه تر 2032 کاله پورې مالي پایښت ته ونه رسیږي. د دې پرځای، تمه کیږي چې افغانستان د 2015–2024 د بدلون په لسیزه کې د 70 میلیارده ډالرو په اندازه "مالي خلا" ولري، د هغو اضافي میلیاردو ډالرو په شمول چې په وروسته کلونو کې ورته اړتیا لري.[20]

متحده ایالات او په ناټو کې اروپایي بسپنه ورکونکو په کال کې د 4.1 میلیارده ډالرو ژمنه کړې ده — د افغان حکومت د روان ملي عایداتو دوه چنده — څو په 2015–2017 کلونو کې د امنیت څخه د ملاتړ لپاره ولګول شي، خو ځینو بیا خپلې ژمنې ندي څرګند کړي. د 2012 په دسمبر کې د بروسل په ښار کې د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلینټن د ناټو په غونډه کې متحدین خپلو ژمنو ته و هڅول: "مونږ نه شو زغملی چې د 1989 کال غلطي بیا تکراره شي او یوازې له قیده یې وژغورو"، او د خپل مینځې جګړې لپاره دروازه پرانیزو.[21]

په هرصورت، پایښت برسیره پر پیسو نورو شیانو ته هم اړتیا لري. دا همدارنګه د ساتنې ځیرکانه ډول ارزونه او د اړتیاو پوره کول، د روزل شوي پرسونل یو مناسب کدر، او داسې سیاسي او اداري واک ته اړتیا لري چې په مرسته یې اساسي دندې تعقیب کړای شي. په افغانستان کې دا ټول دلایل ننګونې دي.

"په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه" د دفاع وزارت په تازه ریپوټ کې — د قانون د هغې برخې په اساس چې د دې ریپوټ غوښتنه کوي د "1230 ریپوټ" په نوم یادیږي — DoD کانګرس ته ویلي چې د افغانستان د دفاع وزارت "منظم پرمختګ کړی دی" او "د افغان حکومت د ډیر وړتیا درلودونکې برخې په توګه پاتې شوی دی."[22] MoD" د نورو دولتي ادارو په شان د داسې کارکونکو څخه محروم دی چې په بشپړ ډول روزنه، زده کړه، او مسلکي پوهه ولري او په یو اساسي ګام کې عملیاتونه پلان او اجرا کړي."[23]

د ANSF لپاره معمولي ملاتړ د ظرفیت له ننګونې سره مخ دی. په 2012 کال کې د سیګار یوې پلټنې (13-1 پلټنه) وموندله چې MoD نشي کولی عملیاتونه او د ساتنې حمایې په زماني دود ترسره ه کړي، ځکه چې د افغان واک لرونکي عملیاتونو او ساتونکو دندو له نیمایي څخه زیاته برخه تش پاتې دي، او دا چې "ANSF داسې پرسونل نلري چې د مهمو تسهیلاتو لکه د اوبو رسونه، د اضافي اوبو چاره کول، او د بریښنا تولید کولو لپاره تخنیکي ظرفیت ولري."[24]

د لغمان ولایت د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام څخه د سیګار یوې پلټنې (7-11 پلټنه) وموندله چې د اسفالت کوم سړکونه چې د 44.6 میلیونه ډالرو په لګښت جوړ شوي و "د ساتنې پلانونو د نه درلودلو له امله له ګواښ سره مخ دي."[25] د AIF پروژو د کارونې په اړه

يوې بلې پلټنې (12-12 پلټنه) معلومه کړه چې دولت او د دفاع وزارت دواړو د دې پروژو د پایښت لګښتونه نه ټاکلي دي او نه هم افغان حکومت ته يې دا واقعيت ويلی دی.[26]

DoD، خزانې، او USAID د عامه مالي ادارې روډمپ پروژې څخه ملاتړ کوي چې د داخلې او دفاع وزارتونو په شمول 3V ملکي وزارتخانو ته روزنه، سلاکاري، او مرستې چمتو کوي. په هرصورت، د GAO یوې پلټنې وموندله چې ادارې او پلي کونکو ملګرو يې د کړنې نیمګړي او ناثابته معلومات ورکړي دي. په ځانګړې توګه د USAID په اړه GAO وايي "د معيارونو، د کړنې موخو، او معلومات نشتون" د افغان مالي ادارې ظرفيت ته د ودې ورکولو لپاره د اداراتو د هڅو پايلې ارزونه له ستونزې سره مخ کړې ده.[27]

که څه هم USAID او نورو ادارو د پایښت بیاکتنې لپاره لارښودونه خپور کړيدي، خو د وړاندې تللو لپاره په اوږدمهاله توګه د عالي او پلي کيدونکي پایښت رامینځته کول د دولت په کچه یوه اړتیا ده. که چیرې له هغې لنډمهاله ستاینې نه تیر شو چې د بهرنیانو د رغنیزو هڅو څخه کیږي، داسې ښکاري چې د بهرنیانو له وتلو سره سم چې د بهرنیو مرستو کچې هم راټیټې شي افغانان نشي کولی له هغو پروژو څخه سمه ګټه واخلي چې د پایښت وړتیا يې نلري يا يې نه غواړي. د همدې لپاره اړينه ده چې د ليږد په دوره او له هغه څخه وروسته کلونو کې د پروژو په بیاکتنو کې ارومرو د پایښت موضوع ته پام واړول شي.

## آيا پلي کونکي ادارې د پروژې د پايلو او برياليتوب د اندازه کولو لپاره ريښتونې محاسبې کړي دي؟

د پروژو چارو ته ادامه ورکولو یا د نويو پروژو پيل کولو په پريکړه نیولو کې ښايي ځينې واقع بينانه ټکو ته پام وشي لکه دا چې آيا داسې معنا لرونکي او د اندازې وړ شاخصونه شته چې د پروژې برياليتوب معلوم کړي.

د کانګرس د تحقيقاتي خدمتونو يو نوی رپوټ — چې يوازې د افغانستان په اړه ندی — د بهرنيو مرستو پروګرامونو لپاره د ارزونې محاسبو رامينځته کولو او پلي کولو ستونزو او د دې کار د نه کولو پايلو ته ګوته نيسي:

> په ډېرو پيښو کې، د متحده ایالاتو د مرستې پروګرامونو د برياليتوب او ناکامۍ په اړه څه د پروګرام په کچه او څه هم په مجموعي ډول، څرګند دلايل نشته. يو دليل يې دا دی چې کومه مرسته د پراختيايي موخو لپاره چمتو کيږي له هغو مرستو سره ګډيږي چې د سیاسي او امنيتي موخو لپاره ورکول کيږي. يو بل دليل يې دا دی چې په تاريخي لحاظ، د بهرنيو مرستو زياته کچه څه د مرستې په وخت کې ياهم په ورسته وختونو کې د اغيزې له اړخه نه ارزول کيږي... د روغتونو، ښوونځيو، او نورو تسهيلاتو زښت زيات مثالونه شته دي چې په بهرنيو مرستو جوړ شوي او بيا پريښودل شوي دي چې ويجاړې شي، يا هم په وده کونکو هيوادونه کې د دې لپاره ندي کارول شوي چې د پايښت توان يې نه درلوده او ياهم نه يې غوښتل. ځينې منتقدين بيا په دې اند دي چې بهرنۍ مرستې د دولت د حساب ورکونې کمولو، د سون په موادو کې د اداري فساد، د صادراتو رقابت ويجاړولو، د محتاجۍ رامينځته کولو، او د ماليې ورکولو لپاره نه هڅولو له لارې د ښيګنې څخه يو هيواد ته تاوان زيات رسوي.[28]

په افغانستان کې د محلي حکومت او ټولنيزه پراختيا په پروژو کې د USAID له عملياتونو څخه سيګار د 2012 کال په يوه پلټنه کې(8-12 پلټنه)د دې ستونزو ګڼ مثالونه موندلي دي. ټاکل شوې وه چې د باثباته کولو پروژه درې کاله پاتې شي او له 150 ميليونه ډالرو څخه زيات لګښت ونه کړي. خو په حقيقت کې پنځه کاله دوام وکړ او 400 ميليونه ډالر يې مصرف کړه، چې وروسته بيا د USAID په وړانديز يوې خپلواکې بياکتنې معلومه

کړه چې دا پروژه خپلې موخې ته چې د افغان دولت د مشروعیت وده موندل و، نه ده رسیدلې. ونډه لرونکې فکتورنه د موخو په جوړولو او اندازه کولو کې د USAID د ستونزو په شمول، د سفر محدودیتونه او د څارنې او ارزونې ترسره کولو په وړاندې امنیتي خطرونه و.[29]

د داسې عملي محاسبو تجویز او کارول چې د پایلې نتایج مغشوشه نکړي، په عیني ډول اندازه شي، او د لوبې کولو او احصایوي لګښتونه په وړاندې مقاومت ولري یو ګران کار دی. خو د بیارغونیزو پروژو لپاره د نورو سرچینو ژمنې کولو څخه وړاندې دا کار ډیر مهم دی.

## د پالیسي او عمل لپاره لارښوونې

د بسپنه ورکونکو هیوادونو د سرتیرو له وتلو سره سم به د مرستې په چمتو کولو کې نړیوالې غوښتنې هم کمې شي. برسیره پردې، د ملي عایداتو د کچې لوړولو لپاره د افغانانو طرحې د هغه ننګونې په ځواب کې چې افغان عایدات باید په خاصه توګه د کان کیندنې سکتور له لارې زیاته شي، یو خوشبینه ګام دی. د دې دلایلو په اساس، په دې اړه ریښتونې اندیښنې شته دي چې افغان حکومت به د خپلو اساسي دولتي کارونو لپاره د مالي، عملیاتي، او تخنیکي ظرفیت څخه بې برخې شي، او د هغو پروژو د چلولو لړ توان به ولري چې متحده ایالاتو او نورو بسپنه ورکونکو دلته تاسیس کړې دي. او دا معلومه نده چې افغان دولت دې ته چمتو شوی دی چې له نړیوالو بسپنه ورکونکو سره د داسې سیستماتیک ترپاژ په جوړولو او پلي کولو کار وکړي چې له مخه یې د سرچینو په اساس د بودیجې اړتیاوې وټلي، او د پروژو په اړه دا پریکړه ونیسي چې کومه یوه وځنډول شي، پای ته ورسیږي، له پامه وغورځو ل شي، یا یوځای کړای شي.

تراوسه لا په افغانستان کې د پام وړ پیسې له ګواښ سره مخ دي، او، لکه چې سیګار او نور پلټونکو ادارو ویلي دي، د متحده ایالاتو ګنې پالیسۍ او عملونه پاملرنې او اصلاح ته اړتیالري. د افغان د "انتقال په لسیزه" کې د نیمګړو تجربو او کمزورې څارنې له امله آن د بودیجو د لږو هڅو په شتون کې، کیدای شي چې په لوړه کچه د ضایع کیدو، چل او ول، او ناوړه کارونې ګواښونه رامینځته کړي. دا خطر به د سرتیرو له ویستلو او امنیتي ګواښونو — چې همدا اوس د افغان ګنو سیمو ته د سیګار د لاسرسۍ په وړاندې خنډونه را ولاړ کړي دي — سره یوځای د افغانستان د بیارغونیزو پروژو او پروګرامونو څخه د موثرې څارنې موقې کمې کړي.

د کانګرس 113 دورې په ترڅ کې، قانون جوړونکي او د اجرایوي څانګې اداري دا موقع لري چې د بیارغونې مسایلو په اړه یوه استراتیژیکه بیا ازموینه په لاره واچوي. دا بیا ازموینه ښایي شته پلانونه له سره تایید کړي، یا د پروژو د ځنډولو، کمولو، فسخ کولو، پلي کولو، بیا طرح کولو، یا بیا پلان کولو پریکړه ونیسي. ترکومه حده چې داسې تحلیل او عمل داسې پروژې رامینځته کړي چې له 2014 نه وروسته په افغانستان کې کار وکړي او بریالی وي، په هماغه کچه د متحده ایالاتو پوځ او ملکي پرسونل، امریکایي مالیه ورکونکو، افغان خلکو، او د متحده ایالاتو ملي منافعو ته یې ګټه رسیږي.

”زما ټیم او زه ژمن یو تر څو د مالیې ورکونکو ډالرونه په ښه توګه ولګیږي او د ضایعاتو، تقلب او ناوړه ګټې اخیستنې پر وړاندې خوندي وي. که مونږ په ښه توګه کار تر سره نکړو، بیا به هغه انسانان او پیسې چې د 11 کلونو په ترڅ کې لګیدلي، کیدای شي بې ارزښته لګیدلي وي، چې مونږ به په سیګار کې په خپل ټول ځواک سره هڅه وکړو تر څو د دې مخه ونیسو.“

—ځانګړی عمومي مفتش جان ایف ساپکو

سرچینه: د 2013 کال د جنوري په 10 د ستیمسن په مرکز کې د جان ایف ساپکو وینا.

# 2 د سیګار نظارت **فعالیتونه**



# منځپانګې


| | |
|---|---|
| پلټنې | 15 |
| تفتیشونه | 28 |
| تحقیقونه | 33 |
| پدې ربع کې د پام وړ خبري:<br>د تیلو د غلا تحقیق کول | 36 |
| ځانګړې پروژې | 44 |
| د سیګار بودجه | 46 |
| د سیګار کار کونکي | 47 |


**عکس په مخکنی پاڼه کې**
په افغانستان کې د سیګار یو ځانګړی اجنټ په ساحه کې مصاحبه کوي. (د سیګار عکس)

# د سيګار د نظارت فعاليتونه

پدې ربع کې، سيګار نه ليکلي راپورونه، پشمول د پلټنو درې راپورنه، د خبرتيا يو مکتوب، دوه تفتيشونه، د ځانګړو پروژو دوه راپورونه او د تحقيق يو راپور خپور کړی. سيګار د حکومت 310,000$ شتمنې بيرته لاسته راوړي، د قرارداد کولو 825,000$ يې سپمولي او د 4.8 ميليونو ډالرو په ارزښت تيلو د غلا مخه يې هم نيولې ده. د سيګار د تحقيقونو په پايله کې د امريکا څلور او د افغانستان پنځه وګړي نيول شوي او د امريکا اته وګړي د رشوت، قاچاق او غلا په تورونو مجرم ګڼل شوي. سيګار دوې نوې پلټنې اعلان کړي، او د تېرو تر لاس لاندې پلټنو شميره يې 11 ته رسولې. 16 قرارداديان يې چې په جرمي فعاليتونو کې مجرم ګڼل شوي و تعليق او بنديز ته معرفي کړي. لکه څنګه چې د امريکا جنګي ماموريت مخ په ختميدو دی، سيګار به 113th کانګرس ته د روانو بيا رغونو هڅو په څېر سره او کلک نظارت وړاندې کړي.

پدې ربع کې، سيګار وموندل:

- چې د افغانستان ملي اردو (ANA) لپاره د 4.2 ميلياردو ډالرو په ارزښت د تيلو د شتمنيو تخصيص او راتلونکې لپاره اټکلونه د مناسبو تيلو د اړتياو پر بنسټ يې ملاتړ نه و شوی يا کيدای شي د حقيقي لګښت معلومات تر خپلې اندازې ډير ښودل شوي.
- کيدای شي د افغانستان د ملي پوليسو لپاره د 17.7 ميليونو ډالرو ولايتي قرارګاه به د ګټې اخيستلو وړ نه وي او ساتنه به يې ستونزمنه وي.
- د امريکا دفاع وزارت د 12.8 ميليونو ډالرو د بريښنا تجهيزات اخيستې او له ګټې اخيستنې پرته ساتل شوي او USAID يوه قراردادي ته پيسې ورکړې پرته له دې چې کار تر سره کړي.
- د افغانستان د سرحدي پوليسو لپاره د 7.3 ميلونو ډالرو تاسيسات تر ډيرې کچې له ګټې اخيستنې پر ته ولاړ و.
- د افغانستان د ملي پوليسو وسايطو د خدماتو لپاره 6.83 ميليون ډالره غير ضروري ورکړ شوي.
- د پروژو د پراختيا لپاره په جغرافيايي معلوماتو کې د ځينو ساحو ځينې دقيق نه و.

## پلټنې

کانګرس ته له وروستني راپور څخه، سيګار د پلټنو درې راپورونه بشپړ کړي دي. پدې ربع کې، سيګار د پلټنو دوه نوي راپورنه هم پيل کړي، چې د ټولو روانو پلټنو شميره يې 11 ته رسولې ده. خپاره شوي راپورونو د افغانستان د ملي بريښنا خدماتو د خصوصي کيدلو، د افغانستان د ملي پوليسو د وسايطو د ترميم د قرارداد، او د ملي اردو د تيلو په اړه انديښنې پيژندلي دي. پلټنو 15 سپارښتنې کړي تر څو وګوري چې هغه تجهيزات چې د بريښنا د شرکت لپاره دي ضايع نشي، د افغان د ملي پوليسو د وسايطو د ترميم لپاره د امريکا حکومت ډيرې پيسې ورنکړي، او د ملي اردو لپاره تيل غلا او ضايع نشي.

### بشپړ شوي پلټنې

- پلټنه 2-13: د افغانستان د بريښنا ملي خدمات
- پلټنه 3-13: د افغانستان د ملي پوليسو د ساتنې قرارداد
- پلټنه 4-13: د افغانستان د ملي اردو پطرولي مواد، تيل او روغنيات

### د خبرتيا مکتوب

- د پراختيايي پروژو په جغرافيايي معلومات کې غلطې

### بشپړ شوي تفتيشونه

- تفتيش 4-13: په کندز کې د افغانستان د ملي پوليسو قرارګاه
- تفتيش 5-13: په امام صاحب کې د سرحدي پوليسو قرارګاه

### تحقيقاتي راپور

- تحقيقاتي راپور 1-13: د تيلو د اخيستلو اسنادونه له منځه وړل شوي

### د ځانګړو پروژو بشپړ شوي راپورونه

- د ځانګړو پروژو راپور 1-13: د کابل په هوايي ډګر کې د پيسو ليږل
- د ځانګړو پروژو راپور 2-13: د ايران د تيلو اخيستل

## بشپړې شوي پلټنې

- پلټنه 2-13: د افغانستان د ملي برېښنا خدمات: د امريکا دفاع وزارت د 12.8 ميليون ډالرو په ارزښت تجهيزاتو څخه ګټه اخيستل شوي نده، او USAID يوه قراردادي ته پيسې چې کار بشپړ کړي پيسې ورکړي
- پلټنه 3-13: د افغانستان د پوليسو د وسايطو د ساتنې قرارداد: عملي ګامونو ته اړتيا ده، تر څو د ميليونونه ډالرونو د ضايع کيدلو مخه ونيول شي
- پلټنه 4-13: د افغانستان ملي اردو: د وسايطو، جنراتورونو، او د برېښنا فابريکو پر تيلو باندې کنټرول بايد کلک شي، تر څو د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه ونيول شي

## د پلټنې خپاره شوې راپورونه

### پلټنه 2-13: د افغانستان د ملي برېښنا خدمات

**د امريکا دفاع وزارت د 12.8 ميليون ډالرو د برېښنا تجهيزات اخيستې او له ګټې اخيستنې پرته ساتل شوي او USAID يوه قراردادي ته پيسې ورکړي پرته له دې چې کار تر سره کړي**

د افغانستان د ملي برېښنا خدمات يا د افغانستان د برېښنا شرکت (DABS) په ټول افغانستان کې د برېښنا توليد، واردات، ترانزميشن او د توزيع عمليات او مديريت تر سره کوي. له 2009 کال څخه، د امريکا حکومت د افغانستان د برېښنا شرکت د خصوصي کيدلو لپاره د افغانستان له حکومت څخه د 88 ميليون ډالرو ملاتړ کړی دی. د امريکا لخوا تمويل شوي — د امريکا د حکومت پروژې په افغانستان کې د امريکا ځواکونه (USFOR-A) او د امريکا نړيواله پراختيايي اداره (USAID) هڅه کوي چې د افغانستان د برېښنا شرکت د لګښت د لاسته راوړلو، ضايعاتو کمولو او د ظرفيت لوړلو باندې کار وکړي تر څو د برېښنا ملي سيستم اداره کړي، پرمخ بوځي او د کارونو ساتنه يې وکړي. دا راپور په کندهار کې د افغانستان د برېښنا شرکت د هڅو د ملاتړ لپاره د USAID قراردادي ته د تجهيزاتو د اخيستلو د پيسو د ورکړې په اړه معلومات وړاندې کوي. سيګار به د افغانستان د برېښنا شرکت سره د امريکا حکومت د خصوصي کيدلو د مرستو پروژوه په اړه د لا نورو موندنو لپاره د حل لارې په خپل راتلونکې راپور کې وړاندې کړي.

#### موندنې

د سيګار د روانو پلټنو په برخو کې د افغانستان د برېښنا شرکت د خصوصي کيدلو لپاره د امريکا لخوا د تمويل شويو پروژو په اړه دوې ستونزې موندلې چې د سيګار په آند بيړنۍ پاملرنې ته اړتيا لري.

لمړی، نږدې $12.8 ميليونه ډالره تجهيزات چې د ياغيانو پر وړاندې د ستراتيژۍ د بيړنې ملاتړ لپاره اخيستل شوي په افغانستان کې د امريکا د انجنيرانو د قول اردو د جنوبې حوزې (USACE-TAS) تر کنټرول لاندې په ګدام کې بې له ګټې اخيستنې ساتل کيږي پرته لدې چې د نصبولو لپاره يې کوم ښکاره پلان شتون ولري. USFOR-A د قوماندان د بيړنې ځواب د پروګرام (CERP) پر اساس دا پروژې تاييد کړې، چې د امريکا د قوماندانانو لپاره دې تر څو د بيړنيو ضرورتونو لپاره پروګرامونه تر سره کړي تر څو د سيمې له خلکو سره مرسته وکړي او اصلاً دا تجهيزات بايد مستقيماً د کندهار د برېښنا شرکت ته د نصبولو لپاره ورکړ شوي وای. مګر، لدې کبله چې د نصبولو يو پلان شتون نلري، نږدې ټول تجهيزات اوس د کندهار له ښار څخه د باندې د شور اندام په صنعتي پارک کې ساتل کيږي.

USFOR-A د تجهيزاتو تدارکات تمويل کړي پر ته لدې چې د کندهار د برېښنا شرکت وړتيا په پام کې ونيسي چې دا تجهيزات نصب او اداره کړي، او پرته لدې چې د نصبولو د ترسره کولو د لمړني پلان غوښتنه وکړي. که څه هم لمړنی قرارداد د 2010 کال د اګست په مياشت کې ورکړل شوی، هيڅ کومې ادارې USFOR-A، USACE-TAS، USAID يا د برېښنا شرکت تر تداراکاتو وړاندې او د تجهيزاتو له اخيستلو وروسته د نصبولو يو پلان ندی بشپړ کړی. USACE-TAS چارواکې اوس د کندهار برېښنا شرکت کمزورې تخنيکي وړتيا ته ګوته نيسي او دا يو خنډ بولي چې په خپلواکه توګه يې نصبول او اداره کول نشو تر سره کولای، مګر دا عامل د تمويل کولو او تداراکاتو د پروسې په لمړنيو پړاونو کې په پام کې نه و نيول شوی.



**د ویرونو څونه** له ګټې اخیستنې پرته په ګدام دي. (د سیګار عکس)

یو بل خنډ چې د تجهیزاتو په دوامداره ساتلو کې ونډه لري هغه دا ده چې دا معلومه نده چې د ځینو تجهیزاتو د نصبولو مسولیت کومه اداره لري. د سیګار د خصوصي کیدلو پروژو د لمړنیو معلوماتو د غوښتنې په ځواب کې، USACE-TAS چارواکو ویلي چې نږدې 50,000 د مشتریانو میټرونه به د USAID یا د دې د قراردادي لخوا به د USAID د عملیاتي قرارداد د یوې برخې په توګه نصب شي. مګر، په عملیاتي قرارداد کې یو تغیر دا وایي چې قراردادي به یواځې د نصبولو د پلان جوړولو مسولیت لري او د نصبولو مسولیت نلري. USAID راپور ورکړی لکه څنګه چې د عملیاتو په قرارداد کې راغلي، قرارداي د عملیاتو د قرارداد د تغیر پر اساس د نصبولو پلان ندی بشپړ کړی مګر دا معلومات یې هم ندې ورکړي چې ولی یې دا کار ندی تر سره کړی. که څه هم د میټرونو د نصبولو د مسولیت درلودلو په اړه ادارو توپیر لرونکي معلومات ورکړي، مګر سیګار د ادارو تر منځ کومه لیکلې موافقت نامه نده تر لاسه کړې چې د کومې ادارې د دې خبرې ملاتړ وکړي.

میټرونه چې د تدارکاتو د پیل او بشپړ کیدلو په یوې برخه کې اخیستل شوي، د جوړونکي د سپارلو د نیټې له پیل (2012 کال د مارچ 3) څخه د دوو کلونو لپاره تضمین لري. دا چې د اخیستلو له نیټې څخه وخت تیر شوی دی، که له نصبولو وروسته په میټرونو کې کومه ستونزه پیدا شي، کیدای شي تضمین به مخکې پای ته رسیدلې وي. دا به د امریکا حکومت ته د میټرونو جوړونکي سره کومه بله لار خلاصه پرینږدې، ترڅو، د ورنټې پر اساس خراب تجهیزات بدل کړي.

دوهمه مسله دا ده چې USAID قراردادي ته د عملیاتو د قرارداد پر اساس د منلو وړ ټولې پیسې ورکړي، سره لدې چې قراردادي ونشو کړای چې له 34 څخه 26 اړین سپارل تر سره کړي. په 2009 کال کې، USAID د افغانستان د تاسیساتو او بیا رغونې پروګرام لپاره لویز برجر ګروپ او د ویتیک د ځانګړو پروژو شرکت ته د 3.4 میلونو ډالرو په ارزښت د 22 اضافي قیمت مشخص فیس عملیاتي قرارداد وړاندي کړی. ګډ کارونه. د عملیات قرارداد، چې د فعالیت اصلي موده یې د 2009 کال د مي 10 څخه د 2011 کال د مي تر 9 پورې وه، د دې لپاره وړاندې شوي و چې په کابل کې د بریښنا شرکت لپاره تخنیکي مرسته، روزنه،

او د قرارداد لپاره د مشورې ملاتړ وړاندې کړي. مګر، وروسته بیا ځینې تغیرات پکې راغلل، چې په پایله کې د کار ټوله اندازه بدله کړې وه، او د یوې اوږدې مودې لپاره یې په کندهار کې د خصوصي کیدلو پر فعالیتونو د 2011 کال د دسمبر تر 31 کار کاوه، او د اصلي قرارداد ارزښت یې نږدې دوه برابره 6.8 ته رسولی و.

که څه هم د 2012 کال د جولای تر 31 USAID قراردادي ته نږدې 5.76 میلیونه ډالر ورکړي و، مګر قراردادي د عملیاتو د قرارداد پر اساس 76% سپارل نه و تر سره کړي. په ځانګړې توګه، د عملیاتو د قرارداد او د تغیراتو پر اساس، قراردادي دا مسولیت درلود چې د USAID لپاره ټول 34 سپارل تر سره کړي. USAID وکړای شول چې د قراردادي لخوا د اوو سپارلو شواهد پر وخت او یو اضافي سپارل وروسته وړاندې کړي. نه USAID او نه هم قراردادي داسې شواهد ندي وړاندې کړي چې قراردادي 26 نور سپارل بشپړ کړي وي. پردې برسیره، سیګار داسې شواهد ندي موندلي چې USAID د قراردادي لخوا د سپارلو ارزونه کړې وي یا یې قراردادي د اړینو ضرورياتو د ترسره کولو لپاره مسول ګڼلی وي. د سپارلو څخه چې ندي بشپړ شوي، د میټر د نصبولو د پلان وروستۍ مسوده، د 231 سرحدي میټرونو تدارکات او نصبول، او د کندهار د خصوصي کیدلو د فعالیتونو لپاره د بدلولو لارښود او سپارلو پلان شامل و.

### سپارښتنې

د دې لپاره تر څو وکتل شي چې له اخیستل شویو تجهیزاتو څخه به د بریښنا دشبکې د جوړلو، ترمیم، او د بریښنا د توزیع د پراخولو لپاره ګټه اخیستل کیږي، سیګار سپارښتنه کوي چې عمومي قوماندان او په جنوب کې د USFOR-A د سیمې قوماندان، دا وګوري چې د کندهار ولایت لپاره د 12.8 میلیونو ډالرو تدارک شوي تجهیزات باید په کندهار کې نصب شي او یا د نصبولو لپاره یو پلان جوړ شي یا د اړتیا ارزونه وشي چې لدې تجهیزاتو څخه په بل ځای کې کار واخیستل شي. سیګار دا سپارښتنه هم کوي چې د افغانستان لپاره د USAID د ماموریت ریس د ماموریت د قرارداد کولو دفتر ته هدایت ورکړي تر څو د عملیاتو د قرارداد د سپارلو او د قراردادي د فعالیت هر اړخیزه ارزونه وکړي او د مشخصو پیسو له اندازې څخه د زیاتو پیسو ورکړې بیرته غوښتنه دې وکړي.

### د ادارې نظریات

USFOR-A او USAID د سیګار له سپارښتنو سره موافقه کړې

## پلټنه 3-13: د افغانستان د پولیسو د وسایطو د ساتنې قرارداد

### عملي ګامونو ته اړتیا ده، تر څو د میلیونونه ډالرونو د ضایع کیدلو مخه ونیول شي

د 2012 کال تر نومبر، امریکا د افغانستان ملي پولیسو (ANP) ته له 30,000 څخه زیاتې موټرې ورکړې او پلان لري، تر څو په زرګونه نورې موټرې ورکړي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، داسې نه ښکاري چې د افغانستان ملي پولیس به د 2014 کال تر پایه مخکې په خپلو پښو ودریږي.

د امریکا لخوا د افغانستان ملي پولیسو ته ورکړل شویو وسایطو د لوجیستیکي او ساتنې د ترسره کولو د اوسنۍ وړتیا نشتون په اړه، د افغانستان د انتقالي امنیت ګډې قوماندانې (CSTC-A) د دې کارونو ترسره کولو لپاره پر قراردادیانو تکیه کړې ده. د 2010

کال د دسمبر په 30، د امریکا د اردو د قرارداد کولو قوماندانۍ، د CSTC-A په هدایت د افغانستان د ملي پولیسو د وسایطو د ساتنې لپاره د وسایطو د خدماتو ادارې (AMS) ته د 350 میلیونونو ډالرو په ارزښت د مشخص قیمت قرارداد ورکړی.

دا راپور ارزونه کوي، تر څو دا وګوري چې (1) د امریکا دفاع وزارت د هغو مشخصو وسایطو چې ساتنه یې ترسره شوې، پیسې ورکړې، (2) قراردادي د قرارداد مقرراتو سره سم کارونه ترسره کړي، او (3) د امریکا د دفاع وزارت ادارو له دې قرارداد څخه اغیزمن نظارت کړی.

د 2012 کال له جنوري څخه د 2012 کال تر دسمبر سیګار د افغانستان په اتو ولایتونو کې عموماً د حکومت د پلټنو منل شویو سټندردونو سره سم خپل کارونه ترسره کړي.

**موندنې**

سیګار موندلې چې CSTC-A د 2011 له اپریل څخه د 2012 کال تر سپټمبر $6.3 میلیونه ډالر په غیر ضروري توګه ورکړي، ځکه د امریکا د اردو د قرارداد کولو قوماندانۍ او CSTC-A د افغانستان د ملي پولیسو لپاره اخیستل شوې وسایط د مشخص نرخ پر اساس ټاکلي، مګر دوی د هغو وسایطو شمیره نه وه معلومه کړې چې د یوه کال په ترڅ کې یې ساتنه نه وه شوې او یا له منځه وړل شوي وو. پردې برسیره، سیګار اټکل کړی چې CSTC-A لږ تر لږه 530,000 ډالره تر اړتیا زیات ورکړي، ځکه په قرارداد کې د کمې شمیرې وسایطو څخه د ساتل شویو وسایطو شمیره ډیره وه. د بیلګې په توګه، کله چې د هغو وسایطو شمیره چې د یوه کال په ترڅ کې ساتنه نه وه شوې یا له منځه وړل شوي، د 2012 کال د نومبر میاشت د وسایطو په لست کې 21,555 وسایط شامل وو، مګر د امریکا حکومت به لږ تر لږه د 24,000 وسایطو د ساتنې پیسې ورکوي، چې دویم کال به یې د 2012 کال د دسمبر په 29 کې پیل کیږي. پردې برسیره، د راتلونکو کلونو قرارداد CSTC-A ته دا اختیار نه ورکوي چې د هغو وسایطو شمیره چې ساتنې ته اړتیا لري شمیره یې د قرارداد تر کمې شمیرې کمه کړي او یا هم که د افغانستان ملي پولیس د ساتنې مسولیت په غاړه واخلي. پردې برسیره، که د ساتنې له لست څخه له منځه وړل شوي وسایط لرې شي، کیدای شي د هغو وسایطو شمیره چې د افغانستان ملي پولیس یې په اړه تیل ترلاسه کوي کم شي او دا به د تیلو لګښت کم کړي.

AMS عموماً د قرارداد د مقرراتو پر اساس کارونه ترسره کړي او پیسې یې اخیستې، مګر سیګار د AMS د فالتو سامانونو په اسنادو کې غلطۍ پیدا کړې. AMS عموماً د قرارداد پر اساس د افغانستان د ملي پولیسو د وسایطو د عملیاتي چمتوالي پر اساس کارونه ترسره کړي. پردې برسیره، د AMS د مشخصو قیمتونو رسیدونه د موافقه شوي نرخ پر اساس بیل شوي وو. د هغو فالتو سامانونو اخیستلو لپاره چې قراردادي ته باید د مناسبو لګښتونو پیسې ورکړ شي (cost-reimbursable)، AMS د امریکا حکومت د رسیدونو د فالتو سامانونو د قیمت پر اساس ورکړي. مګر د هغو 11 ساحو څخه چې سیګار لیدنه کړې، د AMS کمپیوټري اسنادو اداري سیستم په دقیقه توګه د شته فالتو سامانونو ښکارندویې نه کوله.

CSTC-A او د دفاع قرارداد ادارې د AMS له تاسیساتو څخه په هره میاشت کې نظارت نه و ترسره کړی. د 2011 کال له اپریل څخه د 2012 کال تر اګست پورې د قرارداد له 453 استازو افسرانو (COR) څخه چې راپورونه غوښتل شوي وو، 121 راپورونه (27%) ورک وو. یوې ساحې ته د COR د نظارت هیڅ راپور نه و رسیدلی، دوو ساحو ته د 2012 کال تر جون او جولای د نظارت هیڅ راپور نه و رسیدلی، او نورو ساحو ته د نظارت د راپورونو ترمنځ ډیر



**له منځ وړل شوي وسایط** د هرات په مرکزي ترمیم خانه کې، د 2012 کال د جولای په 18، د هغو وسایطو په لست کې دي چې باید ترمیم شي. (د سیګار عکس)

وخت شتون درلود. له 453 ضروري راپورونو څخه 170 يې له ساحو څخه د ليدلو په اړه وو، 121 د ټيليفون او ايميل له لارې ترسره شوي وو، او 41 هغه راپورونه وو چې پلټنه نه شوه ترسره کېدلای. پداسې حال کې چې له ساحو څخه نه ليدنه د لوجيستيکي او امنيتي خنډونو له کبله وه، سيګار وموندل چې زياتو راپورونو د دې ملاتړ نشو کولای چې پلټنه ولې نشوه کېدلای.

**سپارښتنې**
سيګار عمومي قوماندان، CSTC-A، او د امريکا د اردو د قرارداد کولو عمومي قوماندان ته پنځه سپارښتنې کوي، تر څو د قرارداد موده د افغانستان د ملي پوليسو د وسايطو د ساتنې د اړتياو پر اساس وټاکي او د شته سامانونو لست او نظارت ښه کړي. پردې برسيره، په راپور کې دوه سپارښتنې عمومي قوماندان، CSTC-A او د دفاع قرارداد د مديريت د ادارې (DCMA) ته دي، چې د قرارداد نظارت ښه کړي.

**د ادارې نظريات**
CSTC-A د امريکا د اردو د قرارداد له قوماندانۍ سره په همغږۍ، له ټولو اوو سپارښتنو سره موافقت کړی. DCMA تخنيکي نظريات هم وړاندې کړي او له شپږم او اومو سپارښتنو سره يې موافقه کړې، تر څو د COR نظارتونه ښه شي او چيرته چې کېدای شي له CSTC-A سره د کارونو په ترسره کولو کې مرسته وکړي.

## پلټنه 4-13: د افغانستان ملي اردو

**د وسايطو، جنراتورونو، او د بريښنا فابريکو پر تيلو باندې کنټرول بايد کلک شي، تر څو د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه ونيول شي**

له 2005 کال څخه، کانګرس د افغانستان د امنيتي ځواکونو فنډ (ASFF) لپاره نږدې 50.7 مېلياره ډالر تخصيص کړي دي، تر څو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) پشمول د افغانستان ملي اردو او ملي پوليس وروزل شي. په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت او په افغانستان کې د امنيت د سپارلو ګډه قوماندانۍ (NTM-A/CSTC-A) د افغانستان د ملي اردو د پټرولي موادو، تيلو او روغنياتو (POL) اخيستلو او د ملي اردو او د افغانستان د دفاع وزارت (MoD) د لوړ پوړو چارواکو د روزنې اصلي مسوليت لري. د نړيوال امنيتي همکارۍ ځواک ګډه قوماندانۍ له CSTC-A سره مرسته کوي، تر څو د ملي اردو لوړ پوړي چارواکي وروزل شي. د افغانستان د دفاع وزارت د ملي اردو د تيلو د فرمايشاتو، توزيع او حسابولو مسوليت لري.

دا راپور دا ارزونه کوي چې (1) آيا کورني کنټرولونو شتون درلود، تر څو د ملي اردو لپاره د POL حساب وکړي او د تقلب، ضايعاتو او ناوړه ګټې اخيستنې مخه ونيسي، (2) د ملي اردو لپاره POL د دقيقو معلوماتو پر اساس د اړتياو ملاتړ کوي، او (3) CSTC-A هڅه کړې تر څو دا وګوري چې د 2014 کال په پای کې د امريکا او ايتلاف له کميدلو وروسته د افغانستان دفاع وزارت په کافي اندازه د ملي اردو د POL د اخيستلو، رسولو، ساتلو، او مصرف کولو لپاره په کافي اندازه وړتيا لري. د دې لپاره چې دا موخې ترسره شي، سيګار معلومات ترلاسه کړي او د نړيوالې همکارۍ امنيتي ځواکونو، CSTC-A، د 2010 کال عملياتي ځواک، د امريکا دفاع وزارت عمومي مفتش، د امريکا د اردو د پلټنې ادارې، او د دفاع د لوجيستيک له ادارې سره يې کتلي دي. دا راپور د 2012 کال د سپتمبر د مياشتې

راپور او د خبرتیا مکتوب بشپړ کوي. سیګار دا کار په کابل، افغانستان کې د 2012 کال د فبروري څخه تر نومبره پورې عموماً د حکومت د منل شویو پلټنو د معیارونو پر اساس ترسره کړی.

**موندنې**

د 2014 کال په پای کې د امریکا د اردو ځواکونو په بریا سره سپارل د نورو شیانو په منځ کې د افغانستان پر توان اړه لري تر څو د امنیت چارې خپله په لاس کې ونیسي. یوه لوجیستیکي وړتیا، چې په هغه کې د اخیستلو توان، تعقیبولو، او د POL حساب ورکول راځي، د امنیتي ځواکونو او سپارلو ملاتړ کوي. مګر، د تیلو پروسه چې NTM-A/CSTC-A یې چمتو کوي، تر څو یې د افغانستان حکومت ته وړاندې کړي، د دې لپاره چې د تقلب، ضایعاتو او ناوړه ګټه اخیستنې خطر کم شي حساب ورکول او مالي کنټرول یې باید ښه شي.

CSTC-A د ملي اردو د وسایطو، جنراتورونو او بریښنا فابریکو لپاره د ډیزلو او طیارو د تیلو، تړل شویو تیلو، او د لرګیو د فرمایشاتو، تسلیمي او تادیاتو د پروسې لپاره په کافي اندازه د حساب ورکولو کموالی درلود. د حساب ورکولو دا کموالی دا خطر زیاتوي چې د امریکا د تیلو فنډونه به غلا شي. سیګار وموندل چې:

- د 2011 کال له مارچ څخه د 2011 کال تر فبروري پورې د CSTC-A د تیلو اخیستلو اسناد ورک وو،
- د 2011 کال له مارچ څخه د 2011 کال تر فبروري د CSTC-A د تیلو اخیستلو معلومات دقیق او پشپړ نه وو، او
- CSTC-A د ضایع شویو او ورک شویو تیلو حساب نشو ورکولای.

پردې برسیره، د CSTC-A د تیلو د قیمت د تایید، فرمایش، تسلیمي، سپارل او تادیاتو پروسه کې ډیرې ستونزې وې. د بیلګې په توګه:

- CSTC-A د تیلو لپاره تادیات تایید کړي پرته له دې چې د قراردادي د راپور ارزونه وکړي چې دوی په پشپړه توګه د منل شوې کیفیت تیل رسولي دي.
- د بریښنا د فابریکې لپاره د CSTC-A د تیلو فرمایشات د اړتیا وړ د لګښت د معلوماتو پر اساس نه و او د تیلو د فرمایشاتو تایید شوې پروسه یې نه وه ترسره کړې.

پردې برسیره، کانګرس د 2007 تر 2012 مالي کلونو لپاره د افغانستان د ملي اردو لپاره د POL لپاره 1.1 میلیارده ډالر تخصیص ورکړی، او CSTC-A اټکل کړی چې د راتلونکو شپږو مالي کلونو لپاره به (2013 څخه تر 2018) او نورو 3.1 میلیاردو ډالرو ته اړتیا وي. د تیلو لپاره دا 4.2 میلیارده ډالر تخصیصونه او اټکلونه، او نورې پیسې چې د نړیوالو ډونرانو لخوا ورکول کیږي، د تیلو د اړتیاو او حقیقي لګښت پر مستندو معلوماتو یې ملاتړ نه کیږي او یا کیدای شي اندازه یې زیاته وي.

په عین وخت کې، د 2013 کال د جنوري په میاشت کې CSTC-A باید له $266 میلیونو ډالرو څخه زیات د 2012 مالي کال څخه ولري چې په 2013 مالي کال کې یې د تیلو د اخیستلو لپاره ولګوي. که CSTC-A د سیګار سپارښتنې تطبیق کړي او د 2013 مالي کال فنډ د 2012 مالي کال په اندازه چې 306 میلیونه ډالره دی وساتي، د ملي اردو د POL لپاره به په کافي اندازه فنډ شتون ولري، تر څو چې CSTC-A یوه سیستماتیکه پروسه جوړه کړي چې د تیلو د اړتیاو لپاره د فنډ اټکل وکړي.

CSTC-A پلان لري تر څو د ملي اردو د تیلو د اخیستلو لپاره د افغانستان حکومت ته مستقیماً د امریکا 1 میلیارده ډالر فنډ ورکړي، سره له دې چې د CSTC-A د تیلو په حساب ورکولو کې ستونزې، د تیرو مستقیمو فنډونو په اړه د نظارت ارزونې سوالونه او راپورونه د افغانستان د حکومت د حساب ورکولو د وړتیا د ستونزو په اړه شتون لري. د پلټنې په وخت کې، CSTC-A چاروکو سیګار ته اطلاع ورکړه چې دوی د ملي اردو د تیلو د اداره کولو د پروسې لپاره ځینې عملي ګامونه اخلي. پدې ګامونو کې د تیلو د رسولو او تسلیمي لپاره به د اخیستلو د موافقې فورمه توزیع شي، تر څو د تیلو پر رسولو او تسلیمي باندې کنټرول ټینګ شي او د تیلو د رسولو ځایونه کم شي. سیګار به په راتلونکو پلټنو کې وګوري چې دا کارونه عملاً سرته رسیدلي وي.

**سپارښتنې**

سیګار قوماندان او NTM-A/CSTC-A ته شپږ عملي سپارښتنې کوي. په ځانګړې توګه، سیګار درې عملي سپارښتنې کوي، تر څو د امریکا د فنډونو او اخیستل شوي تیل د امریکا دفاع وزارت د لوجیستیک له اړینو پروسو سره بشپړ مطابقت ولري، دوه عملي سپارښتنې تر څو د تیلو فرمایش او راتلونکو کلونو د فنډ اټکل پر حقیقي بودجې باندې جوړ شي، او کیدای شي چې دا به ډیر ژر او د راتلونکي لپاره زیات فنډ وسپموي، او یو عملي ګام د دې لپاره چې کله د تیلو اخیستلو مسولیت د افغانستان دفاع وزارت ته وسپارل شي د امریکا د فنډونو مناسبه لارښونه او شفافیت تظمین کړي.

**د ادارې نظریات**

NTM-A/CSTC-A په عمومي توګه د سیګار له ټولو شپږو سپارښتنو سره موافقه وکړې.

## د خبرتیا مکتوب خپور شو

پدې ربع کې سیګار د خبرتیا یو مکتوب خپور کړی.

## د جغرافیایې معلوماتو اسنادونو د ځینو ساحو غلط کوردیناتونه لري

پدې ربع کې سیګار په انټرنټ کې د جغرافیایي معلوماتو یو تحلیل تر سره کړي، چې دا معلومات د افغانستان د تاسیساتو د جوړلو لپاره USAID ته هر اړخیز او د دقیقو معلوماتو یو انځور برابروي. د افغانستان د تاسیساتو او امنیت کارتوګرافي سیستم (AISCS) د USAID د قراردادي د نړیوال معاونت او پراختیا شرکت (IRD) لخوا جوړ شوی دی. دا معلومات داسي ډیزاین شوي چې د پراختیایي فعالیتونو په اړه معلومات، په شمول د سړکونو، کلنیکونو، روغتونونو، او عامه ودانیو لکه محکمې او د ولسوالیو مرکزونو جغرافیایي معلومات پکې شامل وي. د قرارداد د مقرراتو پر اساس، IRD د تاسیساتو د پروژو د ساحې معلومات، په افغانستان کې د USAID له دفتر او د امریکا دفاع وزارت څخه باید اخیستلي وایي، او د معلومات دقیقوالی یې تایید کړي. د IRD په وینا، دا شرکت "د کیفیت د کنټرول لپاره ډیر کلک څو اړخیزه روان طرزالعملونه لري تر څو د دې پر اساس د ټول شوي معلوماتو دقیقوالي تظمین وکړي."

سیګار وروسته له دې چې یې د اسنادونو په منځ کې د دوو ځلي اسنادونو بیلګې موندلې او د AISCS په 33,000 اسنادونو کې یې یواځې 16% ساحو تایید شوي موقیعتونه درلودل، دا پریکړه یې وکړه چې خپله ارزونه ترسره کړي. سیګار د AISCS له پروژو څخه 10

پروژې غوره کړي او له جرمي تحقيقاتي عملياتي ځواک (CITF) څخه يې وغوښتل تر څو د محرمو او غير محرمو سرچينو پر اساس د ويل شويو پروژو موقيعتونه تاييد کړي. CITF وموندل چې د درېو ساحو کورديناتونه تر ډېرې کچې دقيق نه و، او ويې نشو کړای چې درې پروژې پيدا کړي. ځکه چې دې لمړنۍ آزمويني انديښنې راپورته کړي، سيګار بيا په دقيقه توګه ارزونه ترسره کړه. سيګار د USAID لخوا په ښارې او کليوالو سيمو کې تمويل شوي ښوونځيو د 227 AISCS بيلګې د ملي جغرافيايي استخباراتو اداري (NGA) ته د ارزونې لپاره ورکړل.

NGA وشو کړای چې زمونږ يواځې د 81% بيلګې په ورکړل شوې کوردينات کې يا دې موقيعت ته نږدې تاييد کړي. سيګار او نورې اداري په افغانستان کې د امريکا لخوا تمويل شوي تاسيساتو پر بشپړو او دقيقو معلوماتو او موقيعتونو باندې تکيه کوي تر څو د بيارغونې د هڅو نظارت ترسره کړي. هغه معلومات چې بشپړ او يا دقيق نه وي، د دې اداري توان کموي تر څو د بيارغونې د فنډونو د لګښت ارزونه وکړي، او دا تاييد وکړي چې له پروژو څخه د اصلي موخو لپاره ګټه اخيستل کيږي، او د امريکا د بيا رغونې د کارونو د اغيز ارزونه وکړي. له دې کبله سيګار USAID وهڅاوه، تر څو په دقيقه توګه دا ارزونه وکړي چې IRD په کومه طريقه د AISCS تصديق او ساتنه کوي، او IRD مسول وګڼې که پدې پروسه کې کموالی پيدا کړي.

## پدې ربع کې نوي پلټنې اعلان شوي

پدې ربع کې، سيګار دوه پلټنې پيل کړي. دا پلټنې به دا ارزونې وکړي:

- د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سواد د زده کړې د روزنې پروګرام ترسره کيدل او نظارت
- د افغانستان د قضا سکتور د کارکونکو روزنه

**نوې پلټنې**

- د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړه
- د افغانستان د قضا سکتور د کارکونکو روزنه

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سواد روزنه

د يوې فعالې، ځواکمنې او پخپلو پښو ولاړ ځواک د روزلو لپاره چې وکولای شي په خپلواکه توګه کارونه ترسره کړي او د افغانانو دفاع وکړي، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو پر وړاندې بې سوادې يوه لويه ستونزه ده. امريکا تر 2015 پورې د 200 ميليونو ډالرو په ارزښت درې پروژې تمويل کړي دي، تر څو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته د سواد زده کړې او روزنه ورکړي او موخه يې دا وي چې تر ډيرې کچې بې سوادې کمه کړي. سيګار به د دې دريو قراردادونو پر اساس د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سواد د زده کړې د روزنې پروګرام د تطبيق او نظارت ارزونه وکړي. دا ارزونه به هم وکړي چې آيا تر هغې اندازې چې CSTC-A د قرارداديانو د فعاليت او روزنې د پايلو نظارت کړی، او تر هغې اندازې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره قرادادونه د سواد د زده کړې اساسي او دوامدارو موخو لپاره کارونه ترسره کوي، قراردادیانو تجربه لرونکي استادان او خدمات برابر کړي.

## د افغانستان د قضا سکتور د کارکونکو روزنه

په افغانستان کې د قانون حاکميت د امريکا د بيارغونې له ستراتيژيکو لمړيتوبونو څخه دی او د قضا سکتور د ودې ملاتړ لپاره د مرستې پروګرامونه او فنډونه برابروي. دا پلټنه به تر زياتې کچې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د قضا سکتور ملاتړ پروګرام باندې کار وکړي. د دې پروګرام موخه دا ده چې د قضا سکتور کارکونکې وروزي او د افغانستان د قضا سيستم ټول ظرفيت زيات کړي. سيګار دا پلان هم لري چې د امريکا د دفاع وزارت په افغانستان کې

د قانون د حاکمیت ساحوي څواک او د USAID د قانون د حاکمیت د ثبات پروګرام ارزونه وکړي، دا دواړه پروګرامونه د قضا سکتور د کارکونکو په روزنه باندې کار کوي.

## روانې پلټنې

### د نړیوال معاونت او پراختیا شرکت سره په جنوب کې د USAID د کرنې پراختیا سیمه ییزې پروژې همکاري

USAID په جنوب کې د کرنې پراختیا سیمه ییزه پروژه تمویلوي تر څو د سیمه ییزې بې ثباتي مخه ونیسي، د کرنې په برخه کې کار او ګټه ډیره کړي، او مرسته وکړي ترڅو دا سیمه له یوې بې ثباتي سیمې څخه په یوې دوامدارې سوکالۍ اقتصادي کرنیزې سیمې بدله شي. د 2012 کال د فبروري په میاشت کې، سیګار د USAID د تطبیق کوونکي همکار د نړیوال معاونت (IRD) او پراختیا شرکت په اړه تورونه ترلاسه کړل. IRD ونشو کړای چې په کافي اندازه د سیمې له حکومت او د اردو له چاروکو سره خپل کارونه همغږي کړي او فنډونه یې بې له کوم دلیله پر شمسي تختو او د فارم پر تیکټرونو لګولي. سیګار دا آزموینه تر سره کوي ترڅو دا ارزونه وکړي او دا معلومه کړي چې په کوم اساس شمسي تختې او د فارم تیکټرونه اخیستل شوي او توزیع شوي، او دا وګوري چې آیا د IRD لګښتونه د ستراتیژیکې همکارۍ د موافقت نامې له مقرراتو سره او پلان شوې موخو سره مطابقت درلود.

### USAID په افغانستان کې د خپلو پراختیایي پروګرامونو د دوام لپاره پلان جوړوي

که د امریکا لخوا تمویل شوي پراختیایي پروګرامونه یا د افغانستان د حکومت لخوا یا د ډونرانو په دوامداره ملاتړ ونه ساتل شي، د امریکا په میلیاردونه ډالر له خطر سره مخ دي. د 2011 کال د جون په میاشت کې، USAID لارښونه خپره کړې، تر څو په افغانستان کې د کارونو د دوام پلان کول د مرستې د پروګرامونو له ډیزاین سره په ښه توګه یو ځای کړي. کانګرس بیا د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته دنده ورکړه تر څو له USAID سره په همغږۍ کې، رسماً دا وګوري چې له فنډونو څخه به له دې لارښونې سره مطابق ګټه اخیستل کیږي. سیګار دا پلټنه ترسره کوي تر څو په افغانستان کې د USAID پراختیایي پروګرامونو د دوام پلان کولو ارزونه وکړي.

### د امریکا پر قراردادیانو چې په افغانستان کې د بیارغونې کارونه ترسره کوي د افغانستان اسلامي جمهورۍ حکومت لخوا وضع شوي تعرفې، مالیې او نور فیسونه

امریکا تر ډیرې کچې پر قراردادیانو او د دوی پر فرعي قراردادیانو تکیه کوي تر څو په افغانستان کې د امریکا د بیارغونې کارونه ترسره کړي. داسې ویل کیږي چې د افغانستان حکومت د امریکا لخوا تمویل شوي بیارغونې پروګرامونو لپاره له وارد شویو موادو څخه تعرفې، مالیې او نور فیسونه اخلي. دا پلټنه به دا وګوري چې کوم فیسونه اخیستل کیږي او آیا دا فیسونه له مناسبو نړیوالو تړونونو سره مطابقت لري. د دې پلټنې په یوې برخې کې، سیګار به دا ارزونه هم وکړي چې له 2014 کال څخه وروسته د ایتلاف مخ پر کمیدو فعالیتونه به د افغانستان د حکومت پر عملیاتي بودجې باندې اغیز ولري.

## روانې پلټنې

- د نړیوال معاونت او پراختیا شرکت سره په جنوب کې د USAID د کرنې پراختیا سیمیزې پروژې همکارۍ
- USAID په افغانستان کې د خپلو پراختیایي پروګرامونو د دوام لپاره پلان جوړوي
- د امریکا پر قراردادیانو چې په افغانستان کې د بیا رغونې کارونه ترسره کوي د افغانستان اسلامي جمهورۍ حکومت لخوا وضع شوي تعرفې، مالیې او نور فیسونه
- د افغانستان د مخدره موادو پر وړاندې د عملیاتو لپاره هوایي ملاتړ
- د امریکا د حکومت هڅې تر څو د افغانستا بریښنا له ملي خدماتو یا د افغانستان بریښنا شرکت سره د خصوصي کیدلو مرسته وکړي
- په افغانستان کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د لګښتونو مالي پلټنو پوښښ
- په افغانستان کې د لګښتونو په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مالي پلټنې پوښښ
- د عامې رورغتیا وزارت سره د USAID مستقیمه مرسته
- د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره روانې ساختماني پروژې
- د افغانستان ملي پولیسو پطرولي مواد، تیل او روغنیات
- د 230 میلیونو ډالرو په ارزښت فالتو سامانونه ورک دي

## د افغانستان د مخدره موادو پر وړاندې د عملیاتو لپاره هوايي ملاتړ

سره له دې چې نړیواله ټولنه او د افغانستان حکومت هڅه کوي تر څو د کوکنارو کرنه او غیر قانوني مخدره موادو قاچاق کم کړي، افغانستان د نړۍ 90% تریاک تولیدوي. د غیر قانوني مخدره موادو قاچاق له یاغیتوب سره هم مرسته کوي. د امریکا د مخدره موادو پر وړاندې ستراتیژي هڅه کوي تر څو د مخې د نیولو د عملیاتو له لارې یاغیانو ته د فنډونو مخه ونیسي. دا عملیات د امریکا او د افغانستان قانون پلي کوونکو چارواکو ته د امریکا لخوا پر تمویل شوي هوايي ملاتړ تکیه لري. د امریکا هڅې تر څو د افغانستان د ځانګړي ماموریت قطعې چې د هوایي مخنیوي قطعې په نوم هم نومیږي وړتیا ډیره کړي د مخدره توکو پر وړاندې د عملیاتو د دوام لپاره ډېر اړین دي. دا پلټنه به وګوري چې تر کومې کچې د امریکا مرستې قانون پلي کوونکو چاروا‌کو ته د مخدره توکو د مخنیوي عملیاتو لپاره چټک هوایي ملاتړ تیاروي، او د مخنیوي قطعې لپاره د امریکا حکومت د ادارو پر خپلو مرستو باندې د نظارت ارزونه، او دا ارزونه به وکړي چې د امریکا مرستې تر کومې کچې د مخدره توکو پر وړاندې هڅو لپاره دوامداره هوایي ملاتړ ته وده ورکړې ده.

## د حکومت هڅې تر څو د افغانستا بریښنا له ملي خدماتو یا د افغانستان بریښنا شرکت سره د خصوصي کیدلو مرسته وکړي

امریکا د افغانستان بریښنا شرکت، د بریښنا د ملي خدماتو د خصوصي کیدلو له هڅو څخه ملاتړ کوي، دا د هر اړخیزو هڅو یوه برخه ده، ترڅو پخپلو پښو ولاړې یوې شبکې ته وده ورکړ شي. د USAID لخوا تمویل شوي څو پروژې وترل شوې او USAID پلان لري تر څو د بریښنا خدماتو د پراختیا د ملاتړ دوام لپاره څو نوي قراردادونه وړاندې کړي. دا پلټنه به دا پیدا کړي چې تر کومې کچې امریکا د افغانستان بریښنا شرکت د خصوصي کیدلو د مرستې لپاره پروګرامونه تمویل کړي او د دې هڅو د پایلو ارزونه به وکړي. پلټنه به دا ارزونه هم وکړي چې تر کومې کچې د امریکا تطبیق کوونکو ادارو د افغانستان بریښنا شرکت پخپلو پښو دریدلو د ودې لپاره خپلې هڅې همغږې کړي. پدې ربع کې سیګار یو لنډ محاله راپور خپور کړی (دا پاڼې وګورئ 16) د پلټنې بشپړ راپور به په راتلونکې ربع کې خپور شي.

## په افغانستان کې د لګښتونو په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مالي پلټنې پوښښ

له 2002 کال څخه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د 6.1 میلیاردو ډالرو په ارزښت فنډونه خپلو تطبیق کونوکو ملګرو ته په 244 قراردادونو، د همکارۍ تړونونو، او نغدو پیسو کې وړاندې کړي دي. د دې قراردادونو پر اساس د فنډونو د لګښت مالي پلټنه به د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته خپلواکه ارزونه برابره کړي چې له دې فنډونو څخه په کومې طریقې ګټه اخیستل شوې. په 2012 کال کې، سیګار د USAID د بیارغونې د هڅو پلټنه بشپړه کړه (د سیګار پلټنه 9-12). سیګار اوس د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د همکاریو د تړونونو او نغدو پیسو د لګښتونو ورته مالي پلټنه ترسره کوي، چې وروسته به بیا د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د قراردادونو د لګښتونو مالي پلټنه وکړي.

## د امریکا د دفاع وزارت له هغه بندیز سره چې له دښمن سره به قرارداد نه کوي

د ملي دفاع د صلاحیت قانون چې په 2012 کال کې کانګرس تایید کړ، 841 برخه یې د مرکزي قوماندانۍ (CENTCOM) د عملیاتو په ساحه کې له دښمن سره قرارداد کول منع کوي. د مرکزي قوماندانۍ (CENTCOM) د عملیاتو ساحه. پدې پلټنه کې سیګار پلان لري چې د CENTCOM له خوا هغه ترسره شوي کارونه وپېژني، چې د 841 برخې د احکامو اطاعت کوي. سیګار به (1) دا ارزونه وکړي چې آیا د CENTCOM او د قراردادیانو کارونو یې په بشپړه توګه د 841 برخې د اړتیاو ځواب وایي او (2) دا ارزونه وکړي چې CENTCOM او قراردادیانو یې په بشپړه توګه د قرارداد کولو د تاسیس شویو پالیسیو او طرزالعملونو اطاعت کړی. دا تفتیش به دا ارزونه هم وکړي چې تر کومې کچې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID، چې تر 841 برخې لاندې نه راځي، پالیسي او طرزالعملونه جوړ کړي، تر څو هغو اشخاصو او شرکتونو ته قرارداد ورنکړي چې په فعاله توګه یې د بغاوت ملاتړ کوي، او یا د متحده ایالتونو او یا ایتلاف ځواکونو سره دښمني کوي.

## د عامې روغتیا وزارت سره د USAID مستقیمه مرسته

د 2008 د جولای په میاشت کې USAID د پنځو کلونو لپاره 236 میلیونه ډالره مستقیم فنډ د عامې روغتیا وزارت لپاره تایید کړ. USAID دا مستقیم فنډ په 13 ولایتونو کې د روغتیا ابتدایي خدماتو لپاره ورکړي دي، تر څو د پنځو ولایتونو د روغتونونو لپاره ضروري خدمات برابر کړي او د وزارت په مرکز کې کاري وړتیا ته وده ورکړل شي. د روغتونونو په اساسي خدماتو کې هغه عمومي خدمات دي چې هر ابتدایي روغتون یې د افغانستان د روغتیا په سیستم کې باید وړاندې کړي. د روغتونونو په اړین خدماتو کې د روغتونونو هغه خدمات شامل دي چې روغتونونه یې د افغانستان د روغتیا په سیستم کې باید وړاندې کړي، او پدې کې عمومي خدمات، کارکونکي، تجهیزات، معالجوي خدمات او درمل شامل دي. د سیګار تفتیش به وګوري چې آیا د عامې روغتیا وزارت سره د دې مستقیمې مرستې څخه د ټاکل شویو موخو لپاره ګټه اخیستل کیږي او اټکل شوي پایلې ترلاسه کوي. لکه څنګه چې د همکاریو تړون د مستقیمو مرستو اړتیا ده، دا به هم وګوري چې آیا USAID او د عامې روغتیا وزارت مالي او نور کورني کنټرولونه تطبیق کړي دي.

## د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره ساختماني اړتیاوې

د 2012 کال تر جون پورې امریکا د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره 311 روانې ساختماني پروژې درلودې، چې ارزښت یې 3.73 میلیارده ډالر و او 244 نورې پلان شوي پروژې، چې ارزښت یې نږدې 2.4 میلیارده ډالر و. سیګار به د CSTC-A د پروژو د اړتیاو دلیلونه او ملاتړ ارزونه وکړي. پلټنه به دا ارزونه هم وکړي: (1) تر هغې کچې چې امریکا او ایتلاف خپل پلانونه د افغانستان د ملي ځواکونو د راتلونکې ځواکونو دکمیت په اساس جوړوي، (2) آیا CSTC-A په بشپړه توګه د نویو ساختمانونو پر ځای د نورو چارو فکر هم کړی، او (3) آیا CSTC-A مناسبو معیارونو ته وده ورکړې او ګټه یې ورڅخه اخیستې، تر څو وګوري چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو اوسنی او وړاندیز شوې پروژې ضروري دي، سرته رسیدلای شي او د افغانستان حکومت یې ساتلو ته دوام ورکولای شي.

## د افغانستان د ملي پوليسو پټرولي مواد، تيل او روغنيات

سيګار پدې ربع کې د افغانستان د ملي اردو د پټرولي موادو لپاره د لوجيستيکي وړتيا پلټنه خپره کړه. د سيګار پلټنې 4-13 د افغانستان د ملي اردو د POL لپاره د کنټرولونو اړتيا ومونډله تر څو د امريکا د $1.1 ميليارډو ډالرو فنډ د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه ونيسي. د افغان ملي پوليسو پټرولي مواد (POL) لکه د ملي اردو د POL د سپارلو ورته لنډ وخت او ننګونو سره مخ دى، سيګار اټکل کوي چې د ملي پوليسو د لوجيستيکي وړتيا په پلټنه کې به ورته ستونزې رابرسيره شي. نوى تفتيش به په دو مهمو مسلو کار وکړي، چې د ملي اردو د POL په پلټنو کې يې موندلې دي: د تيلو دقيقه اړتيا او د تيلو د اخيستلو حساب ورکول.

## د 230 ميليونو ډالرو په ارزښت د ترميم پرزې ورکې دي

د 2012 کال د سپتمر په مياشت کې د آيساف د مشورې او مرستې ټيم قوماندان، چې د اردو ارزونې ټيم دى، راپور ورکړ چې CSTC-A و نشو کړاى د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د 500 څخه د 474 کانټينرونو او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره تجهيزاتو د 230 ميليونو ډالرو ترميمي پرزو حساب ورکړي. CSTC-A له 2007 کال څخه تر 2011 کال پورې د افغانستان ځواکونو لپاره د ترميم پرزې اخيستې دي. هغه ټيم چې دا يې ومونډل چې د ترميم پرزې ورکې دي، وويل چې کيداى شي CSTC-A د 137 ميليونو ډالرو په ارزښت د نورو ترميمي پرزو بيا فرمايش ورکړى وي. ټيم يو راپور وړاندې کړ او دا سپارښتنه يې وکړه چې سيګار د CSTC-A د ترميمي پرزو د فرمايش ورکولو او اداره کولو د کارونو تحقيق وکړي. راپور د ترميم د پرزو په ټولو لوجيستيکي پړاونو کې، پشمول د افغانستان ته د ترميمي پرزو ليږل، په کابل کې د امريکا لخوا د ترميمي پرزو تسليمي، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د قرارداديانو او فرعي قراردادیانو لخوا د ترميمي پرزو ساتنه، او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته د ترميمي پرزو ليږلو ستونزې ومونډلې.

د سيګار تفتيش به (1) دا ارزونه وکړي چې CSTC-A د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د 9 درجې (Class IX) د اړتياو، اخيستلو، اداره کولو، ساتلو او توزيع کولو لپاره له کومې طريقې څخه کار اخلي، (2) د 9 درجې د فالتو سامانونو د کورني کنترولونو ارزونه به وکړي چې آيا د حسابولو لپاره کافي دي او د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه نيسي.

## مالي پلټنې

د سيګار مالي پلټنه د خطر پر اساس له طريقې څخه ګټه اخلي، تر څو د افغانستان بيا رغونې لپاره د امريکا لخوا د تمويل شوي قراردادونو، فنډونو او د همکارى د تړونونو د لګښتونو پيژندنه او پلټنه وکړي. دا پروګرام وروسته لدې جوړ شو کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې په بهر کې د بيړنيو عملياتو د قراردادونو او فنډونو انديښنه څرګنده کړه چې د ډېرو قراردادونو او فنډونو مالي پلټنه نه ترسره کيدله. د دې نوښت په ترڅ کې به سيګار وکولاى شي:

- تاييد کړي چې د افغانستان د بيا رغونې لپاره د امريکا د قرار دادونو او د فنډونو د اخيستونکو لګښت مناسب، پيدا کيدونکى او ملاتړ کيدونکى دى.
- د قرارداد او فنډ په اړه د کورني کنټرول چاپيريال ارزونه وکړي،
- که د نه مطابقت او کمزورې کورني کنټرول بيلګى پيدا شي، احتمالي تقلب او ناوړه ګټه اخيستنه به و پيژني، او
- د تيرو پلټنو موندنې او سپارښتنې به تعقيب کړي.

د دې راپور ورکولو په موده کې، سیګار په سیالی د پلټنو غوره شویو شرکتونو ته قراردادونه ورکړل تر څو 12 مالي پلټنې تر سره کړي. ټولې پلټنې نږدې له $1.1 میلیاردو ډالرو څخه زیاد د پلټنو لګښت لري. ټولې دولس پلټنې اوس روانې دي. لدې څخه د یوولسو پلټنو د بشپړیدلو نیټه د 2013 کال د می میاشت ده، مګر یوه پلټنه چې د 2013 کال په جنوری کې وړاندې شوې، تمه کیږي چې د 2013 کال د جولای په میاشت کې بشپړه شي. د روانو مالي پلټنو لست د c په ضمیمه کې پدې پاڼو کې پیدا کولای شی 185. سیګار اوس د نورو مالي پلټنو د پیدا کولو په لټه کې دی او د دې پلټنو د تدارکاتو پروسه به د 2013 کال د فبروري په میاشت کې پیل شي.

## تفتیشونه

پدې ربع کې، سیګار دوه تفتیشونه بشپړ کړي او 18 تفتیشونه تر کار لاندې دي. بشپړ شویو تفتیشونو د افغانستان د ملي پولیسو په قرارګاه او په کندز کې د افغانستان د سرحدي پولیسو په تاسیساتو کې د ګټې اخیستنې او ساتنې ستونزې وموندلې. سیګار دوه نوي تفتیشونه هم اعلان کړل. لمړی په لویدیځو ولایتونو کې د روغتیا، روزنې، پولیس، او کرنې تاسیساتو څو تفتیشونه و. دویم د هلمند په ولایت کې د کجکي د بند او اړوند ساختماني پروژو تفتیشونه و.

### د تفیشونو راپورونه خپاره شول

### تفتیش 4-13: په کندز کې د افغانستان د ملي پولیسو ولایتي قرارګاه:

**د ساختماني کارونو له ځنډ او لګښت له ډیریدو څخه وروسته، د تاسیساتو ګټې اخیستنې او ساتنې په اړه اندیښنې شتون لري**

د 2010 کال د اګست په میاشت کې، USACE-TAN د 12.4 میلیونو ډالرو په ارزښت ECCI-C METAG ته د ګډ کار په توګه عملیاتي قرارداد ورکړ تر څو د کندز په ولایت کې د افغانستان د ملي پولیسو لپاره د قرارګاه تاسیسات ډیزاین او جوړ کړي. وروسته بیا په قرارداد کې تعدیلونو د قرارداد ټول لګښت 17.7 میلیونو ډالرو ته زیات کړ. د 2012 کال د نومبر په میاشت کې، سیګار د تاسیساتو په ساحه کې تفتیش ترسره کړ تر څو وګوري چې آیا ساختماني کارونه د قرارداد د اړتیاو او منل شویو ساختماني ستندردونو پر اساس ترسره شوي.

د ساحې د تفتیش کولو د تیارۍ لپاره، سیګار د قرارداد د اسنادونو، تخنیکي مشخصاتو، د ډیزاین د اسنادونو، جیو تخنیکي راپورونو، او د کیفیت د کنترول او د کیفیت د ډاډ راپورونو ارزونه وکړه. سیګار د 2012 کال له سپتمبر څخه تر دسمبر پورې، د افغانستان د کندز او کابل په ولایتونو کې د تفتیش لپاره د کیفیت د معیارونو او ارزونې پر اساس چې د ایمانداری او اهلیت د عمومي مفتیشونو د شورا له خوا خپور شوی، څیل تفتیشونه ترسره کړي.

> **بشپړ شوي تفتیشونه**
> - تفتیش 4-13 په کندز د افغانستان د ملي پولیسو ولایتي قرارګاه د ساختماني کارونو له ځنډو او لګښت له ډیریدو څخه وروسته، د تاسیساتو ګټې اخیستنې او ساتنې په اړه اندیښنې شتون لري.
> - تفتیش 5-13: د کندز ولایت په امام صاحب کې د سرحدي پولیسو قرارګاه: چې 7.3 میلیونه ډالر ارزښت لري تر ډیرې کچې ورڅخه ګټه نه اخیستل کیږي.



**د فاضله مواد د فلتر** د ځای ډېره کېندنه.
(د سیګار عکس)

**موندنې**

که څه هم USACE-TAN ونشو کړای چې د خاورې د احتمالي نړېدو ستونزه حل کړي، چې د قرارداد په یوه برخه کې راغلي او 10 میاشتې ځنډ یې راوست او لګښت یې 5 میلونه ډالر زیات کړ، په کندز کې د افغانستان د ملي پولیسو د ولایتي قرارګاه ساختماني کیفیت د قرارداد د مقرراتو پر اساس دی. کله چې سیګار د 2012 کال د نومبر میاشت په 15 د ساحې څخه لیدنه وکړه، د 37 ودانیو ساختماني کارونه نږدې 50% بشپړ شوي. د ډېری ودانیو ساختماني چوکاټ بشپړ و. کوم مهمه ساختماني ستونزه نه وه کتل شوي.

پردې برسیره، سیګار په تاسیساتو کې د ګټې اخیستنې او ساتنې ستونزې وموندلې. په ځانګړې توګه، په تاسیساتو کې د بریښنا لپاره یوواځې یو جنراتور و چې بل ملاتړ کوونکی جنراتور شتون ندرلود، او د سیمې له بریښنا سره وصل نه و، کیدای شي دا به د فاضله موادو بهیدلو ستونزه رامنځ ته کړي، او د تاسیسات او اوسیدونکو روغتیا او سلامتی به خطر سره مخ کړي. پردې برسیره، د عملیاتو او ساتنې قرارداد لپاره کوم پلان شتون نلري او یا دا چې افغانان وروزل شي تر څو په تاسیسات کې د فاضله موادو او بریښنا سیستمونه د کارکولو لپاره په ښه توګه وساتي. په همدې دلیل، د سیګار په نظر کیدای شي د امریکا پانګونه پدې تاسیسات کې له خطر سره مخ وي.

**سپارښتنې**

سیګار عمومي قوماندان او USACE ته سپارښتنې وکړي چې د فاضله موادو لپاره د پورته کولو په ستیشن کې د بریښنا ملاتړ نصب کړي، سیګار عمومي قوماندان، USACE، له عمومي قوماندان سره په همغږی کې، NTMA/CSTC-A ته هم سپارښتنې کوي، تر څو یوه پخوانی پریکړه وګوري چې دا ساحه دسیمې د بریښنا له شبکې سره وصل نکړي، او که دا پریکړه سمه وي، په ساحه کې ملاتړه بریښنا نصب کړي، تر څو د دوامدارې بریښنا شتون تظمین شي، د تخنیکي کارونو او د فاضله موادو د فابریکې او د بریښنا د فابریکې لګښتونو ته په پام سره، د عملیاتو او ساتنې قرارداد وړاندې کول دې په پام کې ونیسي، تر څو د تاسیسات اوږد محاله ساتنه تظمین شي.

**د ادارې نظریات**

USACE د سیګار له دریو سپارښتنو سره موافقه وکړه، دوی د NTMA-A/CSTC-A د هدایت او فنډ په تمه دي، او پلان لري چې دا ستونزې حل کړي. په ځانګړې توګه، USACE چمتو دی چې (1) د پورته کولو په ستیشن کې د بریښنا ملاتړ نصب کړي، (2) د سیمې د بریښنا له شبکې سره د ساحې د وصلولو د لګښت ګټه او تخنیکي تحلیل تر سره کړي او، (3) د اوسنې عملیاتو او ساتنې لپاره د عملیاتو یو قرارداد وړاندې کړي.

## تفتیش 5-13: د افغانستان د سرحدي پولیسو تاسیسات

**د کندز ولایت په امام صاحب کې د سرحدي پولیسو قرارګاه: چې 7.3 میلیونه ډالر ارزښت لري تر ډېرې کچې ورڅخه ګټه نه اخیستل کیږي**

د 2010 کال په مارچ کې د امریکا د انجنیرانو قول اردو-د افغانستان د شمالي حوزې انجنیران (USACE-TAN) د اومران ساختماني شرکت، چې یو مشورتي او انجنیري شرکت دی، د 5.7 میلیونو ډالرو په ارزښت د مشخص قیمت یو قرارداد وړاندې کړ، تر څو د کندز په امام صاحب کې سرحدي پولیسو لپاره تاسیسات دیزاین او جوړ کړي. وروسته بیا په قرارداد

کې تعديلات د قرارداد ټول ارزښت 7.3 ميليونو ډالرو زيات کړ. د 2012 کال د سپټمبر په 3 تاسيسات د افغانستان ملي پوليسو ته ورکړ شول. د تفتيش د پروګرام په يوه برخه کې، سيګار د تاسيساتو په ساحې کې تفتيش تر سره کړ ترڅو دا وګوري چې (1) آيا ساختماني کارونه د قرارداد له مقرراتو سره او منل شوي ساختماني ستندردونو پر اساس ترسره شوي، او (2) آيا له تاسيساتو څخه د پلان شوي موخو لپاره ګټه اخيستل کيږي او ساتنه يې کيږي.

د ساحې د تفتيش کولو د تيارى لپاره، سيګار د قرارداد د اسنادونو، تخنيکي مشخصاتو، د ديزاين د اسنادونو، جيو تخنيکي راپورونو، او د کيفيت د کنترول او د کيفيت د ډاډ راپورونه اروزنه وکړه. سيګار د 2012 کال د نومبر په 19 د ساحې تفتيش ترسره کړ. سيګار د 2012 کال له سپټمبر څخه تر دسمبر پورې د افغانستان په کندز او کابل ولايتونو کې، د کيفيت د ستندردونو او ارزونې پر اساس چې د ايمانداری او اهليت د عمومي مفتيشونو د شورا له خوا خپور شوی خپل کارونه ترسره کړل.

## موندنې

د تاسيساتو له 12 ودانيو څخه د سيګار تفتيش په دوو ودانيو کې او د دريمې ودانی په يوې برخې کې محدود و، ځکه چې ډيرى ودانی تړلي وي او په ساحې کې کارکونکو کلی ندرلودې. له هغو ودانيو څخه چې سيګار وکړای شول ارزونه ترسره کړي، د ساختمان د کيفيت کومه لويه ستونزه نه وه پيدا شوي.

ودانی چې په اصل کې د 175 کسانو لپاره جوړه شوي وه، د سيګار د تفتيش په وخت کې 12 افغانانو د تاسيساتو په ساحې کې شتون درلود. داسې ښکاريدل چې له ډيريو ودانيو څخه ګټه نه وه اخيستل شوي، او ځينې وسايل لکه د لرګيو نغري چې ساحې ته نږدې د تاسيساتو په پخلنځې کې نصب شوي و، له هغه ځای څخه ښکل شوي و.

سيګار داهم ويلې چې تاسيسات د بريښنا د انرژی لپاره ملاتړ نلري. پردې برسيره، د دې لپاره چې تاسيسات په ښه توګه وساتل شي، مناسبو کارکونکو ته چې د بريښنا د جنراتور، د تيلو د ستيشن، د اوبو د اداره کولو د سيستم، او ګرمي، هوا کښ، او د اير کنديشن د سيستمونو مهارتونه ولري اړتيا ده. مګر، نه کوم قرارداد د عملياتو او ساتنې لپاره شتون لري او نه کوم پلان شته چې د سيمې افغان کارکونکي وروزل شي تر څو د عملياتو او ساتنې تجهيزات څخه کار واخلي. دا د تاسيسات د دوام په اړه سوالونه راپورته کوي.

## سپارښتنې

سيګار سپارښتنه کوي چې USACE له NTM-A/CSTC-A سره په همغږی کې، د سرحدي پوليسو د تاسيساتو ساختماني پلانونه ارزونه وکړي، او دا وګوري چې کيدای شي د ودانی د ساحې قراردادونو کچه کمه شي، يا تاسيسات بيرته ديزاين شي تر څو غير ضروري لګښتونه کم شي يا دا چې آيا دې تاسيساتو او دې موقيعت ته اړتيا شته. که دا پريکړه وشي چې دی تاسيساتو ته اړتيا شته او د ګټې اخيستنې لباره يې پلانونه جوړ شي، سيګار سپارښتنه کوي چې د ملاتړ کونکي بريښنا د نصبولو يا د سيمې د بريښنا له شبکې سره وصولو امکانات دې وکتل شي، د عملياتو او ساتنې لپاره دې قرارداد وړاندې شي يا افغان کارکونکي وروزل شي، او دا وکتل شي چې په ساحه کې د لرګيو نغری ولې ايستل شوي.

### د ادارې نظريات

USACE ويلي چې، د دې په نظر ډېر مناسب کار به دا و چې سپارښتنې بايد NTM-A/CSTC-A ته ليږل شوي واي، ځکه دا د پروژو د اړتياو او د کار د اندازې د پرېکړو مسوليت لري. USACE د سيګار له ځلورو څخه له دريو سپارښتنو سره موافقه وکړه، او ويلي چې د NTM-A/CSTC-A د هدايت او فنډ ورکولو څخه وروسته، د ستونزو د حل لپاره تيار دی. په ځانګړې توګه، USACE چمتو دی چې د قراردادونو د ډيزاين او ساختماني کارونو اندازه کمه کړي، د برېښنا د ملاتړ کونکي د امکاناتو د نصبولو ارزونه وکړي يا د سيمې له شبکې سره يې وصل کړي، او د عملياتو او ساتنې د اوسنې قرارداد پرځای د عملياتو قرارداد وړاندې کړي. USACE د سيګار له ځلورمې سپارښتنې سره موافقه ونکړه، او وايې ځکه چې تاسيسات بشپړ شوي او مشتري ته تسليم شوي، او دا چې څنګه مشتری له تاسيسات څخه ګټه اخلي پر دې باندې هيڅ کنترول نلري. مګر، USACE چمتو دی چې د NTM-A/CSTC-A د هدايت او فنډ روکولو څخه وروسته، په بل تاسيسات کې چې اوس جوړيږي يا به په راتلونکي کې جوړ شي له NTM-A/CSTC-A سره د لرګيو د نغرې په تيارولو کې مرسته وکړي.

سيګار د USACE له وضعيت څخه خبر دی، مګر د تاسيساتو په جوړلو کې د لرګيو د نغرې راوړل د ساختماني کارونو ستندرد يوه برخه ده، چې لمړی ځل يې په 2009 کال کې په اړه پريکړه شوي وه او بيا په 2011 کال کې دا پريکړه تعديل شوي وه. د تاسيساتو د تسليمي څخه وروسته، ډېر ژر د لرګيو د نغري لرې کول دا ښيې چې کيدای شي د ساختماني کارونو په ستندرد کې به دا يو اغيزمن عنصر نه وي. پدې دليل، سيګار اوس هم دا باور لري چې USACE-TAN له NTM-A/CSTC-A په همغږی کې بايد دا وګوري چې د امام صاحب د سرحدي پوليسو په قرارګاه کې ولې د افغانستان امنيتي ځواکونو د لرګيو نغرې لرې کړي، او دا ارزونه وکړي چې د لرګيو نغرې په نورو تاسيساتو کې چې اوس تر کار لاندې دي او يا په راتلونکې کې جوړيږي تيار کړي.

## نوې تفتيشونه

سيګار په ټول افغانستان کې د امريکا د معاونت او بيا رغونې له فنډونو څخه وړاندې شوي ساختماني پروژو تفتيشونه ترسره کوي. پدې ربع کې سيګار دوه نوې تفتيشونه پيل کړي. يو تفتيش د هرات، فراه، بادغيس او غور په لويديځو ولايتونو کې د روغتيا، روزنې، پوليس او کرنې تاسيساتو د ساختماني پروژو لپاره دی. بل تفتيش د کجکي د بند او د هلمند په ولايت کې د اړوندو ساختماني پروژو لپاره څو تفتيشونه دی.

نوې تفتيشونه

- د هلمند په ولايت کې د کجکي د بند او اړوند ساختماني پروژو تفتيشونه و
- په لويديځو ولايتونو کې د روغتيا، روزنې، پوليس، او کرنې تاسيساتو څو تفتيشونه

## د روغتيا، روزنې، پوليس او کرنې تاسيسات

دا تفتيشونه به د هرات، فراه، بادغيس او غور په لويديځو ولايتونو کې د روغتيا، روزنې، پوليس، او کرنيزو تاسيساتو باندې کار وکړي. دا تفتيشونه به وګوري چې آيا (1) ساختماني کارونه د قرارداد له مقرراتو او منل شوي ساختماني ستندردونو سره سم بشپړ شوي يا بشپړيږي، (2) ساختماني ستونزې تر تسليمي يا سپارلو مخکې اصلاح شوي، (3) له تاسيساتو څخه د پلان شوي موخو لپاره ګټه اخيستل کيږي او په مناسبه توګه ساتل کيږي.

## دکجکي بند او اړوندې ساختماني پروژې

دا څو تفتیشونه به د هلمند په ولایت کې د کجکي پر بند او اړوندو ساختماني پروژو باندې کار وکړي، مګر دا به د USACE او USAID پر پروژو باندې محدود نه وي. دا تفتیشونه به وګوري چې آیا (1) ساختماني کارونه د قرارداد له مقرراتو او منل شوي ساختماني ستندردونو سره سم بشپړ شوي یا بشپړیږي، (2) ساختماني ستونزې تر تسلیمي یا سپارلو مخکې اصلاح شوې، (3) له تاسیساتو څخه د پلان شوي موخو لپاره ګټه اخیستل کیږي او په مناسبه توګه ساتل کیږي.

## د سیګار د سپارښتنو وضعیت

د 1978 کال د عمومي مفتش قانون او لکه څنګه چې تعدیل شوی، له سیګار څخه غواړي چې د خپلو سپارښتنو په اړه راپور ورکړي. پدې ربع کې سیګار د 29 پلټنو سپارښتنې تړلې چې د 13 پلټنو او تفتیشونو په راپورونو کې راغلي وي. له 2009 کال څخه تر 2012 کال پورې، سیګار 67 پلټنې او تحقیقونه خپاره کړي، او 225 سپارښتنې یې کړي تر څو فنډونه بیرته لاسته راوړي، د ادارې نظارت ښه کړي او د پروګرام اغیزمنتیا زیاته کړي. تر دې نیټې پورې، سیګار له 60% ډیرې دغه سپارښتنې تړلې دي. د سپارښتنو تړل دا مانا لري چې د سیګار په ارزونې د پلټنې ادارې یا سپارښتنه تطبیق کړې یا یې ستونزه لپاره د حل مناسبه لار پیدا کړې.

هغه اصلاحي ګامونه چې د دې راپور ورکولو په وخت کې د تړل شویو پلټنو راپورونو لپاره اخیستل شوي:

- د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا له فنډونو څخه اخیستل شویو وسایطو لپاره د ستونزو د تعقیبولو د سیستم جوړل (پلټنه 4-12)
- له 2011 څخه تر 2012 پورې د خراب شویو وسایطو یا ورک شوي یا غلا شوي تجهیزاتو له کبله، له ترانسپورتي شرکتونو څخه تر $66,000 ډالرو ډیر بیرته لاسته راوړل. (پلټنه 4-12)
- له $46,000 څخه ډیر د اجارې لپاره د مرمي ضد وسایطو بې اجازې د ترانسپورت کولو په اړوند لګښتونه چې د USAID لخوا یې پیسې ورکړل شوي بیرته لاسته راغلي (پلټنه 11-12)

د 1978 کال د عمومي مفتش قانون او لکه څنګه چې تعدیل شوی، له سیګار څخه دا هم غواړي چې د هرې مهمې تیرې سپارښتې په اړه چې اصلاحي ګامونه یې په اړه نه وي اخیستل شوي راپور ورکړي. پدې ربع کې، سیګار د 15 پلټنو او د تفتیش څلور راپورونو د سپارښتنو په اړوند یې د ادارې د عملي کارونو نظارت ترسره کړ. دوه راپورونه چې له 12 میاشتو څخه زاړه دي، 13 مهمې سپارښتنې لري چې د اصلاحي ګامونو په تمه دي. دا دوه راپورنه د 9.9 میلیونو ډالرو د ننګونو د حل په اړه دي چې د امریکا حکومت او د امریکا د همغږي او بیا یو ځای کیدلو د کرنې د مرستې او د ظرفیت لوړلو لخوا د بیمې لپاره ورکړل شوي دي. په ځانګړې توګه، د پلټنې راپور 15-11، د *USACE* د دفاع د بنسټ په قانون کې د بیمې پروګرام کمزورې ده چې د امریکا حکومت ته تر 58.5 میلیونو ډالر بیرته روا‌ړل نشو، چې د 2011 کال د جولای 28 خپاره شوي. د سیګار څلور سپارښتنې د USACE لپاره دي تر څو د بیمې د قرارداد د دفاع بنسټ په قانون (DBA) ځواکمن کړي او د اوسنې بیمې ورکونکي لخوا موندل شویو ستونزو لپاره د حل لار پیدا کړي. په راپور کې څلور نورې سپارښتنې د USACE او د CENTCOM د ګډو عملیاتو د قرارداد کولو قوماندانی لپاره دي،

تر څو د DBA پروګرام ځواکمن کړي، او چیرته چې کیدای شي له قراردادیانو څخه د DBA د بیمې لګښتونه پیسې بیرته واخلي. سره لدې چې USACE ژمن دی چې پدې اړه ګامونه واخلي تر څو دا ستونزې چې سیګار د 2012 کال په پای کې موندلي حل کړي، پدې راپور کې اته سپارښتنې لا تر اوسه خلاص دي.

پردې برسیره، د پلټنې راپور 1-12، عملي ګامونو ته اړتیا ده تر څو د کرنې اوبو لګولو او مالداري په وزارت کې د ظرفیت لوړولو شه ارزونه او همغږي وشي، دا راپور د 2011 کال د اکتوبر په 20 خپور شو. د سیګار پنځه سپارښتنې په افغانستان کې د امریکا د سفیر لپاره وي چې د امریکا د ظرفیت لوړلو هڅې سره یو ځای او همغږي کړي، په ملکي ادارو کې د امریکا د دفاع وزارت د کرنې د چارو د پراختیا ټیم د ظرفیت د لوړلو فعالیتونو هڅې سره یو ځای کړي، او د افغانستان په ولایتونو او کابل کې د افغانانو د ظرفیت لوړلو کارونه په ډیره دقیقه او دوامداره توګه د اردو او ملکي ادارو کې د پرمختګ کچه اندازه کړي. دا سپارښتنې هم تر اوسه خلاص دي.

عکس 2.1

**د سیګار تحقیقات: د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د پرانیستو تحقیقاتو شمیر**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 1/8/2013.

## تحقیقونه

پدې ربع کې، دسیګار د تحقیقونو پایله نه نیول (څلور د امریکا وګړي او پنځه افغانان)، اته د جرم اثبات، د فیدرال پنځه تورونه و، او د افغانستان د قانون پر اساس د څو جرمونو لپاره یو جرمي تور، چې پدې کې د ټیلو غلا کول، د پیسو غوښتنه او رشوت اخیستل شامل و. سیګار د 310,000$ ډالرو په ارزښت د حکومت غلا شوي شتمنې بیرته لاسته راوړه او د حکومت 5.6 میلیونه ډالر یې وسپمولي. پردې برسیره، سیګار 16 انفرادي کسان او شرکتونه د تعلیق او بندیز لپاره راجع کړل. سیګار د CSTC-A د ټیلو د اسنادونو د له منځه وړلو په اړه هم یو تحقیقاتي راپور جوړ کړ.

د دې راپور ورکولو په وخت کې، سیګار 63 نوې قضیې پیل کړې او 14 یې تړلې، لکه څنګه چې پدې عکس 2.1 کې ښودل شوي، د ټولو اوسنیو تحقیقاتو شمیره 268 ته رسیږي. له دې قضیو څخه سیګار 217 مشرتوب کوي.

## تحقیقات دا ښیې چې CSTC-A نشي کولای د 201 میلیونو ډالرو د تیلو اخیستول حساب ورکړي

د دې راپور ورکولو په وخت کې، سیګار تحقیق کونکو موندل، لدې کبله چې CSTC-A ونشو کړای د اسناد ساتلو د پالیسی اطاعت وکړي، د امریکا حکومت لا تر اوسه نشي کولای د افغانستان د ملي اردو ملاتړ لپاره د 201$ میلیونو ډالرو اخیستل شوی تیلو حساب معلوم کړي. د سیګار تحقیق وروسته لدې پیل شو چې عمومي مفتش جان ایف ساپکو د 2012 کال د سپتمبر په 13 د کانګرس اوریدنې غونډې ته راپور ورکړ، چې د CSTC-A افسرانو د 2007 مالي کال څخه د 2011 مالي کال تر فبروری د افغانستان د ملي اردو لپاره د تیلو اخیستلو د 475 میلیونو ډالرو اسنادونه له منځه وړي دي. له اوریدنې څخه وروسته، CSTC-A له 2007 مالي کال څخه د 2010 مالي کال تر فبروری اسنادونه موندل. سیګار د 2010 مالي څخه د 2011 تر فبروری د ورک شویو اسنادنو تحقیق ته د دوام ورکړ. تحقیق کونکو موندل چې د CSTC-A د تیلو د فرمایشاتو دوو افسرانو، وروسته لدې چې یې اسنادونه سکن کړي بیایې د ساتلو د ځای د سپمولو لپاره له منځه وړي. مګر، CSTC-A ونشو کړای چې سکن شوي اسناد پیدا کړي، سره لدې چې د سیګار د تحقیق په موده کې موندل شوي د انترنت

بشپړ شوی تحقیقاتي راپور

- د افغانستان ملي اردو: د امریکا دفاع وزارت د 201 میلیونو ډالرو په ارزښت اخیستل شوي تیل تر اوسه بې حسابه دي ځکه چې اسنادونه یې له منځه وړل شوي

آدرسونه او فیزیکي موقیعتونه ورکړ شوي و. تحقیق کونکو داسې شواهد پیدا نکړل چې د اسنادونو له منځه وړل دې له جرمي فعالیتونو سره تړاو ولري. مګر لدې کبله چې اسنادونه نه و ساتل شوي دا د فیدرال د اخیستلو د مقرارتو څخه سرغړونه و چې د اسنادونو او د CENTCOM د فرمایشاتو ساتنې غوښتنه کوي.

## سیګار د تیلو د غلا کولو له تحقیق څخه تر 4.8$ میلونو ډالرو ډیر وسپمول

د 2012 کال په دسمبر کې، سیګار د امریکا د اردو د جرمي تحقیقاتو څانګې (CID) او د امریکا اردو له نورو کارکونکو سره یو ځای، دوه ګډ عملیات ترسره کړل او د خوست ولایت د سالیرنو د عملیاتو په مخکنی پایګاه (FOB) کې یې د تیلو د غلا د طریقې مخه ونیوله. د دې بریالیو تحقیقاتو په پایله کې، دتیلو لپاره نږدې 4.8 میلیونه ډالره په هرکال کې وسپمیدل، 1,000 ګیلنه تیل د 15,000$ ډالرو په ارزښت بیرته لاس ته راغلل، درې افغانان ونیول شول، او له FOB او د امریکا او ناتو د اردو له نورو پایګاو څخه تر 60 ډیر د تیلو ډریوران او ددوی جرمی ملګري د تل لپاره له کاره لري شول.

سیګار وروسته لدې د 2012 کال د نومبر په میاشت کې پدې تحقیقاتو کې برخه واخیستله کله چې د اردو د FOB سالیرنو قوماندان لدې ادارې څخه مرسته وغوښتله تر څو د تیلو د روانو غلاو د طریقې مخه ونیسي. قوماندان داسې اټکل کړی و چې د امریکا حکومت په هره میاشت کې نږدې 53,000 ګیلنه د تیلو غلو ته له لاسه ورکوي. سیګار د پایګاه له کارکونکو سره یو ځای کار پیل کړ او ډیر ژرېې وموندل چې د تیلو د لاریو افغان ډریوران چې د FOB سالیرنو دیپو ته تیل راوړي، له هغه څه چې د دوی په اسنادونو کې لیکل شوي و له 600 تر 2,400 ګیلنه کم راوړل. تحقیق کونکو هیڅ داسې شواهد ندي موندلي چې د امریکا حکومت کارکونکې دې پدې کې جرمي لاس ولري.

سیګار تحقیق کونکو د امریکا د اردو د تروریزم پر وړاندې له عملیاتي ځواک، راکسان عملیاتي ځواک، یا د دریمې لوا جنګې ټیم، 101 هوایی څانګې، د افغانستان مالي مرکز تهدید (ATFC)، د امریکا د "قانون حاکمیت" وکیلانو چې د امریکا د عدلیې وزارت لخوا افغانستان حکومت سره کار کوي، او د افغانسان له څارنوالانو او پولیس سره وکتل تر څو یو پلان جوړ کړې چې د غلا د حل لار پیدا شي. د افغانستان پولیسو د تیلو د دیپو څارنه پیل کړه چیرته چېرته چې تیل رسول کیدل. سیګار او CID په لنډ محال ویش کې تر30 ډیرې تحقیقاتي مصاحبې تر سره کړې. د راکسان عملیاتي ځواک او ATFC تحلیلي ملاتړ تیار کړ. د امریکا د "قانون حاکمیت" وکیلانو او د افغانستان څارنوالانو یوه ستراتیژې جوړه کړه تر څو پر هغو افغانانو تور ولګول شي چې د تحقیق په وخت کې شکمن پیژندل کیږي.

د ګډو تحقیقاتو په پایله کې د دسمبر په 23 او 27 د سالیرنو د تیلو په میدان کې دوه کسان ونیول شول. د راکسان عملیاتي ځواک او د افغانستان پولیسو د تیلو دیپو کنټرول پټپل لاس کې ونیو تر څو تحقیق کونکي هغه افغان ډریوران او د تیلو کارکونکي چې د غلا په طریقه کې لاس لري وپیژني او مصاحبه ورسره وکړي. د سیګار د تحقیق پر اساس او د افغانستان او امریکا له څارنوالانو سره په همغږی کې، د افغانستان د پولیسو چاراواکو درې افغانان د تیلو په غلا ونیول. تحقیق کونکو نږدې 1,000 ګیلنه غلا شوي تیل چې 15,000$ ارزښت یې درلود بیرته لاسته راوړل. پردې برسیره، د FOB سالیرنو قوماندان له 60 څخه ډیر د تیلو د ټانکرونو افغان ډریوران او نور افغانان چې د تیلو د غلا په طریقه کې یې لاس درلود له FOB سالیرنو او په افغانستان کې د امریکا او ناټو له نورو تاسیساتو څخه منع کړل.



**د سیګار کارکونکی** د افغانستان د فساد پر وړاندې له چارواکو سره په کابل کې ګوري. (د سیګار عکس)




**د مزار شریف په کمپ مارمول کې** د امریکا د اردو د تیلو په ډیپو کې د سیګار اجنټ د غلا شوي تیلو د بیرته خالي کولو څخه څارنه کوي. (د سیګار عکس)

## لوړ پوړې افغان چارواکي ونیول شول، د $310,000 په ارزښت د حکومت غلا شوې شتمنۍ ضبط شوه، او د قرارداد د لګښتونو $825,000 وسپمول شول

د سیګار تحقیق کونکو چې د دې اداري له نوي پایګاه څخه په مزارشریف کې کارکوي، د بلخ ولایت په کمپ جوردانیه او کمپ مارمول کې د امریکا د اردو په تاسیساتو کې د تیلو د غلا طریقه ومونده. د نړیوال قرارداد د فساد عملیاتي ځواک (ICCTF) د قانون پلي کونکو چارواکو سره یو ځای، سیګار تحقیق کونکې پوه شول چې ابراهیم آشنا، یو لوړ پوړی افغان چارواکی، په یوې ځانګړې طریقې کې د امریکا د حکومت پر وړاندې له تقلب څخه کار اخیستی. آشنا هغه کس و چې کمپ جوردانیه او کمپ مارمول ته یې د تیلو د رسولو مسولیت درلود، او د "ترانسپورت د حرکاتو وړاندیزونو" (TMRs) غلط اسنادونه یې وړاندې کول، چې د سیمې د تیلو ډیپو ته یې د تیلو در سولو غلط راپور ورکاوه. آشنا بیا د امریکا له حکومت څخه د تیلو هغه پیسې اخیستې چې ډیپو ته هیڅ نه و وړل شوي.

سیګار تحقیق کونکو د خبرو ثبت شوي کسټونه ترلاسه کړل چې آشنا پر دې طریقې باندې خبرې کولې او دایې تایید کړې چې ده د تیلو د ډیپو کارکونکو ته رشوت ورکاوه. سیګار پدې پوه شو چې ده او د ده ملګرو یې د امریکا د حکومت پر وړاندې د تقلب له طریقو څخه کار اخیستی. عموماً، آشنا او د ده ملګرو د ډیپو کارکونکو ته رشوت ورکاوه، تر څو په غیر قانوني توګه د ډکولو په وخت ټانکرونو له تیلو څخه تر 2,500 ګیلنه ډک کړي، او ټانکرونه له ډیپو څخه د تیلو له ډیر اندازې سره ولاړ شي. دوی په غلطه توګه اسنادونه وړاندې کول او دا ادعا یې کوله چې تیل رسول شوي دي. پردې برسیره، آشنا د ډیپو کارکونکو ته رشوت ورکاوه ترڅو په غلطه توګه راپور ورکړي چې تیل رسول شوي حال دا چې په

(په *38* پاڼه کې دوام لري)

# د تیلو د غلا تحقیق کول

تیل په افغانستان کې "مایع سره زر" دي— په آسانی غلا کیږي او په آسانی په تور مارکیټ کې خرڅیږي. کیدای شي د غلا شوي تیلو اخیستونکي د سیمې د تیلو سټیشن، د سرک د غاړې تیل پلورونکي، د امریکا قراردادیان چې د اردو د تیلو ډیپو ته لاس رسی نلري، یا افغان یاغیان وي. که دا پطرول، د طیارې تیل، یا دیزل وي، تیل په آسانی سره د ټانګر، ریل یا پایپ لاین له لارې ترانسپورت کیدای شي. هره طریقه د غلا کیدلو لپاره خپله کمزوري لري چې د سیګار هڅه کوي مخه یې ونیسي. د میلیونهاو ډالرو تیل له خطر سره مخ دي چې امریکا یې هر کال خپلو کارکونکو او دافغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره اخلي.

سیګار د تیلو په اړه 24 خلاص تحقیقونو لري. پدې ربع کې د سیګار یوې پلټنې وشودل چې د 4.2$ میلیاردو ډالرو تیلو باندې چې د افغانستان ملي اردو لپاره اخیستل کیږي او په راتلونکي به واخیستل شي، ښه کنټرول ته اړتیا شته تر څو د تقلب، ضایعاتو، او ناوړې ګټې اخیستنې مخه ونیول شي. سیګار د محدودې اندازې یوه ارزونه هم خپره کړې چې د امریکا له فنډونه څخه کیدای شي له ایران څخه تیل واخیستل شي او د امریکا اقتصادي بندیز څخه سرغړونه وشي. یوه بله پلټنه به د افغانستان ملي پولیسو لپاره د تیلو د برابرولو پروسې ارزونه وکړي.

د سیګار د تیلو ډیرې جرمي تحقیقونه د ډریوران، یا افغانان یا د دریم هیواد وګړو په اړه دي، چې د امریکا د حکومت یا د اردو د قراردادیانو لپاره کار کوي او د اردو پایګاو ته تیل رسوي. د داسې اصلي قراردادیانو ډریوران ډیرې وختونه هغه تیل چې دوی ترانسپورت کوي، "کموي". هغه تیل چې په ټانګر کې پاته کیږي بیا له پایګاه څخه ایستل کیږي او په تور مارکیټ کې خرڅیږي. سیګار له پټو اجنټانو، سرچینو او د ځارنې له کمرو څخه کار اخیستی تر څو د هغو ډریورانو په اړه شواهد ترلاسه کړي چې په افغانستان کې د امریکا له تاسیساتو څخه تیل غلا کوي. پدې نږدې وختونو کې، سیګار له انفرا رید ځارنې کمرو څخه کار اخیستی تر څ، هغه دریوران وښیي چې هڅه کوي د امریکا له پایګاو څخه له هغو ټانکرونو سره ووځي چې نیمی ډک دي او تیل یې دوی ندې خالي کړي.

سیګار د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره کار کوي چې افغان ډریوران په سیمې کې محاکمه شي. د دریمو هیوادونو وګړې د سیګار لخوا تعلیق او بند شوي تر څو دوی په راتلونکي کې د اردو پایګاو ته لاس رسی ونلري. د عدلیې وزارت له لارې، سیګار پر اصلي قراردادیانو مسولیت اچوي تر څو د ډریورانو د رسولو د پروسې نظارت وکړي، څکه ډریوران دوی ته کار کوي. د دوی تر قرارداد پر اساس، قراردادیان مسولیت لري ترڅو تیل برابر کړي او د امریکا حکومت مسولیت لري تر څو د رسول شوي تیلو پیسې ورکړي.

تر اوسه، په حقیقت کې چې ډریورانو ډیرې وختونه خپل رسول کمول پر اصلي قراردادیانو یې هیڅ اغیز ندرلود. دوی ته د ټولو تیلو پیسې ورکړ شوي او له ورک شوي تیل څخه پیسې ندې ګرځول شوې. مګر په کندهار کې د سیګار تحقیق له نوې پروسې څخه کار اخلي تر څو ډاډه شي چې د قراردادي ټول هغه تیل حساب شي چې هغه یې د رسولو مسولیت لري. تحقیق کونکي اجنټانو له کمپیوتري معلوماتو څخه کار اخیستی تر څو د امریکا د اردو په تاسیساتو کې چې ټول تیل لګول شوي د سوپریم تیلو شرکت په مشخص وخت کې د مشخص اندازه تیلو سره پرتله کړي. KG ته په مشخص وخت کې پیسې ورکړ شوي. د توپیرونو احتمال ډیر دی، له سوپریم سره خبرې رواني دي چې پیسې بیرته ورکړي.

سیګار دا هڅه هم کړي تر څو په زینه کې پورته شي او د تیلو د غلا د ډلې په اړه شواهد ترلاسه کړي. پدې لنډو وختونو کې یو تحقیق د USAID یوه افغان قراردادي په اړه و، ابرهیم آشنا هغه کس و چې په یوه ورځ کې یې څو ټانګرونه برابرول چې پایګاو ته ننوځي او تیل غلا کړي. آشنا د سیګار له یوه اجنټ څخه وغوښتل تر څو جعلي اسناد برابر کړي چې د دوه ټانکرونو ته به اجازه ورکړي تر څو د امریکا د اردو پایګاه ته ننوځي او تیل ډک کړي، چې بیایې د اردو نورو تاسیساتو ته ورسوي. سیګار د ویډیو له کمرې څخه کار اخیستی تر څو له خپل اجنټ سره د آشنا د غلا خبرې ثبت کړي او د انفرا رید ویډیو کمرې څخه یې کار اخیستی چې له غیر قانوني پاتې شوي تیلو سره ټانکرونه ښیې چې وځي. افغان څارنوالان د څارنې لدې شواهدو څخه په محکمه کې د آشنا پر وړاندې کار اخلي.

سیګار د خپلو تحقیقونو، پلټنو او ځانګړو راپورونو له لارې په افغانستان کې د امریکا په فنډونو اخیستل شوي تیلو د ضایعاتو او غلا مخه نیسي.




**د سیګار تحقیق کونکي د امریکا له اردو سره یو** ځای د اردو د تیلو د غلا په اړه په ساحه کې مصاحبې کوي. (د سیګار عکس)

حقیقت کې تیل غلا شوي و، او لدې کبله یې $75,000 جریمه نه ورکوله چې د تیلو د نه رسولو په وخت کې یې باید د امریکا حکومت ته ورکړي وای.

آشنا د 2012 کال د اکتوبر په 21، کې کله چې ده $5,000 رشوت ورکړ تر څو څلور ټانګرونه په غلطه توګه له 2,500 ګیلنه څخه ډک کړي، چې د تایید شوې تر اندازې ډیر و، د افغانستان چارواکو لخوا د سیګار د اجنټانو په مخکې په کمپ مارمول کې ونیول شو. کیدای شي د امریکا حکومت د 10,000 ګیلنو د غلا د تیلو ارزښت به $150,000 ډالره و. د سیګار تحقیق کونکو څلور ټانکرونه چې ارزښت یې $180,000 ډالره و ضبط کړل، $130,000 غلا شوي تیل یې بیرته لاسته راوړل، د غلطو TMRs د پیژندلو له کبله یې $825,000 وسپمولي، د رشوت $42,000 بیرته لاسته راغلل، او د امریکا د اردو له تاسیساتو څخه یې د آشنا او د ده د ډریورانو دایمي ایستل تضمین کړل. لکه څنګه چې آشنا او ملګري یې د افغانستان وګړي و او د امریکا تر قانون لاندې نشو محاکمه کیدلای، مګر آشنا لا تر اوسه د افغانستان د رشوت او تقلب د تورونه له کبله په توقیف کې دی او د بلخ په ولایت کې د محاکمه کیدلو انتظار کوي.

دا تحقیق د سیګار د نوې پریکړې د بریا استازیتوب کوي چې په مزارشریف کی یې نوی دفتر جوړ کړ او دوه ځانګړې اجنټان یې هلته په دندو وګمارل، تر څو د امریکا په نږدې تاسیساتو کې د احتمالي تقلب لپاره د حل لار پیدا کړي. او کله چې د امریکا اردو تجهیزاتو او نور مواد لدې سیمې څخه باسې، دا تاسیسات به د ایستلو له عملیاتو سره مرسته کوي.

## یو پخوانی قراردادي او د امریکا د اردو دوه پخوانې پرکمشران په افغانستان کې د قرارداد د تقلب په اړوند مجرم ګڼل کیږي

د امریکا د اردو د پخوانې قراردادي یو کارکونکی او د امریکا د اردو پخوانی دوه پخواني سرپرکمشران چې په افغانستان کې یې د امریکا د اردو لپاره د مرمی ضد وسایط برابرولو، د $200,000 ډالرو د قرارداد په تقلب کې لاس درلود، او د 2012 کال د دسمبر په 19 یې د امریکا د ایلانویز په حوزه کې د حوزې د قاضي مخکې په خپل جرم اقرار کوي.

قراردادي، راول بورکتا، د بریښنا له لارې په یوه تقلب یې په خپل جرم اقرار وکړ، حال دا چې د امریکا د اردو دوه پخوانی سرپرکمشرانو، زاکیري تایلر او جارید کلوز، هر یوه د غیر قانوني پیسو اخیستلو په جرم اقرار وکړ.

د محکمې د اسنادونو پر اساس، بورکتا د فراه په ولایت کې د دفاعي قرارداد یو شرکت پر مخ وړ او تایلر او کلوز د امریکا د اردو سرپرکمشران و چې په ولایتي بیا رغونې ټیم کې په دندو ګمارل شوي و. دوی د ملکي چارو په عملیاتي څواک کې کار کاوه او په افغانستان کی یې د پراختیایي قراردادونو د ادارې او وړاندې کولو مسولیت درلود. تایلر او کلوز بورکتا ته د $200,000 ډالرو قرارداد ورکړ، چې د امریکا اردو لپاره د مرمی ضد دوه موټرونه برابر کړي، تر څو د فراه د والي محافظت وشي، هغه د طالبانو لخوا په مرګ ګواښل شوي و. د محکمې اسنادونو وایې چې تایلر او کلوز بورکتا ته $200,000 ډالره تادیات تایید کړي، مخکې لدې چې هغه موټرونه وسپاري. بورکتا پیسې اخیستي، هر یوه تایلر او کلوز ته یې $10,000 ډالره ورکړي او موټرونه یې ندې رسولي. د سیګار، د دفاع د جرمي تحقیقاتي خدمات، د امریکا د اردو CID او فیدرال تحقیقاتو بیرو (FBI) له یوه تحقیق څخه وروسته درې واړه نیول شوي.

د محاکمې په وخت کې، کیدای شي بورکتا د 20 کلونو لپاره بندي شي، او تایلر او کلوز هر یو د دوو کلونو له بندي کیدلو سره مخ دي. بورکتا به د 2013 کال د اپریل په 2 محاکمه شي. تایلر او کلوز به د 2013 کال د اپریل په 3 محاکمه شي.

## د امریکا قراردادي د 150,000$ ډالرو د قاچاق د پلان په جرم اقرار کوي

د امریکا د یوه قراردادي شرکت پخوانی مدیر چې د افغانستان بیا رغونې په کارونو کې په کار بوخت و، د فیدرال په محکمه کې د 2012 کال د دسمبر په 13 له افغانستان څخه امریکا ته د 150,000$ ډالرو نغدو پیسو د قاچاق پلان په جرم اقرار کړي. د سیګار، FBI او د نورو قانون پلي کونکو ادارو د یوه ګډ تحقیق په پایله کې، مدیر دونالد جین ګارست، د امریکا د کنزاس د حوزې لپاره د حوزې په محکمه کې د ډیرو غیر قانوني نغدو پیسو د قاچاق د تور په جرم اقرار وکړ.

د بګرام په هوایی ډګر کې د امریکا د قراردادي د ملکي مدیر په توګه، ګارست د قرارداد د مقرراتو د جوړولو مسولیت درلود، چې د داوطلبی لپاره داوطلبان جلب کړي او فرعي قراردادونه د افغانستان شرکتونو ته ورکړي. د خپل کار په وخت کې، ګارست له یوه افغان څخه، چې د سومو لوجیستیکې شرکت، چې یو افغاني شرکت دی، مالک څخه 150,000$ ډالره اخیتسي. ګارست هڅه وکړه چې د بګرام له هوایي ډګر څخه، د DHL د پوستې له لارې خپلې میرمني ته 150,000$ ډالره نغدې پیسې د کنزاس توپیکا ته ولیږي. هغه د محاکمه کیدلو په تمه دی.

د محاکمې یو څارنوال چې د سیګار لخوا د امریکا د عدلیې وزارت د تقلب له څانګې سره کار کوي او د کنزاس په حوزه کې د امریکا د څارنوال دفتر، د ګارست قضیه پر مخ وړي.

## د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پخوانی قراردادي د 30,000$ ډالرو غیر قانوني پیسو په اخیستلو ونیول شو

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د شخصي خدماتو د قرارداد یو پخوانی کارکونکی په اړه یو جرمي شکایت چې د یوه عاکه کارکونکي پو توګه یې یو ځل غیرقانوني پیسې ترلاسه کړي او یو ځل یې قصداً د یوه لوړ پوړي چارواکي څخه غیر قانوني پیسې اخیستې د 2012 کال د اکتوبر په 15 د دیلاویر د حوزې لپاره د حوزې محکمه کې له کاره څخه لرې شو. کارکونکی کینیت مایکل بروپهي، د 2012 کال د اکتوبر په 14 د سیګار د چارواکو، FBI، او د بهرنیو چارو په وزارت کې د عمومي مفتش دفتر لخوا ونیول شو.

د جرمي شکایت پر اساس، بروپهي د 2008 کال له نومبر څخه د 2010 کال تر می د امریکا د کابل سفارت کارکونکی و، د نورو کارونه تر څنګه د بندي خانو د بیارغونې پروژو د قراردادونو امر و. شکایت ادعا کوي چې بروپهي د افغانستان له یوه شرکت څخه چې ده یې د بندي خانې قراردادونو اداره کول، 30,000$ ډالر اخیستي. داسې ویل کیږي چې د قرارداد له فسخه کیدلو وروسته، افغان قراردادي له بروپهي څخه مرسته وغوښتله چې د USACE پر و ړاندې د ادعا په محکمه کې مرسته وکړي. د شکایت پر اساس، بروپهي پخپله د USACE له چاروکې څخه د اسنادو په جوولو کې چې USACE ته وړاندې کیدل، مرسته غوښتې، او له USACE سره یې د افغاني شرکت د اړیکو په اړه عمومي مشوره ورکړي. شکایت دا ادعا هم کوي چې بروپهي د پیسو اخیستلو په اړه د فیدرال چارواکو ته په پیل کې غلط راپور ورکړی. د بروپهي لپاره د محکمې نیټه لا تر اوسه معلومه نده.

## د امریکا د شرکت یو پخوانی کارکونکی د $90,000 ډالرو څخه ډیرو غیر قانوني تادیاتو او پیسو اخیستلو په اړه ونیول شو

د یوه قراردادي شرکت معاون په افغانستان کې د خپل کار په وخت کې د امریکا د مالیې ورکونکو لخوا تمویل شوي فرعي قرارداد څخه د $90,000 ډالرو اخیستلو په تور د 2012 کال د دسمبر په 13 ونیول شو. د سیګار او د فیدرال د قانون پلي کونکو له نورو ادارو سره له یوه ګډ تحقیق څخه وروسته، قراردادي ایلتون موریس مکایب، د فیدرال د جرمي شکایت په تور ونیول شو چې غیر قانوني پیسې یې اخیستې او د بریښنا له لارې یې پیسې لیږلې.

مکایب د یوه قراردادي شرکت لپاره کار کاوه چې د امریکا حکومت له اصلي قراردادونو څخه یې فرعي قراردادونه ترلاسه کول تر څو په کندهار کې د بیا رغونې له هڅو سره مرسته وکړي. په 2009 کال کې ادعا کیږي چې مکایب د امریکا د بیا رغونې له پروژو څخه د فرعي قرارداد د ورکولو په بدل کې د $53,000 ډالرو نغدو پیسو غوښتنه کړې او پیسې یې اخیستې، او د فرعي قراردادي بانک له حساب څخه یې د خپلې میرمن د بانک حساب ته لیږلې. په همدغه کال کې مکایب نغدې پیسې اخیستې او د قراردادي له مشاور څخه یې غوښتې چې د مکایب د شرکت د ساختماني موادو په بدل کې $20,000 ډالره د مکایب د میرمن بانک حساب ته ولیږي. او بیا په غیر مشروع توګه ترلاسه شوي پیسې، چې ټولې له $90,000 ډالرو څخه ډیرې وي، مکایب خپل شخصي لګښتونو لپاره لګولې.

دا قضیه د محاکمې کولو د یوه څارنوال لخوا چې د سیګار لخوا د عدلیې وزارت د تقلب له برخې سره کار کوي پر مخ وړل کیږي. د محاکمې کولو نیټه لا معلومه نده.

## د امریکا د اردو سرپرکمشر د 1 میلیونو ډالرو په جرم اقرار کوي

د امریکا د اردو سرپرکمشر د 2012 کال د اکتوبر په 24 د فیدرال د قاضي په وړاندې له افغانستان څخه امریکا ته د نږدې 1 میلیونو ډالرو نغدو پیسو د قاچاق کولو د هڅې په جرم اقرار وکړ. سیګار وروسته لدې د سرپرکمشر تونیا لانګ کیبو تحقیق پیل کړ، کله چې یې معلومات ترلاسه کړل چې د امریکا حکومت د افغانستان یوه ترانسپورټي شرکت ته د نامعلومو ترانسپورت کولو لپاره پیسې ورکولې. د هغې دنده داوه چې د امریکا اردو لپاره د ترانسپورټي کاروان کارونه او خدمات همغږې کړي. لانګ کیبو توطیه جوړه کړې چې د ترانسپورټي حرکتونو وړاندیزونو جعلي کړي، چې لدې کبله د افغانستان د ترانسپورټ دوو شرکتونو ته اضافي پیسې ورکړ شي. په بدل کې، دوو ترانسپورټي شرکتونو لانګ کیبو او نورو ته چې هغې ته یې کار کاوه رشوت ورکول. سرپرکمشر چې د ګمرک د مفتش دنده یې هم پر مخ وړله، بیا یې نږدې $1 میلیونه ډالره په وي سي آر کې (VCR) پټ کړې او په کانتینر کې یې امریکا ته لیږلې.

## د امریکا د اردو سرپرکمشر د 2012 کال د اکتوبر په 11 د امریکا د اردو د تیلو د 1 میلیونو ډالرو د غلا د توطیې

په جرم اقرار کوي، د امریکا د اردو سرپرکمشر کرستوفر ویور د امریکا د دینور کالارادو د حوزې محکمې ته راوستل شو، چیرته چې هغه د رشوت او د توطیې د تور له کبله چې هغه د $1 میلیونو ډالرو د تیلو د غلا کولو په پلان کې لاس درلود، په جرم اقرار وکړ، دا تیل

په افغانستان کې د FOB فینتي او جلال آباد د امریکا د ځواکونو لپاره و. وروسته لدې چې سیګار له دوو سرچینو څخه معلومات ترلاسه کړل، تحقیق یې پیل کړ چې په پایله کې ویور ونیول شو.

ویور او د امریکا د اردو یو قراردادي، چې پر هغه باندې هم تور دی او وړاندې یې په جرم اقرار کړي، په FOB فینتي کې، چې د جیټ طیارو د تیلو د توزیع مرکز و، کار کاوه. ده او د هغه د توطیې ملګري د نږدې 100 ټانکرونو د جیټ طیارو د تیلو د غلا کولو لپاره آسانتیاوې برابرې کړې. د غلاو د آسانتیاو په بدل کې، ویور د هر 5,000 ګیلنو د غلا د تیول د ټانکر، چې ده له FOB فینتي څخه د وتلو اجازه ورکړې، 5,000$ نغدې پیسې اخیستې. ویور له یوه افغان څخه چې له ده سره یې په FOB فینتي کې کار کاوه نغدې پیسې ترلاسه کولې. د تحقیق په وخت کې، ویور منلې چې د امریکا حکومت لپاره تاوان له 1$ میلیونو ډالرو څخه تر 2.5$ میلیونو ډالرو پورې دی. ویور به د امریکا د حوزې په محکمه کې د 2013 کال د جنورۍ په 22 محاکمه شي.

## د اردو پخوانی قراردادي د رشوت په جرم اقرار کوي

د هیوستن یوه میرمن د 2012 کال د اکتوبر په 24 د کولمبیا په حوزه کې د رشوت ورکولو او په افغانستان کې د ترانسپورټ د خدماتو لپاره د امریکا اردو ته د جعلي بیلونو د توطیې په تور مجرم ګڼل کیږي. سیګار د دیانا مونتیس تحقیق ترسره کړی، هغه ځوک چې د کیلاګ براون او روټ لخوا د 2008 کال له اپریل تر دسمبر پورې په دنده ګمارل شوي وه. دا شرکت د امریکا د اردو لخوا اجاره شوی و چې د افغانستان د ترانسپورټي شرکتونو سره د امریکا اردو د حرکاتو د کنترول څانګې قرارداد کولو سره مرسته وکړي، ترڅو په ټول افغانستان کې د امریکا د اردو تجهیزات، تیل او نور مواد ترانسپورټ کړي. د اوسنې تاسیس شوي سیستم پر اساس، د هر سفر لپاره د ترانسپورټ شرکت باید د TMR فورمه ډکه کړي. وروسته له دې چې هغې TMR تایید کول، هغه به بیا د امریکا د قرارداد کولو کارکونکو ته د تادیاتو لپاره ورکولو کیدل. د 2008 کال د می په میاشت کې دا کار پیل شو، کله چې مونتیس د افغانستان د تجارت ترانسپورت (ATT) سپارلي، او پدې پوهیدله چې غلط و. په بدل کې، هغې ته ATT نږدې 50,000$ نغدې پیسې د بانک له لارې انتقالولې.

## د امریکا سرپرکمشر باندې د 10,000$ قاچاق تور

د امریکا د اردو سرپرکمشر د امریکا د نورد کارولینا د ختیځې حوزې د حوزې په محکمه کې د 2012 کال د دسمبر په 7 امریکا ته د غیر قانوني نغدو پیسو لیږلو دقاچاق تور ولګول شو. د سیګار، د امریکا د اردو CID، او د دفاع د جرمي تحقیقاتو خدمات په یوه ګډ تحقیق کې، سرپرکمشر ریني مارتینیز له 10,000$ څخه د ډیرو نغدو پیسو په قاچاق کولو په تور مسول وګڼل شو. پیسې په یوه بسته کې پټې شوې وي او له افغانستان څخه نورد کارولینا لیږل شوي.

## د حکومت قراردادي د امریکا د فنډ د غلا په جرم اقرار کوي

د امریکا یو قراردادي په افغانستان کې د امریکا د فنډ د غلا په تور، د فیدرال په محکمه کې د 2012 کال د نومبر په 14 په خپل جرم اقرار کوي. د امریکا د نورد کارولینا د ختیځې حوزې د حوزې په محکمه کې د قراردادي لاویت دامینیک پر وړاندې تورونه، د سیګار او د امریکا د اردو د CID د تحقیق په پایله کې وموندل شول. د محکمې د اسنادونو پر اساس،

دامینیک د امریکا د حکومت پر وړاندې تقلب تر سره کړی، کله چې هغې له بل کس څخه وغوښتل چې د امریکا د فایت ویل، نورد کارولینا د سره صلیب دفتر ته تیلیفون وکړي او په میلواکي، ویسکانسن کې د هغې د ورور د غلط مرګ ادعا وکړي. وروسته لدې چې د امریکا سره صلیب د دې غلط مرګ خبر افغانستان ته ولیږه، دامینیک لدې څخه ګټه واخیستله او د بیړنې رخصتی او سفر لپاره یې پیسې ترلاسه کړې ترڅو په خیالي فاتحه کې برخه واخلي، او د امریکا حکومت د تقلبې بیلونو لګښت پر غاړه اخلي. د محکمې کولو نیټه لا تراوسه معلومه نده.

## سیګار په فعاله توګه مفسد قراردادیان تعلیق او بندیز ته راجع کړل

پدې ربع کې، د سیګار تعلیق او بندیز پروګرام 16 انفرادي کسان او شرکتونه تعلیق او بندیز ته راجع کړل، چې د سیګار د دې راجع کولو ټوله شمیره 222 ورسیدله، یا 113 انفرادي کسان او 109 شرکتونه دي، دا عکس وګورئ 2.2. کله چې انفرادي کسان یا شرکتونه تعلیق او بند شي، د غلطو کارونو له کبله، دوی نشي کولای چې د فیدرال قراردادونه یا مرستي ترلاسه کړي د کال د دسمبر په پای کې، دسیګار هڅې تر څو له تعلیق او بندیز څخه ګټه واخلي تر څو په افغانستان کې د تقلب، فساد، او کمزورې فعالیت مخه ونیسي، پایله یې د انفرادکسانو او شرکتونو چې د امریکا لخوا تمویل بیارغونو پروژو کې کار کاوه، 58 تعلیقونه، د بندیز لپاره 95 وړاندیزونه، او 46 تایید شوي بندیزونه و. سیګار د هغو تحقیقونو پر اساس خپل راجع کول تر سره کوي چې خپله پکې برخه اخلي. دا راجع کول د یوې تطبیق کونکي اداري او د

عکس 2.2

**د سیګار تحقیقات: د ځنډولو او مخنیوی کولو لپاره د مراجعو مجموعي شمیر، د 2011 مالي کال له دویمې ربعې څخه د 2013 مالي کال تر لمړی ربعې پورې**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 1/4/2013.

یوې ادارې لپاره چې د عملي ګامونو لپاره ټول ملاتړ کونکي اسنادونه ضروري دي، د تعلیق او بندیز راجع کولو د پریکړو د خبرو لپاره یو اساس جوړوي.

د سیګار پروګرام په افغانستان کې د امریکا د پالیسی او د قرارداد کولو په بیړني چاپیریال کې د دریو ننګونو لپاره د حل لار پیدا کوي: د چټکو ګامونو اخیستلو اړتیا، د افغانستان پر وګړو او شرکتونو د امریکا محدود صلاحیت، او له فرعي قراردادیانو څخه د ګټې اخیستنې په اړه د ارزونې ننګوني دي. سیګار خپلو کارونو ته دوام ورکوي، تر څو د معلوماتو له سرچینو او په افغانستان او امریکا کې له تحقیقاتي معلوماتو څخه ګټه واخلي، تر څو د امریکا د حکومت توان زیات کړي او د مفسدو قراردادیانو مخه ونیسي.

## د حریصو قراردادیانو پیژندل

له 2011 کال څخه، سیګار ګامونه اخیستي دي تر څو هغه کسان چې په افغانستان کې د "حریصو قراردادیانو" په نوم پیژندل کیږي د جزا ورکولو لپاره وپیژني. حریص قراردادیان د ساختماني پروژو اصلي یا فرعي قراردادونه اخلي چې دوی یې د بشپړ کولو لپاره هیڅ پلان نلري. دوی هڅه کوي تر څو د قرارداد هرڅومره پیسې چې کیږي ترلاسه کړي او بیا پرته لدې چې خپلو فرعي قراردادیانو ته پیسې ورکړي، کار پریږدي. حریص قرارداد کول په هغو سیمو کې ډېر معمول دي چیرته چې د قرارداد کولو نظارت ډېر لږ وي او قراردادي پر خپلو فرعي قراردادیانو او د موادو برابرونکو باندې ځانګړی صلاحیت لري. حریص قراردادیان نه یوازې د امریکا حکومت ته د پیسو او وخت تاوان رسوي. لکه څنګه چې دوی د خپلو افغان مواد برابرونکو او فرعي قراردادیانو ته پیسې نه ورکوي، لدې کبله افغانان باور کوي چې د امریکا حکومت افغانانو ته د کار لپاره پیسې نه ورکوي، او دا په افغانستان کې د امریکا ټول ماموریت ته هم تاوان رسوي. د 2011 کال له جون څخه، د دې کارونو پر اساس سیګار 50 شرکتونه او انفرادي کسان بندیزونو ته راجع کړي، چې پایله یې څلور تعلیقونه، 20 وړاندیز شوي بندیزونه او 16 بشپړ شوي بندیزونه و. د 2013 کال په دویم ربع کې، سیګار به د قرارداد کولو ټولنې ته د وړاندیز له لارې د حریصو قراردادیانو د ستونزې د حل لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي، چې قراردادي افسران باید فرعي قراردادیانو ته د پیسو ورکول د قرارداد د تړلو له اړتیاو څخه په نظر کې ونیسي.

## فرعي قراردادي چې ونشو کړای د پلچکونو لاندې ځالی نصب کړي بندیز ته وړاندې شو

پدې ربع کې، یوه قراردادي لدې کبله چې د پلچکونو لاندې یې ځالی ندې نصب کړې تر څو د یاغیانو مخه ونیول شي چې د سرک د غاړې بمونه (IED) ترلاندې کینږدي، د ایتلاف د ځواکونو او ملکي افغانانو ژوند یې له خطر سره مخ کړي و، بندیز ته وړاندې شو. قراردادي عبدل انس سلطاني او د ده شرکت، افغان میرکوري ساختماني شرکت، په غلطه توګه د بلچکونو لاندې 122 ځالی د 1 حلقوي سرک په یوې برخه کې د غزني د ښار او د غزني شمال لورې ته د وردک ولایت تر سرحد پورې نصب کړې. سلطاني او افغان میرکوري د ځالی د کلکولو لپاره د سمیټو پر ځای یې له ویلډنګ څخه کار اخیستی، او یاغیانو ته یې کار آسانه کړی ترڅو په ځالیو کې لاس ووهي. د شرکت کارکونکو د ځالی د چوکاټ په شاوخوا کې ځایونه خلاص پرې ایښې چې د IED د کیښودلو مخه نیسي. سلطاني او

ميرکوري جعلي عکسونه هم وړاندې کړي او ادعا يې کړې چې د پلچکونو لاندې محافظتي ځالی نصب شوي دي، حال دا چې په حقيقت که هيڅ کار بشپړ شوی نه و. د امريکا د اردو کارکونکو راپور وکړی چې د قرارداد له مشخصاتو سره کار سم نه و تر سره شوي، نو ځکه دې کار د سړک په يوې مهمې برخه کې د ‟IED د کېښودلو ساحه" جوړه کړه، او د IED د حملو له کبله د عسکرو او ملکيانو ژوند له خطر سره مخ کړی، او د وسايطو ګڼه ګونه هم ډېره شوي. د خطر اندازه بيخي ډېره وه او د 2012 کال د اکتوبر په 10 سيګار USFOR-A او CENTCOM ته د خبرتيا لیک وليږه ترڅو يې لدې خطره خبر کړي.

## د سيګار څارنوال ته بلنه ورکړ شوه ترڅو پر تعليق او بنديز خبرې وشي

د ايمانداری او اهليت د عمومي مفتيشونو شورا، د سيګار يوه څارنوال ته بلنه ورکړه ترڅو د ويرجينيا په اسکندريه کې د تعليق او بنديز په کلني کنفرانس کې د ښو کارونو د ترسره کولو او د حقيقتونو پر اساس د تعليق او بنديز د خبرو مشري وکړي. د ښو کارونو د ترسره کولو په اجندا کې تعليق او بنديز راجع کولو ته وده ورکول، د شواهدو پر اساس له اسنادو څخه کار اخيستل، او د يوه ستندرد پروسې جوړول تر د غلطو کارونو له کبله تورن قراردادیانو ته خبر ورکړ شي. پدې کنفرانس کې برخه اخيستل او د دفاع وزارت د تدارکاتو او تقلب کاري ګروپ کې غړيتوب، دا مانا لري چې سيګار د تعليق او بنديز له کارونو څخه خپل ملاتړ ځرګندوي.

## ځانګړې پروژې

د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر د عمومي مفتش لخوا جوړ شوی د چټک غبرګون يو ټيم دی، ترڅو راتلونکې ستونزې د فيدرال ادارو او کانګرس لپاره په چټکۍ او د عمل وړ راپورنو له لارې وارزول شي. پدې ربع کې دې دفتر د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې د ډېرو نغدو پيسو د نظارت کولو د ستونزو او دا چې په افغانستان کې د امريکا له فنډ څخه اخيستل شوی تيل کيدای شي د امريکا له اقتصادي بنديزونو څخه سرغړونه وکړي، په اړه ارزونه خپره کړې. د پرمختګونو او نوي معلوماتو پر وړاندې د دفتر غبرګون، او د ځينو موضوعاتو احساسيتونه، کيدای شي داسې مواد توليد کړي چې پخوا نه و اعلان شوي.

## د ځانګړو پروژو راپورنه خپاره شوو

### ځانګړې پروژه 1-13: د فساد پر وړاندې ګامونه

**د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې د ډېرو نغدو پيسو د نظارت په اړه دوامداره ستونزې شتون لري**

د امريکا حکومت له ډېر وخته د کابل له نړيوال هوايي ډګر څخه د پيسو د ليږلو په اړه ډېره اندېښنه لري. د کانګرس د تحقيقونو د خدماتو په وينا، په 2011 کال کې نږدې4.5 ميلياره ډالره له افغانستان څخه ايستل شوي. د دې ډېرو پيسو ليږل د پيسو پاکولو او د ډېرو پيسو د قاچاق خطر رامنځ ته کوي، دا هغه وسيلې دي چې تروريستان، مخدره مواد، او نور غير قانوني عملياتو سره مالي مرسته کوي. د 2011 کال په جنوری کې، سيګار د امريکا د حکومت د هڅو په اړه راپور ورکړ تر څو د افغانستان په ټول اقتصاد کې د امريکا د فنډونو د ليږلو نظارت ځواکمن کړي، پشمول د ‟ډېرو پيسو ليږلو عملي پلان" چې په 2010 کال

**بشپړ شوي ځانګړې پروژې**

- ځانګړې پروژه-1-13: فساد پر وړاندې ګامونه: د کابل په هوايي ډګر کې د پيسو د ليږلو په اړه دوامدارې ستونزې شتون لري
- ځانګړې پروژه-2-13: د افغانستان ملي امنيتي خواکونه: کيدای شي د تيلو واردولو باندې محدود نظارت چې د امريکا د تيلو په فنډ اخيستل شوي پر ايران باندې د امريکا اقتصادي بنديزونو څخه سرغړونه وکړي

کې جوړ شوي تر څو له هوايي ډګر څخه د پیسو لیږل کنټرول کړي. د 2012 کال په اګست کې، سیګار ارزونه پیل کړه تر څو په هوايي ډګر کې د ډیرو پیسو شمیرلو ماشینونو نوښت اندیښنه تعقیب کړي او له افغانستان څخه د پیسو لیږلو نظارت وکړي.

سیګار وموندل چې له هوايي ډګر څخه د دې ادارې له وروستی لیدنې څخه تر یوه کال ډیر تیر شوی و، مګر د نغدو پیسو شمیرلو له ماشینونو څخه لا هم د اصلي موخو لپاره ګټه نه وه اخیستل شوي، او د افغان حکومت لخوا ټاکل شوي ډیر مهم کسان (VIP) د پیسو له کنټرول څخه تیریدل. د نغدو پیسو شمیرلو ماشین په یوې کوچنی د الماری په بڼه ځای کې ایښودل شوي و، چې په هوايي ډګر کې د ګمرک او نورو چارواکو ورته په آسانی لاس رسی ندرلود. هیڅ یو ماشین له انټرنټ یا د کمپیوټر له سرور سره وصل نه و، او دا کار د مالي تعقیبولو لپاره اړین دی که له ماشینونو څخه د پرله پسې د شمیرو د معلوماتو د لیږلو لپاره ګټه اخیستل کیږي. پردې برسیره، د VIP او نورو ډیرو مهمو کسانو (VVIP) لخوا د تایید شویو پیسو لپاره د ډیرو پیسو ماشین د پیسو د شمیرلو او د معلوماتو ټولولو لپاره شتون ندرلود، دا دواړه ډلې اجازه لري د ګمرک له کنټرول او د پیسو له شمیرلو څخه پرته له هوايي ډګر څخه ووځي. د DHS چارواکو سیګار ته ویلي چې د افغانستان د ګمرک چارواکي اندیښنه لري که دوی په هوايي ډګر که کنټرول وضع کړي، کیدای شي د دوی پر وړاندې به د افغانستان د حکومت لخوا منفي ګامونه واخیستل شي. د 2012 کال تر اکتوبر، د DHS د چارواکو په وینا، له انټرنټ او د کمپیوټر له سرورو سره د ډیرو پیسو د شمیرلو ماشینونو د وصل کولو هڅې لا تر اوسه "پخپل ځای" پاتې دي.

سیګار دې پایلې ته راورسید چې د افغانستان حکومت باید ډیر ژر د ډیرو پیسو شمیرلو له ماشین څخه او امنیتي کامرو سیستمونو څخه کار واخلي او دې کار ته د پای ټکی کیږدي چې VIP او VVIP د ګمرک له مقرراتو څخه چې د نورو مسافرینو لپاره ضروري دي معاف وي.

## ځانګړې پروژه-2-13: د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه

**کیدای شي د تیلو واردولو باندې محدود نظارت چې د امریکا د تیلو په فنډ اخیستل شوي پر ایران باندې د امریکا اقتصادي بندیزونه څخه سرغړونه وکړي**

په تیرو پنځو کلونو کې، کانګرس د افغانستان ملي اردو د تیلو اخیستلو لپاره $1.1 میلیارده ډالرو تخصیص ورکړي. CSTC-A تر ډیرې کچې له افغان پلورونکو څخه د موافقې د فورمې ډکولو له لارې تیل تر لاسه کوي. او بیا په ځینو قضیو کې، افغان پلورونکي له ټرانسپورټي شرکتونو او د تیلو رسولو له کسانو سره فرعي قرارداد کوي. که څه هم ایران د افغانستان لپاره د تیلو اصلي برابرونکی دی، مګر د امریکا اقتصادي بندیزونو پروګرام له ایران سره د امریکا د وګړو او د امریکا د فنډونو لخوا نړیدي ټول تجارت او د پانګونې فعالیتونو منع کړی. د سیګار لخوا دې محدوده ارزونې دا آزموینه وکړه چې آیا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د تیلو په اخیستول کې په کافي اندازه کنټرولونه شتون لري تر څو د امریکا له فنډونو څخه ګټه اخیستنه د ایران پر وړاندې د امریکا د بندیزونو اطاعت تظمین کړي.

د کال 2012 په پای کې، CSTC-A ګامونه واخیستل تر څو د قرارداد کولو میکانیزم جوړ کړي تر څو پلورونکي و نشي کړای د امریکا له اقتصادي بندیزونو څخه سرغړونه وکړي او تیل واخلي. سره لدې نوی اضافه شوی کنټرولونو، کیدای شي د تیلو د اخیستلو په پروسه کې د نظارت کمزوري د امریکا د چارواکو توان محدود کړي تر څو د امریکا له فنډونو څخه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره اخیستل شوي تیلو سرچینه معلومه کړي.

پردې برسيره، لدې کبله چې د افغانستان حکومت له دوامداره ننګونو سره مخ دی تر څو له مستقيمو مرستو څخه نظارت وکړي او ويې لګوي، سيګار وموندل چې د امريکا د دفاع وزارت ته به دا لا نوره هم ستونزمنه شي تر څو د امريکا د فنډونو حساب معلوم کړي، کله چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تيلو اخيستلو لپاره د 2013 کال د مارچ په مياشت کې د افغانستان حکومت ته فنډونه مستقيماً وسپاري.

## نوي ځانګړې پروژې

### د پلچکونو تر لاندې د ځاليو سيستمونو ارزونه

د سيګار په روان تحقيق کې مهمې انديښنې رابرسيره شوې چې کيداى شي قرارداديانو د پلچکونو د ځاليو لپاره چې يا هيڅ نصب شوي ندي او يا په غلطه توګه نصب شوي، د امريکا حکومت ته جعلي بيلونه ورکړي. سره لدې چې د تقلب احتمال شتون لري، دا په غلطه توګه نصب شوي ځالى يا چيرته چې هيڅ ځالى نشته، او ياغيانو ته اجازه ورکړې تر څو د پلچکونو لاندې IED کيږدي، د ايتلاف او افغانانو ژوند يې له خطر سره مخ کړي. په راتلونکي ربع کې، سيګار به په افغانستان کې تر پلچکونو لاندې د ځاليو نصبول په نښه کړي او ارزونه به ترسره کړي. دا ارزونه به په روان تحقيق کې راپورته شوي انديښنې تعقيب کړي، او د سيګار د 2012 کال د اکتوبر 10 د محافظت د خبرتيا په مکتوب کې دا انديښنې CENTCOM او USFOR-A ته رسول شوي دي. سيګار به د پلچکونو د ځاليو د سيستمونو قراردادونه وګوري او دا به وګوري چې تر کومې اندازې د پلچکونو تر لاندې د ځاليو نصبولو د قراردادونو اداره کول او نظارت ترسره شوی دی.

نوي ځانګړې پروژه

- پلچکونو تر لاندې د ځالې سيستم

## د سيګار بودجه

له 2008 کال څخه کله چې سيګار تاسيس شوی، کانګرس سيګار ته 137.7 ميلونه ډالر تخصيص کړي چې د دې اداري عملياتي لګښتونه تر 2013 مالي کاله پوره کړي. په اوس وخت کې، سيګار خپل عمليات د اوسني فرمان د صلاحيت پر اساس د 2013 د مارچ تر27 پر مخ وړي. د 2013 کال د دوامداره تخصيص د فرمان پر اساس (P.L. 112-175) سيګار

جدول 2.1

**د سګار د فنډ ورکولو لنډيز** (په ميليون ډالر)

| تخصيص | عامه قانون | اندازه |
|---|---|---|
| H.R. 2642، د 2008 کال د تخصيص اضافي قانون | P.L. 110-252 | 7 |
| H.R. 2638، خواکمن امنيت، بيرنى مرسته، او دوامدار تخصيص قانون، 2009 | P.L. 110-329 | 9 |
| H.R. 2346، د تخصيص اضافي قانون، 2009 | P.L. 111-32 | 7.2 |
| H.R. 2346، د تخصيص اضافي قانون، 2009 | P.L. 111-32 | (7.2)[a] |
| H.R. 3288، خواکمن تخصيص قانون، 2010 | P.L. 111-117 | 23 |
| H.R. 4899، د تخصيص اضافي قانون، 2010 | P.L. 111-212 | 7.2 |
| H.R. 1473، دفاع وزارت او د ټول کال دوامداره تخصيص قانون، 2011 | P.L. 112-10 | 25.5 |
| H.R. 2055، خواکمن او لا نور دوامداره تخصيص قانون، 2012 | P.L. 112-74 | 44.4 |
| H.J. Res. 117، د تخصيص دوامداره فرمان، 2013 | P.L. 112-175 | 21.6 |
| ټول ټال | | 137.7 |

[a] ياددښت: کانګرس د سيګار ۷،۲ ميليونه ډالره د ۲۰۰۹ کال فنډ مسترد کړل (سرليک XI in P.L. 111-32) او بيايې بيرته ورکړل – د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر ۳۰، په P.L.

ته نږدې 21.6 میلیونه ډالر ورکړ شوي تر څو د ماموریت د عملیاتو ساتنه وکړي. په اوس وخت کې، سیګار د تخصیصونو د وضعیت او لانورو مشخصو لارښونو، او د مالي 2013 مالي کال تخصیص اغیز او د ولسمشر ارزونې، او د 2014 مالي کال د بودجې د وړاندیز د تایید په تمه دی.

## د سيګار کارکونکي

د دې راپور ورکولو په وخت کې، ځانګړي عمومي مفتش ساپکو ویلي چې د فیدرال پخوانۍ تحقیق کونکي، دګلاس جې دومین، د تحقیق لپاره د عمومي مفتش معاون په توګه و ټاکل شو. پدې لنډو و ختونو کې دومین د علم څخه د کار اخیستلو په نړیوال شرکت کې ریس و. پخوا، هغه د FBI دایمي اجنټ و چې په لندن کې د امریکا په سفارت کې د ځانګړي اجنټ د معاون دنده ترسره کوله، او د دالاس د ساحوي دفتر او د مینیاپولیس بیرو د ځانګي د ځانګړي اجنټ په توګه یې دندې ترسره کړي دي.

په ټولیزه توګه، سیګار د خپلو فیدرال کارکونکو شمیره له 177 څخه 181 ته ډیره کړه. سیګار د کارونو اعلان هم کړی چې دا به د دایمي کارکونکو شمیره به د 2013 کال د فبرورۍ په پای کې 188 ته ورسوي. سیګار به نښه شوي موخو ته چې 200 کارکونکي دي ورسیږي او د 2014 مالي کال د 205 کارکونکو لپاره به خپل کار ته دوام ورکړي.

پدې ربع کې، سیګار په کابل کې د امریکا سفارت لپاره 36 رسمي بستونه، او له سفارت څخه دباندې 16 رسمي بستونه درلودل، چې دا به دې اداري ته په افغانستان کې د امریکا د نظارت تر ټولو ډیر لوی شتون ورکړي. سیګار په ټول هیواد کې په اوو ستیشنونو کې پشمول د کندهار او بګرام هوایی ډګرونه، کمپ مارمول په مزارشریف کې، کمپ لیدرنیک، د سالیرنو مخکنی عملیاتي پایګاه، د USFOR-A قرارګاه په کابل کې او په هرات کې د امریکا په قونسلګری کې کارکونکي لري. د هرات قونسلګري سیګار د کابل په دفتر کې څلور افغان کارکونکي لري تر څو په افغانستان کې له پلټنو او تحقیقونو سره مرسته وکړي. پردې برسیره، سیګار د لنډ محالو کارکونکو په ګمارلو سره په افغانستان کې له خپلو کارونو څخه ملاتړ کوي. پدې ربع کې، سیګار په افغانستان کې 22 لنډ محاله کارکونکي د 313 ورځو لپاره په دندو ګمارلي و.

”تلپاتې سوله او امنیت ته ښه حکومتدارۍ
او پرمختیا اړینه ده او باید ټولو افغانانو ته د
لاسرسۍ وړ وي باید القاعده شبکې او د هغوی
د ملاتړو خوندي امن ځایونه له منځه یوړل شي.
په دې اړه به زمونږ کار روان وي.“

—د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما

سرچینه: سپینه ماڼۍ، د ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي ګډ مطبوعاتي کنفرانس، د ۲۰۱۳ کال د جنوري ۱۱ نیټه.

# 3 د بیارغونې
# تازه حالت



# منځپانګه


| | |
|---|---|
| عمومي کتنه | 51 |
| د بسپنو وضعیت | 55 |
| امنیت | 69 |
| حکومتدارۍ | 95 |
| اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا | 123 |


**تصویر په تیره پاڼه کې**
په ایران کې افغان کډوال یوه ځوانه میرمن په تربت
جام کمپ کې په یوه ورکشاپ کې غالۍ اوبدل زده کوي.
(د UNHCR تصویر د ام. اچ. سالهیارا له خوا)

# عمومي کتنه

3 برخه د افغانستان د بیارغونې په تړاو لومړیتوبونه، ننګونې او بشپړتیاوې وړاندې کوي څو د پلټنې لپاره یې زمینه برابره کړې ده. په حاشیو کې له دغو هڅو سره د سیګار د هغو تړلو پلټنو پېژندنه شویده چې بشپړې شویدې او یا روانې دي. په 1 برخه کې راغلې ماخذونه نورو جزییاتو ته لار هواروي.

سیګار په دغه برخه کې معلومات له 181-110 عامه قانون سره په تطابق کې وړاندې کوي، په دې قانون کې حکم شوی دی چې کانګرس ته د افغانستان د بیارغونې په تړاو په چمتو کیدونکې دری میاشتنې رپوټ کې د نورو مواردو برسیره لاندنې مسایل شامل دي:

- د ځانګړیو شویو بسپنو ژمنه او لګول
- د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو، بسپنو، پریکړو او نورو میکانیزمونو په اړه توضیحات
- د متحده ایالاتو د حکومت د اداراتو له لوري بسپنه شوې پروژو ته د نړیوالو اداراتو او بهرنیو هیوادونو له لوري چمتو شوې مرستې.

## مطالب

په دغه برخه کې څلور نورې فرعي برخې شاملې دي: د بسپنو وضعیت، امنیت، حکومتداری، اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

د **مرستو وضعیت** په برخه کې د افغانستان د بیارغونې په ډګر کې ځانګړې شویو، ژمنه شویو او لګول شویو پیسو توضیحات راغلي دي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستو په چوکاټ کې ترسره شویدي.

د دریو نورو فرعي برخو تنظیمول د لومړیتوب ورکولو او عملي کولو د پلان هغه درې ستنې توضیح کوي چې په 2010 کال کې په یوه نړیوال کانفرانس کې وده ورکړل شوه او افغان حکومت یې اعلان وکړ.

د **امنیت** برخه کې د متحده ایالاتو هغه هڅې چې غواړي افغان ملي امنیتي ځواکونه (اردو او پولیس) پیاوړي کړي روښانه شویدي. همداشان له خصوصي امنیتي شرکتونو سره د قراردادونو پای ته رسول او د نشه اي توکو د قاچاق مخنیوی هم پکې شامل دي.

د **حکومتداری** په برخه کې د افغان حکومت هغه پرمختګونه تر غور لاندې راغلي دي چې د ظرفیت جوړونو له لارې یې د ښې حکومتدارۍ لپاره تر سره کړيدي، د قانون د حاکمیت لومړیتوب او د بشري حقوقو رعایت یې هم یوه برخه ده. په دې برخه کې همداشان د بیایوځای کیدلو او پخلاینې پروسه هم روښانه شویده، په بیلابیلو ولایتونو کې د افغان حکومت د ولکې کچه او له فساد سره د مبارزې لومړیتوبونه هم پکې څېړل شویدي.

د **اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا** په برخه کې د انرژۍ، کانکیندنې او روغتیا په ډګر کې د بیارغونیزو هڅو جاج اخیستل شویدی. په دې کې اقتصادي حالت انځور شویدی او مالیاتي

شبکو، د مالي پاېښت لاس ته راوړل او د بیسټیزو خدمتونو په وړاندې کولو کې د پرمختګونو نوي خبرونه روښانه شویدي.

## میتودولوژي

په 3 برخه کې د متحده ایالاتو د اداراتو او آزادو سرچینو معلومات راغونډ شویدي. سرچینې یې په پایلیکونو او یا له شکلونو او جدولونو سره په راغلو توضیحاتو کې په ګوته شویدي، له دې چې بیلابیلې ادارې معلومات برابروي نو کیدی شي چې شمیرې سره په ټکر کې وي. سیګار له خپلو پلټنو او څیړنو پرته نور معلومات نه تاییدوي. د نورو سرچینو معلومات د سیګار د دریځ منعکس کونکي ندي. په دې ربع کې د سیګار د څیړنو او پلټنو د جزییاتو لپاره 2 برخه وګورئ.

### معلومات غوښتنه

معلومات غوښتنه د پوښتنو هغه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو اداراتو ته متوجه ده او په افغانستان کې د بیارغونې او د کارونو د وضعیت په تړاو د هغو ونډه او ښکیلتیا تر څیړنې لاندې نیسي. په تر ټولو وروستۍ معلومات غوښتنې کې د متحده ایالاتو یو شمیر اداراتو ګډون کړی وو چې په هغو کې د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، د ترانسپورت وزارت ، د خزانې وزارت او دمتحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې برخه درلوده. ځواب ورکونکو اداراتو د دغې برخې په تړاو یوه لومړنۍ مسوبه ترلاسه کړیده. له دې سره دوی توانیدلي دي چې په دې ربع کې د چمتو شویو ځانګړیو معلوماتو په اړه تبصره وکړي او تایید یې کړي.

### د آزادو سرچینو څیړنه

د آزادو سرچینو څیړنه تر ټولو د لاسرسي وړ او وروستي معلومات په ګوته کوي چې کره او د اعتماد وړ دي او تر لاسه شویدي. په سرچینو کې د متحده ایالاتو هغه ادارې هم شاملې دي چې په معلومات غوښتنې کې شاملې دي. په هغو کې نړیوال سوله ساتې ځواکونه، ملګري ملتونه ( او تړلې برخې)، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، افغان وزارتونه او نور حکومتي ادارې شامل وو.

# د معلوماتو شرایط او ګرافیکو باندې پوهاوی

ټول شکلونه او جدولونه د دې ربع په اړه معلومات ورکوي او استثنأت په ځانګړیو ځایونو کې روښانه شویدي.

## بارچارټونه

په دغه ریپوټ کې ډیری بسپنې او پروژې د ډالرو په بنسټ روښانه شویدي چې د میلیونو څخه تر میلیاردو ډالرو په کچه دي. د دغو شمیرو د سمې ګرافیکي توضیح د چمتو کولو په موخه، ځینې بارګرافونه له یوې قطع شوې برخې سره تر سترګو کیږي ( موجې کرښې) او په هغو کې د صفر او یوې لوړې شمیرې تر منځ بدلون په ګوته کوي




په اندازه کې وقفه درلودونکی بارچارټ




په اندازه کې وقفه نه درلودونکی بارچارټ

## د بسپنو نښې

د بسپنو نښې په متن کې د توضیح شویو انفرادي بسپنو پیژندنه کوي. د بسپنې ادراه کوونکې مسوله اداره د بسپنې تر نوموونو لاندې په تان باکس کې لست شویده




## واحدونه په ملیاردونو او میلیونونو روښانه شویدي

له دې کبله چې په دغه ریپوټ کې د بسپنې جزییات په میلیونونو او ملیاردونو روښانه شویدي، په ریپوټ کې لیدل کیدونکې اشارې په دې موخه راغلې چې د دواړو واحدونو اندازې سره بیلې کړي. په میلیارد ریپوټ شوې ډالر په آسماني رنګ په نښه شویدي او په میلیون ریپوټ شوې ډالر په شنه رنګ په نښه شویدي



پای چارټ په ملیاردونو



پای چارټ په میلیونو

## کلیزه او لمریز کلونه

په افغانستان کې د هجري لمریز کلیزه دود ده چې د عیسوي تاریخ له 622 میلادي کال څخه را پیلیږي. سیګار هجري لمریز کلونه په عیسوي کلونو اړوي. روان افغان مالي کال 1391 دی. دغه کال د 2012 کال د مارچ په 21 پیل شوی دی او د 2013 کال د مارچ په 20 پای ته رسیږي. د افغان حکومت مالي کال له لمریزې کلیزې سره برابر دی، خو روان مالي کال به د 2012 کال د مارچ په 21 پیلیږي او د 2012 کال د ډسمبر په 20 کې به پای ته رسیږي. دا به د افغان حکومت لپاره یواځنی نهه میاشتنی مالي کال وي او تر هغې وروسته به د ډسمبر له 21 پیلیږي او د راتلونکې کال د ډسمبر تر 20 به دوام کوي



# منځپانګې


| | |
|---|---|
| د امریکا متحده ایالات د افغانستان د بیا رغونې لپاره بسپنې | 56 |
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه | 58 |
| د ASFF د بودیجې کړنې | 59 |
| د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام | 60 |
| د افغانستان د زیربنا بودیجه | 61 |
| د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتونو وظیفوي ځواک | 62 |
| د مخدره توکو څخه مخنیوی او د مخدره توکو پرضد د دفاع وزارت فعالیتونه | 63 |
| د اقتصادي ملاتړ بودیجه | 64 |
| په نړیواله کچه د مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کول | 65 |
| د افغانستان لپاره د بیارغونې نړیواله بودیجه | 66 |

# د بسپنو وضعیت

د سیګار د قانوني مسولیتونو د بشپړ کولو لپاره دا برخه په افغانستان کې د بیارغونې لپاره د تخصیص شوي، مقید شوي، او مصرف شوي بودیجو په اړه توضیح ورکوي. د 2002 مالي کال څخه د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د سوکالۍ او بیارغونې لپاره نږدې 88.76 ملیارده ډالر مرسته کړیده. دا مرستې ټولې پدې ډول تخصیص شوې وې:

- 51.15 ملیارده ډالر د امنیت لپاره
- 22.39 ملیارده ډالر د حکومتولۍ او پراختیا لپاره
- 6.15 ملیارده ډالر د مخدره توکو پرضد هڅو لپاره
- 2.44 ملیارده ډالر د بشرپالنې مرستو لپاره
- 6.64 ملیارده ډالر د عملیاتونو او څارنې لپاره

3.1 شکل پدې مرستو کې د متحده ایالاتو د بسپنو ونډې ښیې.

3.1 شکل

**د افغانستان د بیارغونې څخه د ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو مرستې** (په ملیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

[a] په بیلابیلو ادارو کې DoJ, State, DoD, USAID, خزانه، او USDA شامل دي.

سرچینې: د سیګار 1/17/2013, 1/15/2013, 1/4/2013, 1/2/2013, 10/22/2012, 10/14/2009، او10/1/2009 معلوماتې غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د سیګار 1/8/2013, 1/4/2012, 10/5/2012، او 6/27/2012 معلوماتې غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتې غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 1/3/2013 معلوماتې غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 1/3/2013, 10/15/2010, 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه
**CERP:** د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیربنا بودیجه
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات لپاره وظیفوي ځواک
**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره توکو څخه دمخنیوي او د مخدره توکو ضد فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه
**INCLE:** د نړیوالو مخدره توکو کنترول او دقانون پلی کول
**نور:** نورې بودیجې




**کومې پیسې چې د متحده ایالاتو اوو لویو بودیجو ته برابر شوي دي له 2002 مالي کال څخه را پدېخوا په افغانستان کې د بیارغونې د مرستو 85.0% (نږدې 75.45 ملیارده ډالر) جوړوي. له دې رقم څخه، زیات له 86.1% (نږدې 65.00$ ملیارده ډالر) يې مقید شوي، او نږدې 74.3% (زیات له 56.04$ ملیارده ډالر) يې مصرف شوي دي. په راتلونکې پاڼو کې د دې بودیجو زیات تفصیلات راغلي دي.**

## د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د بیارغونې بودیجه

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، په افغانستان کې د سوکالۍ او بیارغونې بودیجې ټول ټال شمیره نږدې 88.76 ملیارده ډالرو ته رسیږي. پدې رقم کې د 2013 مالي کال د دوام لرونکی د حل لارې په وړاندې د 2013 مالي کال د مقیداتو 266.56 میلیونه ډالر شامل دي. د 2013 مالي کال لپاره ولسمشر د شاوخوا 9.66 ملیارده ډالرو اضافي مرستو غوښتنه کړې ده. که چیرته کانګرس دا وړاندیز شوې بودیجه بشپړه تخصیص ورکړي، د تخصیصاتو مجموعي شمیره به 98.15 ملیارده ډالرو ته ورسیږي، لکه چې په 3.2 شکل کې ښودل شوی دی. د متحده ایالاتو د تخصیصاتو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره د ب ضمیمه وګورئ.

ولسمشر اوباما د 2012 کال د سپتمبر په 28، د 2013 کال د جاري تخصیصاتو پریکړه لاسلیک کړه، چې د 2013 کال د مارچ تر 27 پورې د متحده ایالاتو حکومت ته بودیجه ورکوي. پدې ربع کې، د 2013 مالي کال د جاري تخصیصاتو په وړاندې ډیرو لږو ادارو د افغانستان د بیارغونې لپاره بودیجې ټاکلي دي، ځکه چې د 2012 مالي کال څخه د ډیرو ادارو بودیجې پاتې وې. د 2013 کال د لومړۍ مالي ربعې پای ته نږدې، د 13.76 ملیاردو

3.2 شکل

**د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د بسپنو د کټګورۍ په اساس د تخصیصاتو مجموعي شمیره** (په ملیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

[a] پدې کې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د 2013 مالي کال د جاري پریکړې په اساس هغه منل شوي بودیجې شاملې دي چې د ادارو لخوا رپوټ ورکول کیږي.

سرچینې: د سیګار 1/17/2013, 1/15/2013, 1/4/2013, 1/2/2013, 10/22/2012, 10/14/2009؛ او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د سیګار 1/8/2013, 1/4/2012, 10/5/2012؛ او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 1/3/2013, 10/15/2010, 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

# د بسپنو وضعیت

ډالرو څخه چې په 2012 مالي کال کې د متحده ایالاتو د څلورو لویو بیارغونیزو پروژو لپاره ځانګړې شوي وې، نږدې 8.60 ملیارده ډالر یې د مقید کولو لپاره پاتې دي، لکه چې په 3.1 جدول کې ښودل شوي ده.[30]

د افغانستان د سوکالۍ او بیارغونې بودیجو په اړه نورې سرټکي:[31]

- د تخصیصاتو له مجموعي شمیرې څخه له 57.6% څخه زیاته برخه یې (د ټول ټال 88.76 ملیارده ډالرو څخه 51.15 ملیارده ډالر) د امنیت لپاره ورکړ شوي دي.
- نږدې 48.9 ملیارده ډالر په تیرو دریو مالي کلونو کې (2010–12) تخصیص شوي دي چې دا په 2002 کال کې د بیارغونیزو هڅو له پیل څخه وروسته د ټولو تخصیصاتو 55.1% جوړوي.
- پداسې حال کې چې د 2013 مالي کال د ټول کال د تخصیصاتو لایحه نده تصویب شوې، خو داسې ټمه کېږي چې په دې کال کې د تیرو دریو کلونو په پرتله چې هرکال 16 ملیارده ډالر تخصیص شوي دي، د بسپنو کچه لږه وي لکه چې په 3.3 شکل کې ښودل شوی.

3.1 جدول

**د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د 2012 مالي کال تخصیصات او مقید شوي بودیجې** (په میلیون ډالر)

| | تخصیص شوي | مقید شوي |
|---|---|---|
| ASFF | $11,200 | $4,901 |
| AIF | $400 | $217 |
| ESF | $1,837 | $0 |
| INCLE | $324 | $43 |
| **ټول ټال** | **$13,761** | **$5,162** |
| **ترڅو مقید شي** | | **$8,599** |

یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

سرچینې: د سیګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سیګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب؛ د سیګار 1/8/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011.

3.3 شکل

**د مالي کال او بودیجو د کټګورۍ په اساس تخصیصات** (په ملیارد ډالر او سلنې)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

[a] پدې کې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د 2013 مالي کال د جاري پریکړې په اساس هغه منل شوي بودیجې شاملې دي چې د ادارو لخوا ربوټ ورکول کیږي.

سرچینې: د سیګار 10/22/2012, 10/19/2012, 10/18/2012, 10/17/2012, 10/3/2012, 7/18/2012, 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د 10/19/2012, 10/11/2012, 10/5/2012؛ او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 10/10/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 7/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 10/2/2012, 1/15/2010 10/15/2010, 1/3/2013، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بودیجه

د افغانستان د امنيتي ځواکونو بودیجه د کانګرس لخوا د دې لپاره رامنځته شوه چې د ANSF لپاره تجهيزات، اسباب، خدمتونه، او تريننګ برابر کړي او همدارنګه د تسهيلاتو او زيربناو ترميم، بيا جوړول، او رغونه ترسره کړي.[32] په افغانستان کې د ناټو د تريننګ ماموريت/په افغانستان کې د امنيتي ليږد ګډه قومانده د ANSF د جوړولو ابتدايي مسوليت په غاړه لري.[33]

د 2012 کال د دسمبر تر31 پورې د 2012 مالي کال د مجموعي تخصيصاتو شميره نږدې 49.63 ملیارده ډالرو ته رسيږي. DoD د 2013 مالي کال د جاري پريکړې لپاره د کوم مجبوريت رپوټ ندی ورکړی دا څکه چې د هغو 11.2 ملیارده ډالرو څخه چې په 2012 مالي کال کې د ASFF لپاره تخصیص شوې وې يوازې 4.9 ملیارده ډالر يې مجبور شوي دي.[34] د 3.4 شکل د ASFF لپاره تخصيص شوي بودیجې په کلنۍ ډول ښيي.

پدې ربع کې، DoD زيات له 1.05 ملیاردو ډالرو څخه مقيد کړي او نږدې 1.63 ملیارده ډالر يې مصرف کړي دي چې پدې سره د مقيد شوو بسپنو مجموعي شميره 43.09 ملیارده ډالر او د مجموعي مصارفو شميره شاوخوا 38.14 ملیارده ډالرو ته رسيږي.[35] د 3.5 شکل د هغو بسپنو مجموعي شميرې په مقايسوي ډول وړاندې کوي چې د ASFF لپاره چمتوشوي، مقيد شوي او مصرف شوي دي.




### د ASFF د بودیجو اصطلاحات

DoD د ASFF د تخصيص شوي، مقيد شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغه پيسې چې د ژمنو په اساس ورکول کيږي

**مقيد شوې:** د پيسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغه پيسې چې مصرف شوې دي

سرچينه: د سيګار 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

**د دې برخې له سر نه تر پایه پورې په هغو شميرو کې چې د مالي کال په اساس لويو مرستو تخصيصات او مجموعي پرتلې ښيي د 2013 مالي کال لپاره د ولسمشر په وړانديز ورکړ شوي بودیجو ته په سور رنګه ټکي او سره سيورې اشاره کوي.**

3.4 شکل

**د مالي کال په اساس د ASFF لپاره تخصيص شوې مرستې** (په ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوې دي.
a DoD د 2011 مالي کال له ASFF څخه يو ميليارد ډالر د دفاعي کارونو مرکزي بودیجې ته بيا پروګرام کړي دي.

سرچينې: د سيګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سيګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239, 1/3/2013؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011.

3.5 شکل

**د ASFF د بودیجو مجموعي پرتله** (په ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوې دي.

سرچينې: د سيګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سيګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239, 1/3/2013؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011.

## د ASFF د بودیجې فعالیتونه

DoD د ASFF په چوکاټ کې د بودیجې درې فعالیتي ډلو ته بودیجې تخصیص کوي:

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي پوځ، ANA)
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پولیس، ANP)
- اړوند فعالیتونه (په ابتدايي ډول د توقیف عملیاتونه)

د هرې فعالیتي ډلې لپاره چمتو شوې بسپنې د فرعي فعالیتونو څلورو ډلو ته تخصیص ورکول کیږي: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورتیشن، ترینګ او عملیاتونه، او پایښت.[36]

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې DoD نږدې 38.14 ملیارده ډالره د ANSF د نوښتونو لپاره مصرف کړي دي. د دې رقم څخه، زیات له 24.92 ملیارده ډالرو نه د افغان پوځ، او زیات له 12.94 ملیارده ډالرو نه د افغان پولیسو لپاره مصرف شوي دي؛ او زیات له 0.27 ملیارده ډالرو نه پاتې برخه یې د اړوندو فعالیتونو لپاره مصرف شوي دي.[37]

لکه چې په 3.6 شکل کې ښودل شوي ده، د افغان پوځ لپاره د مصرف شوي بسپنو زیاته برخه — نږدې 9.77 ملیارده ډالرېي — د تجهیزاتو او ترانسپورتیشن په برخه کې مصرف شوي دي. د هغو بسپنو څخه چې د افغان پولیسو لپاره مصرف شوي دي، زیاته برخه یې — زیات له 4.58 ملیارده ډالرو څخه — د پایښت څخه په ملاتړ کې لګول شوي، لکه چې په 3.7 شکل کې ښودل شوي ده.[38]

3.6 شکل

**د فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پوځ لپاره کړیدي**
**د 2005 مالي کال څخه د 2012 کال**
**د دسمبر تر 31 پورې** (په ملیارد ډالر)

**ټول ټال:** $24.92




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: د سیګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

3.7 شکل

**د فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پولیسو لپاره کړیدي**
**د 2005 مالي کال څخه د 2012 کال**
**د دسمبر تر 31 پورې** (په ملیارد ډالر)

**ټول ټال:** $12.94




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: د سیګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

---

**د بودیجې فعالیتي ډلې:** په تخصیصاتو یا د بودیجو په حساب کې داسې ډلو ته ویل کیږي چې د تخصیص شوو پیسو لپاره موخې، پروژې، یا د کړنو ډول په نښه کوي یا د

**فرعي فعالیتونو له ډلو سره مرسته کوي:** د محاسبې هغه ډلې چې د قوماندانۍ د مصارفو لست مالي ساحو ته رسوي

سرچینې: DoD، "7110.1-M لارښود، د دفاع وزارت د بودیجې لارښود،" د لاسرسۍ نیټه 9/28/2009؛ د سمندري ځواکونو وزارت، "د طبي تسهیلاتو اداره کونکی لارښود،" 5.مخ، د لاسرسۍ نیټه 10/2/2009.




## د CERP د بوديجو اصطلاحات

DoD د CERP د تخصيص شوي، مقيد شوي او مصرف شوي بوديجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصيصات:** ټولې هغې پيسې چې د ژمنو په اساس ورکول کيږي

**مقيد شوي:** د پيسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغې پيسې چې مصرف شوي دي

سرچينې: د سيګار 4/14/2010 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

## د قوماندان بيړنی غبرګون پروګرام

د قوماندان بيړنی غبرګون پروګرام د متحده ايالاتو له قوماندانانو سره مرسته کوي ترڅو د خپل د مسوليت په ساحو کې د بشرپالنې او بيارغونې په برخو کې بيړنيو اړتياو ته غبرګون وښيي او داسې ملاتړې پروګرامونه په لاره واچوي چې د محلي خلکو سره فوري مرستې ترسره کړي. د دې پروګرام له لارې هغو وړو پروګرامونو ته بوديجه ورکول کيږي چې دهريو لګښت يې له 500,000 ډالرو څخه لږ اټکل شوی وي.[39] هغو پروژو ته چې لګښت يې له 1 ميليونه ډالرو څخه زيات اټکل شوی وي په هغه صورت کې اجازه ورکول کيږي چې د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان لخوا تصويب شوی وي؛ د 5 ميليونه ډالرو څخه زيات لګښت درلودونکې پروژې د دفاع وزير د مرستيال لخوا بايد تصويب شي. د CERP په مرسته پروژې بايد له 20 ميليونه ډالرو څخه زيات لګښت ونلري.[40]

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د CERP د تخصيصاتو مجموعي شميره نږدې 3.45 مليارده ډالرو ته رسيږي. DoD د 2013 مالي کال د جاري پريکړې لپاره د نږدې 9.94 ميليونه ډالرو مقيد کولو رپوټ ورکړی ده.[41] د نږدې 3.45 مليارده ډالرو له جملې څخه چې تخصيص شوي وي، نږدې 2.28 مليارده ډالر يې مقيد شوي، چې له دې څخه بيا زيات له 2.17 مليارده ډالرو څخه مصرف شوي دي.[42] 3.8 شکل د CERP تخصيصات د مالي کال په اساس، او 3.9 شکل د CERP د پروژو لپاره د تخصيص شوو، مقيد شوو، او مصرف شوو مجموعي پيسو مقايسه وړاندې کوي.

3.8 شکل

**د مالي کال په اساس د CERP تخصيصات**

(په ميليون ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي. په معلوماتو کې بنيادي بين الاداري ليږدوني شاملې وي.

سرچينې: د سيکار 1/15/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سيګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239 ,1/3/2013; P.L. 112-74 ,12/23/2011; P.L. 112-10 ,4/15/2011.

3.9 شکل

**د CERP بوديجو مجموعي پرتله**

(په مليارد ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي. په معلوماتو کې بنيادي بين الاداري ليږدوني شاملې وي.

سرچينې: د سيکار1/15/2013 او 10/19/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د سيګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239 ,1/3/2013; P.L. 112-74 ,12/23/2011؛ د سيګار 5/30/2011 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-10 ,4/15/2011.




### د AIF د بودیجو اصطلاحات

DoD د AIF د تخصیص شوي، مقید شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغې پیسې چې د ژمنو په اساس ورکول کیږي

**مقید شوي:** د پیسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغې پیسې چې مصرف شوي دي

سرچینه: د سیګار 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

## د افغانستان د زیربنا بودیجه

د 2011 مالي کال لپاره د ملي دفاع د واکمنۍ Ike Skelton لایحې د افغانستان د زیربنا بودیجه د دې لپاره تاسیس کړه چې د متحده ایالاتو ملکي — پوځي هڅو څخه د ملاتړ لپاره د مهمو او لویو کچو زیربنایي پروژو مصارف ورکړي. کانګرس پریکړه کړې ده چې کومې پروژې چې د AIF لخوا تمویل کیږي د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو لخوا په ګډه ټاکنه او اداره شي. د AIF د یوې پروژې له تمویل او مصرف کولو څخه دیرش ورځې وړاندې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو ته اړینه ده چې د وړاندیزشوې پروژې جزییات، د پروژې د پایښت لپاره یو پلان، او پدې اړه جزییات کانګرس ته وړاندې کړي چې دا پروژه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې له استراتیژۍ سره څنګه مرسته کوي.[43]

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د 2012 مالی کال مجموعي تخصیص 699 میلیونه ډالرو ته رسیږي. پدې رقم کې هغه 101 میلیونه ډالر نه راځي چې د 2011 مالي کال د AIF څخه د 2011 مالي کال د USAID لپاره د اقتصادي ملاتړ بودیجې ته د ولیږدول شو ترڅو یوه زیربنایي پروژه تطبیق کړي. DoD د 2013 مالي کال د جاري پریکړې لپاره د کوم مجبوریت رپوټ ندی ورکړی. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، د AIF له مجموعي بودیجې څخه نږدې 512.76 میلیونه ډالر مقید شوي چې بیا له دې رقم نه تقریبا 68.29 میلیونه ډالر مصرف شوي دي.[44] 3.10 شکل د AIF تخصیصات دمالی کال په اساس ښیي، او 3.11 شکل د هغو بسپنو مقایسه وړاندې کوي چې د AIF پروژو لپاره تخصیص، قید او مصرف شوي دي.

3.10 شکل

**د مالي کال په اساس د AIF تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

a د مالي کال په رقم کې هغه 101 میلیونه ډالر شامل ندي چې د AIF یوې پروژې اجراکولو لپاره USAID ته لیږدول شوي وو.

سرچینې: د سیګار 1/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

3.11 شکل

**د AIF بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

a پدې شمیرو کې د 2011 مالي کال هغه 101 میلیونه ډالر نه شاملیږي چې د AIF یوې پروژې د اجراکولو لپاره USAID ته لیږدول شوي وي.

سرچینې: د سیګار 1/17/2013 او 10/22/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




## د TFBSO دبودیجو اصطلاحات

د DoD د TFBSO د تخصیص شوي، مقید شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه ریوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغه پیسې چې د ژمنو په اساس ورکول کیږي

**مقید شوي:** د پیسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغه پیسې چې مصرف شوي دي

سرچینه: د سیګار 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د DoD. د

## د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتونو لپاره وظیفوي ځواک

د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتونو لپاره وظیفوي ځواک د 2006 کال په جون کې تاسیس شوی او د ځو کلونو لپاره یې په عراق کې عملیاتونه کړي دي. په 2010 کال کې، TFBSO په افغانستان کې پدې موخه عملیاتونه پیل کړ چې په هیواد کې ثبات راولي او د اقتصادی ستونزو له امله تاوتریخوالی سره د بیکارۍ کمولو او افغانانو ته د کار د زمیني برابرولو په مرسته مبارزه وکړي. د TFBSO پروژې د خصوصي سکټور، د صنعت پرمختیا، د بانک لرنې او مالي سیستم پراختیا، کرهنیزه تنوع او بیاراژوندی کونه، او د انرژي پراختیا په برخو کې کار کوي.[45]

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې DoD ریوټ ورکړ چې TFBSO د 2013 مالی کال د جاري پریکړې په اساس 45.82 میلیونه ډالر بودیجه ترلاسه کړې چې پدې سره د وظیفوي ځواک د بودیجو مجموعي شمیره زیات له 601.13 میلیونه ډالرو ته رسیږي.[46] د دې رقم نه، نږدې 539.46 میلیونه ډالر یې مقید شوي او زیات له 334.97 میلیونه ډالرو ځخه مصرف شوي دي.[47] 3.12 شکل د TFBSO بودیجې د مالي کال په اساس ښیي، او 3.13 شکل د هغو بودیجو مقایسوي بنه وړاندې کوي چې د TFBSO د پروژو لپاره تخصیص، مقید او مصرف شوي دي.

3.12 شکل

**د مالي کال په اساس د TFBSO تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدوني شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD خواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنو ته د OMB خواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011

3.13 شکل

**د TFBSO د بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدوني شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 1/4/2013 او 10/2/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD خوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB خواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د DoD لخوا د مخدره توکو مخنیوی او د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه

د دفاع وزارت لخوا د مخدره توکو مخنیوی او د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې بودیجه د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړوندو کړنو څخه د مخنیوی په مرسته د افغانستان له ثبات څخه ملاتړ کوي. DoD د DoD CN له لارې د مخدره توکو په وړاندې د مبارزو څخه داسې ملاتړ کوي چې د مخدره توکو قاچاق وړونکو په ضد د پوځی عملیاتونو څخه ملاتړ کوي؛ د مخدره توکو څخه د مخنیوی لپاره د افغان عملیاتونه پراخوي؛ او د ځانګړو روزنو، تجهیزاتو، او تسهیلاتو په مرسته د افغان قانون پلي کونکو ادارو ظرفیت زیاتوي.[48]

د DoD CN بودیجې د کانګرس لخوا د ټولو پوځي خدمتونو لپاره د یوې منفردې بودیجوي لیکې په توګه تخصیص ورکول کیږي. DoD دا بودیجې د مخدره توکو-ضد د مرکزي انتقال له بانکي حساب څخه د پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو ته بیاپروګرام کوي، کوم چې د لیږدول شوو بودیجو مقید کول ښاري. DoD رپوټ ورکړی چې DoD CN افغانستان ته په هرمالي کال کې په یوه ثابته کچه ورکول کیږي.[49]

DoD رپوټ ورکوي چې DoD CN د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د2013 مالي کال د جاري پریکړې په اساس د افغانستان لپاره نږدې 132.35 میلیونه ډالر ترلاسه کړې. د 2004 مالي کال څخه د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې DoD CN په مجموعي ډول شاوخوا 2.44 ملیارده ډالر ترلاسه کړي دي.[50] د 3.14 شکل د DoD CN تخصیصات د مالي کال په اساس ښيي، او 3.15 شکل دهغو بودیجو مقایسه وړاندې کوي چې د DoD CN پروژو لپاره د پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو ته تخصیص او لیږدول شوي دي.




### د DoD CN د بودیجو اصطلاحات

DoD د DoD CN د تخصیص شوي، مقید شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغه پیسې چې د ژمنو په اساس ورکول کیږي

**مقید شوي:** د پیسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغه پیسې چې مصرف شوي دي

سرچینه: د سیګار 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

3.14 شکل

**د مالي کال په اساس د DOD CN تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینې: د سیګار 1/2/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013.

3.15 شکل

**د DOD CN د بودیجو مجموعي پرتله**

(په ملیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

a DoD د پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو ټولې بودیجې د منل کولو او مصرفولو لپاره بیا پروګرام کوي.

سرچینه: د سیګار 10/17/2012 او 1/2/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 112-239، 1/3/2013.




## د ESF د بودیجو اصطلاحات

DoD د ESF د تخصیص شوي، مقید شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغه پیسې چې د ژمنو په اساس ورکول کیږي

**مقید شوي:** د پیسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغه پیسې چې مصرف شوي دي

سرچینه: د سیګار 4/15/2010 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي ملاتړ بودیجې د متحده ایالاتو پرمختللی ګټې داسې پروګرام کوي چې له هیوادونو سره مرسته کوي خپلو لنډ مهالو او اوږد مهالو سیاسي، اقتصادي، او امنیتي اړتیاو ته لاسرسي ومومي. د ESF پروګرامونه د ترهګرۍ په وړاندې مبارزې څخه ملاتړ کوي؛ ملي اقتصاد پرېښو دروي؛ او د لازیات شفاف او حساب ورکونکی دولت ته د رسیدلو لپاره د موثر، خپلواک، د لاسرسی وړ قانوني سیستم په رامینځته کولو کې مرسته کوي.[51]

USAID رپوټ ورکړی چې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د ESF بودیجې مجموعي شمیر 15.05 ملیارده ډالرو ته رسیږي. له دې رقم څخه، نږدې 12.90 ملیارده ډالر یې مقید شوي چې بیا له دې څخه 10.38 ملیارده ډالر یې مصرف شوي دي.[52] 3.16 شکل د ESF تخصیصات د مالي کال په اساس ښیي.

USAID رپوټ ورکړی چې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د مقید شوي بودیجو مجموعي شمیره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې له شمیرې څخه نږدې 91.57 میلیونه ډالر زیات شوی دی. د مجموعي مصارفو شمیره د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې له مجموعي شمیرې څخه 218.50 میلیونه ډالر زیات و.[53] 3.17 شکل د هغو بودیجو مجموعي مقایسه ښیي چې د ESF پروګرامونو لپاره تخصیص، مقید او مصرف شوي دي.

3.16 شکل

**د مالي کال په اساس د ESF تخصیصات**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینې: د سیګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب.

3.17 شکل

**د ESF د بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. په یادو شمیرو کې د 2011 مالي کال هغه 101 میلیونه ډالر هم شامل دي چې د افغانستان د زیربنا له بودیجې څخه ESF ته لیږدول شوي وې.

سرچینې: د سیګار 1/3/2013 او 10/2/2012 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب.

## دمخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلي کول

د متحده ایالاتو د مخدره توکو او قانون پلی کولو نړیوالو چارو اداره د قانون د ونډې زیاتولو او د مخدره توکو د تولید او قاچاق وړلو په وړاندې د مبارزې لپاره د یوبانکي حساب اداره کوي — د نړیوالو مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کولو بانکي حساب (INCLE).
INCLE د پولیس، مخدره توکو ضد، او د قانون حاکمیت او عدالت په شمول د INL له ګڼو پروګرامونو څخه ملاتړ کوي.[54]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا د INCLE د بودیجو مجموعي شمیره د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې نږدې 3.58 ملیارده ډالرو ته رسیږي. 3.18 شکل د INCLE تخصیصات د مالي کال په اساس ښیي. له دې رقم نه، نږدې 3.24 ملیارده ډالر مقید شوي چې له دې څخه بیا نږدې 2.51 ملیارده ډالر مصرف شوي دي.[55]

د بهرنیو چارو وزارت رپوټ ورکړی ده چې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د مقید شوي بودیجو مجموعي شمیره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې له مجموعي شمیرې څخه 29.35 میلیونه ډالره زیات شوي ده. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د مجموعي قرضو شمیره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې له مجموعي مصارفو څخه 112.86 میلیونه ډالره زیات شوي ده.[56] 3.19 شکل د هغو بودیجو مقایسه وړاندې کوي چې د INCLE لپاره تخصیص، مقید او مصرف شوي دي.




### د INL د بودیجو اصطلاحات

INL د INCLE او نور INL پروژو د تخصیص شوي، مقید شوي او مصرف شوي بودیجو په اړه رپوټ ورکړی دی.

**تخصیصات:** ټولې هغه پیسې چې د ژمنو په اساس ورکول کیږي

**مقید شوي:** د پیسو د ورکولو په اړه ژمنې

**مصارف:** هغه پیسې چې مصرف شوي دي

سرچینه: د سیګار 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.

3.18 شکل

**د مالي کال په اساس د INCLE تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښاغلي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 1/8/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب.

3.19 شکل

**د INCLE د بودیجو مجموعي پرتله**

(په ملیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښاغلي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 1/8/2013 او 10/11/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب.

## د افغانستان د بیارغونې لپاره د نړیوالو مرسته

د هغو مرستو برسیره چې د متحده ایالاتو لخوا چمتو کیږي، نړیواله ټولنه هم د افغانستان د بیارغونې او سوکالۍ لپاره د پام وړ مرسته کوي. لکه څنګه چې د سیګار په مخکنیو درې میاشتنیو رپوټونه کې ویل شوي ده، د نړیوالې ټولنې د مرستو ډیره برخه د خیریه بودیجو له لارې پلي کیږي. مرسته شوي پیسې د خیریه بودیجو له لارې راټولیږي او وروسته د بیارغونیزو فعالیتونو لپاره ویشل کیږي. د افغانستان د بیارغونې خیریه بودیجه (ARTF) او د قانون او نظم خیریه بودیجه (LOTFA) دوه اساسي خیریه بودیجې دي.[57]

## د افغانستان د بیارغونې خیریه بودیجه

د افغانستان عملیاتي او پراختیایي بودیجو ته د نړیوالې ټولنې د مرستو لویه برخه د ARTF له لارې راځي. د نړیوال بانک د رپوټ په اساس د 2002 کال څخه د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې، 33 بسپنه ورکونکو هیوادونو د 6.18 ملیارده ډالرو ورکولو ژمنې کړې چې له دې شمیرې څخه یې 6.11 ملیارده ډالره ورکړي دي.[58] د نړیوال بانک په وینا، بسپنه ورکونکو د افغان مالي کال لپاره — 1391 لمریز کال — چې د 2012 کال د مارچ له 21 څخه د دسمبر تر 20 پورې دوام وکړ (وروسته بیا د افغان مالي کال د پیل نیټه د دسمبر 21 ته تبدیل کړای شو) ARTF ته د نږدې 1.01 ملیارده ډالرو ژمنه کړې ده.[59] 3.20 شکل په 1391 مالي کال کې د ARTF، 12 لوی بسپنه ورکونکي ښیي.

3.20 شکل

**د بسپنه ورکونکو په اساس د ARTF لپاره د 1391 لمریز کال بودیجه، د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې** (په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. د1391 لمریز کال=12/20/2012–3/1/2012، چې له دې نیټې څخه وروسته افغان مالي کال د دسمبرله 21 نه د دسمبر تر 20 پورې دوام کوي.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې د مالي وضعیت په اړه د رییس رپوټ،" 1.مخ.

متحده ایالاتو د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې زیات له 1.74 ملیارده ډالرو نه ورکړي دي.[60] متحده ایالات او انګلستان د ARTF دوه لوی بسپنه ورکونکي بلل کیږي چې د ټولو مرستو نږدې 47% برخه د دوی لخوا چمتو کیږي، لکه چې په 3.21 شکل کې ښودل شوې ده.

د ARTF مرستې د دوو چینلونو له لارې ورکول کیږي — د بیاګرځیدونکي لګښت کړکۍ او د پانګه اچونې کړکۍ.[61] د نړیوال بانک په وینا د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې، د ARTF له بسپنو څخه زیات له 2.67 ملیارد ډالر د بیاګرځیدونکي کړکۍ له لارې افغان حکومت ته ورکړشوي دي ترڅو د بیاګرځیدونکو لګښتونو لکه د ملکي مامورینو معاشات ورکړي.[62] د RC کړکۍ له افغان حکومت سره مرسته کوي ترڅو خپل عملیاتی لګښت تامین کړي څکه چې د دولت ملي عایدات د بیاګرځیدونکو لګښتونو د پوره کولو لپاره کافي ندي. د دې لپاره چې د RC کړکۍ کافي مرسته ترلاسه کړي، بسپنه ورکونکو ته شایي چې د خپلې کلنۍ مرستې له نیمایي څخه زیاته برخه د خوښې پروژو لپاره "غوره" (په نښه) نکړي.[63]

د پانګه اچونې کړکۍ د پراختیایي پروګرامونو د لګښت په برخه کې مرسته کوي. د نړیوال بانک په وینا د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې، د پانګه اچونې کړکۍ د پروژو لپاره نږدې 2.61 ملیارده ډالره مقید شوي و، چې له دې څخه نږدې 1.87 ملیارده ډالر مصرف شوي دي. نړیوال بانک د 21 فعالو پروژو ریوټ ورکړی چې مجموعي لګښت یې نږدې 1.56 ملیارده ډالرو ته رسیده او تقریبا 819.46 میلیونه ډالر یې مصرف شوي دي.[64]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم خیریه بودیجه

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د LOTFA له لارې د افغان ملي پولیسو معاشات ورکوي او د داخلي وزارت د ظرفیت په زیاتولو کې مرسته کوي.[65] د 2002 کال څخه راهیسې بسپنه ورکونکو زیات له 2.65 ملیارده ډالرو څخه یې LOTFA ته ژمنې کړې دي، چې د ورستنیو معلوماتو په اساس له دې رقم څخه نږدې 2.57 ملیارده ډالر ورکړ شوي دي.[66] د LOTFA د ملاتړ شپږمه مرحله د 2011 کال د جنوري په اوله پیل شوه او د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې دوام لري. په 21 میاشتو کې چې د شپږمې مرحلې له پیله تیر شوي دي، UNDP د LOTFA څخه نږدې 955.75 میلیونه ډالر افغان حکومت ته ورکړي دي ترڅو د افغان ملي پولیسو او د مرکزي زندانونو ریاست معاشونه ورکړي او 17.90 میلیونه ډالر نور یې د ظرفیت پراختیا او د LOTFA نورو نوښتونو لپاره مصرف کړي دي.[67] د2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې بسپنه ورکونکو د LOTFA د شپږمې مرحلې لپاره د 1.12 ملیارده ډالرو څخه زیاتو مرستو ژمنې کړې دي. له دې رقم څخه، نږدې 425.92 میلیونه ډالره د متحده ایالاتو، او نږدې 476.62 میلیونه ډالر د جاپان لخوا ژمنه شوې ده. د دوی ژمنې په ګډه د LOTFA د شپږمې مرحلې له 80% څخه زیاته برخه جوړوي.[68] متحده ایالاتو د LOTFA بودیجې له پیل څخه تراوسه پورې نږدې 897.74 میلیونه ډالره مرسته کړې ده.[69] 3.22 شکل د تازه معلوماتو په اساس د 2002 کال څخه تراوسه پورې د LOTFA څلور لوی مرسته کونکي ښیي.

3.21 شکل

**د ARTF هغه مرستې چې د بسپنه ورکونکو لخوا ورکړ شوي دي د 1381 لمریزکال (2002)-د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې** (سلنه)

**ټول ورکړ شوي:** $6.1 ملیارده ډالر




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې د مالي وضعیت په اړه د رییس ریوټ،" 5.مخ.

3.22 شکل

**د 2002 کال څخه د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې د LOTFA سره د بسپنه ورکونکو مرستې** (سلنه)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. EC/EU = اروپایي کمیسیون/اروپایي ټولنه. په "نورو" کې 16 بسپنه ورکونکي شامل دي.

سرچینې: UNDP، "د LOTFA شپږمې مرحلې د پرمختګ په اړه درې میاشتنی ریوټ 12/4/2012"، Q3/2012؛ د LOTFA په اړه د UNDP له درې میاشتنی او کلنی ریوټ څخه د سیګار تحلیل، 1/15/2013.

# منځپانګې


| | |
|---|---|
| روانه پرېکړه | 69 |
| د دې ربع مهمې پېښې | 70 |
| امنيتي چاپېريال | 70 |
| داخلي بريدونه | 71 |
| د انتقال بهير | 71 |
| د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه به د 2014 کال تر پای پورې 352,000 تنو ته ورسيږي چې دا به يې وروستۍ شميره وي | 73 |
| د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو نا معتبرې شميرې | 74 |
| د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د وړتياوو ارزونې | 75 |
| د دفاع وزارت او کورنيو چارو وزارت ارزونې | 78 |
| افغان ملي اردو | 79 |
| افغان ملي پوليس | 84 |
| د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو طبي/ صحي پاملرنې | 87 |
| افغان سيمه ايز پوليس | 87 |
| دافغانستان د عامه محافظت ځواک | 87 |
| د متحده ايالاتو ځواکونه | 88 |
| د ناچاودو توکو لرې کول | 88 |
| د مخدره توکو ضد | 89 |

# امنيت

د 2012 کال د دسمبر 31، د امريکا متحده ايالات کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ په موخه تر51.1 ميليارد ډالرو ډېرې پيسې ځانګړې کړيدي. د بسپنو لويه کچه (49.6 ميليارد ډالره) د افغانستان د امنيتي ځواکونو د صندوق له لارې ځانګړې کېږي او د افغانستان د ګډ امنيتي انتقال قوماندانۍ (CSTC-A). لپاره برابر شويدي. د افغانستان امنيتي ځواکونو د صندوق په چوکاټ کې د افغانستان ملي پوليسو او ملي اردو ته چمتو شوې بسپنې په څلورو برخو ويشل شويدي:

- پايښت ( چې په هغه کې معاشونه، مهمات، او لوجيستيک تدارکات شامل دي)
- تجهيزات او ترانسپورت
- زيربناوې
- روزنې او عملياتونه

د افغانستان امنيتي ځواکونو صندوق ته د ځانګړيو شويو 49.6 ميليارد ډالرو له جملې د شاوخوا 43.1 ميليارد ډالرو ژمنه شويده او له هغې جملې د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې 38.1 ميلياره ډالر لګول شويدي.[70]

په دې برخه کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو يا ANSF او د دفاع او داخله وزارتونو ارزونې توضيح شويدي؛ په هغو کې ANSF ته د جوړولو، تجهيزاتو، روزنو او پايښت په موخه د متحده ايالاتو د بسپنو جاج اخيستل شويدی؛ او د هغو هڅو په اړه نوې خبرونه هم پکې شامل دي چې په افغانستان کې د مخدره توکو د کر او قاچاق د مخنيوي په موخه سر ته رسيږي. په دې برخه کې همداراز هغه ننګونې په ګوته شويدي چې افغان امنيتي ځواکونو ته د 2014 کال تر پای پورې به د امنيتي انتقال په ډګر کې موجود وي.

## روانه پريکړه

د 2013 کال د جنوري په 2، اولسمشر اوباما د ملي دفاغ د صلاحيت قانون يا NDAA لاسليک کړ. په دې قانون کې به په 2013 کال کې ASFF ته 5.7 ميليارد ډالر بيل شي، دا به له هغې شميرې سره چې د اداري له خوا غوښتل شويدي برابرې وي.[71] سره له دې چې دغه رپوټ د رسينو لاس ته ورغی خو کانګرس د 2013 مالي کال لپاره بوديجه تر اوسه نده تصويب کړې. په دې ډول به ASFF ته بسپنه د رواني پريکړې تر چتر لاندې چې د کانګرس له لورې د 2012 کال د سپټمبر پر 28 تصويب شو روانه وي. د هغه قانون پر بنسټ (112-175 عامه قانون)، د بهرنيو احتمالي عملياتو / له نړيوالې ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه به پروژې او فعاليتونه د ASFF د بسپنو په شمول روانې وي. "د عملياتو لپاره په يوه منل شوې کچه... د اولسمشر د 2013 مالي کال لپاره غوښتل شوې بوديجه."[72]

## د دې ربع مهمې پېښې

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت یا DoD په وینا، افغان ملي امنیتي ځواکونه په افغانستان کې په کیدونکو عملیاتونو کې زیاتیدونکې ونډه لري. DoD کانګرس ته په خپل رپوټ کې روښانه کړه چې د 2011 د اوکتوبر له 1 د 2012 د سپتمبر تر 30 نیټې په اوږدو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو د ټولو عملیاتو 80% په یواځې توګه سر ته رسولي دي. په 5% نورو عملیاتونو کې دوی په داسې حال کې د عملیاتو مشرې کړیده چې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو سرتیرې هم موجود وو. برسیره پر دې، DoD ویلي دي چې ANSF ته د ایتلافي ځواکونو او ANSF د ګډو تلفاتو 60% اوښتي ده چې په 2012 کال کې ترسره شویدي. او 40% تلفات ایتلافي ځواکونو ته اوښتي ده. دا د 2010 کال د تلفاتو په نسبت بدلون په ګوته کوي.[73]

ANSF امنیتي رهبري په غاړه اخلي او ISAF خپل نوی رول د افغان امنیتي ځواکونو د مرستې او روزنې یا SFAT تر نامه لاندې غځوي. په دغه انتقال کې به د ځواکونو ایستل او د ISAF د قرارګاوو بندول او له سره تنظیم شامل وي.[74] SFAT به د امنیتي ځواکونو د ملاتړ د غونډ[75] یا SFABs له لوري حمایه کیږي چې مسولیت یې د ځواکونو له محافظت څخه نظارت او د SFAT ماموریت ته پیاوړې کونکې ملاتړ برابرول دی.[76]

## اولسمشر اوباما او اولسمشر کرزی د انتقال په تړاو سره خبرې کوي

اولسمشر اوباما او افغان اولسمشر کرزي د جنوري په 11 سره ولیدل او په افغانستان کې یې د انتقال، امنیت،او مخ په وړاندې لاروچارو باندې خبرې اترې وکړې. په یوې ګډې اعلامیې کې، دواړو اولسمشرانو وویل چې افغان ځواکونو تر تمې زیاته پیاوړتیا لاس ته راوړیده او اوس په افغانستان کې د اکثرو عملیاتو رهبري په غاړه لري. د انتقال د بهیر د څلورم پړاو له پیلیدو سره ( په دې برخه کې د "انتقال پرمختګ" وګورئ) به افغان امنیتي ځواکونه په هغو ساحاتو کې چې 90% افغان نفوس میشت دی امنیتي مسولیت په غاړه اخلي.[77]

اولسمشرانو همداراز هغه ژمنه تکرار کړه چې په شیکاګو کې د رهبرانو په ناسته کې تر سره شوې وه او په هغه کې یې ISAF له جګړه ایز ماموریت څخه حمایوي ماموریت ته لیږد منلي وو. دغه مهمه پېښه به — چې اوس مهال د 2013 منځنۍ برخې ته ټاکل شویده — د انتقال د بهیر د پنځم او وروستي پړاو له مهال سره سم وي چې په هغه کې به د متحده ایالاتو ډیری یواړخیز جګړه ایز عملیات پای ته ورسیږي. دوی همداشان روښانه کړه چې ANSF ته د مسولیتونو له سپارلو سره به د افغان ځواکونو د کیفیت وده او د پیاوړي کونکو او تجهیزاتو ګړندې کول د یوه لومړیتوب په توګه وساتل شي.[78]

**برخه:** د افغان ولایتونو ، ولسوالیو، او ښارونو له پنځو ګروپونو څخه یوه ده چې د امنیتي لیږد په بهیر کې شامليږي. د ګروپونو ټاکنه د عملیاتي، سیاسي، او اقتصادي ملاحظو په اساس شوې دي، چې د افغان-ناټو د انتقال ګډ بورډ له لارې د افغان حکومت او ناټو/ایساف ارزونې او وړاندیزونه رسموي.

سرچینه: ایساف، "افغان مشرۍ ته لیږد: انتقال،" 11/2011.

## امنیتي چاپیریال

د DoD په وینا، د دښمن له لورې د ترسره شویو بریدونو شمیره د 2012 کال د اپریل له 1 د سپتمبر تر 30 پورې د 2011 کال په نسبت 1% زیات شویدي. برسیره پر دې، په لوړه کچه طرح شوي عملیات 2% زیات شویدي او د مخامخ بریدونو شمیره 10% زیاته شویده. سره له دې، د پرمختللو چاودیدونکو توکو یا IEDs پیښې او د ماین چاودنې 12% کمې شوې وې.[79] د دښمن له لورې تر سره شوې بریدونه ډیری د هیواد په ختیځ کې تر سره شویدي (41%) ، په سویل کې (21%) او په سویل لویدیځو سیمو کې (30%) د رپوټ د برابرولو تر مهاله ثبت شویدي.[80] DoD جوته کړیده چې پلازمینه کابل د ټول افغانستان په کچه امن سیمه بلل شویده. کابل په 2012 کال کې د 2011 کال په پرتله د دښمن له لوري په تر سره شویو عملیاتو کې 25% کموالی په ګوته کړیدی.[81]

**پیژندل شوي بریدونه:** د ایساف لخوا د چاودیدونکو موادو پیښنو ته ویل کیږي لکه د یو فرد لخوا ورل شوي IED بریدونه، د نقلیه وسیلو په مرسته ځان وژونکي IED بریدونه، او د نقلیه وسیلو په مرسته IED بریدونه.

سرچینه: DoD، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه رپوټ،" 12/2012، 20. مخ.

د دغه رپوټ د یوه تحقیقي لنډیز په ځواب کې، DoD روښانه کړه چې د دښمن له لوري تر سره شوي عملیات لږ شویدي او نور امنیتي حسابونه د 2012 کال د عمومي ملاحظې په بنسټ پیاوړي شویدي. د DoD په وینا په داسې حال کې چې "تاوتریخوالی په عمومي توګه په اوړي کې زیات وو." او "په پسرلي او مني کې یې کچه ډېره ټیټه وه."[82]

## داخلي بریدونه

د داخلي بریدونو شمیره (پر ایتلافي ملګرو د ANSF یونیفورم لرونکو کسانو بریدونه) مخ په زیاتیدو ده، او شمیره یې په 2008 کال کې دوه وه په داسې حال کې چې 2012 کال کې دغه شمیره 37 ته لوړه شوه. د دغو 37 په پایله کې 51 ایتلافي سرتیري ووژل شول، چې په هغو کې 32 تنه امریکایان وو.[83] برسیره پردې د ANSF پر ANSF بریدونه هم مخ په لوړیدو دي چې شمیره یې په 2008 کال کې درې او په 2012 کال کې 29 بریدونه وو.[84]

د دغو بریدونو مخنیوی د ISAF او افغان حکومت لپاره په یوه جدي لومړیتوب اوښتی دی. لکه د سیګار د 2012 کال د اکتوبر په درې میاشتني رپوټ کې چې راغلي دي، ISAF د راتلونکو بریدونو د مخنیوي په موخه ګڼ اقدامات په لاره اچولي دي. په دغو اقداماتو کې یو "ساتونکې پرښته" نومیري چې د متحده ایالاتو او ایتلافي سرتیرو د محافظت په موخه په لار اچول شویده او د دفاع او کورنیو چارو له وزارتونو سره مرسته کوي چې خپل ځیرنیز اقدامات غښتلي کړي او د یاغیانو د نفوذ مخه ونیسي. د DoD په وینا، "داخلي بریدونه په لویه کچه د 2012 اګست په پرتله د سپتمبر په میاشت کې را ټیټ شول. دا شمیره په بالقوه توګه د دغو اقداماتو د کارنده والي یو وړاندوینکی اغیزمنتوب په ګوته کوي او د تهدیدونو په کمیدلو کې یې موثر بولي."[85] ANSF ته د یاغیانو د نفوذ د مخنیوي په موخه، د شمولیت په مراحلو کې د اتو پروسه یوه مجموعه وړاندې کړیده:[86]

- د افغانستان د تذکرې څېړول
- د قومي مشرانو له لارې د هغو د سابقې په اړه معلومات ټولول.
- د کورنۍ د غړو په اړه د شخصي معلوماتو ټولول
- د جرمي سابقې د موندلو لپاره اقدامات
- د رسمي غوښتنلیک د پروسې بشپړول
- د مخدره توکو د اعتیاد معلومول
- طبي معاینات
- د شخص د بایومتریک معلوماتو راټولول

## د انتقال پروسه

د DoD په وینا، د انتقال د بهیر درې پړاوونه بشپړ شویدي، او دوه نور پړاوونه به یې د 2014 کال تر پای پورې بشپړ شي. د 2012 کال د سپتمبر تر پایه، ANSF له 405 ولسوالیو څخه د 261 ولسوالیو امنیتي مسولیت په غاړه واخیست چې شاوخوا 76% افغان نفوس پکې ژوند کوي. په ټوله کې، د 34 ولایتونو له جملې 11 هغه په بشپړه توګه د انتقال تر بهیر لاندې راغلي دي او ټولو 34 ولایتونو کې ځینو سیمو د انتقال د بهیر بیلابیل پړاونه بکار دي، چې په هغو کې د نفوس له نظره مهمې سیمې، له اقتصادي لحاظه مهمې ولسوالۍ او د هغو نښلونکې لارې، لکه په راتلونکې پاڼه کې چې په 3.23 شکل کې چې ښودل شویدي.[87]

د دې ربع په اوږدو کې د DoD په وینا د انتقال د بهیر هیڅ نوی پړاو ندی پیل شوی. په داسې حال کې چې د انتقال د بهیر څلورم پړاو د 2012 کال د دسمبر په پای کې اعلان شو. دغه نوی پړاو به د تمې سره سم د 2013 کال په فبروري کې پیل شي او ورسره به د 34

3.23 شکل

**هغه سيمې چې افغان مشرتابه امنيت ته د ليږد په بهير کې دي**




يادونه: په يادو برخو کې ښارونه، ولسوالۍ، او ولايتونه (يا د دوی برخې) شامل دي. 1 برخه د 2011 کال په جولای کې، 2 برخه د 2011 کال په نومبر کې، 3 برخه د 2012 کال په جولای کې پيل شوې ده.

سرچينې: ناټو، "افغان مشرتابه ته ليږد: انتقال،" 5/16/2012؛ د سيګار 10/4/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

ولايتونو له جملې 23 هغه په بشپړه توګه تر انتقال بهير لاندې راشي. په څلورم پړاو کې به 11% نور افغان وګړي هم د انتقال بهير بشپړ کړي.[88]

د ANSF د پياوړتيا له لوړيدو سره سم به د ISAF په حمايوي رول کې بدلونونه راشي، او افغانانو ته به لا ډير مسوليت وسپارل شي. د DoD په وينا، ANSF په زياتيدونکې توګه د انتقال تر بهير لاندې راغلو سيمو کې خپله ولکه پياوړې کوي او د افغان حکومت د واک له خوريدو سره مرسته کوي. دا کار په شمال کې چې ايتلافي ځواکونه د وتلو په درشل کې دي ډير اغيزمن دی. کابل د هيواد په کچه تر ټولو امن سيمه بلل شويده. DoD همداراز روښانه کړيده چې د افغانستان په ختيځو او سويلي برخو کې د ANSF د ځواکونو پياوړتيا مخ په زياتيدو ده. هلته ANSF په لويه کچه ځو ورځني عمليات په لاره اچولي دي او د اردو او پوليسو تر منځ يې د همغږۍ په زياتولو کې د پام وړ ونډه درلودلې ده. DoD همداشان ويلي دي چې حکومتدارۍ او پرمختيا به "د بدلون په لسيزه کې" (2015-2024) دوامدارې مرستې ته اړتيا ولري.[89]

## ANSF به د 2014 کال تر پایه 352,000 ورستنی ځواک تر لاسه کړي

د 2011 له جون راهیسي، د ANSF وروستی ځواک 352,000 غړي وټاکل شو چې بشپړیدل یې د 2012 کال تر اکتوبر پورې په پام کې ونیول شول: ملي اردو 195,000 او ملي پولیس 157,000.[90] DoD وايي چې د ANSF د پایښت پلان د 352,000 ځواک غوښتنه کوي او د دريو کلونو لپاره يې په همدې شمیر ساتل غواړي (تر 2015 کال پورې).[91] لکه د سیګار په تیرو رپوټونو کې چې په ډاګه شوه، ANSF به په 2017 کال کې د 228,500 غړو په درلودو یو پایدونکی ځواک ته شمیره را ټیټه کړي.

کانګرس ته د 2012 کال د اپریل په رپوټ کې DoD روښانه کړه چې "ANSF تر مهال ویش مخکې لا 352,000 شمیره وروستنی ځواک برابرولای شي، موخه پکې د 195,000 سرتیرو او 157,000 پولیسو چمتو کول دي."[92] د 2012 په سپتمبر کې د DoD یوه چارواکي په ډاګه کړه چې "موخه تر اکتوبر پورې د ANSF 352,000 غړو روزل او ځای پر ځای کول دي مونږ به دغې موخې ته د رسیدو لپاره خپلې هڅې رواني ساتو."[93] ANSF سره له دې هم ونشوای کولای چې تر ټاکلي نیټې یا د کال تر پایه یادې شمیرې ته ورسیږي-خو د جلب او جذب ظرفیت يې 352,000 ته لوړ شو.

کانګرس ته د 2012 دسمبر په رپوټ کې DoD جوته کړه چې "ANSF د شاوخوا 352,000 پولیسو او سرتیرو د جلب او جذب موخې ته د 2012 د اکتوبر تر 1 پورې رسیږي." او "د اردو او پولیسو هغه غړي چې تر اوسه روزل شوي ندي، د جلب او جذب لړۍ یې بشپړه شویده او روزنیزو مرکزونو ته د ورپیژندل کیدو په درشل کې دي. ملي اردو به د مهال ویش به بنسټ د 187,000 سرتیرو وروستنی ځواک به 2012 کال تر دسمبر پورې بشپړ شي.دغه غړي به د 2013 کال تر دسمبر پورې ورزول شي ، تجهیز او ځای پر ځای به شي."[94]

د هغه رپوټ پر بنسټ، "د افغان ځواکونو لپاره روان تصویب شوی وروستی ځواک — ټاکل شوی وروستی ځواک چې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د امنیتي مسولیتونو په انتقال کې اړین دي — د 2014 تر دسمبر پورې 352,000 تنه ټاکل شوی، او تر همدغې نیټې پورې د افغان هوایي ځواکونو د غړو شمیر 8,000 منل شویدی."[95]

د 2012 کال د نومبر تر 21، CSTC-A د ANSF د ځواکونو شمیره 331,597 تنه ښولې ده. د ملي اردو د سرتیرو شمیره 174,645، د ملي پولیسو شمیره 151,080 او د هوایي ځواکونو شمیره 5,872 ته رسیدلې ده چې په 3.2 جدولکې راغلي دي. دغه شمیره—چې په روزنې کې شامل غړي هم پکې شامل دي — تر 20,000 اوړي چې د 2012 کال اکتوبر تر

3.2 جدول

**د ANSF کومارل شوي پرسونل ځواک، د 2012 کال د نومبر 21 نیټه**

| د ANSF برخه | موجوده موخه | د 11/2012 تر نیټې پورې وضعیت | د شته ځواک او د 2012 کال د اکتوبر د موخې پای له ځواک سره توپیر |
|---|---|---|---|
| افغان ملي پوځ (د افغان هوايي ځواک په شمول) | 195,000[a] | 180,517 | -14,483 |
| افغان ملي پولیس | 157,000[a] | 151,080 | -5,920 |
| **د ANSF ټول ټال** | **352,000** | **331,597[b]** | **-20,403** |

[a] د 2012 کال تر اکتوبر
[b] پورې2,581 تنه د CNPA پرسونل پکې شامل و

سرچینې: DoD، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه رپوټ،" 10/2011، 4 مخ.؛ د سیګار 1/2/2013، 1/4/2013، او 1/6/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

پای پورې ANSF ته له ټاکل شوې موخې کمه ده، خو دغه موخه د 2014 کال تر دسمبر پورې 352,000 ته رسیدلی شي. لکه د سیګار د تیرې ربع په رپوټ کې چې روښانه شویده د ګمارل شویو سرتیرو او په دنده کې د حاضرو هغو شمیره سره برابره نده (په دې برخه کې د "ملي اردو ځواک" وګورئ).

## د ANSF شمیرې معتبرې ندي

د ANSF د ځواک روښانول له ګنو ننګونو سره مخ دی. متحده ایالات او ایتلافي ځواکونه د هغوی د سرتیرو د شمیر په تړاو په رپوټونو تکیه کوي. د دې تر څنګ د افغانستان د ګډ امنیتي لیږد قوماندانۍ CSTC-A جوته کړیده چې د افغان ملي اردو په تړاو، "د لاسرسي وړ هیڅ اسناد نشته چې د هغو د شمیر د معلوملو لپاره ترې کار واخیستل شي"[96] ANSF ته د د متحده ایالاتو د مالي مرستو د چمتو کولو په تړاو به سیګار خپلو پلټنو ته دوام ورکړي او دا به معلومه کړي چې آیا د دغو مرستو لپاره د رپوټ شویو سرتیرو شمیره سمه ده که نه.

د متحده ایالاتو بیلابیلو ادارو لکه CSTC-A، سیګار او د DoD د عمومي پلټونکی ادارې DoD OIG د سرتیرو د سم شمیر په وړاندې کولو کې ننګونې منلې دي. د سرتیرو د شمیرلو په روان میتود کې بیلابیل پړاوونه شامل دي او د ANSF د کاغذ پر مخ پر چمتو کیدونکو رپوټونو تکیه کوي چې د هغو د قوماندې په جوړښت کې شامل دي. د CSTC-A په وینا، د ملي اردو پروسه د جلب او جذب د فرعي واحدونو د ځواکونو له معلوماتو لاس ته راځي او وروسته د غونډونو له لارې مربوطه مراجعو ته لیږل کیږي. دغه رپوټونه د نوموړو مراجعو له لورې ټولیږي او د ایمیل له لارې د ملي اردو د سرتیرو لپاره عمومي دفتر ته لیږل کیږي. هلته د سرتیرو عمومي دفتر راغلي معلومات په سپرید شیټونو کې ځای پر ځای کوي او وروستنۍ شمیره په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت NTM-A او CSTC-A ته استول کیږي. د CSTC-A په وینا، "د ملي اردو د وضعیت په اړه د اونیز رپوټ څیړنه" ازمویل شویده او د بشري منابعو د ادارې معلوماتي سیستم کارول په پلان کې دي "له دې سره به د سرتیرو د شمیر د معلوملو لپاره لا معتبر میتود په کار ولویږي."[97]

د ملي پولیسو لپاره به هم دا پروسه په پام کې وي. د 2011 کال په اپریل کې سیګار د ملي پولیسو د معاشاتو او کاري ځواک د پلټنې پر مهال وموندله چې د کورنیو چارو وزارت په ملي پولیسو کې د ټولو غړو له حقیقي اندازې ناخبره دی ځکه دوی ډیټابیز یا د پولیسو د شمیرنې لپاره اسناد نلري تر څو یې له مخې یې پریکړه وکړي. سیګار همداشان وموندله چې د کورنیو چارو وزارت د افرادو اسنا په لاس لیکلې بڼه په واک کې لري "ویشلي، بیل بیل او نامتوازنه سیستمونه." همداشان سیګار روښانه کړه چې د څیړنې پر مهال د کورنیو چارو وزارت په دوامداره توګه په زرګونه هغه اسناد سکن کول چې د بشري منابعو یوه اتومات معلوماتي سیستم ته داخلیدل.[98]

بله ننګونه د ANSF غړیو په نوم د ملکي وګړو شمیرل دي. د 2012 په فبروري کې DoD OIG د ملي اردو د معاشاتو د مرستې په اړه رپوټ وکړ چې د افغان ملي اردو مالي مسولینو به ملکي افغانان د سرتیرو په لست کې د معاش د رپوټ لپاره اضافه کول (د CSTC-A او دفاع وزارت د هغه تړون په خلاف چې له مخې یې یواځې نظامي افرادو د ASFF له لارې مرسته لاس ته راوړلای شوای.)[99] CSTC-A همداشان روښانه کړه چې د ANSF د ګمارل شویو ځواکونو په ډله کې هم ملکي وګړي راوستل شوي وو چې بیا وروسته ترې وایستل شول.[100] په داسې حال کې چې ملکي وګړي تر اوسه هم په رسمي شمیرو کې

راځي. د دې راپور د يوه ځيرنيز لنډيز په ځواب کې، NTM-A/CSTC-A (د ANSF د روزنو، تجهيزاو پايښت لپاره د متحده ايالاتو/ناټو ګډ ماموريت) روښانه کړه چې د رسمي شميرو 11,384 کسان تر اوسه هم ملکيان دي.[101]

## د ANSF د وړتياوو ارزونه

د ملي اردو او ملي پوليسو د واحدونو د وړتياوو د ارزولو لپاره، ISAF د قوماندان د واحد د ارزوني اسباب يا CUAT کاروي، چې پنځه پوړونه لري:[102]

- **له سلاکارانو سره خپلواک:** په دې حالت کې واحد د ماموريتونو د پلان او اجرا وړتيا لري، د قوماندې مراعات او تر لاس لاندو کسانو کنترول وکولای شي، د چټک غبرګون له ځواکونو او طبي مرستو لپاره همغږۍ او د خبرداری ورکړی شي، استخباراتي معلومات راوايستلای شي او د يوه پراخ استخباراتي سيستم تر سيورې لاندې عمليات تر سره کوي.
- **له سلاکارانو سره اغيزمن:** واحد اغيزمنه پلان جوړونه، همغږي، او مديريت اجرا کولای شي او د عملياتو او حالاتو په اړه ريپوټ برابرولای شي. مشران، غړي او واحد له خلاقي قوانينو پيروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. ايتلافي ځواکونه د واحد غړو ته ځيني وخت يواځي محدودي لارښوني ورکوي او د اړتيا په وخت کې پياوړي کوونکي اقدامات سر ته رسوي. ايتلافي ځواکونه يواځي په خپلو مواقعو کې ملاتړ اجرا کوي.
- **له ملګرو سره اغيزمن:** واحد د پلان جوړوني، همغږي، مديريت او د وضعيت او عملياتو په اړه ريپوټ جوړوني په برخه کې ورځنيو څارنو ته اړتيا لري. همداشان له نورو واحدونو سره همغږي او مفاهمه؛ او د تيارۍ د اغيزمنو ريپوټونو چمتو کول. رهبران، غړي، او د واحد ډيرى برخه له اخلاقي قوانينو پيروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. د ANSF پياوړي کوونکي واحد ته ملاتړ چمتو کوي، او ورسره ايتلافي ځواکونه کولای شي د ملاتړ بشپړولو ته تقوييوي اهتمامات برابر کړي.
- **له ملګرو سره د ودې په حال کې:** دا واحد د پلان جوړوني، همغږۍ، مديريت، او د وضعيت او عملياتو په تړاو ريوټ جوړوني برخه کې مرستې او همکارۍ ته اړتيا لري؛ همداشان له نورو واحدونو سره د همغږۍ او مفاهمې لپاره او د اغيزمنو ريپوټونو چمتو کولو مرستو او همکارۍ ته اړتيا لري. رهبران، غړي، او د واحد ډيرى برخه له اخلاقي قوانينو پيروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. ځيني پياوړي کوونکي اغيزمن شتون لري او ګڼ ملاتړ برابروي. ايتلافي ځواکونه پياوړي کوونکي او ګڼ ملاتړ چمتو کوي.
- **تاسيس شوي:** واحد د جوړښت په درشل کې دی خو په لږه کچه د پلان جوړوني، همغږۍ، مديريت، يا د عملياتو او وضعيت د ريوټ ورکولو وړتيا لري، د ملګري واحد د مرستې او موجوديت په صورت کې هم پورتني اجرات تر سره کيږي. دغه واحد په لږه کچه له نورو واحدونو سره د همغږۍ او مفاهمې وړتيا لري. رهبري او غړي کيدی شي له اخلاقي قوانينو پيروي ونکړي يا به افغان حکومت سره وفاداري ونلري. د واحد د پياوړي کوونکو ډيرى برخه موجوده نده او يا په ټيټه کچه شتون لري. دغه پياوړي کوونکي لږ او يا هيڅ ملاتړ هم واحد ته نشي برابرولای. ايتلافي ځواکونه د ملاتړ ډيرى برخه برابروي.

**مرسته کونکي:** ځانګړي واحدونه دي چې د جنګ کوونکو واحدونو سره مرسته کوي لکه انجينري، ملکي چارې، پوځي استخبارات، چورلکه، پوځي پوليس، او استخبارات، ځارنه، او د دښمن لوميزنی سروې.

سرچينه: DoD، "مولن په افغانستان کې له سرحدي پوستو څخه ليدنه کوي،" 4/22/2009.

د ملي اردو او پوليسو ارزونه د متحده ايالاتو د هڅو ښکارونکې ده—او د متحده ايالاتو د بسپنو له خپريدلو—چې د ANSF د پايښت، تجهيز، روزنې، او جوړښت څرګندونه هم کوي. دغه ارزونې همداشان د دغه ځواکونو د وضعيت په تړاو په داسې حال کې افغان او امريکايي ونډه والو ته نوي خبرونه وړاندې کوي چې د انتقال بهير روان دی او افغانستان د

امنیت ساتلو لپاره خپل مسولیتونه پخپله په غاړه اخلي. سیګار د دغو ارزونو دقیقې څارنې ته کانګرس ته د دری میاشتنیو رپوټونو او پلټونکو مواردو له لارې دوام ورکوي.

په 2010، سیګار د تیرې ارزونې اسباب وپلټل — د وړتیاو د پړاو روښانونکې اسباب چې له 2005 کال راهیسي کارېږي — ومونده چې دوی ونشوای کولای چې د ANSF د وړتیاو د ارزونې په تړاو معتبر او متوازنې ارزونې تر سره کړي. د هغې پلټنې په اوږدو کې، DoD او NATO د نوي سیستم کارول پیل کړل چې CUAT نومیږي او د ANSF کچه معلوموي.[103] د 2010 په مې کې، د ISAF ګډې قوماندانۍ (IJC) د نوي سیستم د پلې کولو امر وکړ چې "د ANSF د هر عنصر د رپوټ ورکولو لپاره باید د تصنیف ځانګړې مشخصې رامنځ ته شي چې د CUAT په بڼه رپوټ ورکول کیږي، پدې عناصرو کې د مشر/قوماندان ملاحظې، ترسره شوي عملیاتونه، د استخباراتو د ټولو وړتیا، لوجیستیک او پایښت، تجهیزات، ملګرتیا کول، د پرسونل چمتو والی، ساتنه، مخابرات، د واحد ټرېننګ او انفرادي زده کړه، او همدارنګه د ملګري واحد یا سلاکارې ډلې مجموعي ارزونه شاملیږي."[104]

د CUAT له پلې کولو نه راهیسې، د بیلابیلو نمرو لقبونه بدل شوي دي، لکه چې په 3.3 جدول کې ښودل شوي دي. د 2012 کال په جولای کې، د حکومت د حساب ورکولو دفتر پدې اړه خپله اندیښنه وښودله چې د "خپلواک" څخه "د سلاکارانو سره خپلواک" ته د لوړې نمرې لقب بدلول به د دې لامل شي چې د ANSF ډیر واحدونه د لوړې نمرې لقب خپل کړي. GAO همدارنګه وایي چې "دا بدلون د پرسونل او تجهیزاتو کیفیت د 85' څخه کم نه وي' نه د75' څخه کم نه وي' کچې ته راټیټ کړي ده."[105] تیره ربعه د سیګار غوښتنې ته په خپل ځواب کې IJC د GAO دغې ارزونې سره مخالفت وکړه، او ویې ویل چې د لقب بدلون "په تعریف کې له بدلون سره مساوي نده."[106] له تیرې ربعې راهیسې، IJC د CUAT اصلاح لپاره یوه ډله ټاکلې ده ترڅو په هغو سیمو کې چې د ارزونې لخوا پوښل شوي دي راکړه او ورکړه معیاري کړي.[107]

پدې ربع کې، IJC ټول هغه واحدونه چې په تیرو ارزونو کې رپوټ ورکړ شوي وې، د "ندي ارزول شوي" په کټګورۍ کې شامل کړي دي. په تیرو ربعو کې، یوازې هغه واحدونه پدې کټګورۍ کې شاملیدې چې (ارزول شوي نه وې) خو د ارزونې غوښتنه یې کوله.[108] دا کار کیدای شي د دې لامل ګرځیدلی وي چې د افغان ملي پوځ د واحدونو شمیر له 267 څخه 292 ته او د "ندي ارزول شوي" واحدونو شمیر له 51 څخه 81 ته زیات کړي لکه چې په 3.24

3.3 جدول

| د CUAT لمبر ورکولو له لارې د سویو په نومونو کې د بدلون تاریخچه، د 2010 کال له اپریل څخه – تراوسه پورې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د 2010 کال اپریل | د 2010 کال جولای | د 2010 کال سپتمبر[a] | د 2010 کال اکتوبر | د 2011 کال اګست |
| د سلاکارانو سره اغیزمن | خپلواک | خپلواک | خپلواک | د سلاکارانو سره خپلواک |
| د مرستې سره اغیزمن | د سلاکارانو سره اغیزمن | د سلاکارانو سره اغیزمن | د سلاکارانو سره اغیزمن | د سلاکارانو سره اغیزمن |
| د بریالیتوب لپاره CF باندې تکیه کوي | د مرستې سره اغیزمن | د مرستې سره اغیزمن | د مرستې سره اغیزمن | د ملګرو سره اغیزمن |
| په سختۍ سره اغیزمن | د بریالیتوب لپاره CF باندې تکیه کوي | د بریالیتوب لپاره CF باندې تکیه کوي | وده کوونکې | د ملګرو سره وده کوونکی |
| غیر موثر | غیر موثر | غیر موثر | تاسیس شوی | تاسیس شوی |
| ندی ارزول شوی | ندی ارزول شوی | ندی ارزول شوی | ندی ارزول شوی | ندی ارزول شوی |

[a] د CUAT رپوټ د لمبر ورکولو هرې سویې لپاره رنګه کوډ لري؛ د 2010 کال د جولای او سپتمبر ترمینځ توپیر دا و چې د لمبر ورکولو د کوډ رنګ بدل کړای شوی و. "CF" = ایتلافي ځواکونه

سرچینه: د سیګار 12/20/2012 معلوماتي غوښتنې ته د IJC ځواب.

3.24 شکل

**د CUAT له مخې د ANSF نمرې**




سرچينې: د سيګار 9/26/2012 او 12/20/2012 معلوماتي غوښتنې ته د IJC ځوابونه.

شکل کې ښودل شوې ده. په افغان ملي پوليسو کې، د واحدونو مجموعي شمير له 408 څخه 536 ته او د "ندي ارزول شوي" واحدونو شمير له 131 نه 301 ته زيات شوي دي.

لکه څنګه چې د CUAT په هره دوره کې د هر واحد په اړه رپوټ نه ورکول کيږي، IJC "د يوې دورې له بلې دورې سره مقايسه کولو لپاره" تر ټولو نه نوې ارزونه (چې په تيرو 18 مياشتو کې ترسره شوې وي) کاروله ده. کله چې پدې طريقې سره پرتله وشوه،د تيرې ربعې څخه راهيسې د افغان ملي پوځ 19 نور واحدونه "له سلاکارانو سره خپلواک" وختل؛ درې نور يې "اغيزمن له سلاکارانو سره" و. په افغان ملي پوليسو کې، 31 نور واحدونه "له سلاکارانو سره خپلواک" او10 لړ واحدونه "اغيزمن له سلاکارانو سره" و.[109]

د دې لپاره چې دا اول ځل دی د واحدونو بدلون پدې طريقې سره ويل شويدي، د 3.24 شکل پوازې هغه واحدونه ښيي چې په تيره ربعه او دې ربعه کې ارزول شوي دي، او هغه واحدونه نه ښيي چې په تيرو 18 مياشتو کې ارزول شوي دي. سيګار به له راتلونکې ربعې نه درې مياشتنۍ معلومات د نمبر ورکولو نوی سيستم په کارولو سره مقايسه کړي.

د افغان ملي پوځ له 292 واحدونو څخه چې په رپوټ کې ويل شوي دي، 168 واحد يې (58%) دوی لوړې نمرې اخيستي دي: 14% يې "د سلاکارانو سره خپلواک" او 43% يې "د سلاکارانو سره اغيزمن" ارزول شوی دي. د افغان ملي پوليسو له 536 واحدونو څخه چې په رپوټ کې ويل شوي دي، 172 واحد يې (32%) په دغو سويو کې شميرل شوي دي: 13% يې "د سلاکارانو سره خپلواک" او 19% يې "د سلاکارانو سره اغيزمن" ارزول شوی دي.[110]

3.25 شکل

**د MOD او MOI د وړتيا پراوونو ته نمبر ورکونه، درې مياشتنی بدلون**




سرچينې: د سيګار 10/1/2012 او 1/2/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځوابونه.

## د دفاع وزارت او د داخلې وزارت ارزونې

د دفاع وزارت او د داخلې وزارت ارزونې ربعه کې روان پرمختګ ښيي. NTM-A د دې دواړو وزارتونو د وړتياو ارزولو لپاره د وړتيا موخې نمبر ورکولو له سيستم څخه کار اخلي. دا سيستم د څلور ابتدايي او دوه ثانوي درجه بنديو په مرسته د ستاف برخې (لکه هغه دفترونه چې دوزيرانو د مرستيال يا معين لخوا يې مشري کيږي) او متقابل کاري سيمې (لکه د عمومي ستاف دفترونه) ارزوي:[111]

- CM-1A: د خپلواکو عملياتونو وړتيا لري
- CM-1B: يوازې د ايتلاف ترڅارنې لاندې کارونه ترسره کولی شي
- CM-2A: د ايتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: خپل کارونه سرته رسولی شي خو دايتلاف لږې مرستې ته اړتيا لري
- CM-3: د ايتلاف د پام وړ مرستې څخه پرته خپل ماموريت سرته نشي رسولی
- CM-4:شتون لري خو خپل ماموريت سرته نشي رسولی

پدې ربع کې د دفاع وزارت د ستاف ټولې 45 برخې او متقابلې کاري سيمې وارزول شول لکه چې په 3.25 شکل کې ښودل شوي دي. د دغو څخه يو يې پرمختګ کړی و. دريو دفترونو ته چې په تيره ربعه کې نه و ارزول شوي د CM-2B (د عمومي ستاف رييس)، CM-3 (د دفاع وزارت د صحيه قوماندانی)، او CM-4 (د افغان هوايي ځواک قوماندانې) نمرې ورکړ شوې.[112]

د داخلې وزارت د سټاف ټولې 32 برخې وارزول شوې؛ چې پنځه یې د تیرې ربعې په پرتله پرمختګ کړې وې. د یادونې وړ ده چې، د داخلې وزارت د عامه چارو دفتر د CM-1A نمبر — تر ټولو نه لوړه نمره — خپله کړه چې پدې سره دا د داخلې او دفاع وزارتونو په چوکاټ کې یوازینی اداره چې ویل کیږې د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لرې. نور دفترونه چې پرمختګونه یې کړې دي د جندر د چارو دفتر (CM-3)، د ځواک چمتو والی دفتر (CM-2A)، افغان یونیفارم پولیس (CM-2A)، او د افغان عامه محافظت ځواک (CM-3) دی. پدې ربع کې د سټاف یوه نوې برخه — هغه دفتر چې د اطفاییه خدماتو اداره کوې — په ارزونه کې شامله شوه او د CM-3 نمبر یې خپله کړه.[113]

## افغان ملي پوځ

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان ملي پوځ د جوړولو، روزلو، او پایښت لپاره $28.1 میلیارده ډالر مقید کړی و چې $24.9 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[114]

### د افغان ملي پوځ قوت

د CSTC-A په وینا، د افغان ملي پوځ عمومي قوت د 2012 کال د نومبر تر 21 پورې 180,517 کسانو ته رسیده (174,645 تنه پوځ او 5,872 تنه هوایي ځواک). لکه څنګه چې په 3.4 جدول کې ښودل شوی د تیر ربعې په پرتله 10,331 کسان کم شوې دي. د پوځ له 174,645 کسیزه پرسونل څخه، 23,138 کسان یې افسران، 54,372 تنه یې بریدمنان، 93,265

3.4 جدول

**د ANA ځواک، درې میاشتنی بدلون**

| | واک ورکړ شوی | | | ګومارل شوی | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د ANA برخه** | **Q3 2012** | **Q4 2012** | **درې میاشتنی بدلون** | **Q3 2012** | **Q4 2012** | **درې میاشتنی بدلون** |
| 201st قطعې | 18,421 | 18,421 | هیڅ یو | 19,613 | 17,966 | -1,647 |
| 203rd قطعې | 20,614 | 20,614 | هیڅ یو | 21,330 | 20,625 | -705 |
| 205th قطعې | 19,075 | 19,075 | هیڅ یو | 20,144 | 19,856 | -288 |
| 207th قطعې | 14,706 | 14,706 | هیڅ یو | 13,824 | 13,261 | -563 |
| 209th قطعې | 14,852 | 14,852 | هیڅ یو | 15,194 | 14,170 | -1,024 |
| 215th قطعې | 17,542 | 17,542 | هیڅ یو | 16,942 | 17,135 | +193 |
| 111th مرکزي فرقه | 9,608 | 9,608 | هیڅ یو | 10,238 | 9,152 | -1,086 |
| د ځانګړو عملیاتونو ځواک | 12,525 | 12,525 | هیڅ یو | 10,193 | 10,338 | +145 |
| د قطعو څخه پورته ایچیلون [a] | 44,712 | 44,712 | هیڅ یو | 36,438 | 36,858 | +420 |
| TTHS [b] | | | هیڅ یو | 20,760 | 15,284 | -5,476 |
| **د ANA ټول ټال** | **172,055** | **172,055** | **هیڅ یو** | **184,676** | **174,645** | **-10,031** |
| افغان هوایي ځواک (AAF) | 7,639 | 7,639 | هیڅ یو | 6,172 | 5,872 | -300 |
| **د افغان ملي پوځ او افغان هوایي ځواک ټول ټال** | **179,694** | **179,694[c]** | **هیڅ یو** | **190,848** | **180,517** | **-10,331** |

یادونې: د Q4 معلومات د 9/6/2012 نیټې پورې دي. د Q1 معلومات د 11/21/2012 نیټې پورې دي.
[a] پدې کې MoD، عمومي کارکونکې، د مینځنی قوماندې ترینیان،
[b] موقتې کسان، نیول شوې کسان، او زده کوونکې شامل دي؛ دا شمیرې د واک لرونکې پرسونل په رقم کې ندي شمیرل شوي،
[c] پدې کې ملکې کسان شامل دي.

سرچینه: د سیګار 10/1/2012، 1/2/2013، 1/4/2013، 1/6/2013 او 1/14/2013 معلوماتي غوښتنې د CSTC-A ځوابونه.

تنه يې خدمتي پرسونل، او 3,870 کسان يې زده کونکي دي. د افغان هوايي ځواک له 5,872 کسيزه پرسونل څخه، 2,199 کسان يې افسران، 2,100 تنه بريدمنان، او 1,573 تنه يې خدمتي پرسونل دي. په هرصورت، د ګومارل شوي ځواک شميره اړينه نده چې په دنده کې د حاضرو کسانو له شميرې سره مساوي وي. د اصلي جنګيالي ځواکونو څخه (د پوځ شپږ قطعې، 111 مرکزي فرقه، او د ځانګړو عملياتونو ځواک) يواځې 62.3–80.4% خپلو دندو کې حاضر ول؛ او دافغان هوايي ځواک 84% خپلو دندو کې حاضر ول.[115]

## د افغان ملي پوځ پايښت

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ايالاتو د افغان پوځ د پايښت لپاره د ASFF له بسپنو څخه 9.5$ ميلیارده ډالر مقيدکړي و چې 9$ ميلیارده ډالريې مصرف شول.[116]

د 2013 کال په جنوري کې د متحده ايالاتو د بسپنو په اړه چې د ANA د سون موادو لپاره يې ورکړي و، په يوه پلټنه کې سيګار وموندہ چې CSTC-A د سون د بيلابيلو ډولونو د فرمايش، تسلميدو، او پيسو ورکولو په اړه حساب نشي ورکولی. برسيره پردې، د افغان ملي پوځ د سون موادو راتلونکي اړتياو په اړه (چې په راتلونکو شپږو مالي کلونو کې د متحده ايالاتو له تخصيصاتو څخه نږدې 3.1$ ميلیارده ډالره غوښتنه کوي) د سون موادو د اعتباري اړتياو او د مصارفو د ريښتونی معلوماتو په اساس ندي ارزول شوي، او کيدای شي تر اندازې زيات وي. پلټنه غوښتنه وکړه چې د افغان ملي پوځ نقليه وسيلو، جنراتورانو، او د بريښنا مرکزونو لپاره د پټرول، تيل او ګريس چمتو کولو له بهير څخه په کلکه څارنه وشي.

د CSTC-A په وينا، د پايښت د بوديجې يوې برخې په توګه متحده ايالاتو افغان ملي پوځ ته نږدې د 1.03$ ميلیارده ډالرو په ارزښت مهمات چمتو کړي دي.[117]

## د ANA معاشات، خواړه او جايزې

د CSTC-A په وينا د 2012 کال دسمبر تر 8 پورې، د متحده ايالاتو حکومت د ANA د معاشونو، خوارو او جايزو لپاره 1.5$ ميلیارده ډالرد ASFF له لارې تخصيص کړي چې پدې کې 142.6$ ميليونه ډالر يې د دې ربعي لپاره وي.[118] د MoD د افغانستان د مالي اداري په معلوماتی سيستم کې د افغان ملي پوځ د معاشاتو، خوارو او جوايزو له بهير څخه څارنه کوي.[119] د CSTC-A په وينا داسې منل شوې ده چې افغان حکومت د متحده ايالاتو د مرستو له مصرف څخه وړاندې خپله بوديجه مصرف کړې (په 1391 لمريز کال/د 2012 کال د مارچ له 20 څخه د 2013 کال د مارچ تر 20 پورې، کې 133.3$ ميليونه ډالره کيږي). CSTC-A اټکل کړې ده چې که چيرې افغان ملي پوځ خپل رسمي ځواک ته ورسيږي نو هر کال به د خپلو مرکزونو د معاشونو، بخششونو، خواړه او جايزو لپاره 686.1$ ميليونه ډالرو ته اړتيا ولري.[120]

CSTC-A ويلي چې د 2012 کال د نومبر له 20 نيټې څخه د افغان ملي پوځ ټول پرسونل يو ډول بخششي معاشونه ترلاسه کړي دي. همدارنګه CSTC-A وايي چې د معاشونو د لست شميرې له نهايي شميرو څخه لرې دي ځکه چې د معاشونو د لست سيستم او د پرسونل دمحاسبې سيستم تر مينځ په رپوټ ورکولو کې تاخير شته دی. د بيلګې په توګه، کوم پرسونل چې له رخصتۍ نه پرته کار ته نه راځي معاش نه اخلي، خو تر څو چې د پرسونل د معاشونو له لست نه ويستل شوی نه وي د افغان ملي پوځ په نهايي مصرف کې شميرل کيږي.[121]

سيګار او DoD OIG دواړه د متحده ايالاتو د هغو مرستو په اړه پلټنې کړې دي چې د ANSF معاشونو لپاره ورکول کيږي. د 2012 کال په فبروري کې، DoD OIG وموندہ چې NTM-A/CSTC-A د افغان ملي پوځ د معاشونو له بوديجې د هغو 410.4$ ميليونه ډالرو په اړه داسې کنټرول نه درلوده ترڅو معلومه کړي چې د دفاع وزارت ته په سمه توګه ليږل شوي او رپوټ ورکړ شوي وي. برسيره پردې، DoD OIG وموندہ چې CSTC-A ته اړينه ده

### د سيګار پلټنه

سيګار په خپله يوه پلټنه کې چې د متحده ايالاتو په بسپنه ملي پوځ ته د سون موادو د اخيستلو په اړه کړې وه، وموندہ چې CSTC-A نشي کولی د هغو 1.1$ ميلیارده ډالرو حساب ورکړي چې د 2007 کال څخه تر 2012 کاله پورې افغان ملي پوځ ته تيل، غوړي او ګريس اخيستل شوي دي. سيګار د دې موادو حساب ورکونې ته د ودې ورکولو په منظور د ټينګ کنټرول غوښتنه کړې ده. د لازياتو معلوماتو لپاره د 2 برخې 20 مخ وګورئ.

ترڅو د دفاع وزارت ته خپلې لارښونې زياتې کړي ترڅو د ايتلاف له ملاتړ څخه پرته د ANA د معاشونو بهير د ساتلو جوګه شي. د دې پلټنې په يوه برخه کې، DoD OIG وړانديز کوي چې CSTC-A داسې کړنلارې پلې کړي چې په نتيجه کې يې د مصالحې او ويشلو د بهير دقت ډاډمنه کړای شي.[122]

## د ANA تجهيزات او ټرانسپورټيشن

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ايالاتو د افغان پوځ د تجهيزاتو او ټرانسپورټيشن لپاره د ASFF له بسپنو څخه $9.9 ميليارده ډالر مقيد کړي وو چې $9.8 ميليارده ډالر يې مصرف شو.[123] ددې بسپنو زياته برخه د وسلو، اړوندو تجهيزاتو، نقليه وسايط، مخابراتي وسيلو، الوتکې او هوانوردۍ پورې اړوندو وسيلو په اخيستلو لګول شوي دي.[124] لکه څنګه چې په 3.5 جدول کې راغلي پدې برخه کې د متحده ايالاتو د مرستو ډيره برخه د نقليه وسيلو او ټرانسپورټيشن پورې اړوندو وسايلو لګول شوي دي.

3.5 جدول

| د متحده ايالاتو په مرسته د ANA د تجهيزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **اخيستل شوي** | **پاتې شوي ترڅو واخيستل شي** |
| وسلې | $726,724,135 | $858,920 |
| نقليه وسيلې | $5,547,186,248 | $4,436,000 |
| مخابراتي تجهيزات | $580,511,688 | $0 |
| **ټول ټال** | $6,854,422,071 | **$5,294,920** |

سرچينه: د سيګار 1/2/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

د CSTC-A په وينا، دا ربع د افغان هوايي ځواک په اجناسو کې 109 الوتکې شاملې وې:[125]

- 48 Mi-17s (ټرانسپورټي چورلکې)
- 11 Mi-35s (بريدکونکي چورلکې)
- 16 C-27As (بار وړونکي الوتکې)
- 22 C-208s (د سپک ټرانسپورټ الوتکې)
- 6 C-182s (څلور کسيزه ټرينران)
- 6 MD-530Fs (سپکې چورلکې)




**د افغان هوايي ځواک** يو زده کوونکی پيلوټ وروسته له هغه چې د MD-530 ډوله چورلکې لومړی الوتنه يې پای ته رسولې ده ترې ښکته کيږي. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواک تصوير)

DoD په 2013 مالي کال کې د خپلې بوديجې په وړانديز کې يوازې $241.5 ميليونه ډالر يې د ASFF له لارې د افغان ملي پوځ د تجهيزاتو او ټرانسپورټيشن لپاره تخصيص کړي دي — 83% د هغې شميرې نه لږه ده چې په 2012 مالي کال کې د دې موخې لپاره ورکړ شوې وه. په تخصيص کې کموالی دا ښيي چې افغان ملي پوځ خپل بشپړ ځواک ته له رسيدو سره اضافي تجهيزاتو ته يې اړتيا کميږي. په وړانديز کې هغه رقم ندی شامل چې د وسلو او نقليه وسيلو لپاره ورکول کيږي؛ دا وړانديز شوې بوديجه له افغان هوايي ځواک څخه د ملاتړ لپاره ($169.8 ميليونه ډالر)، د مخابراتي او استخباراتي وسيلو تيارول ($1.7 ميليونه ډالر)، او د هوا له لارې باروړلو عملياتو نو څخه د ملاتړ لپاره ($70 ميليونه ډالر) ورکول کيږي.[126]

## د ANA زير بنا

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ايالاتو د ASFF له بسپنو څخه $6.2 ميليارده ډالر د افغان پوځ د زيربناو لپاره مقيد کړي ؤ چې $3.7 ميليارده ډالر يې مصرف شول.[127]



**د ANA او ایساف چارواکي** د افغان پوځ د ملي اکاډمۍ یوې پرتمینې غونډې ته حاضر شول. (د NTM-A تصویر)

د CSTC-A په ویناد 2012 کال د دسمبر تر31 پورې، متحده ایالاتو 207 زیربنایي پروژې پای ته رسولي (د $2.57 میلیارده ډالرو په ارزښت)، 107 نورې پروژې ترکار لاندې دي (د $2.57 میلیارده ډالرو په ارزښت) او 58 پروژې په پلان کې نیول شوي دي (د $1.09 میلیارده ډالروپه ارزښت).[128]

پدې ربع کې، د افغان ملي پوځ لوېې زیربنایي پروژې پدې ډول وې: په کنړ ولایت کې د 201 قطعې لپاره د غونډ یوه قشله(د $115.8 میلیونه ډالرو په ارزښت)، په کابل کې د دفاع وزارت د مرکزونو اوله مرحله (د $89.5 میلیونه ډالرو په ارزښت)، او په کندهار کې د 205 قطعې لپاره د غونډ یوه قشله (د $89.1 میلیونه ډالرو په ارزښت).[129]

لکه څنګه چې د 2012 کال په اپریل کې د سیګار په درې میاشتنۍ رپوټ کې یادونه شوې ده، په 2013 مالي کال کې د DoD لخوا وړاندیز شوې بودیجه د 2012 مالي کال په پرتله 85% لږه وه. د 2013 مالي کال وړاندیز شوې بودیجه د رغونیزو پروژو لپاره نده، بلکه د دې لپاره ده چې پوځي قشلې او د څواک ساتلو سیستمونه لوړ او نوې کړي، او د ایتلاف تسهیلات دې ته چمتو کړي چې د متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو نه وروسته ANSF ته د سپارلو جوګه شي.[130]

## د ANA او MoD ټرینګ او عملیاتونه

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان پوځ او دفاع وزارت د عملیاتونو او ټرینګ لپاره $2.5 میلیارده ډالر مقید کړی ؤ چې ددې له جملې څخه $2.5 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[131] پدې ربع کې، د CSTC-A په وینا، د افغان ملي پوځ 69,776 تنه پرسونل په بیلابیلو ټرینګونو کې ګومارل شوي ول — چې له دې شمیرې څخه 54,881 کسانو د سواد زده کولو په ټرینګ کې بوخت و. برسیره پردې، 6,946 تنه خدمتي پرسونل د جنګیالیو اساسي کورسونو کې معرفي شول، 2,360 تنه کسان د افسرۍ ټرینګ ته معرفي شول، او 1,751 کسانو د بریدمنۍ ټرینګ ته معرفي شول. په نورو ټرینګونو کې د جګړې ځانګړي کورسونه لکه د پیاده نظام ټرینګ؛ د جګړې ملاتړې کورسونه لکه انجینري، نښې، او لوجیستیک؛ او د هغو نقلیه وسیلو د ګرځوني کورسونه شامل دي چې ګړندۍ حرکت لري او د بیلابیلو موخو لپاره جوړ شوي دي.[132]

د CSTC-A په وینا، متحده ایالاتو د ANA د ټرینګ لپاره د بیلابیلو قراردادونو بودیجه ورکوي. CSTC-A اټکل کړې ده چې د ټرینګ دا فعالیتونه هرکال نږدې $560 میلیونه ډالرو ته اړتیا لري (یا $140 میلیونه ډالر په هر درې میاشت کې) البته پدې کې د پرسونل، خواړه، سون مواد، تسهیلات، او د طبي مرستو لګښتونه شامل دي.[133]

## د افغان ملي پوځ د سواد زده کړه

د ANA د سوادزده کړې پروګرام د 312 درسي ساعت درلودونکی کریکولم په اساس چمتو شوی. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې یو شاګرد له بشپړې بې سوادۍ څخه وظیفوي سواد درلودلو پورې مزل ووهي، باید اووه ازموینې تیرې کړي. د شاګرد کړنه ښیي چې ایا راتلونکي پړاو ته پرمختګ کولی شي که نه. د 2012 کال د دسمبر تر 1 پورې، پدې ازموینو کې د افغان ملي پولیسو د بریالیتوب کچه په لاندې ډول وه: 95% د 1 کچې سواد لپاره، 97% د 2 کچې سواد لپاره، او 97% د 3 کچې سواد لپاره.[134] لکه څنګه چې د سیګار په تیرو درې میاشتنیو رپوټونو کې ویل شوې ده، د 1 سویې په سواد کې زده کوونکی کولی شي یوازې لغتونه ولولي یا ولیکي، تر 1,000 پورې وشمیري او ټولې شمیرې سره جمع او منفي کړي. په 2 کچې کې یو زده کوونکی کولی شي جملې ولولي یا ولیکي، اساسي ضر ب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 کچه کې یو کس کولی شي وظیفوي

سواد زده کړي او د "لیکل شوي یاچاپ شوي موادو پیژندنه، پوهه، تعبیر، جوړول، اړیکه نیول، شمیرل او کارونه ترسره کړي." NTM-A/CSTC-A وایي چې د 3 کچې زده کوونکی د لوستلو لپاره د زده کړې نه د زده کړې لپاره لوستلو خوا ته ځي.[135] د 2009 کال له اکتوبر څخه راهیسې چې د ANA لپاره د سواد زده کولو پروګرام پیل شوې ده د 2012 کال تر نومبر پورې، 22,794 د ANA تنه کسانو له 3 سویې څخه فارغان شوي دي.[136]

د 2010 کال څخه راپدیخوا متحده ایالاتو د ANSF لپاره د سواد زده کولو درې قراردادونه لاسلیک کړي دي. هره پروژه یو قاعده وي کال او پنځه کلن حد لري — دیو کلن انتخاب په توګه چې دهرکال په اګست میاشت کې تمرین ترسره کیږي — او اعظمي لګښت یې 200$ میلیونه ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، لاندې قرارداد کوونکي 1,391 ټرینران د ANA لپاره چمتو کوي:[137]

- OT ټریننګ سولوشن (یو امریکایي شرکت) 517 ټرینران چمتو کوي.
- انسایټ ګروپ (یو افغاني شرکت) 318 ټرینران برابروي.
- دکاروان د لوړو زده کړو انستیتیوټ (یو افغاني شرکت) 556 ټرینران برابروي.

CSTC-A ویلي چې د ANP پرسونل د سوادزده کولو ټریننګ مسولیت به د 2013 کال د جولای له 1 نه د 2014 کال د جنوري تر 31 پورې ANA ته سپارل کیږي. د ANA د ټریننګ مرکزونو کې د سواد زده کولو ټریننګ به د 2014 کال په دسمبر کې سپارل کیږي. په همدې وخت کې، یو نوی قرارداد د همغږې کیدو په صورت کې ده ترڅو د لیږد څخه وړاندې د سواد زده کړې افغان ټرینرانو ته روزنه ورکړي.[138]

## ښځې په افغان ملي پوځ کې

د CSTC-A په وینا، د 2012 کال د نومبر تر 20 پورې، 380 ښځې — 268 افسرانې، 105 بریدمن، او اووه سپاهیانې — د افغان پوځ په پرسونل کې شاملې وې. دا د تیرې ربعې له شمیرو سره مساوي دي. CSTC-A اشاره وکړه چې پدې شمیر کې د افغان هوایي ځواک 34 پرسونل شامل دي. روانه موخه داده چې دښځو شمیر د افغان پوځ او هوایي ځواک په 195,000 پیاوړو سرتیرو کې 10% ته ورسیږي.[139]

د CSTC-A په وینا، د افغان پوځ په لیکو کې د ښځو ګومارل لاتراوسه هم ټیټ لومړیتوب لري. افغان ملي پوځ د ښځو د غوښتنو کتلو، ازمویلو، او پروسس کولو لپاره یو مرکزي او جوړ شوی بهیر نلري. په هر صورت، افغان ملي پوځ په ځینو برخو کې لکه استخبارات او قانون، ښځو ته خپله اړتیامني، او د داسې پوستونو د ډکولو لپاره د ښځو له استخدام څخه ملاتړکوي.[140]

NTM-A د افغان پوځ په لیکو کې د ښځو دګومارنې او انسجام څخه د ملاتړ لپاره دوه لومړیتوبه لري: د دفاع وزارت په چوکاټ کې د بشري حقونو، او قومي توازن درلودونکی، او د جندر انسجام درلودونکی دفتر تاسیس کول، او په استخباراتي څانګه کې د ښځو له استخدام څخه د ملاتړ لپاره یو پروګرام جوړول.[141]

د دې رپوټ د یوې بررسۍ مسودې ته په ځواب کې، DoD ویلي چې د ګڼو عواملو له امله د ښځو استخدام او ګومارنه لاهم ستونزمنه ده. په هر صورت، DoD وایي چې "د ښځینه و کارکونکو د ظرفیت زیاتولو لپاره ټریننګ په پام کې نیول شوي دي." د بیلګې په توګه، په پام کې نیول شوې وه چې په 2012 کال کې د کاندید افسرانو د مکتب لپاره د 60 ښځو په ظرفیت دوه صنفونه جوړ کړای شي؛ په هر صورت، د 2012 کال تر سپتمبر پورې یوازې یو صنف یې — 11 کسان — فارغ ورکړې ده.[142]

## افغان ملي پوليس

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجې څخه $14.6 میلیارده ډالر د افغان پولیسو د جوړولو، ټریننګ، او پایښت لپاره مقید کړی و چې له دې څخه $12.9 میلیارده ډالر یې مصرف شوی دی.[143]

### د افغان ملي پولیسو قوت

د CSTC-A په وینا، د 2012 کال د نومبر تر 20 پورې، د افغان ملي پولیسو مجموعي شمیر 151,080 و — 106,235 تنه افغان یونیفارم پولیس، 21,928 تنه افغان سرحدي پولیس، 14,383 تنه د افغان عامه نظم پولیس، 2,581 تنه د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیس، او 5,953 تنه زده کوونکي د ټریننګ په حال کې دي. لکه څنګه چې په 3.6 جدول کې راغلي دا رقم د تیرې ربعې په پرتله 2,160 زیات دی. د دې پرسونل له جملې نه، 24,567 تنه افسران، 43,660 تنه بریدمنان، 74,319 تنه ګزمه کوونکي کسان، او 5,953 تنه یې د ټریننګ شاګردان دي. CSTC-A اشاره کړې ده چې د افغان ملي پولیسو په مجموعي شمیر کې CNPA شامل شوي دي.[144]

3.6 جدول

**د ANP ځواک، درې میاشتنی بدلون**

| | واک لرونکی | | | ګومارل شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ANP برخه | Q3 2012 | Q4 2012 | درې میاشتنی بدلون | Q3 2012 | Q4 2012 | درې میاشتنی بدلون |
| AUP | 110,279 | 110,279 | هیڅ یو | 106,538 | 106,235 | -303 |
| ABP | 23,090 | 23,090 | هیڅ یو | 22,243 | 21,928 | -315 |
| ANCOP | 14,541 | 14,541 | هیڅ یو | 14,585 | 14,383 | -202 |
| NISTA [a] | | | هیڅ یو | 2,437 | 5,953 | +3,516 |
| نور [b] | | | هیڅ یو | 536 | | |
| **د ANPټول ټال شمیره** | **[c] 156,910** | **[c] 157,000** | **+90** | **146,339** | **148,499** | **+2,160** |
| CNPA | 2,986 | NR | | 2,622 | 2,581 | -41 |
| **د ANP + CNPA ټول ټال شمیره** | | | | **148,961** | **151,080** | **+2,119** |

یادونې: د Q3 معلومات د 8/21/2012 نیټې پورې دي. د Q4 معلومات د 11/20/2012 نیټې پورې دي؛ NR= رپوټ ندی ورکړ شوی
[a] هغه پرسونل چې په ټرینګ کې دي
[b] فارغ شوي افسران چې د ګومارنې انتظار کوي
[c] د افغان ملي پولیسو رسمي مجموعي شمیر د AUP، ABP، او ANCOP له مجموعي شمیر څخه زیات دي. دا څرګنده نه وه چې نورې برخې هم د ANP په مجموعي رقم کې شمیرل شوي وي.

سرچینه: د سیګار 10/1/2012، 1/2/2012، او 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځوابونه.

### د افغان ملي پولیسو پایښت

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحدو ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $4.8 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو د پایښت لپاره مقید کړي ؤ چې له دې څخه $4.6 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[145]

سیګار پدې ربع کې د افغان ملي پولیسو د نقلیه وسیلو د ساتنې څخه په یوه پلټنه کې معلومه کړه که چیرې متحده ایالات د هغو نقلیه وسیلو د شمیر د ټاکنې طریقه بدله کړي چې په کار اخیستل کیږي، کولی شي په لګښت کې میلیونونه ډالر سپما راولي.

د پایښت بودیجې د یوې برخې په توګه، متحده ایالاتو افغان ملي پولیسو ته د $288 میلیونه ډالرو په ارزښت مهمات برابر کړي دي.[146]

**د سیګار پلټنه**

سیګار د ANP د نقلیه وسیلو د ساتنې په برخه کې په خپله پلټنه کې ومونده چې متحده ایالاتو په 17 میاشتو کې د ویجاړ شوو نقلیه وسیلو د ساتلو لپاره $6.8 میلیونه ډالر مصرف کړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 18 مخ. وګورئ.

### د افغان ملي پولیسو معاشونه

د CSTC-A د رپوټ په اساس، د 2008 کال څخه د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، د متحده ایالاتو حکومت د ASFF له لارې $818 میلیونه ډالر د افغان ملي پولیسو د معاشونو

او جوایزو لپاره برابر کړي ؤ (جوایز هغه اضافي معاشونه دي چې په جګړو او یا کومه ځانګړې برخه کې د ګډون کونکو سرتیرو لپاره ورکول کیږي). په هر صورت، په دغه شمیره کې د غیر ASFF بودیجې شاملې ندي. د 2002 کال څخه دیخوا، متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو څخه د ملاتړ لپاره د افغانستان لپاره د قانون او نظم خیریه بودیجې (LOTFA) له لارې نږدې $1.01 میلیارده ډالر مرسته کړې ده. LOTFA یو ملتي نیشنل خیریه بودیجه ده چې د ملګروملتونو د پراختیایي پروګرام لخوا اداره کیږي، او د پولیسو څخه د ملاتړ لپاره افغان حکومت لپاره بسپنې چمتو کوي. متحده ایالاتو د LOTFA د مرستو څخه پرته $51.5 میلیونه ډالر د افغان محلي پولیسو د معاشونو او جایزو لپاره چمتو کړې ده.[147]

د CSTC-A په وینا، کله چې افغان پولیسو خپل 157,000 کسیز قوت ته ورسیږي، نو هرکال به نږدې $628.1 میلیونه ډالرو ته د معاشونو ($265.7 میلیونه ډالر)، جایزو ($224.2 میلیونه ډالر)، او خوارو ($138.2 میلیونه ډالر) لپاره اړتیا ولري.[148] د لګښتونو دا اټکل د تیر ربعې په پرتله چې $726.9 میلیونه ډالر و، کم دی. CSTC-A ویلي چې دا کموالی په موقتي ډول د ورکړې زیاتوالی له امله چې د معاشونو څخه جوایزو ته انتقال شوي دي، د محلي پولیسو د لګښت ویستلو له امله چې بیله یادونه یې شوې ده، او د ډالرو په تبادله کې د بدلون راتلو له امله رامینځته شوې ده.[149]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات او ټرانسپورټیشن

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحدو ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $3.5 میلیارده ډالر د افغان پولیسو د تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره مقید کړي ؤ چې $3.4 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[150] د دې بودیجې ډیری برخې د وسلو او اړوندو وسایلو، نقلیه وسایط، مخابراتي وسایلو او مهماتو په اخستلو کې مصرف شول.[151] لکه څنګه چې په 3.7 جدول کې ښودل شوي ده پدې برخه کې د متحده ایالاتو ډیرې مرستې د نقلیه وسیلو او د ټرانسپورټیشن اړوند تجهیزاتو لپاره ورکړ شوي دي.

3.7 جدول

| د متحده ایالاتو په مرسته د ANP د تجهیزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **تراوسه لا ندي اخیستل شوي** |
| وسلې | $366,079,788 | $14,288,272 |
| نقلیه وسیلې | $2,687,549,123 | $19,386,607 |
| د مخابراتو تجهیزات | $201,958,600 | $42,500 |
| **ټول ټال** | **$3,255,587,511** | **$33,717,379** |

سرچینه: د سیګار 1/2/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د CSTC-A په وینا د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $3.5 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو د زیربنا لپاره مقید کړي ؤ چې $2.1 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[152] د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو د زیربنا 478 پروژې (د $1.45 میلیارده ډالرو په ارزښت) بشپړې کړې، او د 247 پروژو کار (د $1.38 میلیارده ډالرو په ارزښت) روان دی، او 38 نورې پروژې (د $403 میلیونه ډالرو په ارزښت) په پلان کې نیول شوي دي.[153]

پدې ربع کې، د افغان ملي پولیسو تر کار لاندې تر ټولو نه لویې پروژې په کندهار کې د پولیسو د ټریننګ سیمه ییز مرکز (د $62.3 میلیونه ډالرو په لګښت) او همدارنګه په هرات کې (د $62.2 میلیونه ډالرو په لګښت)، او د داخلې وزارت په سترو قوماندانیو

## د سیګار تفتیشات

په کندز کې د افغان ملي پولیسو له دوو تسهیلاتو څخه د تفتیش په ترڅ کې سیګار معلومه کړه چې د متحده ایالاتو په بودیجه د افغان سرحدي پولیسو مرکز تر ډېره بریده نه کارول کیږي او د افغان ملي پولیسو د ولایتي مرکز او اوردمهاله کارونې او پایښت په اړه یې اندیښنې ښکاره کړي دي. د لازیاتو معلوماتو لپاره د 2 برخې 29–28 مخونه وګورئ.

کې اداري تسهیلات (د $59.5 میلیونه ډالرو په لګښت) و.[154] د رپوټ ورکولو پدې موده کې، سیګار یو تفتیشي رپوټ خپور کړ چې په کندز کې د متحده ایالاتو په بسپنه د افغان سرحدي پولیسو د مرکز په هکله یې اندیښنې ښکاره کړې وې. سیګار ومونده چې د $7.3 میلیونه ډالرو په ارزښت پروژه تر ډېره حده نه کارول کیږي. په کندز کې د $17.7 میلیونه ډالرو په ارزښت د افغان ملي پولیسو د ولایتي مرکزونو په هکله د سیګار یو بل تفتیشي رپوټ د تسهیلاتو د اوږدمهاله کارونه او پایښت په اړه اندیښنه ښودلې ده.

په 2013 مالي کال کې د افغان ملي پولیسو د زیربنا لپاره چې کومه بودیجه د DoD لخوا وړاندیز شوې ده د 2012 مالي کال له رسمي بودیجې څخه 85% لړه ده. د مالي کال وړاندیز د رغونیزو پروژو لپاره نه بلکه د قشلو، د خواړ محافظت سیستمونو د لوړولو، او هم د دې لپاره ورکول شوې ده چې د متحده ایالاتو د ځواکونو له ویستلو نه وروسته د ایتلاف تاسیسات ANSF ته د تسلیمولو جوګه کړای شي.[155]

### د افغان ملي پولیسو ټرېننګ او عملیاتونه

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحدو ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $2.8 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو او دداخلې وزارت د ټرېننګ او عملیاتونو لپاره مقید کړی ؤ چې له دې څخه $2.8 میلیارده ډالر یې مصرف شوی.[156]

### د افغان ملي پولیسو سواد زده کول

د ANP د سواد زده کولو پروګرام لکه د ANA، 312 درسي ساعت لرونکی کوریکولم لري. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې یو کس له بشپړ بې سوادۍ څخه ظیفوي سواد زده کړي اړینه ده چې اووه ازمویني سرته ورسوي. د زده کوونکي کړنه دا روښانه کوي چې ایا راتلونکي پړاو ته د تلو وړتیا لري که نه. د 2012 کال د دسمبر تر 1 پورې، د ANP د بریالیتوب کچې پدې ډول وې: 90% د سوادزده کولو د 1 کچې لپاره، 90% د 2 کچې لپاره، او 86% د 3 کچې لپاره. لکه څنګه چې د سیګار په تیرو درې میاشتنیو رپوټونو کې ویل شوې ده، د 1 کچې زده کوونکي کولی شي یوازې لغاتونه ولیکي او ولولي، تر 1,000 پورې وشمیري او ټولي شمیرې سره جمع او منفي کړي. په 2 کچه کې یو کس کولی شي جملې ولولي او ولیکي، اساسي ضرب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 کچه کې یو کس وظیفوي سواد زده کوي چې په مرسته یې "لیکلي او چاپ شوي مواد په نښه کوي، پوهیږي، تعبیر او جوړوي، شمیري او کارولی شي." د 2009 کال له اکتوبر څخه راهیسې چې د ANP لپاره د سواد زده کولو پروګرام پیل شوی ده، د ANP، 23,743 تنه کسانو له 3 کچې څخه فارغان شوي دي.[157]

د 2010 کال څخه راپدیخوا متحده ایالاتو د ANSF لپاره د سواد زده کولو درې قراردادونه لاسلیک کړي دي. هره پروژه یو قاعده وي کال او پنځه کلن حد لري — دیو کلن انتخاب په توګه چې دهرکال په اګست میاشت کې تمرین ترسره کیږي — او اعظمي لګښت یې $200 میلیونه ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، لاندې قرارداد کوونکي 1,776 ټرېنران د ANP لپاره چمتو کوي:[158]

- OT ټرېننګ سولوشن (یو امریکایي شرکت) 468 ټرېنران چمتو کوي.
- انسایټ ګروپ (یو افغاني شرکت) 401 ټرېنران برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیټیوټ (یو افغاني شرکت) 907 ټرېنران برابروي.

CSTC-A ویلي چې د ANP پرسونل د سواد زده کولو ټرېننګ مسولیت به د 2013 کال د جولای له 1 نه د 2014 کال د جنوري تر 31 پورې ANP ته سپارل کیږي. د ANP د ټرېننګ مرکزونو کې د سواده زده کولو ټرېننګ به د 2014 کال په دسمبر کې سپارل کیږي.[159]

## ښځې د افغان ملي پوليسو په ليکه کې

د CSTC-A په وينا د 2012 کال د نومبر تر 20 پورې 1,457 ښځې د افغان ملي پوليسو په پرسونل کې — 221 افسرانې، 590 کسه NCOs، او 646 کسه لښت شوي کارګرانې — شاملې وې. ټاکل شوې ده چې د 2014 کال تر مارچ پورې 5,000 ښځې د افغان ملي پوليسو په ليکو کې وګومارل شي. د CSTC-A په وينا، د داخلې وزير پتنګ د جندر مساله د خپل لسو لومړيتوبونو په لست کې نيولې ده. د ده مرستيال وزير اعلان کړيده چې د جندر په اړه به داسې يو کنفرانس جوړ کړي چې په هغې کې به د نورو اسلامي هيوادونو څخه مسلکي پوليسانې د افغان ملي پوليسو په ليکه کې د ښځو د استخدام په هکله خبرې وکړي. د NTM-A/CSTC-A په چوکاټ کې د متحده ايالاتو يو سلاکار د جندر په اړوندو مسايلو کې د داخلې وزارت سره کار کوي او مشورې ورکوي.[160]

## د ANSF طبې/روغتيايي پاملرنه

د دې ربعې په پای کې، د ANSF په روغتيايي سيستم کې له 1,032 ډاکترانو څخه چې اړتيايې ورته درلوده 746 ډاکټر — له تيرې ربعې څخه 139 کسان کم دي — شامل و. له دې شمير څخه 544 کسان افغان ملي پوځ او 202 کسان افغان ملي پوليسو لپاره ګومارل شوي و. برسيره پردې، د افغان ملي امنيتي ځواکونو په طبي پرسونل کې له 10,825 کسانو څخه چې اړتيايې درلوده 7,552 کسان — د تيرې ربعې څخه 975 کسان کم دي — شامل و.[161]

## افغان محلي پوليس

پدې ربعه کې د روزل شوو او مجهزو افغان سيمه ييزو پوليسو — چې ورته "ساتونکي" ويل کيږي — شمير 18,435 کسان و.[162] په افغانستان کې د ځانګړو عملياتونو ګډ وظيفوي ځواک (SOJTF-A) په وينا د 2012 کال د دسمبر په 9 نيټه کې د داخلې وزارت د محلي پوليسو موخه له 30,000 کسانو څخه 45,000 کسانو ته زياته کړه. SOJTF-A ويلي چې ايتلافي ځواکونو د خپل عمومي امنيتي پلان د يوې برخې په توګه له دې زياتوالي څخه ملاتړ کوي.[163] د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې په وينا، افغان محلي پوليسو په 92 سيمو کې عملياتونه کوي. متحده ايالاتو د محلي پوليسو څخه د ملاتړ لپاره 108.6$ ميليونه ډالر مقيد کړي دي. له دې شميرې څخه، 40.6$ ميليونه ډالر پې مستقيما د افغان ماليې وزارت ته سپارل شوي، او پاتې 68$ ميليونه ډالر يې هغه اجناس دي چې د محلي پوليسو څخه د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو د ځواکونو لخوا ورکول شوي دي.[164]

## افغان عامه محافظت ځواکونه

سيګار د افغان عامه محافظت ځواکونو په اړه د جوړښت له پيل څخه يې تر دې دمه پورې چې د افغانستان دولتي امنيتي ځواک په توګه دنده لري، په کلکه څارنه کړې ده. په 2010 کال کې د ملي او نړيوالو خصوصي امنيتي شرکتونو د منحل کيدو په اړه د ولسمشر کرزي له فرمان څخه وروسته، افغان حکومت د ليږد بهير ترسره کولو لپاره د پلبندۍ ستراتيژي پلي کړه.
د دې ربعې ترپايه پورې، 36 خصوصي امنيتي شرکتونه په افغانستان کې کار کوي چې په راتلونکي کې منحل کيږي؛ 12 خصوصي امنيتي شرکتونو به د ليږد نه وروسته د ډيپلوماتيک امنيت چمتو کولو لپاره پاتې شي. APPF تر دې دمه پورې د خپلو خدمتونو لپاره 198 قراردادونه لاسليک کړي دي.[165]

د لیږد بهیر د یوې برخې په توګه داسې تمه کیده چې APPF د داخلې وزارت تر سرپرستۍ لاندې د 2012 کال تر مارچ پورې د ټولو پراختیایي او بشري پروژو بشپړ امنیت په غاړه واخلي. په هر صورت، لکه څنګه چې د 2012 کال په اکتوبر کې د سیګار په درې میاشتنۍ رپوټ کې یادونه وشوه تراوسه څرګنده نده چې APPF خپل دې موخې ته رسیدلی وي. IJC ویلي ده چې APPF تراوسه پورې د ټولو مرکزونو امنیت چمتو کوي خو د قطار امنیت نه نیسي. داسې مهال ویش ټاکل شوې ده چې APPF د 2013 کال تر مارچ پورې د پوځي تاسیساتو امنیت په غاړه واخلي.

APPF په بیړه وده کوي او په خپلو لیکو کې د پخوانیو خصوصي امنیتي شرکتونو سرتیرو ته ځای ورکوي. په تیره ربعه کې د APPF پرسونل د مخکینۍ ربعې په پرتله نږدې دوه چنده شوه. د CSTC-A په وینا، د 2012 کال د دسمبر له 26 نیټې څخه د هغو کسانو شمیر چې د APPF په لیکو کې ګومارل شوي دي 14,141 — د تیرې ربعې څخه 25% زیات — کسانو ته ورسیدل. له دې کسانو څخه،826 تنه يې افسران، 1,539 تنه يې NCOs، او 11,776 تنه يې ساتونکي دي.[166] د 2012 کال د جون له 4 نیټې څخه دیخوا د APPF موخه دا وه چې د 2013 کال تر مارچ پورې يې شمیر 30,000 تنه ساتونکو ته ورسول شي.[167]

## د متحده ایالاتو ځواکونه

د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې په وینا، د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د متحده ایالاتو 70,900 سرتیري په افغانستان کې په خدمت بوخت و. له دغه شمیر څخه نږدې 52,000 کسان يې د ایساف په چوکاټ کې او 2,000 کسان يې له NTM-A/CSTC-A سره ګومارل شوي دي. د پاتو سرتیرو څخه، 7,400 کسان د متحده ایالاتو ځواکونه — افغانستان او 9,500 کسان يې د "نور پوځي پرسونل" په توګه ګومارل شوي دي.[168]

## د ناچاودیدلو مهماتو لرې کول

د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او پوځي چارو د وسلو لرې کولو او لړولو دفتر (PM/WRA) په وینا دغه وزارت د 2002 کال څخه تر 2012 کاله پورې په افغانستان کې د وسلو ویجاړولو او ماین پاکولو لپاره 253.2$ میلیونه ډالره مرسته چمتو کړې ده. د بهرنیو چارو وزارت د وسلو ویجاړولو معمولي پروګرام له لارې پنځو غیردولتي افغاني موسسو، پنځو نړیوالو موسسو، د ملګرو ملتونو ماین اکشن سرویس، او د متحده ایالاتو دولت یو قرارداد کونکي ته بودیجه ورکوي. دا بودیجې مرسته کوي ترڅو هغې سیمې له ماین څخه پاکې کړي چې د جګړو په ترڅ کې ککړې شوې دي، کومې بیکارې وسلې چې جنګیالیو ورڅخه چاودیدونکي توکي جوړوي ویجاړې او خرابې کړي ، او د افغان حکومت د ماین پاکولو ریاست ته مشورې او لارښونې برابر کړي.[169]

PM/WRA په افغانستان کې د ماین اکشن کوارډینیشن سنټر (MACCA) معلومات کاروي تر څو د پروګرام موثریت وسنجوي او پروړاندې يې ننګونې معلومې کړي. په تیرو ربعو کې، MACCA يوازې ماین لرونکي سیمې په افغانستان کې د ککړو سیمو په لست کې شمیرلې و. پدې ربع کې، MACCA د خپل رپوټ بڼه بیا وکتله — او د ماین لرونکي سیمو په شمول — هغې سیمې يې هم په ککړو سیمو کې شاملې کړې چې نورې وسلې او مهمات پکې وي. څکه نو، د ککړو سیمو ساحه د تیرې ربعې په پرتله 24,700,000 متر مربع زیاته شوه.[170] د دې بدلون سربیره چې د یوکلن رپوټ په دوره کې رامینځته شوې، د ککړو سیمو مجموعي اندازه بیاهم لږه شوې ده، لکه چې په 3.8 جدول کې ښودل کیږي.

3.8 جدول

**د وسلو ویجاړولو د معمولي پروګرام محاسبې، د 2011 کال د اکتوبر 1 — د 2012 کال د سپتمبر 30**

| د نیټې لړۍ | AT/AP ویجاړ شول | UXO ویجاړ شول | SAA ویجاړ شول | ټوټې پاکې شول | د ماین ځخه پاکې شوي سیمې (په مترمربع) | د پاتې شوي ککړې سیمې اټکل (په مترمربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 12/31/2011–10/1 | 2,616 | 88,998 | 449,589 | 13,376,738 | 13,097,574 | 588,000,000 |
| 3/31/2012–1/1 | 2,113 | 62,043 | 467,071 | 3,364,885 | 14,604,361 | 585,000,000 |
| 6/30/2012–4/1 | 1,559 | 28,222 | 20,580 | 3,601,378 | 7,251,257 | 563,000,000 |
| 9/30/2012–7/1 | 5,542 | 165,100 | 121,520 | 2,569,701 | 11,830,335 | [1]587,700,000 |
| **ټول ټال** | **11,830** | **344,363** | **1,058,760** | **22,912,702** | **46,783,527** | **587,700,000** |

یادونې: AT/AP = د ټانک ضد/ د پرسونل ضد مهمات UXO = ناچاودیدلي مهمات SAA = د سپکو وسلو مهمات ټوټې د دې لپاره رپوټ ورکول کیږي، چې ترڅو پورې د دوی طبیعت ټاکل شوی نه وي لکه د نورو مهماتو غونډې پاملرنې ته اړتیا لري.

[1] په شمیرو کې زیاتوالی ځکه راغلی چې MACCA د خپل رپوټ په فارمټ کې هغې سیمې هم شاملوي چې د ماین سربیره وسلې او نور مهمات پکې وي.

سرچینه: د سیګار 12/31/2012 او 1/2/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DoS, PM/WRA ځواب.

## د مخدره توکو ضد

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې متحده ایالاتو د 2002 کال له پیل څخه چې د مخدره توکو په وړاندې مبارزه پیله شوې $6.1 میلیارده ډالر مرسته کړې ده. د دې مرستو ډیره برخه د دوو سرچینو له لارې تخصیص شوې دی: د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کولو (INCLE) بانکي حساب ($3.6 میلیارده ډالر)، او د دفاع وزارت د مخدره توکو څخه د مخنیوي او د مخدره توکو په ضد د فعالیتونو (DoD CN) بودیجه ($2.4 میلیارده ډالر).[171]

د INL په وینا، د DoD او State د نړیوالو مخدره توکو او د قانون پلي کولو چارو اداري د افغان داخلې وزارت او د مخدره توکو په ضد افغان پولیسو (CNPA) سره خپلې مرستې په همغږۍ ترسره کوي. د بیلګې په توګه په ځینو ولایتونو کې، DoD د هغو عملیاتي مرکزونو د جوړولو بودیجه ورکړې ده چې د CNPA د ملي مخنیوی واحد لخوا کارول کیږي؛ او INL د دې مرکزونو د ساتنې بودیجه ورکوي.[172]

## د کوکنارو له مینځه وړل

INL د افغان دولت ترمشرۍ لاندې د کوکنارو له مینځه وړلو (GLE) پروګرام ته بودیجه ورکوي. INL ویلي چې د پروګرام له لارې په 2012 کال کې 9,672 هکتاره ځمکې له کوکنارو څخه پاکې شوې دي. متحده ایالاتو د دې پروګرام له لارې د افغان حکومت له بنیادونو سره $6.4 میلیونه ډالر مرسته کړې ده.[173]

د دې رپوټ د بررسۍ یوې مسودې په ځواب کې له DoD نه پوښتنه وشوه چې آیا "یوازې GLE یا / د [ژوند بدیل] سره یو ځای د ایتلافي ځواکونو پردې موخې باندې چې یاغیانو ته د مرستو له رسیدلو څخه مخنیوی وکړي، مثبته اغیزه کوي ده که منفي." DoD په ځواب کې وویل چې GLE کیدای شي ځینې کوکنار کښت کوونکي د افغان حکومت تر ولکې لاندې سیمو څخه وباسي او د یاغیانو تر اغیزې لاندې سیمو ته یې ولیږدوي. DoD همدارنګه وایي چې افغان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) "باور لري که چیرې GLE د ژوند بدیل (AL) ورکولو له کمپاین سره یو ځای پلي شي او بزګرو ته د کوکنارو د کښت په ځای د ژوند ګوزارې لپاره شیان ورکړي، ډیره به اغیزمنه پریوځي."[174]



**CNPA د نهو مياشتو په موده کې د 25 ټنو** په اندازه ترياک او ترياکو پورې تړلي کيمياوي مواد لکه افيون او حشيش چې په کابل کې نيول شوي ول، له مينځه يوړ. (د بهرنيو چارو وزارت تصوير)

INL همدارنګه له MCN سره کار کوي تر څو ولايتونه له کوکنارو څخه پاک کړي او همداسې يې وساتي. د بيلګې په توګه، INL د MCN د شوکړنو نوښت ته بوديجه ورکوي کوم چې له واليانو سره مرسته کوي د جوايزو له لارې په خپلو ولايتونو کې د کوکنارو د کښت کمولو ګټې وګوري. د INL په وينا، د GPI پراختيايي پروژو کې يو ولايت سره هغه وخت 1$ ميليون ډالر مرسته کيږي چې له کوکنارو څخه پاک وي او يا په هماغه کال کې د کوکنارو کرل شوي ځمکو ساحه يې له 100 هکتارو څخه کم وي. متحده ايالاتو د دې پروګرام له لارې ولايتي حکومتونو ته 128.9$ ميليونه ډالر چمتو کړې ده. په 2012 کال کې، 17 ولايتونه د GPI جايزو ته نومول شوي دي، چې د 2011 کال له شمير سره مساوي ده. INL وايي چې په 2007 کال کې د GPI له پيل نه تردې دمه پورې، له 100 نه زياتې پراختيايي پروژې — د ښوونځيو، سړکونو، پلونو، کرهنيزو پروژو، او طبي تسهيلاتو په شمول — په 33 ولايتونو کې يا خو بشپړې شوي دي ياهم تر کارلاندې دي.[175]

په 2012 کال کې، INL د مخدره توکو په ضد د عامه پوهاوي پروګرام بوديجه ورکړه ترڅو د 18 ولايتونو له کوکنارو څخه پاک شوو سيمو، او هم په هغو سيمو کې چې کوکنار ډير کرل کيږي د مخدره توکو له کرهنې، توليد، مصرف څخه مخنيوی او په وړاندې يې مبارزه وکړي. برسيره پردې، INL د آغا خان فونډيشن سره مرسته کوي ترڅو په شپږو کليدي ولايتونو کې د ټولنو او محلي انجيو ګانو سره کار وکړي او د کوکنارو سره تړاو نه درلودونکي کارونو په رامينځته کولو سره د کوکنارو کښت له مينځه يوسي.[176]

## د INL په بوديجه د مخدره توکو په ضد رپوټونه

INL په افغانستان کې د مخدره توکو په اړه د ګڼو رپوټونو او سروې ګانو بوديجه ورکړې ده چې ځلور يې پدې ربع کې خپور شوي دي.

## د UNODC د ترياکو سروې 2012

INL په 2012 کال کې د افغانستان د ترياکو سروې ته بوديجه ورکړه، چې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرايمو په اړه د دفتر (UNODC's) له لخوا ترسره شوه. پدې رپوټ کې، UNODC ومونده چې د کوکنارو تر کښت لاندې ځمکې د 2011 کال په پرتله چې 131,000 هکتاره وې، په 2012 کال کې 154,000 هکتارو ځمکو ته زيات شوي دي. په هر صورت، له هر هکتار نه د ترياکو لاسته راوړلو کچه د 2011 کال په پرتله چې 44.5 کيلوګرام و، په 2012 کال کې 23.7 کيلوګرامو ته راټيټ شوی دی — 47% کموالی موندلې ده.
UNODC د افغانستان د ختيځ، لويديځ او سهيلي سيمو څخه د تر لاسه شوو رپوټونو په اړه وايي چې د پام وړ سيمې د ناروغيو او / يا هوايي ستونزو له کبله اغيزمن شوي دي چې په نتيجه کې يې د کوکنارو حاصل کم شوي ده. برسېره پردې، د کوکنارو څخه پاک شوو ځمکو ساحه چې د GLE پروګرام لخوا پاک شوي دي د 2011 کال په پرتله چې 3,810 هکتاره و په2012 کال کې درې چندو ته يعنې 9,672 هکتارو ځمکو ته رسيدلې دي.[177]
UNODC اټکل کړې ده چې د کوکنارو بالقوه توليد ښايي له 5,800 ټن څخه 3,700 ټنو ته راښکته شي. د دې ترياکو ارزښت هم (د فارم ګيټ د بيې په اساس) نږدې نيمايي شوي ده — د 2011 کال په پرتله چې $1.4 ميليارده ډالر و په 2012 کال کې $700 ميليونه ډالرو ته ورسيد. نور دا چې، د هر هکتار له کوکنارو څخه د لاسته راتلونکي خالص عايد کچه هم د 2011 کال په پرتله چې $10,700 ډالر و په 2012 کال کې $4,600 ډالرو ته راښکته شو.[178]

**د فارم ګيټ بيه:** د يو محصول هغه بيې ته ويل کيږي چې په فارم کې ورکول کيږي، پدې کې د ټرانسپورټ او انتقال ورکولو لګښت نه شامليږي.

سرچينه: IMF، "د توليد کوونکو د بيو د شاخص لارښود: نظريه او تجربه،" 2004، 598 مخ.

## په افغانستان کې د ښاري اوسيدونکو لخوا د مخدره توکو کارونه

د 2012 کال په دسمبر کې، INL په افغانستان کې د ښاريانو لخوا د مخدره توکو د کاروني په اړه د 2012 کال ملي سروې خپره کړه. دا سروې د دې موخې لپاره په لاره اچول شوې وه "ترڅو د افغانستان په هيواد کې د مخدره توکو د کاروني په اړه يوه عيني ارزونه ترسره کړي، چې بيا د دې سروې په مرسته افغانستان، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، او نړيواله ټولنه مخدره توکو ته د اړتيا کمولو لپاره ستراتيژي چمتو کړي." پدې رپوټ کې د 11 ولايتونو په مرکزونو کې د ښاري کورنيو څخه لاسته راغلي سروې د ويښتانو، لاړو، او متيازو لابراتواري ازموينښتونو سره يوځای شوې ده ترڅو د مخدره توکو د کاروني کچه او پراخوالی معلومه کړي. په هغو ښاري سيمو کې چې څېړل شوي دي، مخدره توکې په لاندې کچه کارول کيدلې:[179]

- 11.4% کورنۍ
- 5.3% ټول ښاري اوسيدونکي
- 7.5% ځوانان (10.6% نارينه؛ 4.3% ښځې)
- 2.3% ماشومان

## د مخدره توکو د درملنې ارزونه

په 2005 کال کې، INL په افغانستان کې د مخدره توکو د معتادينو د درملنې ګڼو مرکزونو سره خپلې مرستې پيلې کړې. په 2009 کال کې، INL د څېړنې له يوه خپلواکه موسسې څخه غوښتنه وکړه څو په افغانستان کې د معتادينو د درملنې بهير وارزوي. د ارزونې له موخو څخه يوه داوه چې د درملنې نه وروسته د ناروغ لخوا د مخدره توکو او الکول کارونه، او جنايي کړنلاره وارزوي. په ارزونه کې د پنځو ولايتونو له ښارونو څخه د مخدره توکو معتادينو د درملنې ګڼ شمير مرکزونو — څلور د نارينه وو مرکزونه او درې د ښځو او ماشومانو مرکزونه — برخې اخيستې وې.[180]

د 2012 کال په اکتوبر کې، د ارزونې په ترڅ کې وموندل شو چې د درملنې لاندې ناروغانو له پروګرام څخه خوښ دي. د بیلګې په توګه، دا څیرنه وښوده چې د درملنې څخه وروسته د هغو ناروغانو کچه چې بیا یې مخدره توکو ته مخه کړې وې 12% ته راټیټه شویده. همدارنګه د اوپیات کارونکو شمیر چې د درمل کارونه یې بیا پیل کړې وه 31% ته، او د الکول کارونکو کچه چې له درملنې وروسته یې بیا پیل کړې وې 76% ته راټیټه شوه.[181]

## په لویدیځ او مرکزي اسیا کې د اوپیاتو قاچاق او سوداګري

INL همدارنګه د UNODC یوه رپوټ ته بودیجه ورکړه چې په هغې کې د لویدځ او مرکزي اسیا د وچو بندرونو ونډه یې په سیمه ییزه سوداګرۍ کې تجزیه کړې وه او د درمل قاچاق وړونکو لخوا یې د دې بندرونو کارونې ته ګوته اېښې وه. د رپوټونو یو شمیر موندنې په مستقیمه توګه د مخدره توکو افغان قاچاق وړونکو سره تړاو درلود. د بیلګې په توګه، UNODC وموندله چې د 2004 او 2010 کلونو په مینځ کې د افغان صادراتو او وارداتو حجم له درې چندو څخه زیات شوی دی؛ په هر صورت، د قانون پلي کولو ظرفیت تراوسه لا دومره وده نده موندلې چې د مخدره توکو د سوداګرۍ په وړاندې مبارزه وکړي. په سیمه کې د 48 وچو بندرونو له جملې څخه، ډیره برخه یې (17) په افغانستان کې دي. د مخدره توکو زیاته برخه په مرکزي اسیا او په افغانستان، ایران او پاکستان کې د سوداګریزو لارو په اوږدو کې نیول کیږي. برسیره پردې، له هغه وخت نه چې د مرکزي اسیا د ریلو لاره افغانستان ته غزول شوې ده، د دې لارې په اوږدو کې د هیروین نیولو ګڼ شمیر پیښې رپوټ ورکړ شوي دي. په سیمه کې د سوداګرۍ لوړې کچې له امله د ګمرکاتو چارواکي په بندرونو او سرحدي کنټرول ځایونو کې یوازې لږ کانټینرونه تفتیش کولی شي.[182]

**وچ بندر:** د یو هیواد داسې داخلي سړک یا د ریلو لارې ته ویل کیږي چې مستقیما د سمندر څنډې ته رسیږي. په بندرونو کې د اموالو د ساتلو او غونډولو زیرمې او هم د ګمرکاتو د تصفیې خدمتونه لري.

سرچینه: د متحده ایالاتو د سوداګرۍ نړیوال کمیسیون، "د سهارا نه ښکته افریقا: د صادراتو په سیالۍ باندې د زیربنا د شرایطو اغیزې، دریم کلنی رپوټ،" 4/2009، 41-6 مخ.، د لاسرسی نیټه 1/12/2013.

## د مخدره توکو په ضد د افغانستان پولیس

پدې ربع کې، د افغانستان د مخدره توکو په ضد پولیسو (CNPA) په لیکو کې 2,581 کسان وګومارل شو — د تیرې ربعې په پرتله 41 کسان کم دي. د CSTC-A په وینا د شمیر کموالی د سرتیرو له کمولو سره مستقیمه اړیکه لري.[183]

NTM-A او د مخدره توکو د قانون پلي کولو اداري د CNPA لپاره سلاکاران او لارښونکي چمتو کوي. د CSTC-A په وینا، 16 NTM-A سلاکاران چمتو کوي او د متحده ایالاتو مرکزي قوماندې د مخدره توکو په ضد 33 ټرینرانو ته بودیجه ورکوي (چې 20 تنه یې په یو وخت کې په هیواد کې وي). د CSTC-A په وینا، د متحده ایالاتو یوه کمپني (CACI) د CNPA سره د مرستې لپاره 37 تنه کارکونکي چمتو کوي.[184]

## د مخنیوی عملیاتونه

د DoD په وینا، د2012 کال د اکتوبر له 1 څخه د دسمبر تر 31 پورې، ANSF د متحده ایالاتو او ایساف سره د 51 مخنیونکي عملیاتونو سرته رسولو لپاره ملګري کړې ده — د پیرې، ګزمې او څیرنې ګډ عملیاتونه، او د توقیف عملیاتونو سنجول. دا عملیاتونه د 81 توقیفونو او د لاندې کچې قاچاق شوي مخدره توکو د نیولو لامل شوي دي:[185]

- 24,180 کیلو ګرام حشیش
- 13,528 کیلوګرام تریاک
- 224 کیلوګرام مورفین
- 692 کیلوګرام هیرویین
- 3,490 د مخدره توکو پورې اړوند کیمیاوي مواد

د DoDپه وینا، د متحده ایالاتو پوځ پدې عملیاتونو کې د عمومي لوجیستیکي او استخباراتي ملاتړو سربیره ځمکنۍ بیړنۍ مرستې رسولې. DEA په ټوله هیواد کې ځانګړو واحدونو ته مشورې ورکولې ترڅو د تحقیقاتو او قانون پلي کولو ظرفیت تاسیس کړي. برسیره پردې، د متحده ایالاتو استخباراتي ټولنه په ستراتیژیکه، عملیاتي او تکتیکي سویو کې د افغان پوځ او د قانون پلي کونکو ادارو سره د هدف موندلو او تحلیل په برخو کې مرسته کوي.[186]

لکه د تیرو ربعو په شان، د مخنیولو ډیر عملیاتونه په سهیلي او سهیل لویدیځو سیمو کې ترسره شوي، کومه سیمه چې د اوپیاتونو ډیره برخه کښت، پروسس، او له افغانستانه بهر ته لیږدول کیږي. د DoD په وینا، په دغو سیمو کې د لیږد بهیر له پرمختګ سره سم چې د ایساف واحدونه وویستل شول، افغان ځواکونه د ګزمو او پوځی عملیاتونو مشري کوي. DoD ویلي چې افغان ځانګړي ځواکونه د خپلواکو عملیاتونو سرته رسولو وړتیا ښودلې، چې د لوجیستیکي او استخباراتي برخو کې د ایساف لخوا ملاتړ کیږي. د مخدره توکو په ضد افغان تفتیش کونکي د پیژندل شوو مخدره توکو د قاچاق وړلو شبکو په وړاندې د مبارزې او د درمل د پروسس لابراتوارونو، زیرمو، او قاچاقي لارې موندلو لپاره د خپل استخباراتي ټولګو په لومړیتوبونو کې اصلاح راوستې دي.[187]

افغان معمولي او ځانګړو ځواکونو د بین الاداري عناصرو لکه ګډ بین الاداري وظیفوي ځواک — نیکسس (CJIATF-N) او د بین الاداري عملیاتونو د همغږۍ مرکز (IOCC) په ګډون سره یو شمیر عملیاتونه ترسره کړي دي. CJIATF-N او IOCC د بیلابیلو پوځي او د قانون پلی کونکو ادارو څخه لاسته راغلي معلومات منسجم کوي ترڅو د تریاکو-یاغیانو فاسدو عناصرو په وړاندې عملیاتونه اسانه کړي. د DoD په وینا، ټول عملیاتونه د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د قوماندانانو لخوا همغږي او ملاتړ کړای شوي دي.[188]

# منځپانګې


| | |
|---|---|
| پخلاینه او بیا یو ځای کیدل | 95 |
| ملی او سیمیزه حکومتداري | 99 |
| قضايي اصلاحات او د قانون حاکمیت | 111 |
| د فساد پروړاندې مبارزه | 116 |
| بشري حقونه | 120 |

# حکومتداري

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې ، امریکا د افغانستان د حکومتداري او اقتصادي پراختیا د ملاتړ لپاره 22.4 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص ورکړی دی.[189] د دې فنډ ډېره برخه، چې 15.1 میلیارده امریکایي ډالر ده، د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ته تخصیص ورکړ شوي، چې د امریکا د نړیوالي پراختیایی اداري (USAID) لخوا اداره کیږي. د دې هیواد پراخ فساد، کمزوری قضایي سکتور، د حکومت د صلاحیت د تاسیس او ساتنې په برخه کې ستونزې، او له بشري حقونو څخه دوامداري سرغړونې، د یوه با ثباته او با تجربه حکومت جوړولو لپاره یې د امریکا هڅې له ستونزو سره مخ کړې.

## پخلاینه او بیا یوځای کیدل

د افغانستان سیاسي او اقتصادي ستراتیژي، لکه څنګه چې په ملي لمړیتوبونو پروګرامونو (NPP) کې راغلي، او له 2012 کال څخه دې پراختیا په کال کې دي، سوله او پخلاینه یې یوه ډېره مهمه موخه ده. عموماً افغانانو د پخلاینې له هڅو څخه ملاتړ څرګند کړی دی، لکه څنګه چې پدې عکس کې ښودل شوی عکس 3.26. پدې ربع کې، د افغانستان او پاکستان حکومتونو د پخلاینې په اړه غونډه کړې. پردې برسیره، د افغانستان حکومت او د سولې

عکس 3.26

**د افغان حکومت د روغې جوړې هڅو او د مخالفو وسله والو سره د خبرو اترو په اړه د افغان خلکو نظریات**




یادونه: د سروې د غلطۍ کچه مثبت یا منفي 5.1% ده. شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي.

سرچینه: آسیا فونډیشن، "افغانستان په 2012 کال کې، د افغان خلکو سروې،" 11/2012.

عالي شورا يې، د طالبانو غړي، او حزب اسلامي په فرانسي کې غونډه کړي. د افغانستان حکومت د "سولې او پخلاينې لپاره د لار نقشه" هم جوړه کړې، تر څو د خبرو لارښونه وکړي. ولسمشر بارک اوباما او افغان ولسمشر حامد کرزي په واشنګټن کې د وړانديز شوي لار پر نقشې باندې خبرې وکړې او موافقه يې وکړه چې د طالبانو لپاره د قطر په دوحه کې د يوه دفتر د پرانيستلو ملاتړ وکړي، تر څو د پروسې کاروونه آسانه کړي او نور سيميزې ډلې پشمول د پاکستان پدې کې شامل شي. مګر، ډيرې ننګونې لا پر ځای پاتې دي، پشمول د طالبانو نه ليوالتيا چې د افغانستان حکومت سره خبرې وکړي، چې دوی وايي دا د "بهرني اشغالګرو يو ګوډاګی" دی.[190]

## د سولې عالي شورا

د افغانستان د سولې عالي شورا ريس، صلاح الدی رباني، اسلام آباد ته د يوه هيت مشري وکړه تر څو د پاکستان له ولسمشر، صدراعظم، او لوی درستيز سره د نومبر په 14-12 وګوري. پاکستان به يو مهم رول په هرو خبرو کې ولوبوي ځکه چې د طالبانو لوی مشران د پاکستان له شمال ختيځ خونديځ ځايونو څخه کاروونه پرمخ وړي. رباني هيله مند و ترڅو پاکستان ته قناعت ورکړي چې د افغانستان د حکومت او ياغيانو ترمنځ، چې ځينې يې د پاکستان لخوا ملاتړ ترلاسه کوي، پخلاينه وهڅوي. له غونډې وروسته، د نومبر او دسمبر په مياشتو کې پاکستان يو شمير طالبان چې پاکستان بندي کړي و، له بنده آزاد کړل. ويل شوي چې د طالبانو د عدليې پخوانی وزير د دسمبر په آزاد شويو بنديانو کې شامل و.[191]

رباني نړيوالې ټولنې ته هم بلنه ورکړې چې د پخلاينې سره مرسته وکړي. هغه د نومبر په مياشت کې ملګرو ملتونو (UN) ته سفر وکړ تر څو د ملګرو ملتونو امنيت شورا سره د خپلې ملاتړ کونکي ونډې په اړه مشوره وکړي. د هغه هڅو مرسته وکړه چې د ملګرو ملتونو امنيت شورا 2082 مصوبه تاييد کړي، او هغه طالبانو څخه چې سولې په خبرو کې بوخت دي د سفر کولو بنديز د لنډ وخت لپاره لرې کوي، او دا د خبرو لپاره د طالبانو توان ډيروي.[192]

## د افغانستان د سولې او بيا يو کيدلو پروګرام

د دې ربع په لمړيو دو مياشتو کې، د افغانستان د سولې او بيا يو ځای کيدلو پروګرام (APRP) په کمه کچه پرمختګ درلود او 531 ياغيانو پدې پروګرام کې ځانونه ثبت کړي، او د دې پروګرام له پيل څخه يې د دې پروګرام د يو ځای کيدونکو ټوله شميره 5,577 ته ورسوله. د پروګرام په موده کې د يو ځای کيدونکو يوه لويه برخه (79%) لکه ځنګه چې پدې عکس کې ښودل شوي عکس3.27.[193] د هيواد له کمې بې ثباته شمالي او ختيځو سيمو څخه راغلي.

د APRP د 2012 کال د جون په مياشت کې د شخړو د حل ستراتيژي بشپړه کړه، چې دا به د شخړو د پيژندلو او لمړيتوب ورکولو چې تاوتريخوالي سره مرسته کوي، او د له منځه وړلو لپاره يې عامه پوهاوی ترسره کول، لدې لارو د بيا يوځای کيدلو د پروګرام له پرمختګ سره مرسته وکړي، مګر د دې کال تر پايه لدې ستراتيژي څخه په عمل کې کار اخيستل شوی نه و. په کابل کې د امريکا سفارت او د نړيوالې امنيتي همکاری ځواک (ISAF) د بيا يوځای کيدلو اداري، د APRP له ګډې دارالنشا سره څو ځلې پر دې مسلې باندې خبرې کړې دي، مګر دارالنشا ادعا کوي چې سياسي حساسيتونو د دې ستراتيژۍ د پلې کولو مخه نيولې. د 2012 کال د دسمبر په مياشت کې ګډې دارالنشا د ياغيانو د قوماندانانو لپاره د بيا يو ځای کيدلو ځانګړی پروګرام پيل کړ. پدې ربع کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت هيله مند و چې

**د افغانستان د سولې او بيا يو ځای کيدلو پروګرام:** د افغانستان حکومت د يو ځای کيدلو لپاره د ياغيانو د هڅولو او اداره کولو اصلي پروګرام. دا پروګرام د طالبان او د حکومت نورو مخالفينو لپاره يوه لار برابروي ترڅو له تاوتريخوالي لاس واخلي او د افغاني ټولنې ګډون غړي شي. پروګرام هڅه کوي ترڅو هغو انفرادي کسانو ته چې په سوليز ډول بيرته ټولنې ته راځي پراختيايي فرصتونه برابر کړي. يوه ګډه دارالنشا، د څو ادارو يو بنسټ چې په هغه کې آيساف د ځواکونو استازی هم شته، دا پروګرام اداره کوي.

سرچينې: د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP)، "UNDP د افغانستان د سولې او بيا يوځای کيدلو پروګرام ملاتړ کوي،" 5/2011 آيساف، "APRP" له انترنت څخه 7/17/2012.

عکس 3.27

**د سیمه ییزې قوماندې په اساس بیا یوځای شوي کسان، د 2011 کال دسمبر- د 2012 کال دسمبر**




یادونې: د دې ربعې په معلوماتو کې د 2012 کال د دسمبر میاشتې شمیرې شاملې ندي. د RC-مرکزي معلومات د 2012 کال تر جون پورې نه و ورکړ شوي. د 2012 کال د مارچ په میاشت کې د RC-شمال شمیره څکه لږه ده چې د سرپل 250 پخوانی کسان د ګډې دارلانشاء لخوا له صلاحیته لرې شوي دي.

سرچینه: د سیګار 1/2/2013, 10/2/2012, 7/5/2012, 3/30/2012 او 12/30/2011 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځوابونه.

کیدای شي دا پروګرام په جنوب او ختیځ کې بیا یو ځای کیدلو پروګرام بیا پیل کړي.[194] لکه څنګه چې پدې عکس کې ښودل شویعکس 3.28 د افغانستان عام خلک د بهرنیو ځواکونو شتون، د ځواک ترلاسه کولو لپاره لیوالتیا، په حکومت کې فساد، او د پاکستان ملاتړ، څلور هغه مهم دلیلونه ګڼي چې انفرادي کسان یاغیتوب سره یوځای کیږي.

د پرمختګ د غیری رسمي یوځای کیدلو مخه نده نیولې، چې یاغیان خپلې وسلې په مځکه ږدي مګر په رسمي توګه د APRP له خلاص پروګرام سره نه یوځای کیږي، څکه دوی ویره لري چې د دوی امنیت به له خطر سره مخ شي.[195]

## د بیا یوځای کیدلو لپاره د ظرفیت لوړول

په ټول هیواد کې د ولایتي دارالنشا ګډ ټیمونو (PJSTs) د ظرفیت، توان، او د فعالیتونو کچې توپیر دوام لري. د ولایتي ګډې دارالنشا ټیمونه او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام (APRP) د دې لپاره جوړ شوي تر څو د APRP د اداره کولو او بیا رغونې پروګرامونو د تطبیق له اداره کولو سره مرسته وکړي. په هغو ولایتونو کې چیرته چې والي له APRP څخه ملاتړ کوي او د ولایتونو د سولې شوراګانو، ګډې دارالنشا ټیمونو، او د ولایتونو امنیتي کارکونکو تر منځ اتحاد شتون لري، APRP په ښه توګه کار کوي او د بیا یو ځای کیدلو شمیره په مناسبه توګه لوړه ده، او دا حالت تر ډیرې کچې په شمال لویدیځ کې شتون لري.[196]

د APRP ګډه دارالنشا پدې پوهیږي چې ولایتي ټیمونه ډیرې روزنې ته اړتیا لري. پدې ربع کې، دارالنشا، د افغانستان د بیا یوځای کیدلو (ARP) له پروګرام سره د امریکا د دفاع وزارت (DoD) مالي مرستې په ملاتړ په کابل کې د ګډې دارالنشا ټیمونو لپاره د روزنې پروګرام دایر

عکس 3.28

**پدې اړه چې ولې وسله وال مخالفین د افغان دولت په ضد جګړه کوي د افغان خلکو نظریې** (سلنه)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. د غلطۍ کچه مثبت یا منفي 5.1% ده.

سرچینه: آسیا فوندیشن، ″افغانستان په 2012 کال کې، د افغان خلکو سروې،″ 11/2012.

کړ. ترڅو چې د دارالنشا ګډو ټیمونو لپاره د ARP لخوا تمویل شوی نوی پروګرام په اوړي کې پیل کیږي، د روزنې دا پروګرامونه باید د ګډې دارالنشا په ټیمونو کې مهارتونه لوړ کړي. د دې ربع په پای کې، دا پروګرام د امریکا د مرکزي قوماندانی د تایید په تمه و. پدې ربع کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د همکاری ماموریت (UNAMA) د ولایتونو د سولې شوراګانو لپاره یې د روزنې درې پروګرام هم د شخړو د حل کولو په اړه دایر کړي.[197]

## د بیا یوځای کیدلو د پروګرام د مالي چارو اداره کول

ګډه دارالنشا د UNDP په نظارت د APRP د بودجې کارونه ترسره کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان په 1391 مالي کال کې له 123.65 میلیونو امریکایي ډالرو بودجې څخه APRP نږدې 60 میلیونه امریکایي ډالر لګولي (د ګټې اخیستلو د کچې نږدې 48.5%) چې دا پدې لنډو کلونو کې د لګښت تر درېو چنده ډیره اندازه ده. د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې ګډې دارالنشا په سیمیزه کچه د بیا یوځای کیدلو د فنډ توزیع لپاره د عملیاتو معیاري طرزالعملونه تطبیق کړي دي.[198]

د امریکا فنډ په آسانه توګه د بیا یوځای کیدلو پروګرام ته ندې راغلي. د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا د نړیوال بانک د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق لپاره 50 میلیونه امریکایي ډالر ورکړي تر څو د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت (MRRD) د ملي یووالې پروګرام سره مرسته وکړي، تر څو ټولنو سره مرسته شي چې وپیژنی، پلان کړي، اداره کړي، او له خپلو پراختیایی پلانونو څخه نظارت وکړي. مګر، کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام فنډ او د ملي یووالې پروګرام یو بل سره د نښلولو په برخه کې ډیر کم کار کړي دي او داسي ښکاري چې د پخوانیو کارونو پر اساس د APRP فنډ پروژې د هغو ځایونو لپاره ټاکي چې لمړیتوب نلري. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا هغه هڅه ګڼي چې د ډونرانو د توزیع امیدونه خوشحاله کړي. د کلیو د پراختیا وزارت د شفافیت نلرل، توپیرلرونکي راپورونو ورکول او د پروژو د ورکولو لپاره د طرزالعملونو نه شتون هغه کارونه دي چې د APRP د نړیوالو ډونرانو د فنډونو څخه د ګټې اخیستلو پیداکول او تایید کولو چې د بیا یوځای کیدلو او سولې د ګټو لپاره دي، ننګوني ډیروي.[199]

## د ټولنې بیارغونې پروګرامونه

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د سولې و بیا یوځای کیدلو پروګرام هغه انفرادي کسان چې کیدای شي خپلې وسلې پر مځکه کښیږدي، د اقتصادي اړتیاو برابرولو او ټولنیزو ملاتړ له لارې هڅوي تر څو له خپلو ټولنو سره یوځای شي. د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام (APRP) د ټولنې بیا رغونې پروژې لکه د مینونو پاکول، کرنه، کمې نغدې پیسې، او حرفوي او د سواد د زده کړې پروژې چې د احتمالي یوځای کیدونکو د هڅولو لپاره جوړې شوي، پدې ربع کې یې خپل زیاتوالې ته دوام ورکړي. د APRP د کمو نغدو پیسو پروژې له 80 څخه 140 زیاتې شوې دي، چې 17 یې بشپړې شوې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې څلور اړوند وزارتونه (د کلیو بیا رغونې او پراختیا، عامه ګټو، کرنې، اوبو لګولو او مالداري، کار او ټولنیزو چارو، شهیدان او معلولینو) له 1,500 څخه ډیر د ټولنې بیارغونې پروګرامونه تطبیقوي. دا پروګرامونه د عامه خدماتو د رسولو لپاره ملاتړ برابروي او کاري فرصتونه جوړوي. له 178,000 ډیرو انفرادي کسانو، دواړه بیا یوځای کیدونکي او د ټولنو غړي، د پروګرام له پیل څخه یې لدې پروژو ګټه اخیستې ده. مګر، په ټولو هغو ټولنو کې چې بیا یوځای کیدل منځ ته راغلي لدې پروګرامونو څخه ګټه نده اخیستې.[200]

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) څخه د بيا يوځای کيدلو ملاتړ

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا پدې ربع کې د APRP له پروګرام سره د ANSF همکاری ښه کيدلو دوام درلود. د افغانستان د دفاع وزارت (MoD) د افغانستان د ملي اردو (ANA) 205 مه قول اردو (په کندهار کې) پاتې کسان د APRP او د دوی د ملاتړ کونکې ونډې په برخو کې وروزل. د افغانستان د دفاع وزارت پلان لري چې په راتلونکې ربع کې د ملي اردو ټولو قول اردوګانو ته نورې روزنې هم ورکړي.[201]

## ملي او سيميزه حکومتداري

د امريکا حکومت د افغانستان د ملي او سيميزې حکومتدارى د ظرفيت لوړلو، سيميزې حکومتدارى، او ملکي خدماتو روزنې د ښه کولو لپاره ځو هڅو ته فنډ ورکوي. پدې ربع کې د امريکا د دفاع وزارت "په افغانستان د امنيت او ثبات په لور د پرمختګ" په شپږ مياشتنې راپور کې د افغانستان د حکومت اوږد محاله شتون په اړه سوال کړی. راپور ويلي چې فساد، د پروګرام کمزوری نظارت، د سيميزې حکومتدارى بودجې کسر، د کافي عوايدو ترلاسه کولو کم ظرفيت، او د عامه مالي چارو محدود مديريت هغه څه دي چې ټول د افغانستان حکومت ثبات ته زيان رسوي. د ملي او سيميزو حکومتونو ترمنځ کمزوري اړيکي او همغږى دوام لري. د ملکي خدماتو په منځ کې د رسمي تربيې او روزنې کموالی دا مانا لري چې حکومت محدود بشري ظرفيت لري تر ځو پيچلې دندې ترسره کړي.[202] نوې سروې ښيې چې د افغانستان عام خلک لکه څنګه چې پدې عکس کې عکس 3.29 ښودل شوې دي، اداري فساد، بې امنيتي، او په پوره اندازه د کاري فرصتونو نشتون، د مرکزي حکومت درې مهمې ناکامی ګڼې.

عکس 3.29

**د مرکزي دولت د ډيرو مهمو ناکاميو په اړه د افغان عامه خلکو نظريې**




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوې دي. د غلطی کچه مثبت يا منفي 5.1% ده.

سرچينه: آسيا فونډيشن، "په 2012 کال کې افغانستان، د افغان خلکو يوه سروې،" 11/2012.

## د USAID د حکومتدارۍ پروګرام راتلونکي ستراتیژۍ

د USAID د دیموکراسی او حکومتدارۍ دفتر (ODG) د ستراتیژۍ د 2015 تر 2024 د تحول لسیزې لپاره خپله ستراتیژۍ د افغانستان د حکومت لخوا د ټوکیو په کنفرانس کې له وړاندې شوې ستراتیژۍ او ملي لمړیتوبونو پروګرامونو (NPPs) سره همغږې کړې ده. د USAID په ستراتیژۍ کې حکومتداري، د قانون حاکمیت، ټولټاکنې او سیاسي پروسې، او مدنې ټولنه شامل دي. د USAID په نظر په افغانستان کې به ښه حکومتداري د 2012- 2014 د انتقال د وخت د ثبات د ساتلو لپاره او د دې لپاره چې هیواد وکولای شي خپلو موخو ته د تحول د لسیزې په وخت کې ورسیږي، ډیر مهم وي.[203]

د USAID حکومتدارۍ پروګرام به د ولایتي شوراګانو (PCs) د غړو او د افغانستان په 34 ولایتونو کې د سیمیزو بنسټونو د تخصصي مهارتونو او تخنیکي ظرفیتونو پر لوړلو باندې کار وکړي. ولایتي شوراګانې غواړي چې سیمیزو حکومتونو ته د پراختیا لمړیتوبونو په پلان کولو کې مشوره ورکړي، او له ولایتي اداري څخه نظارت وکړي. USAID دا هم غواړي چې د ولایتي شوراګانو، ملي پارلمان، د ولسوالیو په کچه بنسټونو، او په ملي او سیمیزه کچه د اړوندو اجرایي چارواکو تر منځ همغږي ښه کړي. د USAID د حکومتدارۍ پروګرام د مالي چارو د اداره کولو، د بودجې جوړول او تطبیق کولو، د بشري سرچینو اداره کولو، د پالیسی او ستراتیژۍ پلان کولو، عامه پوهاوی او استازیتوب، د خدماتو رسولو، عامه کارونو، او د عوایدو ټولولو له لارو د مرکزي او سیمیزو بنسټونو د کاري ظرفیتونو د لوړلو او خدماتو رسولو د توان د لوړولو لپاره د نورو ډونرانو د هڅو ملاتړ وکړي.[204]

د ښاروالي په کچه، USAID به د ښاروالی د چارواکو روزنې ته دوام ورکړي او د هغو اړوندو اندیښمنو افغانانو د ډلو څخه به ملاتړ وکړي چې د یوه اغیزمن، ځواب ورکونکي، روڼ، او مسول افغان ښاري حکومت بنسټ کښیږدي. مګر، USAID له ښاري بنسټیزې او خدماتو د رسولو تجهیزاتو څخه د بشري ظرفیت پانګونې ته خپله ونډه اړوي، هغه څه چې ورته اړتیا لیدل کیږي ترڅو د اوسنیو نوښتونو عملیات ترسره کړي او وساتي. د USAID د سیمیزې ملاتړ کونکي پروګرامونو جغرافیایي کارونو ساحه به د افغانستان د لمړیتوبونو او د امریکا لخوا پیژندل شوي لمړیتوبونو اقتصادي زونونو پر اساس ټاکل کیږي.[205]

## ټولټاکنې

پدې ربع کې، افغانستان او اړوندو نړیوالو ملګرو د 2014 ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټولټاکنو تیارۍ لپاره خپلې هڅې ډیرې کړې دي. دا ټولټاکنې به د ولسمشر کرزي ځای ناستی معلوم کړي، هغه د دریمې دورې مستحق ندی، او د تحول د لسیزې لپاره به لار هواره کړي. تیرې ټولټاکنې د پراخ تقلب له امله خرابې شوي او د افغانستان د حکومت د تیارۍ په اړه ډیرې اندیښنې شته چې د اعتبار وړ ټولټاکنې دې په 2014 کال کې ترسره کړي. امریکا د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) له هڅو ملاتړ کوي تر څو د تقلب د کموالي طریقې تطبیق کړي. که ټولټاکنې په پراخه اندازه امتحان شي، د هیواد سیاسي ثبات به کمزورۍ کړي په هغه وخت کې امریکا او نړیوال ملګري خپل کمول بشپړ کوي.[206]

# حکومتداري

د ټولټاکنو په اړه اندېښنې پردې مسلو را څرخيږي:[207]

- د افغانستان د حکومت توان ترڅو ټولټاکنې اداره کړي
- د افغانستان د امنيتي ځواکونو توان ترڅو د ټولټاکنو لپاره امنيت برابر کړي
- د حکومت او د مدني ټولنې ظرفيت، په ځانګړې توګه د نظارت کورنی ډلې، ترڅو هغه نظارت وکړي چې د تقلب مخه ونيسي
- د حکومت توان ترڅو په مناسبه توګه رای ورکونکي ثبت کړي

پدې ربع کې، د ټولټاکنو څپلواک کميسيون د ټولټاکنو نيټه د 2014 کال د اپريل 5 ټاکلې. امريکا د دغه اعلان هرکلی کړی او ويلي چې دا د يوه با اعتباره، پراخ، او رڼو ټولټاکنو چې د افغانستان د اساسي قانون د وخت پر اساس دي د افغانستان تعهد څرګندوي.[208] ځينو دا نيټه غندلي او ويلي چې ډېر وختي په اوړې کې راغلي، کله چې د سړې هوا طوفانونه، په ځانګړې توګه په شمالي او مرکزي سيمو کې د لوجيستيکي تيارې مخه نيولای شي. پردې برسيره، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د ځو موخو لپاره ملي هويت کارت سيستم چې نوم يې "اي تذکره" ده د هيواد په ډېرو برخو کې تر 2014 کال پورې ګټې اخيستلو لپاره تيار نه وي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د سيستم توزيع به په ډېره ټيټه کچه وي که د حکومت مسول بنسټونه پروسه په کمزورې ډول اداره کړي. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د عملياتو لپاره يوه مسوده هم جوړه کړي ده چې د ولسمشر د دفتر لخوا ارزول کيږي. په مسوده کې وړانديز شوې بودجه او ستراتيژي شامله ده چې د رای ورکولو فعاليت ښه کړي.[209]

پردې برسيره پدې ربع کې، پارلمان، د ولسمشر دفتر، د مدني ټولنې د ټولټاکنو سازمانونه، او د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د ټولټاکنو پر نوي قانون خبري وکړي. په خبرو کې د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون (ECC) ونډه د شخړې د حل اخيري بنسټ په توګه، دندي، جوړښتونه، د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټولټاکنو د شکايتونو د کميسيون د ټاکنو پروسې، د ټولټاکنو د سيستم مشخصات (يوه غير انتقالي رای د تناسبې استازيتوب پر وړاندې، د څو غړ د يوه غړي د حوزې پروړاندې)، د ښځو لپاره د سيټونو جلا کول، د رای ورکولو د ځايونو امنيت، او د کانديدی وړتيا شامل و. لکه څنګه چې ټولټاکنو ته تر 16 مياشتو لږ وخت پاتې و، د 2012 کال په پای کې دا مسلې لا نه وې حل شوې.[210]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د ټولټاکنو د اوسنې قانون په پرتله د ولسمشر کرزي په مسوده کې دوه مهم بدلونونه شامل و: يو به د ولسي جرګې لپاره په هره ولسوالی کې يو غړی تاسيس کړي، او بل به سترې محکمې ته واک ورکړي چې له ټولټاکنو وروسته د ټولټاکنو د شکايتونو د حل لپاره ځانګړې محکمه تاسيس کړي.[211]

د ولسواليو په کچه د يوه غړي مسله به د رای ورکولو لپاره د 249 ولسواليو سرحدونو معلوملو ته اړتيا ولري چې کيدای شي دا پروسه به په لوړه کچه سياسي شي. د ولسواليو سرحدونو بيا ټاکل کيدای شي په پارلمان کې د ښځو لپاره د 68 غړو تخصيص برخې باندې هم اغيز ولري، که څه هم دا اغيز لا تر اوسه روښانه ندی. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د پارلمان غړيتوب له مشخصو وړو حوزو سره تړل يوه منطقي موخه ده.[212]

کرزي د 2010 کال ټولټاکنو لپاره دا وړانديز کړی و چې سترې محکمې ته اجازه ورکړ شي چې د شکايتونو لپاره اخرنی محکمه تاسيس کړي. په هغه وخت کې، د ولسي جرګې د

ټولټاکنو پایلې او د پایلو د تصدیق لپاره محکمې ته صلاحیت ورکولو باندې ډیرې خبرې وې. کرزی د یوې نوې ځانګړې محکمې تاسیس سره چې د ټولټاکنو د پریکړو پراخ صلاحیت به ولري غوښتل چې د ټولټاکنو او د شکایتونو د کمیسیونونو د ونډو مخه ونیسي. لکه څنګه چې د سیګار په تیرو راپورونو کې ویل شوي، دا کار د ګټونکو کاندیدانو او نړیوالې ټولنې له پراخې غندنې سره مخ شو.[213]

## د USAID د ټولټاکنو ملاتړ

USAID د افغانستان د ټولټاکنو د ظرفیت لوړلو لپاره د امریکا د مرستو او پروګرامونو مشرې کوي.[214] USAID پلان لري ترڅو د 2014 کال له ټولټاکنو څخه له 120-80 میلیونو امریکایي ډالرو مرستې سره ملاتړ وکړي، دا فنډ به د ټولټاکنو اداره، د سیاسي ګوندونو وده، د مدنې ټولنې ځواکمن کیدل، د کورنیو او ملاتړ کونکو نظارت کونکو سازمانونو روزنه، او د مدنې روزنې له نوښتونو څخه ملاتړ وکړي.[215]

لکه څنګه چې له 2014 کال څخه تر 2025 کال پورې 21 ټولټاکنې تر پلان لاندې دي، USAID ویلي چې دوی غواړي د ټولټاکنو له بنسټونو څخه ملاتړ وکړي ترڅو دوی وکولای شي چې یو با اعتباره، پراخې او رښې ټولټاکنې له خپلې بودجې څخه ترسره کړي. USAID به د ټولټاکنو ترمنځ له وخت څخه ګټه واخلي ترڅو د سیاسي ګوندونو، ایتلافونو، خوځښتونو، مدني ټولنو سازمانونو، او کورنیو نظارت کونکو ډلو سیاسي برخې اخیستنې ځواکمن کولو باندې کار وکړي. ډیری پروژې به د ټول هیواد په کچه وي، مګر د لمړیتوبونو په ځینو ځایونو کې به د زیاتې سیاسي برخه اخیستنې لپاره یو څه ملاتړ وي.[216]

## په افغانستان کې د ټولټاکنو زیاتې برخه اخیستنې لپاره د USAID ملاتړ

په افغانستان کې د ټولټاکنو زیاتې برخه اخیستنې لپاره د USAID ملاتړ پروګرام د سیاسي پروسې د ښه کولو په برخه کې ځینې بریاوي لري، مګر زیاتې ننګونې لا پرځای پاتې دي. د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، USAID دې پروګرام ته 87.5 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. پروګرام، له ګوندونو، ایتلافونو، او خپلواکو کاندیدانو سره مرسته کړې چې ځانونه تنظیم کړي او په ټولټاکنو کې برخه واخلي. د ټولټاکنو په اړه د عامه پوهاوي زیاتوالی هغه نښې دي چې د تاریخ له پلوه په حاشیه کې ډلې، پشمول د ښځو، ځوانان، او اقلیتونو، له سیاسي پروسې سره اړیکي نیسي. مګر، سیاسي ډلې لا تر اوسه ندې توانیدلې چې د مسلو پر اساس روښانه پالیسی وړاندې کړي چې د ټولنې یوه پراخه برخه ورسره لیوالتیا وښیې. دوی لا تراوسه دا توان نلري چې نظارت وکړي او د حکومت چارواکي مسول وګڼې.[217]

## ملي شورا

ملي شورا لا تراوسه تر ډیرې اندازې یو کمزوری بنسټ دی، د USAID لپاره د نړیوالي دیموکراسي د ارزونې پر اساس، ملي شورا په حکومت کې مضبوطه ونډه نلري. ارزونې ویلي، په ملي شورا کې د اتو کلنو په ترڅ کې بنسټیز پرمختګ د سیاسي تاوتریخوالې او ملي او شخصي بې امنیتی چاپیریال سره مخامخ و. مګر، ارزونې په ټول حکومت کې د ملي شورا د ځای په اړه څو ستونزې هم موندلې.[218]

- ملي شورا کم یا هیڅ مالي یا اداري خپلواکي نلري.
- مقرارت او طرزالعملونه یې هغه څه دې چې له څو سرچینو اخیستل شوي دي او تراوسه د آزموینې او غلطی امتحان لاندې ندې ایښودل شوي.

- دا بنسټ ډېر کم کارکونکي لري، او کارکونکو ته يې ډېر لږ معاش ورکول کيږي.
- د پارلمان په منځ کې د دين، قوم، او جغرافيايي خطونو پراساس تقسيمات شتون لري.
- د پارلمان غړي په دوامداره توګه د تقلب او فساد له تورونو سره مخامخ دي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا ملي شورا يو کورنی غير رسمي کميسيون تاسيس کړی تر څو د دې بنسټ دننه د فساد پلټنه وکړي. ملي شورا په هيواد کې د فساد په اړه يو کميسيون هم تاسيس کړی، چې ټينګار يې په ځانګړي توګه د مځکو پر غصب باندې و.[219]

## د افغانستان لپاره د USAID پارلماني مرستې پروګرام

د افغانستان لپاره د USAID پارلماني مرستې پروګرام (APAP) د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې له 4.1 ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډېر لګولي دي. دا پروګرام پدې نږدې وخت کې د 2012 کال د مارچ تر 31 وغزول شو، او په هغه وخت کې به په بل پروګرام بدل شي. USAID ويلي چې پروګرام د ملي شورا له ودې سره مرسته کړې ده او د څو لاسته راوړنو نوم يې اخيستی:[220]

- د پارلمان د شتون په لمړيو 18 مياشتو کې د پارلمان د کارکونکو د بيخي زياتوالي اداره کړې
- د پارلماني عملياتو لپاره يې د طرزالعملونو او مقرراتو سهولتونه تاسيس کړي
- د کميټو د اوريدنو، غونډو، راپورونو، او تقنيني ګامونو په اړوند يې د اداري، نظارتي او تقنيني فعاليتونو کچه لوړه کړې
- د اجراييه قوې د مسول ګڼلو په اړوند يې د پارلمان توان ډېر کړی او د بودجې له کميټې سره يې کار کړی ترڅو د بودجې ټوليزه روڼتيا زياته کړي
- په کورني مطبوعاتو او د مدني ټولنې د سازمانونو په منځ کې يې د پارلمان د کارونو په اړه کار وکړې
- د پارلمان د بنسټيز ظرفيت ښه کول
- د پارلمان د غړو او کارکونکو لپاره د افغانستان د پارلماني انستيتيوت جوړول

د APAP د USAID پروګرام د افغانستان د پارلمان د بنسټيز، تخنيکي، او سياسي پراختيا لپاره جوړ شوی. دې پروګرام مرسته کړې ترڅو له ځلورو لسيزو وروسته د افغانستان لمړی پارلمان تاسيس کړي. دا پروګرام اوس د پارلمان د دوارو جرګو له غړو، د پارلمان له کارکونکو، د مشرتابه دفترونه، او کميټو سره کار کوي (سږ کال يې له هرې کميټې سره يو تجربه لرونکی کارکونکی له هرې کميټې سره ګمارلی ترڅو له کميټو سره مرسته وکړي). پر تقنيني ملاتړ برسيره، د APAP فعاليتونو د پارلمان له موکلينو سره د عامه پوهاوي هڅې، اړيکي، معلوماتي ټيکنالوژی، او د ملي بودجې د ارزونې کارونه ښه کوي.

سرچينه: د USAID، "له افغانستان سره د پارلماني مرستې پروګرام،" له انټرنټ څخه، 1/3/2013.

د تحول په لسيزه کې، USAID غواړي چې هغو هڅو ته فنډ ورکړي ترڅو يو پارلمان جوړ کړي چې وتوانيږي په ښه توګه اجراييه قوه کنټرول کړي او د اساسي قانون پر اساس خپل ماموريت لکه د قانون مسودې جوړل او ارزونه او په ښه توګه د بودجې ارزونې کارونه ترسره کړي. USAID د افغانستان له ملي شورا سره خپل ملاتړ ته پدې ځلورو برخو کې دوام ورکړي: د اجرايه قوې نظارت، د قانون مسودې جوړول، تحقيق، او تحليل، بودجې باندې کارکول او ارزونه او له موکلينو سره اړيکي.[221]

## د ملي بودجې جوړول

د 2013 کال په جنوری کې د افغانستان بودجې د تاييد پروسه بشپړه شوه. د 2012 کال په نومبر کې، د ماليې وزارت (MoF) د 1392 مالي کال بودجه ملي شورا ته وړاندې کړه. بودجه د نوي مالي کال د پيل چې د دسمبر 21 ده، ښکارندوی ده. د وړاندې کولو په وخت کې، د ماليې وزارت د عوايد ټولو له لارې يې تر ډېرې کچې پرخپلو پښو د دريدلو ټينګار کړی. وروسته لدې چې پارلمان څو ځلې بودجه رد کړه، او د ماليې وزارت تعديل کړه، بودجه

د جنوری په پای کې تایید شوه. ټوله بودجه 6.81 میلیارده امریکایي ډالر ده (3.77 میلیارده امریکای ډالر عملیاتي بودجه او 3.3 میلیارده ډالر پراختیایي بودجه).[222] د 1391 کال په لمړیو درې ربعو کې، د افغانستان حکومت یوواځې 1.56 میلیارده امریکایي ډالر ټول کړي.[223]

## عامه مالیې چارو مدیریت

د افغانستان د حکومت وړتیا د عامه مالي چارو په فعاله توګه اداره کولو کې ستونزي لري. د امریکا د دفاع وزرات په وینا، د پروګرامونو د پلان کولو، بودجه جوړلو او بشپړ کولو په برخو ې په پوره اندازه د وړتیا نشتون د عامه سکتور د پروګرامونو د تطبیق او د خدماتو د رسولو په مخ لویې ستونزې دي. پدې مالي مدیریت کې دا مسلې شاملې دي:[224]

- په ملي او سیمیزه کچه د وړتیا محدودیتونه
- کمزوری پلان کول او بودجه جوړل
- د ډونر د فنډ تخصیص ورکولو او د فنډ په ورکولو کې ځنډ
- د وزارتونو، ډونرانو، او سیمیزو بنسټونو تر منځ د اړیکو ننګونې

د بودجې ریاست ویلي چې د ولایتونو د بودجې له واحدونو سره یې کار کړی تر څو ځینو دغو ستونزو ته د حل لار پیدا کړي او د مالیې وزارت لپاره د ولایت د بودجې د پالیسی مسوده جوړه کړي. که دا پالیسي تطبیق شي، دا به د ولایتونو د بودجې ځینې پروسې واضح کړي. د دې لپاره چې له مرکزي او ولایتي حکومتونو سره اړیکي ښې شي، د بودجې ریاست د ولایتونو له واحدونو سره کار کړی ترڅو له مرکزي او ولایتي اړوندو وزارتونو سره د اړیکو ښه کولو لپاره د اړیکو یو پلان جوړ کړي.[225]

د بودجې ریاست د حکومت د هر وزارت د بودجې ریاست د ریسانو په روزنه کې مرسته کړي. ستندرد شوې روزنه، چې په دري ژبه ترسره شوي وه، د افغانستان له دوو رسمي ژبو څخه یوه ژبه، د محاسبې له نوې لارښونې او د حسابونو له چارت څخه د ګټې اخیستلو په اړه ده. پدې ربع کې افغانانو د روزنې د کورسونو مشري کوله.[226]

د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د اوږد محاله وخت اندیښنه دا ده چې نړیوالو ډونرانو یو شی تاسیس کړی چې په حقیقت کې یو موازي ملکي خدمات دي، چې پدې کې حرفوي ملکي کارکونکي چې د نړیوالو ډونرانو لخوا تر عادي کارکونکو ورته لوړ معاشونه ورکول کیږي، شامل دي. د 2011 کال د نړیوال بانک د اتو مهمو وزارتونو او یوې ادارې د سروې پر اساس، د کورنیو تمویل شویو ملکي کارکونکو شمیره د ټولو کارکونکو 3.9% ده، مګر د ټولو معاش اخیستونکو 31.9% ته رسیږي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان حکومت نشي کولای چې په بشپړه توګه د دې لوړو معاشونو لګښتونه په غاړه واخلي، او دا مالي حقیقت کیدای شي د ارزښتناکو پروګرامونو مدیریت او د خدماتو د رسولو د ظرفیتونو سپارل له ستونزو سره مخ کړي.[227]

# حکومتداري

که څه هم نړیوالو ملګرو کار کړي ترڅو د افغانستان حکومت مرکزیت کم کړي، اما د امریکا د دفاع وزارت په وینا د حکومت جوړښت په کابل کې د ځواک پر دوام ټینګار کوي. د بودجې او لګښت صلاحیت تر اوسه د مالیې وزارت په لاس کې دی، او د خدماتو رسول اوس هم تر ډیرې کچې د مرکزي حکومتونو لخوا تطبیق کیږي. د سیمیزو ادارو ترمنځ محدوده همغږي، پلان کول، او د خدماتو د نظارت ونډې شتون لري.[228]

## کورني پلټنې

د بودجې د ریاست په مرسته، د مالیې وزارت د کورني پلټنې دفتر د پلټنو موخو ته د رسیدلو په برخه کې ډیر پرمختګ کړي دی. د بودجې ریاست په وینا، د عامه لګښت او مالیې چارو د مدیریت قانون د پلټنې د 61 مادې پر اساس، دا دفتر د پلټنو ټولو تاسیس شویو نښو ته رسیدلی، د دې قانون پر اساس د مالیې وزارت اجازه لري چې د نورو مهمو وزارتونو پلټنه وکړي. د عوایدو دا پلټنې په وزارتونو کې د ټولولو اغیزمنې پروسې پیژندلې چې کیدای شي د غیر ضروري کارونو مخه ونیسي. دې پلټنو دا هم موندلې چې د صلاحیت او تایید په پروسو کې دوه ګوني کارونو د ټولولو وخت ځنډنی کړی. کله چې د 2012 کال په پای کې د پلټنې ماده پیل شوه، دې دفتر په 23 وزارتونو کې د عوایدو د پروسې پلټنې بشپړې کړې دي، او څلور نورې اضافي تعقیبي پلټنې یې ترسره کړې.[229]

## د افغانستان د مالیې چارو مدیریت معلوماتو سیستم

د افغانستان د مالیې چارو مدیریت معلوماتو سیستم (AFMIS) د بودجې د ریاست په مرستې جوړ شوی او د اصلي بودجې د اداره کولو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. AFMIS مرسته کړې چې محاسبه، د اسنادو ساتنه، او روڼوالی په شمول د دې کارونو ښه کړي:[230]

- د حسابونو د یوه ستندرد پلان تطبیقول، چې دا کار د عوایدو او لګښتونو د ډیر ژرو معلوماتو راټولولو، او د میاشتې له پای څخه د 25 ورځو په موده کې د عملیاتي او پراختیایي بودجو میاشتني د مالي راپور خپرولو ته اجازه ورکوي
- د تخصیصونو د اضافي لګښت د مخنیوی لپاره د بودجې اتومات کنترولونه تطبیقوي
- د بودجې د تخصیصونو په اړه د کابل او ولایتونو ترمنځ ډیر ژر معلومات تبادله کوي، د بل یوه سیستم په پرتله چې د ځینو ولایتونو د لګښتونو لپاره له درې تر څلورو میاشتو ځنډ و

## ولایتي حکومتداري

د مهمو مرکزي وزارتونو ولایتي ریاستونه پرته لدې چې سیمیزو لمړیتوبونو ته پام وکړي، د ولایت په کچه اوس هم داچې سرچینې په څه ډول تخصیص ورکړ شي د اصلي پریکړو مسولیتونه لري. د کابل او د ولایتونو ترمنځ کمزورې همغږي او اړیکې دا ستونزه پیچلې کړې ده. د ولایتونو د بودجې امتحاني پروګرام، چې د مالیې وزارت لخوا په 2011 کال کې جوړ شو، د دې لپاره و چې د حکومت د بیلا بیلو پوړونو ترمنځ د بودجې پلان کول ښه کړي، مګر د فنډ د ستونزو له کبله له ځنډ سره مخ دي.[231]

# حکومتداري

## د ولسوالي حکومتداري

د ولسواليو ولسوالان له ولايتي چارواکو سره د همغږۍ او اړيکو نيولو په برخه کې لاهم ستونزې لري، او دا په ستراتيژيکو پلان کولو او د دوی د ولسوالی لپاره د بودجې په جوړلو کې د دوی د برخې اخيستنې مخه نيسي. د ولسواليو ولسوالان د خپلو پروګرامونو د فنډ لپاره پر نړيوالې ټولنې تکيه کوي او لکه ولايتي حکومتونو د مرکزي وزارتونو د بودجې د کنترول له کبله له ورته ستونزو سره مخامخ دي.[232]

د امريکا د دفاع وزارت په وينا، د افغانستان د حکومت لخوا نوی تاييد شوی د ولسوالی د استازيتوب د لار نقشه لمړی شرط و چې نړيوال د سيميزو ملي لمړيتوبونو پروګرامونه (NPP) تاييد کړي. د دې پلان پر اساس، د ولسوالی د همغږۍ لنډ محاله شورا (DCC) بايد جوړه شي تر څو په ځو بڼو د اوسنيو فعالو او د دوړنرانو لخوا د ولسواليو جوړ شوي استازيتوب بنسټونو ځای ونيسي. دا لنډ محاله شوراګانې به له معاشه پرته پخپله رضا بنسټونه وي، او د سيميزې حکومتداري د خپلواک رياست (IDLG) لخوا به يې مشري کيږي، او د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت به له پراختيايي مسلو سره مرسته کوي. دا شوراګانې د دې لپاره دي چې اوسنې، او له يوبل سره مخالفو سيميزو جوړښتونو ځای ونيسي. شوراګانې به اصلاً د شخړو د حل د جوړښتونو په بڼه خدمت کوي چې د پراختيايي پروژو لپاره پلان جوړوي، پرته لدې چې دا پلانونه تطبيق کړي. تمه کيده چې د شوراګانو دقيقه ونډه او مسوليتونه چې په واضح توګه تشريح شوې وي د افغانستان حکومت لخوا د 2012 کال په پای کې تاييد شي، او د 2013 کال په پای کې عمليات شروع شي. لدې وروسته، د افغانستان د اساسي قانون پر اساس د ولسوالی د شورا د لار نقشه به بشپړه کيږي، او دا به په ولسواليو کې د اساسي قانون د ولسواليو د شورا ټولټاکنو ته په رسمي توګه لار هواروي، او د افغانستان د اساسي قانون پر اساس، بايد په 2015 کال کې ترسره شي.[233]

## د افغانستان په جنوب کې حکومتي کنترول

په جنوب کې ښه امنيت د افغانستان له حکومت سره مرسته کړې چې ډير ښاري مرکزونه په لاس کې ونيسي، مګر په لرو پرتو سيمو کې لا هم د خلکو د کنترول لپاره له ياغي ډلو سره سيالي کوي.

## د هلمند ولايت

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، پدې ربع کې د هلمند په ولايت کې د افغانستان حکومت صلاحيت نسبتاً باثباته و. په مرکزي او جنوبي سيمو کې د ولايت د مرکز او ولسواليو د مرکزونو ترمنځ کلکې اړيکې تاسيس شوې، او سيميز چارواکې کولای شي په اغيزمنه توګه فعاليت وکړي. پدې سيمو کې، د افغانستان د حکومت چارواکې کولای شي چې د ولايتي بيا رغونې ټيم (PRT) او د ولسواليو بيا رغونې ټيمونو (DSTs) مرستې څخه پرته د حکومت خدمات وړاندې کړي. پردې برسيره، د سيميزو اداري چارواکو تخنيکي وړتيا هم ډيره شوې په ټوليزه توګه، په ولايت کې د حکومت اغيز پراخيږي، مګر په کابل کې وزارتونه بايد خپل فعاليتونه ښه کړي ترڅو اغيز وساتي او پراخ کړي. د بيلګې په توګه، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې تر ډيرې کچې بې اعتماده IDLG او د فنډ ورکولو غير منظم اندازې سيميزه حکومتداري بې ثباته کړې ده.[234]

پدې ربع کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د هلمند نوی والي او سيميز ملکي کارکونکي کولای شي په منظمه توګه جنوبي او مرکزي ولسواليو ته سفر وکړي. په کجکي او نوزاد کې اوس هم امنيتي ننګونې شتون لري، مګر سيميز چارواکي تر ډيرې

اندازې کولای شي چې دې سیمو ته د سړک له لارې سفر وکړي. د هلمند په شمال کې د ولسوالیو مرکزونه د افغانستان د حکومت تر کنترول لاندې دي، مګر لدې سیمو څخه د کنترول د پراخولو هڅې تر ډېرې اندازې بریالی نه وې. د طالبانو ناکاره حکومت په هلمند هیڅ ځای هم تر کنترول لاندې نلري، که څه هم دوی اوس هم شتون لري او د اغیز د ډیرولو او ساتلو لپاره عملیات ترسره کوي.[235]

## د کندهار ولایت

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان حکومت د کندهار د حکومتدارۍ لپاره خپله وړتیا ډیرولو ته دوام ورکړی، په ځانګړې توګه دا لدې کبله ده چې په سختو ولسوالیو کې امنیتي لاسته راوړنې درلودې. مګر، د حکومت ډیری دا کارونه د ولایت په مرکز او لویو ښاروالیو کې ترسره کیږي، او په لرو پرتو ولسوالیو کې حکومت کول او ساتل لا هم ډیر ستونزمن کار دی. په کندهار کې تراوسه داسې سیمې شته چې لږ حکومتداري لري، په ځانګړې توګه د زارې، پنجوایي، او میوند ولسوالیو، هغه ځایونه چې د طالبانو د بې کاره حکومت تر لاندې دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا ویلي چې په ټولیزه توګه داسې ښکاري چې په ولایت کې د افغانستان د حکومت اغیز د ډیریدو په حال کې دی.[236]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې په کندهار کې د امنیتي اوضاع ښه کیدل د افغانستان حکومت چارواکو ته اجازه ورکړې ترڅو پدې سیمه کې ډیرو سیمو ته ډیر سفرونه وکړي. د ولایت والي ویسا ډیرو ولسوالیو ته په آزاده توګه سفر کوي. سره لدې چې د اګست په میاشت کې د ولایت د پولیسو پر قوماندان رازق باندې په موټر کې د پټ شوي چاودیدونکو مواد یوه لویه حمله شوې، لوړ پوړي افغان چارواکي کولای شي چې د آیساف له ملاتړ څخه پرته سفر وکړي. مګر، د خپلو ولسوالیو پرځای او دا چې کیدای شي هلته امنیتي خطر شتون ولري، د ولسوالیو ډیر شمیر چارواکي د کندهار په ښار کې ژوند کوي.[237]

## د ولایتي بیا رغونې ټیم د سپارلو پلان

پدې ربع کې، ولسمشر کرزي IDLG ته دنده ورکړه چې د یوه کاري ګروپ مشري وکړي او له PRT څخه د افغانستان حکومت ته د واک د سپارلو لپاره میکانیزمونه جوړ کړي. د 2013 کال د جنوری په میاشت کې IDLG د ایتلاف هیوادونو ته وړاندیز کړی دی ترڅو د خپلو فعالیتونو په اړه د وزیرانو شورا ته معلومات ورکړي.[238]

## د امریکا د ثبات پروګرامونه

د امریکا د دفاع وزارات او USAID په نا امنه سیمو کې د افغانستان د حکومت د واک پراخولو لپاره د ثبات پروګرامونه ترسره کوي، د امنیت د بیرته شاتګ مخه نیولو سره مرسته کوي، او د سپارلو او اوږد مهاله پراختیا لپاره لار هواروي.[239]

USAID د ثبات څو پروګرامونه لري، لدې څخه درې لوی پروګرامونه یې د ټولنې د یووالي نوښت (CCI)، د ټولنې د پراختیا پروګرام (CDP)، او په مهمو سیمو کې د ثبات (SIKA) پروګرامونه دي.[240]

## د USAID د ټولنې د یووالې نوښت

د USAID ټولنې د یووالي نوښت غواړي چې د هغو سیمو قوت ډیر کړي چې یاغیان په آسانه توګه ورڅخه ګټه اخیستلای شي او دا کار د سیمې د مشرانو، عنعنوي حکومتداري جوړښتونو او د رسمي حکومت د اړیکو د ټینګولو له لارې ترسره کوي. دا پروګرام دا هم

غوارې چې د بیلا بیلو ټولنیو ترمنځ یووالی ښه کړي. دا پروګرام د 2012 کال د مارچ په میاشت کې پیل شو، د 161.5 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت قرارداد لري، او د افغانستان په ختیځ، جنوب او جنوب لویدیځو سیمو کې کار کوي. د نوښت تطبیق کونکی ملګری د نړیوالو اړیکو نوښت دی. د 2012 کال د دسمبر تر 12، د افغانستان د جنوب او ختیځ کې 44 پروژې د پراختیا، تطبیق او یا په 12 ولسوالیو کې د تړلو په حال کې وې. دا پروژې نږدې د 7,000 مشتریانو لپاره وې.[241]

USAID د ټولنې د یووالي د نوښت د پروګرام څو فعالیتونو ته اشاره کړې، پشمول د دې کارونو:[242]

- د "ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د نړیوالې ورځې" د پیژندلو لپاره د دوو ورځو د غونډې لګښت ورکول، چې کوربه یې د زابل او کندهار ولایتونو د ښځو د چارو ریاستونه و
- د خوست، غزني، او کنړ په ولایتونو کې د ځوانانو د سازمانونو لپاره د مرستو او مدني روزنې برابرول
- د افغانستان حکومت د ولسوالیو د عامه پوهاوي ملاتړ لپاره د ستراتیژیکو اړیکو فنډ برابرول
- د پروګرام په ولایتونو کې د ټولنې د یووالي د جرګو تطبیقول

USAID ویلي چې د افغان کارکونکو روزنه او استادی روزنه لدې کبله ستونزمنه وه چې په USAID کې د کارکونکو کچه کمه وه. د ټولنې د یووالي نوښت د فنډ د تادیاتو لپاره مضبوطه پروسه لري، لدې کبله چې هر فنډ په هر پوړ کې له ساحوي کارکونکو څخه نیولې تر عمومي ریس د ټولو کارکونکو لخوا تاییدیږي.[243]

لکه څنګه چې USAID د سپارلو د وخت په لور روانه ده، د ټولنې د یووالي نوښت هم د یوه خپلواک نظارت کولو واحد د آزموینې په لور روان دی. سپارل به د USAID د مدیریت پر ننګونو اضافه کړي، مګر نوی واحد به د لا نورې روڼوالی، حساب ورکولو، او تاییدولو معیارونو د تظمین، پشمول د لاسته راوړنو او ټولیز اغیز لپاره عمل وکړي.[244]

## د USAID د ټولنې پراختیا پروګرام

د USAID د ټولنې پراختیا پروګرام غواړي چې ثبات ته وده ورکړي او په مهمو سیمیزو بنسټونو کې د ټولنې د کارکونکو د لنډ محاله کار کولو له لارې د افغانستان حکومت څخه ملاتړ وکړي. دا پروژې د هلمند، کندهار، زابل، پکتیکا، پکتیا، خوست او غزني ولایتو کې د اوبو لګولو د سیستمونو، د سیمیزو فارمونو او مارکیټ ترمنځ سړکونه، عامه ودانۍ، او د اوبو د لارو پروژې دي. دا فعالیتونه د دې لپاره دي چې حکومتي چارواکي له سیمزو خلکو سره اړیکي پیدا کړي، او یوه نوي حکومت بنسټونو لپاره اعتبار برابر کړي. د 2012 کال د دسمبر تر 27 پورې، USAID دې پروګرام ته 256.5 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي.[245]

دا پروګرام پردې باندې کار کوي چې د اردو له عملیاتو وروسته ټولنیزې پروژې تطبیق کړي او نورمال حالت بیرته راوړي. لکه څنګه چې ټینګار پردې باندې دی چې د حکومت او خلکو ترمنځ اړیکي ټینګې شي، دا پروګرام د افغانستان چارواکو ته په پراختیایي پروګرام کې نږدې ونډه ورکوي. د سیمیزو پراخ ګډون په پلان کولو او د ټولنې د بنسټیزو پروژو په

بشپړولو کې دا مرسته هم کوي چې د دې پروژو د دوام تظمين کولای شي. د 2012 کال تر دسمبر پورې، د ټولنې د پراختیا پروګرام له 321 څخه ډېرې د ټولنې د ثبات پروژې پې تطبق کړې دې، د حکومت د بنسټونو او موکلینو تر منځ یې واټن کم کړی، او په بیخې نا امنه ځایونو کې یې د فیزیکي کارونو له لارې 13.3 میلیونه کاري ورځې منځ ته راوړې.[246]

## د USAID په مهمو سیمو کې د ثبات پروګرام

د USAID په مهمو سیمو کې د ثبات پروګرام (SIKA) دې لپاره پلان شوی چې په نښه شویو ولسوالیو کې حکومتداري او د خدمات رسول ښه کړي ترڅو د یاغیتوب اغیز کم کړي او د سپارلو لپاره لار هواره کړي. دا پروګرام څلور سیمیزې برخې لري: SIKA لویدیځ، ختیځ، شمال، او جنوب. دې پروګرام په 2012 کال کې په کارونو پیل کړی، او USAID دې پروګرام د 2012 کال تر دسمبر پورې 57.6 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي. د SIKA ټوله اټکل شوې بودجه 203.2 میلیونه امریکایي ډالر ده. SIKA د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارت (MRRD) سره او د سیمیزې حکومتداري خپلواک ریاست (IDLG) سره له نږدې کار کوي. د دې پروګرام کارونه داسې ډېزاین شوي چې د سیمیزو اوسنې بنسټونه لکه د ټولنې پراختیا شورا او د ولسوالیو پراختیایي شوراګانې ځواکمنې کړي چې د سیمې د خلکو اړتیاوې له پراختیایي پروژو سره نښلوي.[247]

## د کلي د ثبات کارونه

د امریکا د دفاع وزارت د کلي د ثبات کارونو (VSO) پروګرام او د افغانستان سیمیز پولیس (ALP) پروګرام د یاغیتوب پر ضد پروګرامونه دي او داسې پلان شوي چې د کلیو په کچه د سیمیزې حکومتدارۍ میکانیزمونه بیرته تاسیس کړي، پداسی حال کې چې دا غیر رسمي سیستم د افغانستان د ولسوالۍ حکومت له رسمي سیستم سره نښلوي. د کلي د ثبات پروګرام د امنیت د ښه کولو له لارې سیمیز حکومت ته وده ورکوي تر څو پراختیایی کارونه ترسره شي. په پای کې، د VSO او ALP د پروګرامونو بریا د افغانستان د افغانانو له توان سره تړاو لري ترڅو د سیمې امنیت کنټرول پخپل لاس کې واخلي او له خپل حکومت سره اړیکې ونیسي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، په هغو سیمو کې چې VSO کار کوي، د حکومت فعالیتونه معمولاً ډېر دي او د سیمې خلک د طالبانو پروړاندې تر هغو سیمو چې پروګرام نلري ډېر مقاومت ښیې.[248]

## د امریکا د عامه ادارو د ظرفیت لوړولو پروګرامونه

د افغانستان د بشري قوا پراختیا د امریکا د بیا رغونې د هڅو مهمه موخه ده. امریکا د افغانستان د ملي، ولایتي او سیمیزې حکومتداري د ظرفیت د لوړولو په برخو کې څو پروګرامونه تطبیقوي. دا لاندې برخه د دې هڅو په اړه ده:

## د IARCSC بودجې پر اساس د USAID مرسته

USAID د افغانستان حکومت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC) ته د بودجې پراساس ملاتړ وړاندې کوي. د USAID په وینا دې مرستې له کمیسیون سره مرسته کړې ده تر څو د افغانستان د ملکي خدماتو په جوړښت کې اصلاحات راولي. د 2012 کال دسمبر تر 30 پورې، IARCSC ته USAID له 10 میلیونو امریکایي

ډالرو څخه 7.25 میلیونه امریکایي ډالر له فرعي لارې ورکړي دي. د USAID په وینا، دې ملاتړ له IARCSC سره مرسته کړې ده چې د 2012 کال په پای کې له 23 څخه خپلو 20 نښو ته ورسیږي. دې کمیسیون د اصلاحاتو په بنسټیز کولو کې، د مالي مدیریت لپاره د پالیسیو او طرزالعملونو جوړولو کې، تدارکاتو، او بشري قوې برخو کې ډېر پرمختګ کړی دی، او کارکونکو ته یې د نویو پالیسیو او طرزالعملونو په اړه روزنې او لارښونې ورکړې دي. دې کمیسیون د شتمنی کنټرولولو، مدیریت، او د غیر منقولو شتمنیو د خرڅولو لپاره هم د حسابولو د مدیریت پالیسي جوړه کړې.[249]

دا اصلاحات په ملي او سیمیزه کچه وزارتونو ته دا توان ورکړی چې د اسنادو د ښو ساتلو، معلوماتو اداره کولو او د فعالیت پر اساس د ارزونې یوه نوې سیستم له لارې د خپلو ملکي کارکونکو څخه په ښه توګه مدیریت وکړي. دې کارونو وزارتونو ته دا اجازه هم ورکړې چې په نا امنه ولایتونو کې ملکي کارکونکي استخدام کړي. د ولسمشر کرزي فرمان 45 (PD45) په ځواب کې، چې کرزي په تیر ربع کې خپور کړی تر څو حکومتداري او د فساد ضد هڅې ښه کړي، کمیسیون د حکومت د وزارتونو، ادارو، او ملکي خدماتو د اندازو او جوړښتونو په اړوند د قانون مسوده جوړه کړې ده. ولسمشر د عمومي آزموینې اخیستلو له لارې د ملکي کارکونکو استخدام لپاره یو میکانیزم تایید کړی دی.[250]

## د USAID سیمیزې حکومتداري پروګرام

د 2012 کال د جولای په پیل کې، USAID د سیمیزي حکومتداري د جوړښت د پروژو ملاتړ لپاره د 2012 کال له جولای څخه د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې خپل فنډ ډېر کړی او غزولي. د پروژې د فنډ لوړه کچه هم له 12 میلیونو امریکایي ډالرو څخه 20.9 میلیونو امریکایي ډالرو ته ډېره شوه. د USAID په وینا، دا پروژه د 34 ولایتونو د ولایتي شوراګانو د ظرفیت لوړلو او د IDLG لپاره د تخنیکي مرستو برابرولو برخو کې خپلو کارونو ته دوام ورکوي. دې پروګرام د ولایتي شوراګانو ظرفیت ښه کړی ترڅو په پراختیایي پلانونو کې د خپلو موکلینو له ګټو څخه استازیتوب وکړي. او له ولایتي شوراګانو سره د ولایتونو د پراختیایي پروژو د تطبیقولو پروسو د نظارت په برخه کې هم مرسته کوي. دا پروژه د سیمیزې حکومتداري لپاره د NPP له یوې برخې څخه په مستقیمه توګه ملاتړ کوي. پدې ربع کې، دې پروګرام د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې په بیلا بیلو موضوعګانو باندې عامه اوریدنې، د ساحو څخه لیدنې، د غیر حکومتي ادارو څخه لنډ راپورونه، او په سیمه کې سفرونه تر سره کړي.[251]

## د مدني ټولنې د تحول لسیزه

USAID تمه لري چې تر 2024 کال پورې، افغاني ډلې به وکولای شي چې سره منظم شي او له حکومت څخه د ښه حکومت کولو غوښتنه وکړي. د ټوکیو اعلامیې د بشري حقونو پر ښه کولو، ښې حکومتداري، او دوامداره ټولنیز، اقتصادي، او دیموکراسۍ پراختیا لپاره پر یوې ګټورې مدنې ټولنې او پراخو خبرو باندې ټینګار کړی. USAID ویلي چې غواړي د مدني ټولني سازمانونو سره مرسته وکړي ترڅو خپل نظارتي فعالیتونو ته وده ورکړي، او د همکارۍ او هڅولو له لارو د پالیسی پر جوړونکو او د خدماتو رسولو باندې اغیز ولري، ترڅو د ټوکیو د کاري جوړښت د موخو تطبیقولو سره مرسته شوې وي. USAID پلان لري چې د مدني ټولنو ځواکمنو او حساب ورکونکو سازمانونو ته وده ورکړي ترڅو د حکومت او خلکو ترمنځ

فعاله ملګرتيا رامنځ ته کړي. دا کار به هڅه وکړي چې بشري حقونو، د قانون حاکميت او د بيان آزادی ته به وده ورکړي. د مدني ټولنې پروګرام به د تحول په لسيزه کې د جندر د مساوات د ښه کولو لپاره د يوې مهمې موخې په توګه خپل کار ته دوام ورکړي.[252]

## د قضا اصلاح او قانون حاکميت

د امريکا د دفاع وزارت په ويناو، پدې نږدې مياشتو کې د قضا له څانګې سره د نړيوالو مرسته ډيرې روزنې او په سيمزه کچه د کارکونکو او قاضيانو استخدامولو ته اجازه ورکړې ده. مګر، د دې لپاره چې افغانستان يو ځواکمن او دوامداره قضايي سيستم ولري، ډيرې مهمې ستونزې لا هم شته چې بايد حل شي.[253]

په ځانګړې توګه د ولسواليو په کچه، د قانون د حاکميت د پراخولو مخه نا امنې نيولې ده. د قضا په رسمي سيستم کې د دعوو په حل کولو کې اوږد ځنډ د دې سبب شوی چې په لرو پرتو سيمو کې افغانان دې سکتور ته د غيرفعال او له لاس رسی ليري په سترګو وګوري.[254] پردې برسيره، پراخ فساد او کم روڼوالی په خپلو پښو ولاړ او دوامداره قانون حاکميت د ودې پر وړاندې خنډونه دي.[255] پردې برسيره، د امريکا دفاع وزارت ويلي چې د افغانستان حکومت سياسي اراده نلري ترڅو قضايي پروګرامونو باندې کار وکړي او وساتي او دا د قضا وده له خنډ سره مخ کړي.[256] USAID ويلي چې قضا هم په پوره اندازه سياسي اراده نلري ترڅو په حقيقت له اجرايه قوې څخه جلا خپلواکه قضا تاسيس کړي.[257] او د امريکا د دفاع وزارت په وينا د قانون د حاکميت فعاليتونه بايد د سپارلو په ټولو هڅو کې شامل شي او په هغو ځايونو کې به ډيره بريالی وي چې ښې حکومتداري ثبات راوړي.[258]

که څه هم د افغانستان حکومت او نړيوالې ټولنې قانون او عدالت د ټولو لپاره د NPP په توګه پيژندلي، مګر دوی پر يوه داسې مشخص پروګرام موافقه نده کړي چې د لار يوې ښکاره او د تاييد وړ نقشې بنسټ کيږدي ترڅو د افغانستان د قضا سيستم ښه کړي. پدې ربع کې، د قضا د پروګرام د نه بشپړيدو په اړه د ډونرانو خپګان سبب شو چې د اروپا ټولنه ووايي چې ترڅو چې دا پروګرام تاييديږي خپل راتلونکی فنډ به د دې سکتور لپاره وځنډوي.[259] د NPP ټول پروګرامونه بايد د 2011 کال تر جولای تاييد شوي وای.[260] د ملګرو ملتونو عمومي منشي ويلي چې د پروګرام پيچلتيا او لويه اندازه ننګوني وړاندې کوي، مګر د 2013 کال په پيل کې د NPP تاييد لپاره هيلې شتون درلود.[261]

### د طالبانو عدالت

د رسمي او غير رسمي سيستمونو په منځ کې کمزوری، او د دواړو سيستمونو په منځ بې اغيزې اړيکې، سبب شول چې ډيری افغانان د خپلو شخړو د حل لپاره طالبانو ته ولاړ شي. د طالبانو پروسه د دين د اصولو پر اساس ولاړه ده، مګر چټکه هم ده، پلې کيږي، او د افغانانو په آند تر رسمي سيستم کم فساد لري.[262]

### د جزايي اجراتو قانون

پدې ربع کې، د افغانستان حکومت ونشو کړای چې د جزايي اجراتو نوی قانون تاييد کړي. د امريکا د دفاع وزارت له پارلمان سره د نوي قانون په اړه همغږی کوي. د 2010 کال د کابل په کنفرانس کې حکومت ژمنه وکړه چې د 2011 کال په پيل کې به نوی قانون تاييد کړي.[263]

## د امریکا د قضا سکتور ملاتړ پروګرام

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کولو دفتر (INL) د قضا سکتور ملاتړ پروګرام (JSSP) مدیریت کوي. JSSP څارنوالانو، مدافع وکیلانو، تحقیق کونکو، او قاضیانو ته روزنه ورکوي، او موخه یې داده چې د جزایي قضا سیستم عمومي ظرفیت ته په وده ورکوي. د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د JSSP لپاره 212.7 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي، چې لدغو څخه تر 186 میلیونو امریکایي ډالر ډیر لګیدلي دي. JSSP 154 کارکونکي څارنوالان لري، پشمول د 113 افغانانو او 41 امریکایانو او د دریمو هیوادونو وګړي حقوقي مشاورین.[264]

پدې ربع کې، د افغانستان د حقوقي متخصیصینو لپاره د JSSP په روزنې او استادی کورسونو کې دا شامل و:[265]

- په کنړ کې د 35 زده کونکو لپاره د فساد ضد سیمینار چې له مخبرینو او د ثبت کولو له وسایلو پر کار اخیستنې، د څارنې طرزالعملونو، او د تلاشی لپاره د اجازې اخیستلو په اړه و
- JSSP او د افغانستان د عدلیې وزارت (MoJ) په انترنت کې د معلومات د بانک جوړلو چې په ټول هیواد کې د عدلیې وزارت د حقوقي مرستې د ریاست د څارنوالانو روزني او ورکشاپونه ساتي، ترڅو دا ریاست د خپلو کارکونکو د اړتیاو د روزنې او محال ویش لپاره لدې معلوماتو ګټه واخلي
- په وردک ولایت کې د 41 قضایي متخصیصونو د هیواد د انسانانو د قاچاق د قانون په اړه روزنه (لکه څنګه چې د سیګار د تیر ربع په راپورونو کې راغلي، افغانستان د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د انسانانو د قاچاق په دویمه درجه د نظارت په لست کې دی، او یوه برخه یې داده چې د قانون پلې کول یې کمزوری دی).
- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون، له کوره تیښته، او په جبر ودونو په اړه د 17 برخه اخیستونکو لپاره په کندز کې سیمینار

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلې چې د پروګرام افغان حقوقي مشارین په بشپړه توګه د JSSP د روزنو مشرې کوي. د پروګرام د اغیزمنتیا د اندازه کولو په توګه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2012 کال د اکتوبر په میاشت کې د روزنې په پروګرامونو کې برخه اخیستونکو د پیل د آزموینې په پرتله له روزنې وروسته په آزموینه کې 20.5% پورته نمرې اخیستې.[266]

## د حقوقي روزنې پروګرام

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت INL د افغانستان په پوهنتونونو کې د عنعنوي حقوقي روزنې د اصلاح پروګرامونو تطبیقوي ترڅو د افغانستان د وکیلانو تجربو ته وده ورکړي. د افغانستان عنعنوي حقوقي روزنه عموماً پر میخانیکي حفظ کولو تکیه کړي او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا د څو اړخیزې او عملي روزنې کم فرصتونه لري. د INL حقوقي روزنې پروګرام د افغانستان له عامه او خصوصي پوهنتونونو، د امریکا د قانون مکتب، او حقوقي متخصیصیونو سره ملګرتیا کوي، ترڅو یوه حقوقي روزنیز سیستم ته وده ورکړي او د هیواد دننه او په بهر کې د افغانستان حقوقي متخصصینو لپاره د روزنې فرصتونه برابر کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د قضا سیستم ساتنه پر ښه روزل شویو وکیلانو او حقوقي ښوونکو باندې تکیه لري. په اصلي حقوقي روزنیزو پروګرامونو کې دا شامل دي:[267]

- د افغانستان د حقوقي روزنې ملاتړ پروګرام: دا پروګرام، د واشنګټن د پوهنتون د قانون مکتب سره ملګرتیا لري، او د 2012 کال د مارچ په میاشت کې پیل شوی او د 13 میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت د 2017 کال تر اګست پورې دوام لري. له پروګرام څخه افغان فارغ التحصیلان د افغانستان په هر عامه پوهنتون کې د شرعیاتو او حقوقو په فاکولتو کې خدمت کوي. دا پروګرام په عامه پوهنتونونو کې د زده کونکو او فاکولتو لپاره په انګلیسي ژبه حقوقي روزنه هم برابروي.
- د افغانستان حقوقي روزنې پروژه: د پنځو کلونو دا پروګرام، چې د ستانفورد له پوهنتون سره په ملګرتیا تطبیقیږي، د 2012 کال د اګست په میاشت کې پیل شو او 7.3 میلیونه امریکایي ډالر اټکل شوی لګښت لري. د پروګرام موخه داده چې د افغانستان د امریکا په پوهنتون کې په لوړ کیفیت د حقوقو د لیسانس پروګرام جوړ کړي.
- په افغانستان کې د حقوقي اصلاحاتو لپاره عامه او خصوصي ملګرتیا: دا ملګرتیا په هر کال کې د نږدې 10 افغانانو لپاره بشپړ اکاډمیک سکالرشیپ برابروي ترڅو د امریکا د حقوقو په مکتبونو کې روزنې وکړي.

## د USAID د قانون د حاکمیت د ثبات پروګرامونه

د رسمي او غیر رسمي قضایي سکتور لپاره د USAID د قانون د حاکمیت د ثبات پروګرامونه چې غواړي د قضا یو رسمي سیستم چې غیر رسمي سیستم چې د هیوا په ډیرو لرو پرتو سیمو کې کنټرول لري هم ورسره یوځای کړي او پیژني، جوړ کړي. د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، د رسمي او غیر رسمي پروګرامونو لپاره تر 14 میلیونو امریکایي ډالرو ډیر مکلف شوي دي.[268]

### د USAID د رسمي قانون د حاکمیت د ثبات پروګرام

USAID د رسمي پروګرام په فعالیتونو کې د څو مثبتو پایلو یادونه کړې، پدې کې د هیواد له 1,800 قاضیانو څخه 790 قاضیانو ته د دوو کلونو د روزنې پروګرام شامل دی. دې پروګرام 600 قاضیانو ته د عملي قانون، قضایي اخلاق، او د ښځو حقونو په برخو کې هم روزنه ورکړې ده. پردې برسیره، د پروګرام لخوا روزل شوي 130 قاضیان په هغو سیمو کې چې پخوا یې کارکونکي ندرلودل په دندو وګمارل شي.[269]

پر لاسته راوړنو برسیره، کیدای شي د USAID د رسمي سکتور پروګرام د ساتنې له ستونزو سره مخامخ شي، کله چې د ډونرانو سرچیني کمې شي او حکومت قضایی روزنې ته لمړیتوب ورنکړي. لکه د قضایي سکتور نورې ډیرې روزنې، د USAID فنډ تر ډیرې کچې د دوو کلونو د پروګرام ملاتړ کوي. د افغانستان حکومت د مالي چارو قضایي روزنې مسولیتونه اخیستلو لپاره ډیره کمه لیوالتیا ښودلې ده. پردې برسیره، د قضا ډیری استادان نه غواړي چې د هیواد نا امنه ځایونو ته سفر وکړي. پردې برسیره، په قضا کې د پراخ فساد له کبله د USAID د روزنې پروګرامونو ډیری فارغ التحصیلان مجبوره کړي چې یا قضا پریږدي او یا له فاسد سیستم سره ځانونه عیار کړي ترڅو له ستونزې سره مخ نشي.[270]

د USAID په وینا، د USAID رسمي پروګرام حقوقي روزنه هم برابروي، چې د حقوقو او شرعیاتو د نصابونو په نوي کولو او ستندرد کولو کې یې ډیرې لاسته راوړنې درلودلې. دې

پروګرام د حقوقو په اوو مکتبونو کې د خیالي محکمې ټیمونه جوړ کړي، حقوقي کلنیکونه یې تاسیس کړي، د حقوقو د مکتبونو د کتابخانو ظرفیت یې لوړ کړی، او د حقوقو مکتب فاکولټې ته یې روزنه ورکړې چې له څو اړخیزو عصري روزنیزو میتودونو څخه ګټه واخلي. USAID ویلي چې پداسې حال کې چې زده کونکي د حقوقي روزنو لپاره ډېره غوښتنه لري او پداسې حال کې چې د حقوقي روزنې لپاره سیاسي اراده څواکمنه ده، په حقوقي روزنې کې د ښځو ګډون قوي نه و. ډېرې ښځې په حقوقي روزنو کې نومونه لیکي، مګر ډېری وختونه کلتوري خنډونه میرمنې له عملي روزنیزو فرصتونو څخه لرې کړي.[271]

### د USAID غیر رسمي د قانون حاکمیت د ثبات پروګرام

د USAID غیر رسمي پروګرام په سیمیزه کچه له حقوقي چارواکو سره او د غیر رسمي قضایي کارکونکو، لکه د کلیو مشرانو او ملایانو سره کار کوي، ترڅو د غیر رسمي او رسمي سیستمونو ترمنځ اړیکي ښې کړي. USAID ویلي چې د دې غیر رسمي سیستم شپږ ټولنیز مرکزونه تاسیس کړي ترڅو د حقونو په اړه د خلکو پوه ډېره کړي، د افغانستان د قانون د مهمو اصولونو په اړه یې 20,000 خلک روزلي، او د ښځو د شخړو د حلولو ډلو سره یې مرسته کړې چې 486 شخړې حل کړي چې کیدای شو په تاوتریخوالي واوړي.[272]

د شخړو د حلولو له عنعنوي سیستم سره د ملي حکومت پراخه دښمني، پدې برخه کې د USAID کار په دوامداره توګه له خنډ سره مخامخ کړي. د افغانستان د عدلیې وزارت او ستره محکمه پدې باور دي چې عنعنوي سکتور په منظمه توګه له اساسي قانون څخه سرغړونه کوي او دوی یې غیر مشروع ګڼي. دا له دښمنۍ ډک دریځ د پروګرام توان محدودوي ترڅو له ملي ملګرو سره پر پروژو باندې خبري وکړي. پردې برسیره، ولایتي چارواکي له غیر رسمي پروګرام څخه دوامداره ملاتړ ندی ښودلی. د بیلګې په توګه، د کندهار والي په عامه توګه پروګرام رد کړ، او یوواځې وروسته لدې یې موافقه وکړه چې PRT او د پروګرام استازو د ده اندیښنې کمې کړي. په ډېرو ولسوالیو کې چیرته چې پروګرام شتون لري ناامنې هم د پروګرام تطبیقول له ننګونو سره مخامخ کړی.[273]

## د افغانستان د بندیخانو سیستم

له 2007 کال څخه تر 2012 کال پورې د افغانستان د بندیخانو نفوس په عادي توګه په هرکال کې 17% ډېر شوی. د 2013 کال تر جنوري پورې، د افغانستان په بندیخانو کې 25,735 بندیانو ژوند کاوه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د قضا سیستم کې د ظرفیت نشتون، او د بندي کولو پرځای د بلې چارې لپاره نه لیوالتیا هغه اصلي لاملونه دي چې د بندیخانو نفوس یې ډېر کړی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان له حکومت سره کار کوي ترڅو د بندي کولو پرځای له نورو چارو څخه ګټه واخیستل شي او د بندي کولو لارښونې تعدیل شي ترڅو د بندیخانو نفوس کم شي.[274]

د اصلاح سیستم د ملاتړ پروګرام (JSSP) د مشاورینو او د INL د پروګرام د کارکونکو او نور ناظرینو د راپورونو پر اساس، له بندیانو سره د مرکزي بندیخانې ریاست (CPD) د کارکونکو چلند تخصصي او مناسب دی. د CPD د تاسیساتو په منځ کې میرمنې عموماً په کورونو کې ژوند کوي او له نارینه بندیانو له لیدلو او اوریدلو لیرې دي. مګر میرمنې هم له ورته تاسیساتو او د ډېرو بندیانو ورته شتون څخه ستونزمنې دي، او د افغانستان په بندیخانو



**ځرخي پله بنديخانه**، چې د افغانستان لويه بنديخانه ده، کابل ته څېرمه پرته ده.
(د امريکا د بهرنيو چارو وزارت عکس)

د ښځو د اصلاح لپاره ډېر لږ حرفوي پروګرامونه شتون لري. پردې برسېره چې INL د CSSP لپاره مشاورين او مواد برابروي، هڅه کوي ترڅو د وړو فنډونو له لارې د داسې پروګرامونو جوړول وهڅوي.[275]

ځواني انجوني بندياني عموماً له نارينه و ښځه جلا د ځوانانو د اصلاح په مرکزونو (JRCs) کې بندي دي، چې د ځوانانو د اصلاح د رياست لخوا پرمخ وړل کيږي. له کابل او هرات څخه مستثنې، په ولايتونو کې JRC له کرايه شويو کورونو څخه کار اخلي او کمزوري خدمات او اړتيا کم خدمات لري. پدې تاسيساتو کې، د روزنې او تفريح پروګرامونو لپاره ځای ډيرى وخت ډېر محدود دی، او ټولنيزو خدماتو ته لاس رسی هم ډېر کم ترلاس کيږي.[276]

## د امريکا د اصلاح سيستم ملاتړ پروګرام

د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د INL، CSSP نږدې 202.6 ميليونه امريکايي ډالر لګولي دي ترڅو د افغانستان د بنديخانو سيستم ښه کړي. دا مرستې د بنديانو لپاره د اصلاح او روزنې فرصتونه، او د بنديخانې د روزنې مديريت او مشورتي ملاتړ ته فنډ ورکوي. پردې برسېره 33.5 ميليونه امريکايي ډالر د بنديخانو او توقيف خانو د مرکزونو د جوړلو لپاره لګېدلي.[277]

CSSP خپلو کارونو ته د بنديخانو د عمومي رياست او د توقيف خانو د بنسټونو او د مديريت د دوام د ټولو کارونو ښه والي په برخو کې خپلو کارونو ته دوام ورکوي. INL په راتلونکي کې پلان لري ترڅو د افغانستان د بنديخانو لپاره د مستقيمو فنډونو او سيميزو تطبيق کونکو له لارې ملاتړ برابر کړي ترڅو لګښتونه کم شي او د کارونو د ساتنې ملاتړ وشي.[278]

## د فساد ضد

پدې ربع کې، نړیوال شفافیت خپلو وروستی راپور د فساد په اړه د نظر راپور خپور کړ، او پدې کې ویل شوي چې د افغانستان په عامه سکتور کې فساد اوس هم یو لویه ستونزه ده. تیر کال افغانستان د فساد په لست کې په دریمه درجه کې راغلی و. پدې کال کې افغانستان له سومالیا او شمالي کوریا سره یوځای و چې د فساد په برخه کې متخصصینو په نړی کې د ډیرو مفسدو هیوادونو درجه ورکړې.[279] په یوه جلا سروې کې چې په افغانستان کې د آسیا د بنسټ لخوا ترسره شوې، لکه څنګه چې پدې عکس کې ښودل شوي، نږدې افغانان 80% په ملي حکومت کې فساد ته د ډیرې لویې ستونزې په بڼه ګوري. عکس 3.30.

د افغانستان د شفافیت او حساب ورکولو د ایتلاف په وینا، د مالي وزارت لخوا په وړاندې شوې بودجه کې د فساد سره د مبارزې لپاره هیڅ تخصیص نه و، سره لدې چې نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې چې د مالیې وزارت دې د حکومت اعتبار یو لمړیتوب کړي. ایتلاف ویلي چې دا سند ښیي چې کومه ښکاره موخه نشته چې له فساد سره مبارزه وشي او د افغانستان حکومت خپلې هغه ژمنې پوره کړي چې د 2012 کال د جولای د ټوکیو په کنفرانس کې یې کړې وي. ځینو افغان قانون جوړونکو د ایتلاف دا موندنې غندلي او ویلي چې دا ناسمې دي.[280]

عکس 3.30

**د هغو افغانانو سلنه چې فکر کوي اداري فساد د افغانستان په بیلابیلو اړخونو کې یوه لویه ستونزه ده**




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. د سروې د غلطی کچه مثبت یا منفي 5.1% ده.
[a] په 2006 کال کې، ځایي مقاماتو د اداري فساد په اړه له مسولینو څخه ندي پوښتلي.
سرچینه: آسیا فونډیشن، ”افغانستان په 2012 کال کې، د افغان خلکو یوه سروې،“ 11/2012.

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

سره لدې چې امریکا او نړیواله ټولنه د هغو لوړ پوړو چارواکو چې په فساد کې مجرم ګڼل شوي د جزا ورکولو پرمختګ ته ډېر اهمیت ورکوي، د افغانستان د لوی څارنوال دفتر (AGO) پدې ربع کې د فساد ضد هیڅ مهم تور یا محکمه نده ترسره کړې. د افغانستان څارنوالانو اوس هم شکایت کوي چې د دوی آمرین له محاکمه کولو څخه ملاتړ نه کوي.[281]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د لوی څارنوال دفتر د فساد ضد په واحد (ACU) کې د څارنوالانو یوې ډلې د واحد عمومي ریس ته الکل ورکړي او هغه یې هڅولې چې په لوی څارنوال باندې ملنډې ووهي او دا پیښه یې په ویډیو کې ثبت کړې. دا د هغه د نیولو سبب شوی او وروسته له دندې څخه لرې شوی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې که څه هم د هغه ځای ناستی د ښه شهرت خاوند دی، دا که په همدې ډول د کور دننه سیالی او توطیې رواني وي، دا به د ACU لپاره ستونزمنه وي چې په اغیزناکه توګه فعالیت وکړي، پردې برسیره، د تخصیص ورکړ شویو منابعو نشتون او د حکومت په لوړو پوړونو کې نامناسبه سیاسي اراده، د قضیو د تحقیق او محاکمه کولو لپاره د دې واحد توان ډېر محدود کړی. پردې ستونزو برسیره، د امریکا د بهرنیو او عدلیې چارو وزارتونه غواړي چې له ACU سره خپلو کارونو ته دوام ورکړي او د تحقیق کولو او محاکمه کولو د توان د لوړولو لپاره یې روزنې او عملي کارونه برابر کړي.[282]

د افغانستان د لوی څارنوال دفتر ادعا کړې ده چې د ولسمشر کرزي د فساد ضد او حکومتداري له فرمان (PD45) څخه د اطاعت په برخه کې پرمختګ کړی، مګر دا ادعا د بهرنیو چارو وزارت د نظر ښکارندویي نکویي او مهم حقیقتونه له پامه غورځوي. د بیلګې په توګه، د لوی څارنوال دفتر مسولیت لري چې د فساد په اړه تورونه صادر کړي، مګر د کابل بانک په توطیې کې دوه مهم شریکان، د ولسمشر کرزي ورور او د ولسمشر د معاون فهیم ورور، د کابل بانک د له منځه تلو د جرم د تور په اړوند لست کې نه و راغلي. د امریکا د بهرنیو چارو وزرات په وینا، داسي ویل کیږي چې لوی څارنوال د حکومت یو با اعتباره عامه خبرونکی د لویې څارنوالی له دفتر څخه لرې کړی، او دا دې لپاره و چې دې چارواکي غوښتل د حکومت د لوړ پوړو چارواکو پر وړاندې د فساد قضیې جوړې کړي. لوی څارنوال د دې عامه خبرونکي پر وړاندې تورونو راوړل چې وزارتونو شهرت ته زیان رسوي او د پارلمان پر وړاندې یې په فساد تورنوي.[283]

پداسې حال کې چې د پولیس قوماندان او د مالیې ریس ته په ډېر بند جزا ورکړ شوه (هر یوه د شپږو او 10 کلونو بند)، والي له دوو میاشتو بند وروسته له بنده خلاص شو.[284]

## د ځانګړو قضیو کمیټه

د ځانګړو قضیو د کمیټې (SCC) له تاسیس څخه نږدې یو کال وروسته، د فساد د مهمو قضیو د محاکمه کولو په برخه کې یې ډېر پرمختګ ندی کړی. SCC وکولای شول د اردو د ملي روغتون د قضیې په اړوند څو ټیټ پوړې افسران له صلاحیت څخه د غلطۍ کار اخیستنې چې پدې کې د 120 امریکایي ډالرو په ارزښت دواګانې شاملې وې، په کمو تورونو محاکمه کړي. دا کسان د دریو میاشتو د محدودیت (له هیواد څخه پر وتلو محدودیت) او له دندې څخه د دریو کلونو تعلیق جزا ورکړ شوه. مګر، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په

**د ځانګړو قضیو کمیټه (SCC) د 2012 کال په جنوری کې جوړه شوه او د افغانستان او نړیوالې ټولنې د ګډ میکانیزم په توګه کار کوي ترڅو په مهمو عامه قضیو کې له لویې څارنوالی سره مرسته وکړي، او دا کار لدې وروسته وشو چې لویې څارنوالی ونشو کړای ډیری پخوانی قضیې محاکمه کړي. د SCC په کمیټه کې د نړیوالو مشاورینو او د امریکا د کارکونکو ونډه داده ترڅو د لوی څارنوال له دفتر سره په غوره شویو او د ځانګړې پاملرنې پر قضیو کار وکړي او که ملاتړ کونکي شواهد شتون ولري تحقیق کولو او محاکمه کولو ته سرچینې برابرې کړي. پردې برسیره، نړیوال مشاورین د لوی څارنوال له دفتر سره کار کوي ترڅو د تحقیقونو او محاکمه کولو لپاره ستراتیژی جوړې کړي. د نړیوالې ټولنې ملګرو د لوی څارنوال له دفتر سره دا مرسته هم کوي چې د پام وړ قضیو د پرمخ وړلو لپاره د نړیوالې ټولنې سره معلومات او شواهد هم ورکړي.**

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 7/5/2012.

# حکومتداري

په 2011 کال کې، مطبوعاتو د داود خان د ملي اردو د کابل په روغتون کې د مریضانو لپاره د ډیرو ناوړو حالتونو په اړه راپور ورکړی. پراخ فساد د دې سبب شو چې د امریکا فنډونو او د روغتون د عملیاتو د ملاتړ لپاره روغتیایي تجهیزات غلا شي. پردې برسیره، ناروغانو ته ډیرې وختونه روغتیایي خدمات نرسیدل، ځکه چې د دوی کورنیو د روغتون کارکونکو ته رشوت نه ورکاوه. د افغانستان په دفاع وزارت او ملي اردو کې چارواکو، او د ملي اردو سرطبیب، جنرال یفتلي، پدې غلا کې شریک گڼل شوي. د امریکا د اردو ځینې چارواکې هم تر غندنې لاندې راغلي چې دوی باید تحقیق کړی وای او د دې غلا مخه یې نیولې وای.

وینا، د افغانستان د دفاع وزارت او MACU پدې قضیه کې د هیڅ یوه لوړ پوړي چارواکي پر وړاندې تور ندی راوړی. د MACU څارنوالانو ادعا کړې چې لږ تر لږه دوه تورونه تیار دي چې پر سرطبیب باندې راوړل شي. مگر، د څارنوالانو د آمرینو لخوا ځنډ او د نړیوالې ټولنې ناتوانې چې د اردو لپاره د ورکړ شویو موادو مشخص قیمت برابر کړې چې ادعا کیږي په روغتون کې د انفرادي کسانو لخو غلا شوي، تحقیق له ځنډ سره مخامخ کړی. د اردو د روغتون له کارونو پرته، د 2012 کال په پای کې د SCC لخوا د ارزونې لپاره له اصلي قضیو څخه پر هیڅ یوې اصلي قضیې باندې هم تحقیق ندی شوي. پدې لنډو وختونو کې، ACU او MACU د SCC د اصلاح کولو او رسمي کولو څخه ملاتړ څرگند کړی دی.[285]

## د مهمو جرمونو عملیاتي ځواک

د 2013 کال په فبروری کې به FBI د مهمو جرمونو عملیاتي ځواک (MCTF) څخه ملاتړ ختم کړي، ځکه چې لیدل شوي چې دا ځواک د ظرفیت لوړولو خپلو موخو ته رسیدلی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې له مناسب مالي او سیاسي ملاتړ سره MCTF کولای شي د یوه فعال فساد ضد واحد په توگه خدمت وکړي. مگر، د امریکا د بهرنیو چارو وزات په وینا، د قانوني او سیاسي کمزوری له کبله د دې عملیاتي ځواک راتلونکي د یوه منظم بنسټ په توگه روښانه نده. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر لا تراوسه داسې سیاسي اراده ښودلې نده چې د MCTF د قضیو د محاکمه کولو لپاره اړینه ده.[286]

## د نظارت او ارزونې کمیټه

د نظارت او ارزونې کمیټه (MEC) به په راتلونکي ربع کې د افغانستان حکومت د فساد ضد د هغو 39 مشخصو گامونو د تطبیقولو په اړوند یو راپور خپور کړي چې د ولسمشر کرزي د حکومتداري او فساد ضد په فرمان (PD45) کې چې په تیر ربع کې صادر شوی و راغلي.[287] MEC یو بل راپور هم خپور کړی چې د کابل بانک له ړنګیدو مخکې او وروسته د افغانستان د حکومت د ځوابونو غندنه یې کړې. د لا نورو معلوماتو لپاره، پدې راپور کې د اقتصادي او ټولنیزي پراختیا برخه وگوری.

## د فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداره

د فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداره (HOO) دا ظرفیت لري ترڅو خپل ماموریت سرته ورسوي، مگر، د USAID په وینا دا اداره مني چې د فساد پر وړاندې مبارزه کې یې کم پرمختگ کړي. د HOO عمومي ریس په عامه توگه ویلي چې د اړوندو مسولو وزارتونو او په ځانگړې توگه د لویې څارنوالۍ د همکاری نشتون له کبله د دې ادارې د فساد پر وړاندې مبارزه یې له ځنډ سره مخ کړې. HOO د فساد د قضیو هغه لست خپور کړی دی چې لویې څارنوالۍ ته لیږل شوی، او د USAID په وینا د HOO عمومي ریس څو ځلې دا ادعا کړې چې لویې څارنوالۍ پدې اړه هیڅ گام ندی اخیستی. مگر، په هغو ځایونو کې چې کولای شي نوښت په لاس کې واخلي او پر پروسې باندې ډیر کنترول لري، لکه د شتمنیو ثبتول، خپرول، او تصدیق کول، د HOO لخوا ژمنه نده ښودل شوي، او پایلې یې هم کمزوري وي.[288]



**یو عکس په کابل** کې د رشوت قربانیانو ته وایي چې د HOO دفتر ته راپور ورکړي. (د سیگار عکس)

# حکومتداري

## د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري سره د USAID مرسته

د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، USAID د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري (4A) ته 7.9 میلیونه امریکایي ډالر مرسته مکلف کړې ده، چې د HOO د فساد پر وړاندې مسولیتونو د مرستې لپاره ډیزاین شوې. د USAID په وینا، 4A د فساد پروړاندې د ظرفیت لوړلو د خپلو ټولو ډیرې موخې ترسره کړې دې، پشمول د دې کارونو:[289]

- 4A د HOO د کارکونکو د روزنې په برخه کې چې د دې اداري ستراتیژیک پلان تطبیقوي خپلې موخې تر یوې کچې بشپړې کړې دي، او د HOO د ادراه کولو په جوړښت او بشري قوې په جوړښت کې بدلون راوړی ترڅو دا اداره اغیزمنه او دوامداره اداره شي.
- 4A خپله مرسته بشپړه کړې ده ترڅو HOO وکولای شي چې د شتمنیو په اعلانولو کې، تصدیقولو، د شکایتونو اداره کولو او د قضیو تعقیبولو، او فساد پر وړاندې د عملي ګامونو د پلان کولو ملاتړ لپاره خپل اصلي مسولیتونه ترسره کړي. 4A په ټولو مرکزي وزارتونو، د حکومت په ریاستونو کې د شتمنیو د ثبتولو، د شتمنیو د تصدیقولو د آزموینې پروسې امتحان کولو، او له FinTRACA د کودونو د تبادله کولو له ملکرتیا څخه کار اخیستولو په برخو کې، له HOO سره مرسته کړې ترڅو خپل کارونه ترسره کړي. 4A د HOO لپاره د معلوماتي بانک ضروري تجهیزات هم ورکړي ترڅو شکایتونه ثبت او اداره کړي. پردې برسیره، 4A له وزارتونو او د حکومت له ادارو سره د هوکړې 13 یاددښتونه هم لیکلي چې د تصدیقولو په کارونو کې له HOO سره مرسته وشي.
- 4A د HOO د امنیت او د دفتر د خدماتو، د کور دننه او بهر فیزیکي امنیت، او د دفتر لپاره د فرنیچر او تجهیزاتو برابرولو په برخو کې د اصلاحاتو خپل کارونه هم بشپړ کړي.
- 4A له مدني ټولنې د همکارۍ خپلې موخې بشپړې کړې ترڅو مدني ټولنې وکولای شي د فساد د ستونزو په اړه د عامه پوهاوي، روزنې او عملي ګامونو په اړوند کارونه وکړي.

د 4A د فنډونو له مرستو څخه د افغانستان اوو مدني ټولنو او غیر حکومتي ادارو وکولای شول چې د فساد پر وړاندې د هڅو کارونه ترسره کړي.

**د افغانستان د فساد ضد له اداري (4A) سره مرسته:** د USAID دا پروژه د افغانستان د فساد ضد اداره چې د فساد ضد د نظارت عالي اداري (HOO)، وزارتونه چې افغانانو ته مهم عامه خدمات وړاندې کوي تخنیکي، او د مدني ټولنو ادارو لپاره چې د عامه فساد پر ضد مبارزه کوي عامه پوهاوی برابروي، دې ادارو ته ستراتیژیک، تخنیکي او اداري ظرفیت لوړولو ملاتړ برابروي.

سرچینه: د "افغانستان له فساد ضد اداري سره". د USAID مرسته.

## د فساد مخه نیولو په برخه کې د مدني ټولنې ونډه

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د مدني ټولنو انفرادي اداري او ایتلافونه سره یوځای کیږي ترڅو په پراخه توګه او په ځانګړې توګه په اجرایه څانګه کې د فساد ستونزو لپاره د حل لاري پیدا کړي. د افغانستان د اعتبار نظارت اداره، د فساد پروړاندې د نظارت مخکنۍ اداره، د افغانستان د امید لرونکي استخراجي صنعت سکتور پر شفافیت باندې کار کوي. په 2012 کال کې، د مدني ټولنو ادارو چې د USAID لخوا د تمویل شوی 4A په ملاتړ یې د فساد پر وړاندې ایتلاف جوړ کړ. دا ایتلاف یو پلان جوړوي ترڅو د افغانستان له حکومت سره د فساد د ستونزو په اړه جوړونکي کارونه ترسره کړي. دا ایتلاف لا له وړاندې د ملي شورا له کمیسیونو سره هم کار کوي.[290]

## د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې فساد

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، فساد او تنظیم شوي جرمونه د ایتلاف د مبارزې پر موخو اصلي ګواښونه دي. د "جرمي نیونې" تهدید، یا د حکومت د رهبرۍ په بنسټونو کې د مجرمینو د عناصرو ننوتل، په ځانګړې توګه د افغانستان په هوایي ځواکونو، د پولیسو په

**لتفا:** د څو هیوادونو وجهي صندوق چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري لخوا اداره کیږي د افغانستان د ملي پولیسو معاشونه ورکوي او د کورنیو چارو وزارت ظرفیت لوړوي. د لتفا فنډونه د افغانستان حکومت ته ورکول کیږي. د ډیرو نویو معلوماتو پر اساس له 2002 کال څخه ډونرانو لتفا سره نږدې 2.7 ملیارده امریکایي ډالرو ژمنه کړې. امریکا د لتفا له پیل څخه نږدې 897.7 میلیون امریکایي ډالر ورکړي دي. لتفا د خپل نظارت او تادیاتو له کبله تر انتقادونو لاندې راغلې، او څینې وایي چې تقلب او ضایعات پکې آسانه دي.

څینې ولایتي څواکونو کې، او د سرحدي پولیسو په قطعاتو کې لیدل کیږي. مګر، پدې ربع کې پرمختګ شوی چې د افغانستان په امنیتي څواکونو کې د مجرمینو لاسوهنه او د بنسټونو د خرابولو مخه ونیول شي.[291]

پدې ربع کې، په لتفا LOTFA کې د فساد د ادعا ګانو به څواب کې، UNDP د تدارکاتو په پالیسیو او کارونو کې مهم بدلونونه اعلان کړل، د نړیوالو استخدام شویو متخصیصینو کارکونکو شمیره یې ډیره کړه، او د وجهي صندوق د مدیریت ارزونه یې ترسره کړه. ملګرو ملتونو د لتفا د اداره کولو په جوړښت کې د څینو بدلونونو سپارښتنه هم کړې ده.[292]

## د ګمرک په ټولولو کې فساد

د افغانستان په ټولو سرحدي دروازو کې د ګمرکونو د مالیې په ټولولو کې فساد یوه لویه ستونزه ده، او پدې برخه کې ډیر کم پرمختګ شوی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د فساد سره د مبارزې اصلي مسله او په ګمرکونو کې د تقلب سوال د حل کولو دا دی چې د افغانستان د حکومت کومې اداري باید په سرحد کې شتون ولري او کوم مشخص صلاحیت باید ولري چې مالیه یا نور فیسونو وضع کړي.[293] د 1391 مالي کال په لمړیو دریو ربعو کې، ګمرکونو د افغانستان د ټولو عوایدو 43% جوړه کړې وه. مګر، داسې راپورونو شته چې څینې د ګمرک داخلي ډیپوګانې د فساد له کبله نږدې 70% د سرحد احتمالي عواید له لاسه ورکوي.

د ولسمشر اجرایي کمیسیون (PEC) داسې ډیزاین شوی چې د ګمرکونو په ټولولو کې اداري ستونزې حل کړي ترڅو د تقلب مخه ونیول شي مګر د 2012 کال په پای کې لا تراوسه په نامشخصه حالت کې و. له اګست څخه تر دسمبر پورې، آیساف او په کابل کې د امریکا سفارت له ولسمشر کرزي سره پدې اړه څو څلې خبري کړي دي. د افغانستان حکومت ویلي دي چې کمیسیون چې تر اوسه حکومت په فرمان لا رسماً ندی تاسیس شوی باید د مالیې وزیر عمر زاخیل وال تر ریاست لاندې فعاله شي. د مالیې وزارت په کابل کې د امریکا سفارت ته اطلاع ورکړه چې دوی د کمیسیون مارموریت مسوده بیا لیکې ترڅو د دې کمیسیون مشرتوب پراخ کړي او د ملي امنیت شورا دفتر پکې شامل کړي، او لدې کبله به PEC د دندې ترسره کولو په برخه کې ډیره آزادی ورکړ شي.[294]

## بشري حقونه

د بشري حقونو په برخه کې د افغانستان د حکومت تیر کارونه توپیر لرونکي دي. پدې ربع کې، سیګار د میرمنو حقوقو او مهاجرینو په اړوند د مسلو ارزونه کوي.

## د جندر مساوات

پدې ربع کې، یوناما د افغانستان د حکومت د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالې د له منځه وړلو د قانون (EVAW) د پلي کولو په اړه یو راپور خپور کړ. د راپور په وینا، پداسې حال کې چې افغان څارنوالانو او محکمو د ښځو د تاوتریخوالي پر وړاندې د قضیو لپاره لدې قانون څخه ډیر کار اخیستی، مګر په ټولیزه توګه لدې قانون څخه ګټه اخیستنه ټیټه وه. د کلتوري او ټولنیزو معیارونو، دیني عقایدو، د میرمنو پر وړاندې پراخ تبعیض، او د نورو مسلو له کبله، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو په اړه تر ډیرې کچې راپور نه ورکول کیږي. په 2012 کال کې، د راپور ورکړ شویو ناوړو پیښو په شمیر کې چې مسولو حکومتي

بنسټونو ته لیږل شوي ډېروالی راغلی و. راپور ویلي چې دا ډېروالی کیدای شي د ډېرې عامه پوهاوی او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالې د حساسیت له کبله وي، نه دا چې د حقیقي پیښو په شمیر کې ډېروالی راغلی وي.[295]

په 2012 کال کې څارنوالانو او ابتدایي محکمو له EVAW څخه ښه کار اخیستی او د ښار محکمو د دې قانون پر اساس د جزا حکمونه صادر کړي دي. پردې برسیره، له 4,000 څخه د ډېرو د تاوتریخوالې له راپور ورکړ شوي پیښو څخه چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د 2012 کال له مارچ څخه تر اکتوبر پورې ثبت کړي، ډېرې لږ د قضایي حکمونو د پروسې له لارې حل شوي.[296]

د EVAW د قانون پراساس ثبت، ډېری ثبت شوي جرمونه فیزیکي چلند او ژوبل کول و. د "ویاړ" د وژلو په شمیر کې هم ډېر والی راغلی و. د کورونو له تاوتریخوالې او جبري ودونو څخه د میرمنو او انجونو د "تیښتې" په اړوند د محکمه کولو د اوږدې مودې پخوانیو کارونو دوام درلود.[297]

داسې ویناوې شول چې د افغانستان د ملي پولیسو د څارنوال دفتر د میرمنو په اړه قضیې، پشمول د مهمو جرمونو، د مشورې او حلولو لپاره جرګو او شوراګانو ته لیږي. پداسې حال کې چې پدې ځایونو کې عنعنوي چلند پراخ دی، د EVAW د قانون تطبیقول ډېری وختونه تر پښو لاندې کیږي او خطرناکه چلند پلې کیږي.[298]

## مهاجرین

د 2012 کال د دسمبر په 12، د پاکستان حکومت د نږدې 1.7 میلیونو افغان مهاجرینو لپاره چې په پاکستان کې ژوند کوي درې اړخیز تړون او د ثبت کارت وخت د 2013 کال تر جون پورې وغزاوه. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د عالي کمیشنرۍ (UNHCR)، د پاکستان او افغانستان حکومتونو تر منځ درې اړخیز تړون افغان مهاجرینو ته په پاکستان کې د رسمي مهاجر موقف ورکوي او دا تړون به د 2012 کال د دسمبر په 30 پای ته رسیدلي وایۀ د کال په ډېره موده کې د دې تړون او کارت نوي کول په شک کې و، او اندیښنې یې راپورته کړې وې چې کله کارت او تړون پای ته ورسیږي، مهاجرین به له بشري کړکیچ سره مخامخ شي او مجبوره به شي چې بیرته ولاړ شي. د پاکستان صدراعظم اشرف د کابینې یوې کمیټې ته دنده ورکړې ده چې د 2013 کال له جون څخه وروسته د مهاجرینو د مودې د ختم د غزولو په اړه یوه ستراتیژي جوړه کړي.[299]

په ایران کې له 800,000 تر 1 میلیونو ثبت شوي افغان مهاجرین تر اوسه روزنې، له پیسو پرته اساسي روغتیایي خدماتو، او د ایران او د UNHCR د محافظت او مرستې له لارې د کارکولو د اجازې کارت ته لاس رسی لري. روغتیایي خدماتو ته لاس رسی د ایران د حکومت او د UNHCR د بیمې د ګډ پروګرام له لارې برابریږي. د ایران حکومت پخوا اخطار ورکړی و چې ډېر مهاجرین به وباسي، که څه هم دا کار ندی شوی او د 2012 کال په پای کې داسې نښې نه وې چې دا کار به حتماً وشي. له ایران څخه افغانستان ته بیرته ستنیدنه تر ډېرې کچې لوړه وه، او د دې وجه په ایران کې خراب اقتصادي حالت او د لویدیځ اقتصادي بندیز، او د ایران په ریال کې د ارزښت چټک کموالی و. پداسې حال کې چې د مطبوعاتو ځینو راپورونو په تیر کې داسې ویلي چې ایران د افغان مهاجرینو ایستل چټک کړي، له بیرته ستنیدونکو سره د UNHCR مصاحبو ومونده چې ایستل شوي غیر قانوني مهاجرین و او ثبت شوي مهاجرین نه و.[300]

# مینځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 123 |
| اقتصادي شاخصونه | 124 |
| بودیجه | 124 |
| مالي پایښت | 125 |
| د عایداتو ټولول | 126 |
| د متحده ایالاتو د اقتصادي مرستې ستراتیژي | 127 |
| بانکداري او مالیه | 128 |
| د طبیعي زیرمو پراختیا | 131 |
| کرهنه | 134 |
| اساسي خدمتونه/پراختیا | 136 |
| ترانسپورتیشن | 142 |
| زده کړه | 146 |
| روغتیا | 148 |
| د خصوصي سکتور پراختیا | 150 |
| مخابرات | 152 |
| سوداګري | 152 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پراختیا څخه د ملاتړ لپاره نږدې 22.4$ میلیارده ډالر چمتوکړي دي. د دې مرستو ډیره برخه د څلورو لويو پروګرامونو او بانکي حسابونو له لارې ورکړ شوي دي: د نړيوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره، د اقتصادي ملاتړ بودیجه، د دفاع وزارت د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام، د سوداګرۍ ثبات عملیاتونو وظیفوي ځواک، او د بهرنیو-دفاعي چارو وزارتونو تر ګډ اثر لاندې د افغانستان د زیربنا پروګرام چې د د فاع وزارت د افغانستان د زیربنا بودیجې لخوا لګښت ورکول کیږي.[301]

که څه هم د 2002 کال څخه راهیسې د پراختیایي سکتورونو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي، خو بیا هم افغانستان لا تراوسه د هرې پراختیایي شاخص په پام کې نیولو سره د نړۍ له ډیرو غریبو هیوادونو څخه شمیرل کیږي.[302] د خدماتو سکتور چې د مخابراتو، ترانسپورت، او عامه خدمتونو له لارې مشري کیږي په 2011 کال کې د خالص ملي عایداتو 50% برخه جوړه کړې وه چې د 2010 کال په پرتله 12% زیاتوالی ښیي.[303] دا سکتور په خاصه بیا مخابرات تمه کیږي چې په راتلونکې کال کې هم خپل اقتصادي ودې او پرمختګ ته ادامه ورکړي.[304]

افغانستان د نړیوالو بسپنه ورکونکو مرستې ته اړتیا لري.[305] دا اړتیا په 2014 کال کې د متحده ایالاتو د ځواکونو له ویستلو او د نړیوالو د مرستو کمیدلو څخه وروسته په دې اړه اندیښنې زیاتوي چې افغانستان به د خپل اقتصادي ودې پایښت وساتي او که نه. پدې ربع کې، د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅې دوام درلودې ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د لیږدڅخه وروسته د ملي امنیت بشپړ مسولیت په غاړه واخلي او دحالت بدلیدنې په راتلونکې لسیزه کې د اقتصادي انقباض کچه ټیټه کړي.

## مهمې پیښې

د ریپوټ پدې دورې کې، ولسمشر کرزي په واشنګټن ډی سي کې د ولسمشر اوباما سره وکتل او د افغانستان پایداره اقتصادي ودې او د مالي خودکفايي په اړه يې خبرې وکړې. ولسمشر اوباما يو ځل بيا د ټوکيو دوه اړخيزه حساب ورکونې چوکاټ په رڼا کې یې د افغانستان سره د متحده ایالاتو پر اوږدمهاله اقتصادي او امنیتي مرستو ټینګار وکړ.[306]

پدې ربع کې، نړیوال بانک وړاندوینه کړې ده چې په 2012–2013 کال کې د افغانستان خالص ملي عایدات به د کرهنې سکتور د غنم او نور حاصلاتو زیاتوالي له امله لوړ لاړ شي. په مجموع کې، په 2012 کال کې د دولت عایدات د 2011 کال له کچې زیاتې وې، که څه

هم د دولت د مصارفو له امله له ټاکلې موخې کمې وې.[307] د دې خبرې په پام کې نيولو سره چې د عايد توليدولو سکتور لکه کان کيندنه په خپل ابتدايي وضعيت کې ده، د کرهنې حاصلات هوا پورې تړلې دي، او د خدماتو اړتيا د نړيوالو شتون سره تړلې ده، دا لاتراوسه ځرګنده نه ده چې په 2014 کال کې د متحده ايالاتو او ايتلاف له وتلو وروسته به افغانستان خپل اقتصادي پراختيا وساتلی شي که نه.

د پيسو نړيوال صندق د شرطونو په اساس، افغانستان د اداري فساد په وړاندې مبارزې کې لږ پرمختګ کړی ده. افغانستان د خپل کمزوری شوی بانکدارۍ په وړاندې د لوړې کچې تعقيبونو په لاره اچولو سره يو څه اعتبار ځانته کسب کړه په خاصه بيا د کابل د غلادوسې اصلي متهمينو څارل.[308] په نورو پرمختګونو کې، د افغانستان تيل د تيلو لومړی لوی تجارتي سيمې څخه وکيندل شو؛[309] د کانونو وزارت د تيلو او ګاز يوې لويې پروژې لپاره يو داوطلب ومونده، او د مسو او سروزرو څلور ګټونکو داوطلبينو نومونه يې اعلان کړل.[310] برسره پردې، ولسي جرګې په خپل يو حرکت سره چې کيدای شي د بيارغونې هڅې تر اغيزې لاندې راولي، د ماليې، کانونو، زده کړې، بريښنا او اوبو وزيرانو په شمول د کابينې11 تنه وزيران د دې لپاره احضار کړه چې د خپلې بوديجې لږ تر لږه 50% يې نه و مصرف کړي.[311]

## اقتصادي شاخصونه

د افغانستان اقتصاد د 2002 څخه راهيسې د پام وړ وده کړې ده. د دې خالص ملي عايدات د ګاونډيو هيوادونو سره مساوي يا هم زيات دي.[312] نړيوال بانک د افغانستان د 2012 کال خالص ملي عايداتو وده 10% اټکل کړي چې د غنم او حبوباتو زښت درمند له امله لاسته راغلي دي.[313] دا د 2011 کال له ودې څخه چې 7.3% و زياته ده او د اسيا پراختيايي بانک له اټکل څخه چې په تيره ربعه کې د سيګار لخوا 6.9% رپوټ ورکړ شوی و لوړه شميره ده.[314]

د 2012 کال د دسمبر تر21 پورې د افغانستان مالي کلونه د لمريز کلونو په حساب شميرل کيده. د هيواد سرانه عايد د 1386 (د 2007 کال مارچ — د 2008 کال مارچ) مالي کال څخه چې 130$ و په 1391 (د 2012 کال مارچ — د 2012 کال دسمبر) مالي کال کې 650$ ته رسيدلې ده چې پنځه چنده زياتوالی ښيي. د 2012 تر نومبر پورې د افغانستان بهرنيو پيسو ذخيره 7$ ميلياړده ډالرو ته نږدې وه.[315]

## بوديجه

د افغانستان پارلمان د 2013 د جنوري په 20 نيټه د 1392 مالي کال بوديجه تصويب کړه. دا بوديجه د 1391 مالي کال په پرتله چې 5.91$ ميلياړده ډالر وه سږ کال 6.81$ ميلياړده ډالرو ته ورسيده.[316] پدې بوديجه کې عادي بوديجه (3.78$ ميلياړده ډالر) چې د دولت معمولي لګښتونه — امنيت، معاشونه، عملياتونه او ساتنې، پانګه، او داسې نور — ورکول کيږي، او انکشافي بوديجه (3.03$ ميلياړده ډالر) چې د بيارغونې لګښتونه ورکوي، شاملې دي.[317]

د تصويب شوې بوديجې تفصيلات د رپوټ تر خپريدو پورې لاسته ندي راغلي. کوم تفصيلات چې د بوديجې ابتدايي وړانديز سره وړاندې شوې دي. د وړانديز شوې عادي بوديجې 72% د معاشونو لپاره، 14% د اسبابو او خدمتونو لاسته راوړلو لپاره، او 13% د سړکونو عمليات او ساتنې او د بيلابيلو اجورو لپاره چې د دولت کارمندان، پوځي ځواکونو،

**د افغان حکومت مالي کلونه ټول لمريز کلونه دي خو وروستی مالي کال (1391) يوازې د 2012 کال د مارچ له 21 څخه د 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې دوام درلود ترڅو د بسپنه ورکونکو له جنتري سره برابر کړای شي. له دې نه کلن مالي کال څخه وروسته افغان مالي کال د دسمبر له 21 نه د دسمبر تر 20 پورې دوام کوي. "12 مياشتنی پرتله" چې په متن کې ورته اشاره شوې ده د پرتله کولو لپاره يو نارمل قاعده ورانديز کوي.**

معيوبينو، او د هغو کسانو کورنيو ته ورکول کيږي چې په افغانستان کې د جګړو په ترڅ کې وژل شوي دي. د ماليې وزير څرګنده کړه چې تمه لري د هيواد داخلي عايدات به د عادي بودیجې له $3.78 ميليارده ډالرو څخه 56% چمتو کړي او پاتې 44% برخه يې د نړيوالې ټولنې لخوا برابر کړای شي.[318]

په 1392 مالي کال کې د انکشافي بوديجې لپاره وړانديز شوې شميره د 1391 مالي کال په پرتله 37% زياته ده (12 مياشتنۍ پرتله).[319] دا بوديجه د افغانستان د اقتصادي زيربنا پياوړی کولو ته توجه کوي او د کار پيدا کولو بهير هڅوي تر څو افغانستان د نړيوالو مرستې څخه ځان خلاص کړي. د زيربنا نوی کول، پر بشري پانګو پانګه اچونه، د خصوصي سکتور وده، او د کرهنيزه او کليوالي پراختيايي سکتورونو څخه څارنه د دې بوديجې په لومړيتوب کې ځای لري. دا همدارنګه د افغانستان د طبيعي زيرمو موثر او غيزمنه استخراج ته بلنه کوي، او د اقتصادي پراختيا دمهمې برخې په توګه د افغانستان استخراجي صنايعو ته اشاره کوي.[320]

د 1392 مالي کال په انکشافي بوديجه کې دا د پام وړ زياتوالی کيدای شي انديښنه پورته کړي. د انکشافي بوديجو په برخه کې د دولت ضعيف اجرااتو په پام کې نيولو سره — په 1390 مالي کال کې يوازې 52% مصرف — دا څرګنده نده چې آيا دولت به د دې وړتيا ولري چې د 1392 مالي کال زيات شوې انکشافي بوديجه اجراکړي که څنګه. DoD خبرداری ورکړی چې د بسپنه ورکونکو د بوديجې په اساس د مرستې زياتوالی چې د ټوکيو دوه اړخيزه حساب ورکونې چوکاټ په اساس ورکول کيږي افغان حکومت به دې ته اړ کړي چې ژر، "او په بالقوه ډول له پايښته پرته،" د بوديجو د مصرف کچه زياته کړي.[321]

## مالي پايښت

د ماليې وزارت په 1392 مالي کال کې د خالص ملي عايداتو کچه $2.4 ميليارده ډالر وړاندوينه کړې، چې د 1391 مالي کال په پرتله 33% زياته ده. پهرصورت، وزارت خبرداری ورکوي چې په راتلونکي کې به د عايداتو د ودې کچه راټيټه شي. حکومت ته ښايي د خپلې بوديجې د کمښت پوره کولو لپاره د ماليې نوي قوانين وضعه او د هيواد په قوانينو کې اصلاحات رامينځته کړي.[322]

د DoD په وينا، د افغانستان د مالي پايښت نسبت — خالص عايدات تقسيم پر عادي لګښت — په نړۍ کې له ډيرو ټيټو نسبتونو څخه شميرل کيږي. اټکل شوې ده چې د 2012 کال خالص عايدات به د دولت د عادي لګښتونو دوه دريمه چمتو کړي، او د عامه لګښتونو بوديجې له 20% څخه لږه برخه جوړوي. د مالي پايښت نسبت په راتلونکې کې د ليرد بهير له پای ته رسيدو سره چې افغانستان د خپلو عادي لګښتونو په څنګ کې د بيارغونې او زيربنايي پروژو مسوليت هم په غاړه اخلي لا پسې راټيټ شي.[323]

"په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه پخپل نيم کلن رپوټ کې DoD ويلي چې د دې فشارونو يو څه برخه کيدای شي د ملکي خدمتونو اصلاحات، د دولت د ظرفيت زياتولو روان پروګرامونو، په بوديجه، پلان جوړونه، لګښت او قراردادونو کې د لګښت سپما راوستل، نوره اقتصادي او زيربنايي پراختيا، د سوداګری د چاپيريال وده، او د اختصاصي ماليې له لارې کم کړای شي.[324] DoD څرګندونه کوي چې د دې اصلاحاتو

پلي کول به د خصوصي سکتور پانګه اچونکو ته ډاډ ورکړي تر څو د ليږد مرحلې په موده کې چې امنيت او سياسي وضعه باوري ندي، په افغانستان کې پانګونه وکړي.[325]

”زمونږ مهم لومړيتوب دا دی چې عايدات زيات کړو او دا زمونږ څخه غوښتنه کوي چې د اداري فساد په ضد يو سيستم جوړ کړو، د ماليه ورکولو څخه د سرغړونې مخنيوی وکړو، او د خصوصي سکتور د ودې لپاره د غوره چاپيريال جوړولو په موخه بايد د ماليات نوي معيارونه وضع کړو.“

د ماليې وزير ډاکټر. حضرت عمر زاخيلوال

سرچينه: ”مشرانو جرګې ته د 1392 کال د ملي بوديجې وړاندې کولو پرمهال د ماليې وزير وينا،“ 11/6/2012.

## د عايداتو ټولول

د افغانستان د عايداتو دوه لويې سرچينې ګمرکات او داخلي ماليې دي. ماليې د عايداتو مجموعي برخې نږدې 68% جوړوي.[326] د نړيوال بانک په وينا، په 2012 مالي کال کې د افغانستان خالص عايدات د تيرکال په پرتله 24% زيات و، چې د اول دوه ربعو په موده کې يې 950$ ميليونه ډالر خالص عايدات درلود.[327] د مالياتو ټولول د تير کال په پرتله د ښه منښت، غوره اداره، او څارنې له امله 16% زياتوالی درلود.[328] همدارنګه د نړيوال بانک په وينا د ګمرکاتو عايدات د 2011 مالي کال په پرتله 10% زيات شوي دي، خو د پاکستان له لارې د سوداګرۍ بنديدو له امله زياته وده يې و ځنډيده.[329] په هرصورت د عايداتو دا زياتوالی نده توانيدلې چې په 2012 مالي کال کې د دولت د لګښتونو 26% زياتوالی سره، چې امنيتي مصارفو زياتيدل، او د دولت د معاشونو د لست له امله رامينځته شوي، ځان برابر کړي. د عايداتو او لګښتونو تر مينځ نيمګړتيا د نړيوالې ټولنې لخوا ډکه شوه.[330]

افغانستان د شتمنۍ، سوداګري، او اضافي کرهنيزې ماليې شمول نوي ماليې پلي کړي، او همدارنګه د ګمرکاتو نوې تعرفې يې هم رامينځته کړي دي. پداسې حال کې چې افغان حکومت او DoD کرهنه، مخابرات، او استخراجي صنايعو ته د دې نوي ماليو څخه د اضافي عايداتو ترلاسه کولو لپاره ډير ارزښت ورکوي، DoD تمه لري چې د اداري فساد، غيررسمي اقتصاد لويې کچې، او په لږې پراته سيمو کې د نفوس کافي اندازې د شتون له امله د سوداګرۍ ماليې به ډير جزيې ګټې ولري.[331]

پدې ربع کې، د خزانې د تخنيکې مرستې دفتر، د عايداتو پاليسې او ادارې ټيم د غيرماليې عايداتو يوه درې کلنه پروژه بشپړه کړه، چې دا به د افغان حکومت سره مرسته وکړي تر څو غيرماليې عايدات توليد کړي او همدارنګه د مرستو لاسته راوړلو نه وروسته د کنترول په اړه مشورې ورکوي. OTA د حق العبور او ريل لارې په شمول د ټول ځمکنۍ ترانسپورت په اړه د ارزونې، ټولولو او سزا لپاره فيسونه او پاليسۍ و ارزولې. دا ډله يو پلان طرح او د ټولنيزو چارو وزارت ته يې وړاندې کړه ترڅو له مخه يې د سوداګري نقليه وسيلو فيسونه بياوګوري، او د روښوالی زياتولو، او اداري فساد کمولو په مرسته پر عايداتو زيات کنترول لاسته راوړي.[332]

OTA همدارنګه د تجارتي هوايي کړنو خونديې ساتلو لپاره د کابل هوايي ډګر انتقال له کاغذي سيستم څخه دهوايي ترافيک اتومات کنترول سيستم باندې بدله کړه. برسيره پردې، دا ډله د افغانستان په څلورو لويو هوايي ډګرونو کې د پيسو ورکولو آسانول او د اداري فساد کمول لپاره د عايداتو اداره کولو يو اتومات سيستم پلي کړ چې د هوايي ترانسپورت نړيوالې ټولنې لخوا يې څارنه کيږي. اوس عايدات مستقيما مرکزي بانک ته ليږدول کيږي. د خزانې په وينا، د عايداتو اداره کولو دا سيستم د ملکي هوانوردۍ عايداتو د توليد په ډګر کې حساب ورکونه او روڼتيا راولي او پلټنه يې آسانه کوي.[333]

خزانې په ډاګه کړې چې د اتومات سيستم له پيل نه تر اوسه پورې د هوايي ميدانونو د پيسو ټولونه 25% وده موندلې ده. تمه کيږي چې په 2013 کال کې د هوايي ډګرونو د پيسو خوندي ټولولو اتومات سيستم 15–13$ ميليونه ډالر خالص عايد وکړي. اضافي عايدات بايد IATA ته د مسافرينو لخوا د هوايي ډګر د تسهيلاتو د کاروني فيسونو (چې دا اوس 10$ ميليونه ډالر د غيرانتقالي پيسې ورکولو له لارې دولت ته عايد ورکوي) د ورسپارلو له لارې لاسته راشي.[334] په 2013 مالي کال کې د OTA د عايداتو د پاليسي او اداري ټيم بوديجه د 2012 مالي کال په پرتله چې537,000$ و، 60,768$ ته راټيټ شوې ده.[335]

که څه هم د عايداتو په ټولولو کې پرمختګ شوې دی، خو متحده ايالاتو او ايتلافي ملګرو يې پدې باور دي چې په موجوده اقتصادي شرايطو کې افغان حکومت د خپل عادي لګښتونو لپاره کافي عايدات نشي برابرولی. نړيوال بانک وړاندوينه کوي چې د 2021/2022 کلونو پورې چې خالص ملي عايدات 25% ته ورسيږي نو دا مالي خلا بشپړيدای شي، او دنړيوالې ټولنې څخه غواړي تر څو هغه وخته پورې خلا ډکه وساتي.[336]

د افغانستان سره د بسپنه ورکونکو دوام لرونکې مرستې دې پورې تړلې ده چې افغانستان خپلې هغې ژمنې ترسره کړي چې د 2012 کال په جولای کې د ټوکيو کنفرانس کې کړې دي. افغانستان او نړيواله ټولنه د ټوکيو په دوه اړخيزه حساب ورکونې چوکاټ کې سره موافقې کړې دي، چې دا له افغانستانه غواړي 16 ځانګړي اصلاحي معيارونه ترلاسه کړي، او د IMF پراخ شوي اعتبار تسيهل تر شرايطو لاندې حساب ورکونې ته وده او اداري فساد کم کړي.[337] د روڼوالی او حساب ورکونې لپاره د افغان ايتلاف په وينا، د 1392 (2013) مالي کال په بوديجه کې د فساد سره مبارزه د بوديجې موخې يا د بوديجې اجرا په توګه شتون نه درلود.[338]

متحده ايالاتو د افغانستان د پرمختيا پياوړی کولو او د بسپنه ورکونکو د مرستو تامين کولو لپاره د ياد چوکاټ له شاخصونو او پرمختګ څخه څارنه کوي.[339] د پرمختګ څخه پرته کيدای شي مرستې له ګواښ سره مخ شي. ګڼ شمير رسنۍ په دې ربع کې د افغانستان له قضايي سکټور څخه د اروپايي ټولنې د 25$ ميليونه ډالرو مرستو د ځنډولو په اړه رپوټ ورکړ، چې د کافي اصلاحاتو تر راوستو يې مرسته ګرځولې ده.[340] د بهرنيو چارو وزارت په وينا متحده ايالاتو افغان حکومت ته په ډاګه کړې ده چې راتلونکې مرستې د چوکاټ د معيارونو پلې کولو په شرط ورکول کيږي.[341] که چيرې نړيواله ټولنه دا خلا ډکه نه کړي نو افغانستان مجبوره ده تر څو خپل لګښت کم کړي او د عايداتو او اقتصادي ودې لپاره خپلې زيرمې په کار واچوي.[342]

## د متحده ايالاتو د اقتصادي مرستې ستراتيژي

په افغانستان کې د ايتلاف انتقالي اقتصادي ستراتيژي داده چې د 2014 کال له پای ته رسيدلو سره د نړيوال مرستندويه ځواکونو له وتلو او د بسپنه ورکونکو د مرستې متوقع کمښت له امله منفي اقتصادي اغيزې کمې کړي او د افغانستان سره مرسته وکړي تر څو د پايداره ودې لپاره خپلې زيرمې په کار واچوي.[343] د متحده ايالاتو اقتصادي مرستې د عايداتو ټولول، کار پيداکول، د خواړه مصونيت، او د ليرد په بهير کې او وروسته له هغه نه د اقتصادي ودې لپاره د ظرفيت زياتولو پورې تمرکز کوي.[344]

---

**د پراخ شوی اعتبار سهولت (ECF):**
هغو ملکونو ته مالي مرسته برابروي چې د پرداختونو توازن له اوږدمهاله ستونزو سره مخ وي. دا له غريبو او کم عايده هيوادونو سره مرسته کوي ترڅو د IMF له مالي ملاتړ څخه په غوره لاسرسی، ډير امتيازي مالي شرطونو، د پروګرام ډير انعطافي طرحې، او همدارنګه ډير اغيزمن او ساده شرايطو په لرلو سره ګټه واخلي.

سرچينه: IMF، "د ECF ځانګړي معلومات،" 4/2012، د لاسرسی نيټه 1/14/2013.

"ځکه نو، که څه هم مونږ د ناټو ايساف تر مشرۍ لاندې په 2014 کال کې د ليږد خوا ته درومو، او زمونږ د ايتلاف جنګي ماموريت پای ته رسيږي، مونږ د افغانستان اقتصادي راتلونکې ډاډه کولو ته پام کوو ځکه چې مونږ پوهيږو پرته له دې څخه د امنيت او ثبات راامينځته کيدل هسې د ځان غولولو په معناده... د اقتصادي پراختياوږدمهاله او سخت کار جادويي نده، خو آن په جنګي ساحو کې خورا اساسي کار دی."

د بهرنيو چارو وزيرې هيلري روډم کلينټن

سرچينه: DoS، "د اقتصادي دولتمداری د ژمنې تسليمول،" 11/17/2012.

د متحده ایالاتو یوه مهمه موخه دا ده چې ”د افغانستان سره مرسته وکړي څو دوامداره او جامع اقتصادي وده ولري او د سیمې هیوادونو په مینځ کې خپل ځای ومومي.“[345] دې موخې ته د جنوبي اسیا د پخوانۍ لارې په نسبت د وریښمو لارې نوی نوښت هم وایي. لکه څنګه چې وړاندې هم سیګار اشاره کړې ده په سیمه ییزه اقتصادي انسجام کې چې د وریښمو لارې نوی نوښت هم ویل کیږي د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو ترمینځ د اسبابو، خدمتونو، شتمنۍ، او خلکو وړیا تګ راتګ شاملیږي. دا نوښت د خصوصي سکتور پراختیا او انسجام ته د سیمې هیوادونو هڅولو لپاره د سړکونو، ریل لارو، د بریښنا شبکې لینونو، پایپ لاین او نورو زیربناو پر جوړولو ټینګار کوي.[346]

وروسته برخه په لویو اقتصادي سکتورونو کې پرمختګونه او د متحده ایالاتو په مرسته هڅو ته اشارې کوي:بانک لرنه او مالیه، طبیعي زیرمې، کرهنه، او د بریښناتولید، ترانسپورتیشن، روغتیا او زده کړې په شمول اساسي خدمتونه.

## بانک لرنه او مالیه

د خصوصي سکتور پراختیا د ټینګ مالي بنسټونو تاسیس ته اړتیا لري تر څو پانګه چمتوکړي او د اسبابو او خدماتو لپاره د پیسو تبادله اسانه کړي. په هرصورت،د افغانستان مالي سکتور ډیره وروسته پاتې ده چې د محدودې پانګې په چمتو کولو سره د افغانستان د خصوصي سکتور په وده کې لږه برخه اخلي.[347] بانکي سکتور تر اوسه لا د 2010 کال سقوط ته نږدې کابل بانک شتمنۍ ندي ترلاسه کړي، او د پیاوړې مالي نظارت، د اداري فساد ضد کړنې، او له خطرسره د مخامخ کیدو کمولو په شمول اصلاحي ګامونو ته اړتیالري.[348] DoD خبرداری ورکړی چې که څه هم د بانک لرنې نوی قانون پلان کړای شي بیا هم په بانکي سکتور کې د مشرتابه او مسلکي ظرفیت د نشتون په صورت کې د خوښې وړ اصلاحات نشي رامینځته کیدای.[349]

### کابل بانک

پدې ربع کې، د اداري فساد په ضد د څارنې او نظارت ګډه کمیټه د کابل بانک بحران په اړه د خپل عامه پوښتنې نتایج خپور کړ. په ریوټ کې د شرکتونو او هغو کسانو نومونو په شمول چې د عظیم غلا مسول دي، د مالي بحران په اړه پوره حساب راغلې ده. همدارنګه MEC د افغانستان د مالي سیسټم د کمزورتیاو پوره کولو لپاره وړاندیزونه کړیدي.[350] حکومت اعلان کړې ده چې د تخنیکي سلاکارانو په مرسته دا وړاندیزونه د پلې کولو لپاره ارزوي.[351]

په 2010 کال کې سقوط ته نږدې د کابل بانک دوسیه روښانه کړه چې نږدې $1 میلیارده ډالر غلا شوي دي او له دې څخه 92% یې یوازې د 19 افرادو او شرکتونو لخوا اخیستل شوي دي. د افغانستان مرکزي بانک — د افغانستان بانک — د افغانستان مجموعی خالصو عایداتو نږدې 6–5% په ورکولو سره دا تاوان جبران کړ.[352] د IMF، ECF قرارداد په اساس دولت مجبور دی تر څو د مرکزي بانک پانګه بیرته ورکړي؛ شتمنۍ بیرته لاسته راوړي، او د کابل بانک بحران مسول کسان بندي کړی؛ د افغانستان د مرکزي بانک له لارې د بانک لرۍ اصلاحات او نظارت پیاوړي کړي؛ د عامه پیسو اداره او روڼوالي ته وده ورکړي؛ او د پیسو غیرقانوني اخیستلو او له ترهګرو سره د مالي مرستې په وړاندې مبارزه وکړي.[353]

پدې ربع کې، افغان حکومت د هغو پیسو مجموعي شمیره چې کابل بانک ته یې په قرضو ورکړی ؤ د ”مهم غیرقرضه ادعاوې“ لکه د پیسو غیررسمي مصارف او د لګښتونو

### د سیګار ځانګړې پروژه

د کابل هوایي میدان څخه د پیسو د ویستلو په اړه د 2011 کال خپل یو ریوټ په تعقیب کې سیګار وموندہ چې د زیاتو پیسو شمیرونکي ماشینونه د خپلو موخو لپاره نه کارول کیږي، په اسانه د لاسرسۍ وړ ندي، او هم له انترنیټ یا کمپیوټر سرور سره نښتي ندي. همدارنګه هغو کسانو چې د افغان حکومت لخوا مهم بلل کیدل د ماشینونو له څنګه په ځان تیر ویستل. د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ ”د فساد ضد معیارونه: د کابل هوایي میدان څخه د زیاتو پیسو د ویستلو د څارنې په برخه کې پاتې کیدونکې ستونزې شته دي“ (سیګار SP-13-1) 2 برخه، 44 مخ.

ادعاو له يوځای کولو نه وروسته 935$ ميليونه ډالرو څخه 982$ ميليونه ډالرو ته زياته کړه. همدارنګه دولت پدې ربع کې د 8.8$ ميليونه ډالره نقدو پيسو لاسته راوړو رپوټ ورکړ چې پدې سره د لاسته راوړل شوو پيسو شميرـ138$ ميليونه ډالرو ته ورسيد.[354] د امريکا بهرنيو چارو وزارت اعلان کړه چې په دوبی کې د دوو کورونو د خرڅولو له امله پدې ربع کې شاوخوا 4$ ميليونه ډالره نقدې پيسې لاسته راغلې، چې په تيره ربعه کې دا شميره 100,000$ ډالره وه.[355]

د افغانستان عالي محکمې د کابل بانک اقتصادي جرمونو د پلټنې او تعقيب لپاره د 2012 کال په اپريل کې يوه ځانګړې محکمه و ټاکله.[356] د محکمې ابتدايي ناسته د 2012 کال د نومبر په 14 او 17 نيټو کې پيل شو، چې د کابل بانک پخوانی رييس شيرخان فرنود او اجرايي رييس خليل الله فيروزي په شمول چې د غلا اصلي څيرې معرفي شوي ول، 22 تورونه يې و څيړله. هيڅ کومه فيصله اعلان نشوه، او نه هم د نورو قضايي کړنلارو لپاره موده و ټاکل شوه.[357]

د مالي شخړې هوارولو کميسيون چې د بانک په وړاندې د مدني دوسيو د حل کولو لپاره تشکيل شوی دی، د پيسو ورکولو نهايي پريکړې کوي. د State په وينا، د نهو دوسيو له جملې څخه چې د کابل بانک اخيستونکې ته ورکړ شوي، څلور دوسيې د FDRC لخوا بشپړې شوي دي. له دې څلورو څخه، دوه قرضدارانو د FDRC له فيصلو سره موافقې کړې، او دوه نورې يې ځانګړې محکمې او لوی څارنوالۍ ته وړاندې شوي دي.[358] د FDRC دوسيې هغه وخت ځانګړې محکمې يا لوی څارنوالۍ ته سپارل کيږي چې د دوسيې جنايي اړخونه وموندل شي، يا د FDRC پر فيصلو استيناف وغواړي، يا دا چې FDRC په يوازې سره د دوسيې له حل نه پاتې راشي.[359] د دغو دوسيو بشپړ کولو لپاره کوم زماني موده نده ټاکل شوې.[360]

## خصوصي پانګه اچونکو ته د نوی کابل بانک خرڅول

د نوی کابل بانک خصوصي کول د ECF يو پاتې معيار دی. NKB يو موقتي "پل ته ورته بانک" دی چې د اسبابو شتمني، قرضې، او د کابل بانک پاتې شتمنۍ ورسره دي. MoF ويلې ده چې غواړي د 2013 کال تر پايه پورې NKB خصوصي سکتور ته خرڅ کړي يا يې له مينځه يوسي.[361] د پانګه اچونکو کنفرانس د 2012 کال د اکتوبر په 4 نيټه په کابل کې او د 2012 د نومبر په 14کې په دوبی کې داير شوی و. داوطلبينو ته د عريضې ورکولو لپاره د 2012 کال د نومبر 27نيټه ټاکل شوې وه.[362] پنځه عريضې د رپوټ په اساس لاسته راغلې وې، چې يوه يې د شمالي امريکا يو بانک و او څلور نورو يې د افغاني بانکونو څخه وې.[363] عريضې د خصوصي سکتور لارښونکې کميټې لخوا تر کتنې لاندې نيول شوې.[364] که چيرې د خصوصي کولو بهير ناکامه شي او NKB له مينځه يوړل شي، د ملکي خدمتونو معاشات چې د ياد بانک له لارې ورکول کيدې له ځنډ سره مخ کيږي.[365]

## ترهګرو ته مالي مرسته/تحريمونه

د نومبر په 5 نيټه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په پاکستان کې ميشت حقاني شبکه د القاعدې سره تړاو درلودلو، په ټول افغانستان کې د ځان وژنې بريدونو، هدفمندو وژنو، او د اختطاف په جرمونو کې د لاس لرلو په تور د 1988 UNSC، کال لايحې په اساس د تحريم شوو ادارو په لست کې شامله کړه. په تحريمونو کې د شتمنۍ کنګل کول، د سفر مخنيوی،

> **د سيګار پلټنه**
>
> سيګار د متحده ايالاتو د ادارو لخوا د کانګرس د هغه فرمان د منښت په اړه پلټنه په لاره اچوې چې له ترهګرو سره يې د قرارداد نه کولو په اړه ورکړې ده. د لازياتو معلوماتو لپاره، وګورئ، "د DoD لخوا د ښمن سره قرارداد نه کولو فرمان منښت،" 2 برخه، 26 مخ.

**د 13224 اجرایي فرمان چې د 2001 کال د سپتمبر په 23 خپور شو، د متحده ایالاتو دولت ته واک ورکوي چې هغه بهرنیو افرادو او ادارو شتمنۍ په نښه او قبضه کړي چې له ترهګرۍ کارونو سره مرسته کوي، یا د مرستې ګواښ ترې وموندل شي. همدارنګه دا واک هم ورکوي چې د هغو کسانو شتمنۍ قبضه کړي چې کومو کسانو یا ادارو ته چې پدې فرمان کې ترهګر بلل شوي دي مرسته، خدمت، ملاتړ، یا هر ډول تړلې کار چمتو کوي.**

سرچینه: DoS، "13224 اجرایي فرمان،" 9/23/2001.

او د سرتیرو حق نه درلودل شامل دي. دا پریکړه د بهرنیو چارو وزارت لخوا د هغې پریکړې برسیره اخیستل شوې ده چې په تیره ربعه کې، د نړیوالې ترهګرۍ ډلې په توګه، او د متحده ایالاتو د 13224 اجرایي فرمان په اساس، د بهرنۍ ترهګرۍ ډلې په نوم پیژندل شوې وه.[366]

د حقاني شبکې یوه کورنۍ ترهګرۍ ډله ده چې د کانګرس تحقیقاتي خدماتو لخوا "د طالبانو ډیر خورا پیاوړی برخه او په نړیواله کچه یوه جنایي موسسې په توګه پیژندل شوې و".[367] دا شبکه په مالي لحاظ بیلابیلې برخې لري او د قانوني او غیرقانوني لارو څخه ګټه اخلي. د عایداتو ډیره برخه یې په زوره پیسې اخیستلو او د ساتنې په بدل کې پیسې اخیستل، غلا، قاچاق، او داختطاف په بدل کې د لاسته راغلو پیسو څخه جوړیږي. همدارنګه دا شبکه د قانوني تجارت له ګټو څخه لکه ترانسپورټ، واقعی شتمنۍ او داسې رغونیز شرکتونو څخه خپل عایدات ترلاسه کوي چې ځینې یې ویل کیږي د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو څخه قراردادونه اخلي.[368]

د خزانې په وینا، د 13224 اجرایي فرمان په لست کې د حقاني شبکې شاملول به د متحده ایالاتو سره مرسته وکړي تر څو د شبکې "فرعي نوِمونه" او د دوی مرسته کونکي په اسانه سره وموميو ځکه چې له دې نه وروسته به دوی د طالبانو اړیکو ته اړتیا ونه لري. د 2008 کال څخه راهیسې، 11 کسانو د حقاني شبکې پورې د 13224 اجرایي فرمان په اساس تړل شوي دي — شپږ کسان د خزانې او پنځه کسان د بهرنیو چارو وزارت لخوا. د 11 څخه لسو کسانو ته د امنیت شورا د 1988 لایحې په اساس سزا ورکړ شوې ده. وړاندې له دې نه متحده ایالاتو د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو څخه یوازې دمتحده ایالاتو د داخلي لایحې په اساس غوښتنه کوله تر څو د حقاني شبکې په وړاندې ګامونه پورته کړي؛ خو اوس د امنیت شورا لایحه به غړو هیوادونو څخه غوښتنه وکړي چې ټینګ ګامونه واخلي.[369]

## د ایران تحریمونه

د خزانې په وینا، د ایران په وړاندې د متحده ایالاتو تحریمونه، چې د 2012 کال په اکتوبر کې د سیګار په درې میاشتنۍ ریوټ کې په تفصیل سره راغلې ده، کولی شي افغانستان د بیلابیلو لارو څخه له تحریمونو سره مخ کړي. پدې کې د افغانانو لخوا د ایران نفتي محصولاتو اخیستل او له ایران سره د سوداګرۍ اسانه کولو لپاره د متحده ایالاتو بانکوټونو چمتو کول شامل دي. پرته له دې چې په کابل کې آرین بانک د ایران شتمني ښودل شوې ده، متحده ایالاتو تراوسه پورې هیڅ کوم افغاني اداري ته د ایران له تحریم څخه د سرغړونې په تور سزا نده ورکړې. پهرصورت، د متحده ایالاتو د تحریمونو قانون پیچیدګۍ او حدودو ته په کتوسره او داچې افغانستان او ایران ډیره اوږده ګډه پوله او سوداګریزې اړیکې لري، دا خطر موجود ده چې افغاني اداري د تحریمونو څخه اغیزمنې شي.[370] اضافي تحریمونه په 2013 مالي کال کې د ملي دفاع واکمنۍ لایحې په اساس زیات شوي دي. پدې ربع کې د سیګار یو ریوټ وموندہ چې که چیرته متحده ایالاتو د ANSF لپاره د تیلو اخیستلو په موخه مستقیمه مرسته ورکوي دا باید له پیل نه ډاډه کړي چې افغان حکومت پر ایران باندې د متحده ایالاتو د اقتصادي تحریمونو له نظر غورځولو سره د ایران له هیواد نه به تیل نه واردوي.

پر ایران باندې د متحده ایالاتو او نړیوالو تحریمونه د ایران پیسو، ریال، ارزانیدو لامل شوي دي. لکه څنګه چې مخکې په ریوټ کې ویل شوې ده داسې د اعتبار وړ معلومات نشته چې د افغانستان پر اقتصاد، د سوداګرۍ دود، او سوداګرۍ باندې د ایران اقتصادي

### د سیګار څانګړې پروژه

د لازیاتو معلوماتو لپاره، وګورئ افغان ملي امنیتي ځواکونه: د وارد شوو تیلو په اړه محدود نظارت د دې لامل ګرځي چې د متحده ایالاتو په مرسته اخیستل شوي تیل پر ایران باندې د متحده ایالاتو له تحریمونو څخه سرغړونه وکړي (سیګار SP-13-2، 2 برخه، 45 مخ.

تحريمونو اغيزه وښيي. پهرصورت، د رپوټونو په اساس د افغانستان په لويديځو سيمو کې د ايران ارزانه واردات خلکو ته ګټه رسوي، او ځينې افغان شرکتونه د ايراني شيانو د ټيټې بيې له امله خپل شرکتونه تړلي دي. همدارنګه ويل کيږي چې د ايران د ريال ټيټ ارزښت د دې لامل شوی چې له ايران څخه د ستنيدونکو افغانانو عايد راکم شي. ډير افغاني کارکونکي له ايران څخه راستنيدلي دي، چې پدې سره يې د خپلو کورنيو د مصرف کچه زياته او د بيکارۍ شمير لاهم زيات شوی دی.[371]

## د طبيعي زيرمو پراختيا

افغان حکومت او نړيواله ټولنه د اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره د افغانستان پر طبيعي زيرمو په خاصه بيا کانونو باندې ډير حساب کوي. جيولوژيکې سروې ښيي چې افغانستان ښايي د 1$ تريليون ډالرو په ارزښت منرالي شتمنۍ لکه د سکاره ډبرې، پترول، او د ګاز زيرمې ولري. پهرصورت، دا معلومه نده چې د دې اټکل شومره برخه او کله په عايداتو بدليدای شي.

متحده ايالاتو د سوادګرۍ ثبات د وظيفوي ځواک عملياتونو له لارې هڅه کوي تر څو د افغانستان د کانونو سکتور ته د پانګه اچونکو پام راجذب کړي. د 2012 د دسمبر تر 31 پورې، TFBSO د افغانستان د کان کيندنې سکتور لپاره 3.8$ ميليونه ډالر مقيد کړي دي.[372] پدې ربع کې، افغان حکومت د سروزرو او مسو د موندلو لپاره څلورې مزايدې قرارداد کړي دي. TFBSO همدارنګه د افغان تاجک په حوزه کې د تيلو او ګازو زيرمو د پراختيا لپاره د افغان دولت له هڅو او قراردادونو څخه ملاتړ کوي. په يو بل پرمختګ کې، د سرپل او فارياب ولايتونو کې د آمودريا له بلوک څخه په لړه کچه د تيلو توليد پيل شوی دی.

که څه هم تراوسه پورې د کانونو برخې عايدات د خالص ملي عايداتو له 1% څخه لږه برخه جوړوي خو افغان دولت تمه لري چې د مس عينک او حاجي ګک د اوسپنو ډبرو په کانونو کې د پراخو پانګه اچونو څخه زيات عايدات ترلاسه کړي.[373] پهرصورت، د امنيت نشتوالی لاهم د دې کانونو له پراختيا څخه مخنيوی کوي.[374]

د افغانستان د منرال شتمنۍ څخه ګټه ترلاسه کول به آسانه نه وي. د منرالونو کيندل او بازار ته يې رسول د امنيت اساسي کچې ته اړتيا لري او د اعتبار وړ ترانسپورتي شبکې، بريښنا، او تکړه کاري ځواک شتون اړين دي. نړيوال بانک خبرداری ورکوي چې که څه هم تراوسه پورې کان کيندنه هڅول کيږي، خو د کان کيندنې داسې قانون په نشتون کې چې قانون او مقررات سره يو ځای کړي، د خصوصي سکتور مهمې پانګې اچونې به له ځنډ سره مخ شي.[375] روان قانون د کشف او استخراج حقونه له يو بل څخه بيل کوي، او دا ضمانت نه ورکوي چې يو شرکت خپل هغه مصارف د کان ويستلو په پړاو کې بيرته جبران کړي کوم چې د کان موندلو په پړاو کې يې کړي دي.[376]

### منرالونه

د 2011 د دسمبر په 6 نيټه، د کانونو وزارت، د TFBSO قانوني، جيولوجيکي، او تبديلي مرستې په کارولو سره د منرال موندلو څلورې کڅورې مزايدې ته وړاندې کړې.[377] د 2012 د نومبر په 26 نيټه، MoM د دريو مزايدو لپاره او د 2012 د دسمبر په 10 د څلورم غوره شوي داوطلبينو نومونه اعلان کړه. د قرارداد خبرې اترې به د 2013 کال په جنوري کې پيل،

او مالي تفصيلات به يې د قرارداد له لاسليک کولو سره چمتو شي.[378] کڅوړې او داوطلبين يې پدې ډول دي:

- بلخاب (سرپل): مس — افغان گولډ ايند منرال کمپني
- شيدا (هرات): مس — افغان منرالز گروپ
- بدخشان (بدخشان): سره زر — ترکش افغان ماينننگ کمپني
- زرکشان (غزني): مس او سره زر — ستيرلينگ ماينننگ/بلهاسا انترنيشنل کمپني. LLC

د افغانستان د کان کيندنې دوې لويې پروژې — د عينک د مسو کان په لوگر کې او د حاجی گک د اوسپنو زيرمه په باميان کې — لا تراوسه له ځنډ سره مخ شوي دي. د عينک له مسو کان څخه چې په 2007 کال کې له چاينا ميتالورجيکل گروپ سره قرارداد شوی و، هيڅ استخراج نده شوې، په لاملونو کې يې په سيمه کې د لرغونو آثارو موندل، د ځمکې په اخيستلو کې ستونزې، د اړينو زيربناو نه جوړيدل، او امنيتي دلايل ويل کيږي.[379] سيگار وړاندې په 2011 کال کې د MCC پر پرسونل باندې د 10 راکټي بريدونو رپوټ ورکړی و؛ دا بريدونه د2012 کال تر جونه پورې دوام درلود.[380] د State په وينا، د داخلې او کانونو وزارتونه د دې ستونزو له هواړولو څخه پاتې راغلي دي، او MCC هم خپل نور پانگه اچونه دې لپاره ځنډولې ده چې د ليږد نه وروسته امنيتي چاپيريال وارزوي.[381]

افغان حکومت دعايداتو پردې بهير تکيه کوي. د عينک قرارداد د خپور شوې لنډيز په اساس، ټاکل شوې ده چې دولت 19.5% حق الامتياز، $808 ميليونه ډالر مخکې له امتياز نه، 400 MW بريښنا د سکاره ډبرو په سيځلو، او د سکرو ډبرو يو اضافي کان لاسته راوړي.[382]

د حاجی گک د قرارداد خبرې اترې چې د ستيل اتوريتي انديالمټډ په نوم يو دولتي شرکت سره د 2011 کال په نومبر کې قرارداد شوی و لاتراوسه دوام لري. DoD د ځنډ لامل دا بولي چې د کان کيندنې په برخه کې يو نوی يا اصلاح شوی قانون شتون نلري. دا اداره اټکل کوي چې توليدات به په 2017 کې پيل شي، او افغان حکومت له دې لارې نه هرکال $200 ميليونه ډالر عايد ترلاسه کوي.[383]

د دسمبر په 31 نيټه، MoM د سکاره ډبرو دوه لاسليک شوي قراردادونه اعلان کړ: د نهرين سکاره ډبرو کان په بغلان ولايت کې له هاشمي گروپ سره، او په تخار ولايت کې د گزستان د سکرو ډبرو کان له خالد عزيز کمپنۍ سره. د نهرين د سکارو ډبرو کان $4 ميليونه ډالر پانگه اچونه او د هرمتريک ټن ويستل شوو سکارو په سر 1,150 افغانۍ (تقريبا $22.50 ډالر) حق الامتياز غوښتنه کوي. د گزستان د سکرو ډبرو کان د $4.5 ميليونه ډالرو پانگه اچونه او د هرمتريک ټن سکارو ويستلو په سر 1,220 افغانۍ (تقريبا $24.00 ډالر) حق الامتياز غوښتنه کوي.[384]

## هايدروکاربن

د گاز او تيلو د پراختيا په برخه کې د افغانستان هڅې په دوو ساحو تمرکز کوي:افغان تاجک حوزه او د آمو دريا حوزه، چې دواړه دافغانستان په شمال کې دي. پدې ربع کې، TFBSO د متحده ايالاتو د جيولوجيکي سروی په مرسته د لوگر په ولايت کې داسې يوه سيمه وارزوله چې کيدای شي په راتلونکې کې کيندلو لپاره ونومول شي.

پدې ربع کې MoM د TFBSO په مرسته، د افغانستان په شمال کې د افغان تاجک د لويديځې برخې په شپږو بلوکونو کې د هايدروکاربن کشف، پراختيا، او توليد مزايده پرمخ ولاړه (I پړاو). TFBSO د MoM سره تخنيکي، قانوني، او سوداګري مرستې کوي.[385] په مرستو کې د موادو ازموېلو ماهرين او د روڼوالی سلاکاران شامل دي تر څو ډاډه کړي چې د داوطلبۍ بهير سم، شفاف، رقابتي، او د نړيوالو معيارونو سره برابر دی. TFBSO همدارنګه د 2012 کال په اګست کې د داوطلبۍ معلوماتو کنفرانس چې په استانبول کې و، لګښت او همدارنګه د افغاني چارواکو د سفر مصارف MoM ته چمتو کړي و.[386]

د 2012 کال دنومبر په 12، MoM اعلان کړه چې د افغان تاجک له شپږو بلوکونو څخه چې په I پړاو کې مزايدې ته وړاندې شوي وې، د دوو بلوکونو لپاره — صندوقلي او مزارشريف — د شرکتونو له کانسرشيوم څخه چې د درګون آيل، يو عامه شرکت چې 54% سهم يې د ايميريت نيشنل آيل کمپني پورې تړلې ده؛ کويت انرجي، يو شخصي شرکت؛ ترکش پټروليم کارپوريشن دولتي موسسه؛ او غضنفرګروپ په نوم افغاني شرکت، په نوم له موسسو څخه جوړ شوی و يوه داوطلبي ترلاسه کړی. د MoM د قرارداد ارزولو ټيم به د قرارداد په اړه خبرې اترې پيل کړي او د قرارداد ورکولو په مهال به مالي تفصيلات لاسرسی ته کيږدي.[387] TFBSO باور لري چې د صندوقلي او مزارشريف بلوکونه د پاتې څلورو بلوکونو په پرتله د تيلو توليدولو لوړ ظرفيت او د پانګې او پانګونې کم خطرونه لري.[388]

په همدې وخت کې، د 2012 کال په اکتوبر کې د آمو سيند حوزې په دريو بلوکونو کې د تيلو توليد پيل شوی دی. DoD رپوټ ورکړی چې په کال کې د آمو سيند له حوزې څخه په مجموعي ډول 5,000 بيرله اومه تيل استخراج شوي دي.[389] TFBSO اټکل کړې ده چې د چاينا‌پټروليم کارپوريشن وطن انرجي افغانستان، لميټډ. (CNPCI-W) په يوه ورځ کې د 2,700 بيرله تيلو استخراج وړتيا لري.[390] د بهرنيو چارو وزارت بيا د 1,950بيرل توليد په ورځ کې اټکل کړې ده.[391] ياده کمپني تراوسه پورې د آمو سيند په حوزې کې 82$ ميليونه ډالر پانګونه کړې ده، او دتوليد ګڼ شمير تسهيلاتو، کمپونو، او سړکونو کارونه يې پای ته رسولې ده.[392]

نړيوال بانک داسې اټکل کوي چې په راتلونکو دوو کلونو کې به دتيلو توليد 15,000–30,000 بيرلو ته په ورځ کې زيات شي. که چيرې د افغانستان د تيلو توليد يادې کچې ته ورسيږي نو له دې درکه کلنۍ عايدات به يې د 80$ ميليونه ډالرو څخه تر 200$ ميليونه ډالرو پورې زيات شي.[393] نړيوال بانک د 150$ ميليونه ډالرو څخه تر 200$ ميليونه ډالرو پورې کلنۍ عايد اټکل کوي خو State بيا د اومه تيلو 112$/بيرل نرخ په اساس د 80$ ميليونه ډالرو کلنۍ عايد وړاندوينه کوي. حکومت به د توليد 15% بيه د حق الامتياز په توګه، 20% د مالي عايداتو په توګه، او وروسته له هغه څخه چې د امتياز حق وضع شي او CNPCI-W هم خپل عملياتي لګښتونه پوره کړي، بيا نو حکومت په ګټه کې 50–70% شريک ګڼل کيږي.[394]

پهرصورت، د توليد او ترلې عايداتو د حساب کولو په وخت کې DoD ومونده چې افغان اومه تيل په زياته کچه سلفر لري چې دا که چيرې تصفيه نشي کولی شي پايپونه او د ذخيرې ځايونه ورزوي. د DoD په وينا، په اوس وخت کې افغانستان د تصفيې ظرفيت نلري، او دابه CNPCI-W دې ته اړ کړي تر څو د سيمې له تصفيه کونکو سره د آمو سيند د تيلو اخيستلو په اړه موافقه وکړي.[395]

پدې ربع کې، TFBSO د USGS په مرسته، د لوګر ولايت د شمالي عينک په سيمه کې برمه کاري پيل کړه تر څو معلومه کړي چې داوطلبۍ ته کېښودل شي که نه. دا پروژه به TFBSO ته دا موقع ورکړي چې جيولوجيکي معلومات غونډ او سيمه بيرنی داوطلبۍ، کشف او استخراج ته وړاندې کړي. په همدې وخت کې، دا به د افغان جيولوجيکي سروی سټاف ته ساحوي ترينګ او زده کړه ورکړي. د TFBSO بوديجوي تخصيصات $11.4 ميليونه ډالر د برمه کارۍ او $5 ميليونه ډالر د USGS لپاره دي.[396] TFBSO همدارنګه د ګډوځواکونو د ځانګړي عملياتونو قوماندې برخې پورې تړلې د کلي باثباته کولو عملياتونو پروګرام سره داسې مرسته کوي چې په ستراتيژيکو ساحو کې د ارتيزاني کان کيندنې پروژو ته پاملرنه کوي، او همدارنګه د کانونو وزارت سره مرسته کوي تر څو د قانوني کان کيندنې، پروسس کولو، او صادرولو فعاليتونو لپاره د اجازه ليک پروګرام چمتو کړي.[397]

## د کان کيندنې او هايدروکاربن پراختيا لپاره د متحده ايالاتو نورې مرستې

متحده ايالاتو برسيره پردې چې د کان کيندنې او هايدروکاربن د پراختيا لپاره د افغان حکومت سره مرسته کوي ترڅو داوطلبۍ په لاره واچوي، دا لاندې مرستې هم کوي:[398]

- USAID د تخنيکي مرستې ملکي پروګرام له لارې د MoM سلاکارانو ته بوديجه ورکوي.
- د سوداګرۍ وزارت د مرمرو په برخه کې د بشري پانګو پراختيايي پروژې ته بوديجه ورکوي.
- د سوداګرۍ وزارت له افغانستان سره مرسته کوي تر څو خپل سوداګري قانون ته وده ورکړي.
- TFBSO له USGS سره خپلې مرستې ته دوام ورکوي ترڅو جيولوجيکي معلومات ځای په ځای، تحليل، او تجزيه کړي.
- د افغان جيولوجيکي سروی سره مرسته کوي ترڅو د راتلونکو داوطلبيو لپاره د منزال منظرې په نښه کړي.

## کرهنه

کرهنه د افغانستان په اقتصاد کې مهم رول لوبوي. يوازې 12% ځمکې دکرهنې وړ دي او له 6% څخه لږې ځمکې کرل کيږي، په همدې حال کې 80% افغان خلک د کرهنې له لارې خپل ژوند پرمخ وړي.[399] د کارګر ځواک لپاره ددې اهميت ته په کتلو سره ويلی شو چې کرهنه کولی شي د GDP په وده کې، دخواړه امنيت پراخوالی، او د ګومارل کيدو د ثابتو فرصتونو په موندلو کې خورا اغيزمن رول ولوبوي.[400] USAID د 2002 کال څخه ديخوا د کرهنې، مالدارۍ او اوبه لګونې وزارت د ظرفيت لوړولو لپاره، مارکيټ ته د لاسرسۍ زياتولو، او د کوکنارو کښت ته د بديل چمتو کولو په موخه $1.9 ميليارده ډالر مرسته کړې ده.[401]

USAID د ګڼ شمير روانو پروګرامونو له لارې د کرهنې سکتور سره مرسته کوي. درې لوی پروګرامونه چې له $300 ميليونه ډالرو څخه زيات لګښت لري، دادي:

- د کرهنې پراختيايي بوديجه او د کرهنيز اعتبار زياتول
- د بديل اقتصادي لارو پرمخ بيولو جايزې — شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW)
- د باغ لرنې او کرهنې بازار موندلو سوداګريز پروګرام



**يو افغان بزګر وروسته** له هغه چې د کرهنيز اعتبار د پراختياقرضي په مرسته يې کوږ او حشره وژونکی اخيستی و او دا ده اوس 20% زيات درمنديې لاسته راوړی خوشاله ښکاري. (د USAID افغانستان تصوير)

## د کرهنې پراختيايي بوديجه او د کرهنيز اعتبار زياتول

د کرهنيزې پراختيايي بوديجه او د کرهنيز اعتبار زياتول، د 150$ ميليونه ډالرو په ارزښت دکرهنيز کريډت پروژه ده، او دوه بشړونکي برخې لري چې د MAIL قرضې ورکولو له هڅو ملاتړ کوي او په عين وخت کې د قرضو اداره کولو په موخه د MAIL ظرفيت زياتوي.

ADF د 100$ ميليون ډالره بوديجوي مرستې په توګه د USAID لخوا MAIL ته چمتو شوی و تر څو د بانکونو، فارمونو، اجاره اي شرکتونو، او د خواړه پروسس کونکو له لارې د کرهنې د ارزښت په زنځير کې قرضې په چټکۍ سره مصرف کړي، او دا شرکتونه به په خپل وار سره بزګرانو ته اعتبار ورکوي. پروګرام د وړې او مينځنۍ کچې سوداګريز فارمونو ته (30–1 هکتاره ځمکې) اعتبار لاسته راوړي.

ACE د 50$ ميليونه ډالرو په لګښت د تخنيکي مرستې پروژه ده چې د ADF ټول د قرضې فعاليتونه اداره کوي او د MAIL ظرفيت زياتوي. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، 15,000 بزګرانو 38$ ميليونه ډالر په قرضې اخيستي دي. ACE همدارنګه د عامه پوهاوی زياتولو لپاره 30 دکرهنيز اعتبار شورا، يا دمشرانو ټولنې جوړې کړي دي.

USAID د پروګرام پايلې او اغيزې څاري، او د مالي کلونو د معيار په پام کې نيولو سره يې اندازه کوي.[402] د بيلګې په توګه، په 2012 مالي کال کې، 15,879 کسانو په مستقيمه توګه د مالي هوکړه ليکونو څخه ګټې اخيستې دي (په 2012 مالي کال کې د USAID د موخې 66% برخه جوړوي)، پداسې حال کې چې 101,711 کسانو په غيرمستقيمه توګه ګټې پورته کړې (د USAID له ټاکلې موخې څخه 212% زياته ده). برسيره پردې، د هغو کسانو د کورنيو عايد چې له پروګرام څخه يې مستقيمه ګټه ترلاسه کړې په اوسط ډول 56% زيات شوی، چې دا د USAID له ټاکلې موخې څخه 560% زياته ده.[403]

## د بديل اقتصادي لارو پرمخ بيولو جايزې — شمال، ختيځ، او لويديځ

د بديل اقتصادي لارو پرمخ بيولو جايزې — شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) پروګرام دافغانستان په ختيځه سيمه کې دکوکنارو کرونکو سيمو ته، او هم دافغانستان په شمال او لويديځ کې دکوکنارو سيمو ته بديل اقتصادي او کرهنيزې مرستې چمتو کوي. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، USAID د IDEA-NEW پروګرام لپاره 124$ ميليونه ډالر مقيد کړي او د نهو قراردادونو له لارې يې 108$ ميليونه ډالر مصرف کړي دي. د IDEA-NEW پروګرام له کروند ګرو سره مرسته کوي ترڅو قانونی توليد خپل کړي، د کلو د پروژو او زيربنا په پراختيا کې مرسته کوي، مالي خدمتونو ته لاسرسي پراخه کوي، د سيمه ييزه محصولاتو او سوداګريز کوريډور لپاره د محصولاتو د ارزښت زياتولو ته وده ورکوي. دا پروګرام په هغو سيمو کې چې کوکنار کرل کيږي افغان کروند ګرو ته د کرهنې سوداګريز فرصتونه زياتوي، او د مارکېټ معلوماتي کړنو او خرڅلاو ته د ودې ورکولو له لارې د توليد کونکو، سوداګرو، او اخيستونکو ترمينځ اړيکې زياتوي.[404]

## د باغ لرنې او کرهنې بازار موندلو سوداګريز پروګرام

د باغ لرنې او کرهنې بازار موندلو سوداګريز پروګرام د 40.3$ ميليونه ډالرو په لګښت پروګرام ده چې په 2010 کال کې پيل شو ترڅو د کروند ګرو سره مرسته وکړي چې د لړ ارزښت لرونکي کښت لکه غنم او جوار په ځای ګران بيه شيان لکه د ميوو او انګورو باغ جوړ کړي. CHAMP د صادراتو او سوداګرۍ کوريډور ته وده ورکوي او له کروندګرو سره مرسته کوي ترڅو د حاصلاتو کيفيت لاپسې ښه کړي. دا پروګرام همدارنګه د سوداګرو

سره مرسته کوي چې حاصل اخیستلو، انډې کول، سرد خانې، او بارچلولو دودونو ته وده ورکړي. په جنوبي ولایتونو کې — کندهار، ارزګان، هلمند، او زابل — CHAMP د پخوانیو انګورباغونو په چیله وهلو تمرکز کوي، ځکه چې اټکل شوې ده دا کار به په دووکلونو کې د بزګرو عاید دوه چنده زیاته کړي.[405]

د CHAMP پروګرامونه له ګڼ شمیر ننګونو سره مخ دي. یوه یې د هغو پروګرامونو سیالي ده چې وړیا مرسته کوي، پداسې حال کې چې CHAMP د ګډون لپاره پیسې غواړي. د دې پروژې په ټوله موده کې، بزګرانو به له خپل عایداتو څخه $4.5 میلیونه ډالر د نوي انګور باغونو او د میوو باغونو په جوړولو کې ولګوي. بله ننګونه د پلي کولو په سیمو کې د امنیت نشتون ده. د USAID ځینې کارکونکو د خپل کار په ترڅ کې له ګواښ سره مخ شوي دي. د دې ستونزو سربیره، CHAMP له 20,000 څخه زیاتو افغاني بزګرانو ته د باغ لرنې تخنیکونه زده کړي، له افغانانو سره یې مرسته کړې ده تر څو 3,000 ټنه وچې او تازه میوې په نړیواله کچه صادر کړي، اووه سردخانې، او د ممیزو وچولو اووه تسهیلات یې جوړ کړي دي. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، USAID د CHAMP په پروګرام کې د پنځو قراردادونو له لارې $20.8 میلیونه ډالر مقید او مصرف کړي دي.[406]

## اساسي خدمتونه/پراختیا

د 2002 کال څخه راهیسې، متحده ایالاتو د بریښنازیاتولو، د سړکونو او پلونو جوړولو، د روغتیا او زده کړې وده کولو، او د خدماتو سکتور په برخو کې د افغانانو ظرفیت زیاتولو په موخه بیارغونیزې مرستې چمتو کړې دي. دا برخه د اساسي خدمتونو لکه بریښنا، ترانسپورټ، روغتیا، او زده کړې وړاندې کولو په برخه کې د حکومت د وړتیا زیاتولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو پرمختګ باندې رڼا اچوي.

### انرژي

لکه څنګه چې بریښنا د افغانستان په پرمختګ کې رغنده رول لري، متحده ایالات هم د 2002 کال څخه راهیسې د انرژۍ یو جامع سکتور رامینځته کولو ته یې د خپل لومړیتوبونو په لست کې ځای ورکړی ده. یوازې USAID د ESF له لارې د جنریټرانو، فرعي سټېشن، او انتقالي لینونو جوړولو، او هم د افغانستان بریښنا شرکت د ظرفیت زیاتولو په موخه $1.7 میلیارده ډالر مرسته کړې ده. دا اداره پلان لري چې په راتلونکې څو کلونو کې لړ تر لړه 700$ میلیونه ډالره نوري هم مصرف کړي.[407] علاوه پردې، DoD د CERP له لارې $292 میلیونه ډالر او د AIF له لارې $525 میلیونه ډالر د بریښنایي پروژو لپاره چمتو کړي، چې دمرستو څارنه د DoD او State لخوا په ګډه ترسره کیده.

افغانستان په اوس وخت کې د بریښنا دوه بیل سیسټمونه لري: د شمال ختیځ بریښنا سیسټم، او د سهیل ختیځ بریښنا سیسټم.[408] پدې ربع کې، ADB د بریښنا یو نوی ماستر پلان مسوده چمتو کړه چې ددې په اساس په راتلونکو 20 کلونو کې به د بریښنا دا سیسټمونه سره ونښلول شي او د بریښنا د تولید کچه به زیاته شي او په نتیجه کې یې 100% ښاري کورونه او 65% کلي د بریښنا تر پوښښ لاندې راوستل شي. دا اوس د افغانستان 28% کورنۍ د بریښنا له سیسټمونو سره نښلول شوي دي. د بریښنا سکتور ماستر پلان، لکه چې په 3.31 شکل کې لیدل کیږي، تر 2032 کاله پورې د څلور پراووڼو په درلودلو سره د بریښنا تولید، انتقال، او د شبکې پراخولو لپاره د 10$ میلیارده ډالرو پانګونه غوښتنه کوي.[409]

### د سیګار پلټنې

سیګار په افغانستان کې د بریښنا سکتور د پراختیا لپاره د متحده ایالاتو له ګڼو هڅو پلټنه کړې ده:

- د افغانستان بریښنا رسونه که څه هم زیات شوی خو یو تازه ماسټر پلان اړین دی او ځنډونې او د پایښت اندیښنې لاهم پاتې دي (د سیګار 04-10 پلټنه)
- د کابل بریښنا تاسیس د قرارداد ځنډونې د لګښت زیاتیدو لامل شوي او د پایښت مساله لاهم یوه مهمه ننګونه ده (د سیګار 06-10 پلټنه)
- په 2011 مالي کال کې د افغانستان د زیربنایي بودیجې پروژې له مهال ویشه وروسته دي او د پایښت لپاره مناسب پلان نلري (د سیګار 12-12 پلټنه)

3.31 شکل

**د برېښنا روانه طرحه ـ د پايو د قطعاتو ځايونه او لينونه**




سرچينه: د آسيا پراختيايي بانک، "TA7637 (AFG) د برېښنا د سکټور ماسټر پلان،" 11/2012.

د 2009 کال څخه ديخوا سيګار د افغانستان د انرجۍ سکټور په اړه درې پلټنې په لاره اچولې ده. په هره پلټنه کې، دا اداره د يوه جامع ماسټر پلان جوړولو غوښتنه کړې ده ترڅو د افغانستان د انرجۍ سکټور د پراختيا په برخه کې بسپنه ورکونکو ته لارښونه وکړي.

افغانستان خپل نږدې 73% برېښنا له بهره واردوي: د وارد شوي برېښنا 57% د ازبکستان، 22% د ايران، 16% د ترکمنستان، او 4% د تاجکستان څخه واردوي. د ازبکستان، ترکمنستان، او تاجکستان څخه پنځه انتقالي لينونه NEPS ته غزول شوي دي. افغانستان د دريو لينونو په مرسته له ايران څخه برېښنا واردوي. دا وارد شوي لينونه په خپلو کې نښتي ندي. د افغانستان پاتې برېښنا د هايدرالکتريک تاسيساتو، حرارتي تاسيساتو چې د وارد شوي ډيزل په مرسته سوځي، او له واړه ډيزلي تاسيساتو څخه لاسته راځي. SEPS د کندهار او هلمند ، چې د کجکي له بند څخه برېښنا اخلي، او په کندهار کې د ډيزلي برېښنايي تاسياتو په شمول له څلورو فرعي سټيشونونو څخه جوړ شوی دی.[410]

USAID په شمال او سهيل کې د برېښنارسولو د کچې زياتيدو لپاره دوې پروژې تر کار لاندې لري. همدارنګه دا اداره د افغانستان د MoF او DABS سره د پلې کولو ليکونه لاسليک کوي چې له مخې به يې د هيواد برېښنايي صنعت شمالي او سهيلي سيمو ته په پراخه پيمانه وغزول شي. د DoD، AIF او TFBSO د ځينو نورو پروژو بوديجې ورکوي. په ځينو وختونو کې، USAID او DoD دواړه په ګډه د برېښنا لويو پروژو ته بوديجې ورکوي. د دې روانو او پلان شوو پروژو مشترک ارزښت نږدې 1.2$ ميلياره ډالرو ته رسيږي.[411]

## د شبرغان پروګرام

USAID د متحده ايالاتو حکومت د سيندونو پورې غاړې خصوصي سکتور کارپوريشن په ملګرتيا سره، ADB، او افغان حکومت پريکړه کړې ده چې د شمالي ولايت جوزجان په شبرغان سيمه کې د ګازي ساحې د پراختيا کېنلارې لپاره په ګډه سره 580$ ميليونه ډالر بوديجه چمتو کړي او د خصوصي پانګه اچونکو پاملرنه ديخوا ته واړوي څو تر 2016 کاله پورې پدې سيمه کې 200 MW، ګاز سوځونکی د بريښنا تاسيس جوړ کړي.[412] USAID د شبرغان پروګرام سره خپلې مرستې د دوو ميکانيزمونو له لارې ترسره کوي، د شبرغان ګاز پروژې له پراختيا سره بوديجوي مرسته (SGDP)، او د شبرغان دګازو توليد سره غير بوديجوي مرسته (SGGA).[413]

د هغه تطبيق خط په اساس چې د USAID، MoF، او MoM لخوا لاسليک شوی دی، SGDP به د څلورو څاګانو برمه کولو يا بيا فعاله کولو له لارې د شبرغان ګازي سيمې پراختيا لپاره پلان چمتو کوي، د ګاز پروسس کولو يو تاسيس به طرح او نصبوي، او د خپلواکه بريښنا توليد کولو لپاره د خصوصي پانګه اچونکو پام به ديخواته اړوي. د SGDP لګښت 97$ ميليونه ډالر اټکل شوي ده، چې 90$ ميليونه ډالر يې د متحده ايالاتو او 7$ ميليونه ډالر يې د افغان حکومت له لوري ورکول کيږي. USAID د دې پروژې په پيل کې 30$ ميليونه ډالر مقيد کړي ده.[414]

SGGA، د پروګرام غير بوديجوي برخه، د ګازي سيمې او پروسس کولو تاسيس د پراخولو، اداره، او څارنې لپاره د MoM او اړوندو وزارتونو ظرفيت زياتوي. د پروګرام د ظرفيت زياتولو برخه به له افغاني چارواکو سره مرسته وکړي تر څو د ګازي ساحې او بريښنا تاسيس د پراختيا لپاره اړينې زيربناوې په ګوته کړي، د داوطلبۍ اسناد چمتو، او د بوديجې خلاوې ومومي. USAID د SGGA د 20.5$ ميليونه ډالرو قرارداد په وخت کې د ESF څخه 12$ ميليونه ډالر مقيد کړي دي.[415]

USAID د ټول پروګرام لګښت نږدې 21% په غاړه اخيستې ده. MoM بيا 5% او ADB به 22% نوره بوديجه ورکړي. لکه څنګه چې په 3.32 شکل کې ښودل شوې ده د پروژې پاتې 52% لګښت به د خصوصي پانګه اچونکو له لوري ورکول کيږي.[416] متحده ايالاتو دې پروژې ته د وارد شوو بريښنا څخه د افغانستان د خپلواکۍ په لوري د مهمې پروژې په سترګه ګوري.

پدې ربع کې، USAID ته اجازه ورکړ شوه تر څو د باشي کرد او جمعه ګازي سيمو کې دوې ګازي سيمې بياروغې کړي او دوې نوې سيمې برمه کړي تر څو معلومه شي چې د پروژې د پايښت لپاره کافي زيرمې شته دي.[417] د 2012 کال د دسمبر په 3 نيټه، د افغان حکومت تدارکاتي موسسه، افغانستان ريکانسټرکشن اينډ ډولوپمنټ سرويسز، د دې بهير پرمخ بيولو لپاره له يوې مزايدې سره موافقه وکړه.[418]

3.32 شکل

**په شبرغان کې د بسپنه ورکونکو سهميې**

(په ميليون ډالر)




سرچينه: د شبرغان په اړه د USAID ډشبورډ 12/6/2012.

## کندهار-هلمند د بريښنا پروژه

د کندهار-هلمند بريښنا پروژه، لکه څنګه چې په 3.33 شکل کې راغلې ده، غواړي په کندهار کې د بريښنا رسولو کچه لوړه، او خلکو ته يې لاسرسي زياته کړي. USAID له بليک او ويچ سره د 266$ ميليونه ډالرو په ارزښت يو قرارداد لاسليک کړ ترڅو نوی ډيزلي جنريټرونه طرح او جوړ کړي، د بريښنافرعي سټيشنونه بياروغ کړي، د بريښنا ويشلو سيستم لوړ کړي، او د کجکي په بند کې دريم توربين نصب کړي. دا پروژه چې د افغانستان

شکل 3.33

**د کندهار- هلمند د برېښنا پروګرام**




سرچينه: د سيګار 11/6/2012 معلوماتي غوښتنې "KHPP ډشبورډ،" ته د USAID ځواب.

په جنوب کې د جنګياليو په ضد ستراتيژۍ د يو مهم عنصر په توګه ګڼل کيږي، هيله کيږي چې د کندهار د خلکو د ژوند کيفيت بهتره کړي. د2012 کال د دسمبر تر31 پورې، USAID د ESF څخه $139.5 ميليونه ډالر د KHPP لپاره مقيد کړي دي.[419]

د متحده ايالاتو ځواکونه - افغانستان، د متحده ايالاتو د پوځي انجينرانو قطعي، او USAID د پروژې په اړوندو برخو باندې سره نږدې کار کوي. په هرصورت، دا پروژه له يو شمير ننګونو سره مخ شوې ده. امنيتي مسايل د دې لامل شو چې د پروژې بشپړېدو مهال ويش د 2015 کال مينځنيو ته وغزول شي. د رپوټ پدې دوره کې، USACE په کجکي کې د پروژې د انسجام دفتر جوړولو لپاره خپل پلان شنډ کړه، او د کجکي ساحې امنيتي قرارداد يې هم پای ته ورسوله. افغان عامه محافظت ځواکونه د اتو ورځو لپاره خنډونه ولاړ کړل چې د 200,000$ ډالرو په لګښت لرې کړل شول. په يوه بله مساله کې، د متحده ايالاتو د بيرغ وړونکو د نشتون له امله چې په قانوني ډول د USAID په مرسته ترانسپورتي وسايلو کې لګول کيږي، د ممبی څخه کراچۍ ته د سمندري باروړونکو او مدار ماتونکو د کار ځنډيدو لامل شو.[420]

## د برېښنا انتقال د پراخولو او اړيکې پروګرام

د برېښنا انتقال د پراخولو او اړيکې پروګرام، د متحده ايالاتو په مرسته داسې يو پروګرام ده چې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ د برېښنا رسولو له ملي پروګرام سره مستقيمه مرسته کوي، او د افغانستان د برېښنا توليد، انتقال، او ويشلو د سيستم عصري کولو لپاره

ډیزاین شوي ده. دا ستراتیژي د ټولو کچې پر ودې او د بریښنا رسولو پر زیاتولو ټینګار کوي.[421] د PTEC یوه برخه NEPS له SEPS سره نښلوي.

د رپوټ پدې دوره کې، USAID د پروژې لومړی تطبیق خط لاسلیک کړه چې د پروژې منظري او مصارفو په اړه یې معلومات ورکړي و، او اوس د MoF او DABS لخوا د متقابلو لاسلیکونو انتظار باسي. د دریو نورو تطبیق خطونو مسودې لیکل شوي او د تصفیې په ب هیر کې دي. همدارنګه پدې ربع کې، د درونټې هایدرو الکتریک بریښنایي تاسیس د ترمیم لپاره داوطلبۍ خپرې شوې، کوم چې د PTEC لاندې د 2012 کال د نومبر په 4 نیټه تجارتي شوی و.[422]

لکه څنګه چې په 3.34 شکل کې ښکاري، PTEC به په څو پړاوونو کې د $814 میلیونه ډالرو په لګښت پلي شي، او دابه د انرژۍ سکتور په برخه کې د متحده ایالاتو تر ټولو نه لویه هڅه وي. له دې رقم څخه، $713 میلیونه ډالر د ESF له مرستو او$101 میلیونه ډالر د AIF له مرستو څخه لاسته راځي. متحده ایالاتو د دې مرستې زیاته برخه — $698.9 میلیونه ډالر — په بودیجوي شکل ورکوي ترڅو 490 کیلومتره د بریښنا لیږدولو لین وغزوي، اووه فرعي سټیشنونه جوړ کړي، NEPS ته وده او پراختیا ورکړي، او د DABS ظرفیت په زیاتولو کې مصرف شي. غیربودیجوي مرستې چې $115.1 میلیونه ډالرو ته رسیږي د خدماتو

3.34 شکل

**د انرژۍ په سکټور کې د USAID روانې او بشپړې شوي پروژې**




سرچینې: د آسیا پراختیایي بانک، "TA7637 (AFG) د بریښنا سکټور ماسټر پلان،" 11/2012؛ د سیګار 7/13/2012 معلوماتي غوښتنې "PTEC ډشبورډ" ته د USAID ځواب.

په طرح، د ودان شوو تاسيساتو د کيفيت تضمين، د اوبو او برېښنا وزارت ظرفيت زياتول، او د درونټې هايدرو الکتريک برېښنا تاسيس په ترميم کې مصرف کېږي.[423]

د PTEC پلي کول د امنيت او د DABS ظرفيت په شمول له ګڼ شمير ننګونو سره مخ دی. امنيت په مرکزي قومانده-ختيځ کې په خاصه بيا د هغه سړک په اوږدو کې (افغان 1 سړک) چې PTEC پلي کيږي د خرابيدو په حال دی. که څه هم DABS خپله وړتيا زياته کړې او هڅه کوي وښيي چې يو ښه ملګرى کيداى شي، خو USAID ويلي چې DABS هيڅکله هم پدې کچې کارونو کې ندی ښکيل شوی. بالاخره، د قانوني مسايلو له امله USACE د AIF په مرسته د برېښنااانتقالولو په اړه خپله غوښتنه فسخه کړه.[424]

## د DoD لخوا مرسته شوي پروګرامونه

DoD پدې ربع کې، په 2012 مالي کال کې د افغانستان زيربنايي بوديجې په کارولو سره د انرژۍ سکتور ګڼ شمير روانو پروژو سره يې خپلې مرستې ته ادامه ورکړه. دا پروژې پدې ډول وې:

- د کندهار د برېښنا پلبندۍ حل لاره
- له کندهار نه تر دوراہي جنکشن پورې انتقالي لينونه
- له چاريکا نه تر بازارک او محمود راقي پورې انتقالي لينونه او د برېښنا فرعي سټېشنونه

## د کندهار د برېښنا پلبندۍ حل لاره

دا پروژه، چې په 2012 مالي کال کې $79.8 ميليونه ډالر لګښت درلوده، تر څو چې KHPP بشپړ کيږي د کندهار ښارته د ډيزلي برېښنا تاسيساتو په مرسته برېښنا توليدوي. DoD دې پروژې ته د جنګياليو په ضد ستراتيژۍ کې د يو مهم عنصر په توګه ګوري څکه چې د اقتصادي پراختيا څخه ملاتړ کوي او د ښاريانو د ژوند کيفيت لوړ وړي. د پروژې موخه د عامه خدماتو په وړاندې کولو کې پردولت باندې د خلکو اعتماد راجلبول او د جنګياليو د ملاتړ له مينځه وړل دي. DoD ويلي چې د کندهار پلبندۍ د حل لاره، افغانستان ته د برېښنارسولو پلان يوه مرکزي برخه جوړوي او د افغانستان د پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت پلان لپاره مهمه ده.[425]

د2012 کال په جولای کې سيګار د AIF د 2011 مالي کال پروژو څخه په پلټنه کې وموندہ چې د کندهار پلبندۍ د حل لاره د ځينو نورو پروژو لکه د SEPS پراختيا او د NEPS سره يې اړيکه، او همدارنګه د KHPP په لاره اچولو باندې تکيه لري، چې دا ټولې پروژې د 2014 کال څخه وروسته بشپړې کيږي. همدارنګه پلټنه په نښه کړه چې تر څو د ډيزلي جنريټرانو لپاره د سون بديلي زيرمې ونه موندل شي يا کندهار ښار ته د ټلونکو ډيزلو کچه زياته نشي، هيڅ امکان نلري چې د پلبندۍ د حل لارې لګښت کم کړای شي.[426]

DoD په پلان کې لري چې تر 2015 مالي کاله پورې د سون مواد برابر، او د عملياتونو او ساتونکي ګامونو څخه ملاتړ وکړي.[427] پهرصورت، USAID ويلي چې په 2013 کال کې د سيمه ييزه قوماندې - سهيل مرکز په ټرلو سره به د ډيزلي تاسيساتو بنديدا زياته شي.[428]

## له کندهاره تر دوراهي جنکشن پورې انتقالي لينونه

د SEPS پراخونکې هڅې د يوې برخې په توګه، دا پروژه دتيرو هڅو په امتداد د کندهار څخه تر دوراهي جنکشن پورې انتقالي لينونه نصب يا ترميم کوي او دميوند او پشمول فرعي سټېشنونه ودان يا هم ترميموي. دا پروژه په 2012 مالي کال کې $40 ميليونه ډالر

## د سيګار پلټنه

د افغانستان د ملي بريښنا صنعت د موقتي رپوټ په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره (د سيګار 2-13 پلټنه) د 2 برخې، 16 مخ وګورئ.

لګښت درلوده او د افغانستان په سهيلي او سهيل لويديځو سيمو کې به د بريښنا اړتيا بشپړه کړي. د کندهار بريښنا د پلبندۍ حل لارې په اړه، د DoD موخه دا ده چې د اقتصادي ودې، امنيت، ثبات، او پر دولت باندې د خلکو باور زيات کړي. د DoD په وينا، د کجکي بند د دريم توربين له نصبولو سره د توليد شوي بريښنا د ويشلو لپاره د دې پروژې بشپړيدا اساسي اهميت لري. انتقالي لينونه همدارنګه د PTEC پروژې لپاره چې SEPS له NEPS سره نښلوي د کليدي عنصر په توګه اهميت لري.

DoD همدارنګه د DABS په چوکاټ کې د ظرفيت زياتوالي ته پام لري تر څو د بريښنا ځانګه سوداګريز کړي او له دې لارې د بريښناشبکې د ودې لپاره کافي عوايد تر لاسه کړي.[429] پهرصورت، سيګار د 2012 کال په دسمبر کې د متحده ايالاتو د هغو مرستو په موقتي پلټنه کې چې د DABS د سوداګريز کولو لپاره يې کوله وموندل چې، د DABS کندهار ځانګه چې ويل کيږي د شبکې د دې برخې مسوليت په غاړه واخلي د دې وړتيا نلري چې په خپلواکه توګه د سيسټم تجهيزات، اداره، نصب، چلونه، او لاسته راوړنه ترسره کړي.[430]

### د چاريکار نه تر بازارک او محمود راقي پورې انتقالي لينونه او د بريښنا فرعي سټيشنونه

دا د 48.8$ ميليونه ډالرو په لګښت پروژه به د چاريکار نه تر بازارک او د چاريکار نه تر محمود راقي پورې52 کيلومتره انتقالي لينونه وغزوي، او د NEPS پراخولو لپاره درې فرعي سټيشنونه جوړ کړي. د DoD په وينا، د پروژې بشپړيدا به په دريو ولايتونو کې 1.15 ميليونه افغانانو ته د اعتماد وړ بريښنا توليد، او خصوصي سکتور ته به په ځانګړې توګه د کرهنې، پروسس کول، توليد، او کان کيندنې په برخو کې وده ورکړي. DoD داسې انګيرنه کوي چې DABS به د ملي شبکې د عملياتونو او ساتنې مسوليت په غاړه واخلي، او د زيربنايي ودو مسوليت به له بشپړيدو وروسته ورپه غاړو شي، او همدارنګه پدې به وتوانيږي چې د عايداتو او ظرفيت زياتولو له لارې د بريښنا اوږد مهاله پايښت وساتي.[431] پهرصورت،لکه څنګه چې وړاندې وويل شو، د سيګار نوې پلټنه د DABS دظرفيت په اړه پوښتنې پورته کړې، او نورې پلټنې يې ښودلې چې افغانستان داسې زيرمې نلري چې د عملياتونو ترسره کولو او د ژمنو ادارې لپاره اړينې دي.[432]

### د بريښنا په سکتور کې د CERP پروژې

DoD همدارنګه په ټول هيواد کې د وړو کچو بريښنايي پروژو لپاره لکه د وړو هايدروالکتريک تاسيسونو جوړول، کومکي جنريټرونه، او صنعتي قطبونو په جوړولو کې د CERP مرستې کاروي.[433]

## ترانسپورټيشن

### د سړکونو جوړول

متحده ايالاتو د ESF او CERP له لارې د سړکونو له جوړولو سره مرسته کړيده. د 2002 کال څخه ديخوا، دمتحده ايالاتو له 2.1$ ميليارده ډالره مجموعي مرستو څخه چې د سړکونو او پلونو جوړولو لپاره يې کړې دي، نږدې 1.5$ ميليارده ډالر يې د USAID لخوا ورکړ شوي ده.[434] د USAID په وينا، دا پروژې له 2,000 کيلومترو څخه زيات سيمه ييز، ملي، ولايتي، او کلوالي سړکونه بشپړ کړيدي.[435]



**د USAID مرستېپهافغانستان** کې د پاخه سړکونو اندازه د 2002 کال په پرتله چې 50 کيلومتره و، د جوزجان د سړک په شمول 2,000 کيلومترو ته زيات کړي دي. (د USAID افغانستان تصوير)

د CERP مرستې چې $484.2 ميليونه ډالرو ته رسيږي د 2005 کال له سپتمبر څخه چې د سړکونو لومړی بشپړه شوې پروژه ثبت شوې ده، پر بشپړ شوو پروژو مصرف شوي دي. DoD رپوټ ورکړې چې د 2012 کال د دسمبر تر20 پورې، د CERP په $68.1 ميليونه ډالرو لګښت د سړکونو 75 پروژې تر کار لاندې دي. د DoD موخه دا ده چې د 2014 له پای ته رسيدو وړاندې ټولې رواني پروژې بشپړې کړي.[436]

د DoD په وينا، افغانستان 5,430 کيلومتره بشپړ شوي سړکونه، او 2,266 کيلومتره تر کار لاندې سړکونه لري.[437] حلقوي سړک هغه ابتدايي شبکه ده چې لوی افغان ښارونه سره نښلوي. لکه څنګه چې د راتلونکې مخ په 3.35 شکل کې ښودل شوې ده متحده ايالاتو او نړيوالې ټولنه د 2004 کال څخه ديخوا، 2,700 کيلومتره سړک ټوله جوړ کړي دي يا يې ترميم کړي.[438] بسپنه ورکونکو تمه لري چې حلقوي سړک به سيمه ايېزه سوداګري او تعاون وهڅوي، کار پيداکړي، او امنيت ته لاره هواره کړي.[439] د State په وينا، د حلقوي سړک بشپړول او د سړکونو په برخه کې افغاني اداره جوړول د سړکونو په سکتور کې د متحده ايالاتو سترلومړيتوب تشکيلوي.[440]

ADB، چې متحده ايالات او جاپان يې لوی سهم لرونکي دي، د 2011 کال په جنورې کې ژمنه وکړه چې د حلقوي سړک پاتې 233 کيلومترو لپاره چې د افغانستان په شمال لويديځ کې دقيصار، بالامرغاب، او لمان ښارونه سره نښلوي، $340 ميليونه ډالر ورکړي.[441] دا پروژه د امنيتي ستونزو له کبله د اوږد مهال لپاره غيرفعاله پاتې ده. د State په وينا، تمه کيده چې د سړک جوړول به په 2012 کال کې پيل شي او اوس له مهال ويش نه يو کال وروسته پاتې ده.[442] پهرصورت، DoD رپوټ ورکړې ده چې په بادغيس ولايت کې د رغونې کار پيل شوی دی.[443] افغان عامه محافظت ځواکونه اوس د ساحې امنيتي مسوليت په غاړه لري ځکه چې

افغان حکومت خصوصي امنیتي شرکتونو ته اجازه نه ورکوي چې د پراختیایي پروژو امنیت په غاړه واخلي.[444]

د متحده ایالاتو د ترانسپورتیشن وزارت په وینا، د افغانانو او بسپنه ورکونکو د ژمنو سربېره، د افغانستان د سړکونو زیربنا په پیل کې د ضعیف کیفیت، کمزورې ساتنې، او زیات بارولو له امله د ویجاړیدو په حال کې ده. DoT د ټولنیزو چارو وزارت دتخنیکي ظرفیت لوړولو له لارې مرسته کوي تر څو د رغونې کیفیت تضمین کړي، او د رغونې او ساتنې لپاره د پراختیایي پلانونو، ځانګړتیاو، او معیارونو په جوړولو کې، همدارنګه د نقلیه وسیلو او عملیاتونو په اړه یې د ځارنې او مقرراتو د معیارونو په جوړولو کې له یاد وزارت سره مرسته

3.35 شکل

**د حلقوي سړک پرمختګ: بشپړې شوې برخې**




یادونه: د نیټو لاندې بسپنه ورکونکي لیکل شوي دي.

سرچینه: د ستراتیژیکو مطالعو لپاره نړیوال انستیټیوت، 1/10/2012.

کوي. پدې مرستو کې د ساتونکې اداري سیستم، د سوداګریز نقلیه وسیلو اندازه او وزن پلې کولو پروګرام، او د سړک پورې اړوند چارواکو رامینځته کولو هڅې، د سړکونو بودیجه، او د پایښت لپاره د ترانسپورټیشن انستیتیوټ شاملېږي.[445]

## ریل

متحده ایالاتو او نړیوال ملګرو یې د افغانستان سره مرسته کوي ترڅو خپل د ریلو سکتور د یوه ګټور او پایداره سیستم په توګه رامینځته کړي. په دې وخت کې، افغانستان د ریلو سړک په برخه کې د پام وړ پرمختګ نده کړې، عملیاتي تجربه او خپل ظرفیت هم نلري.[446] تراوسه یوازې د ریلو یوه لاره جوړه شوې ده — د 75 کیلومتره لیکې په درلودلو د ازبکستان په پوله کې له حیرتان څخه تر مزارشریف پورې غزیدلې ده. بسپنه ورکونکې سهام لرونکو هیله لري چې د ریلو اړوند افغاني اداري رامینځته کیدلو سره چې د 2012 کال په سپتمبر کې د کابینې لخوا تصویب شوی دی، وضعیت به بدل شي. دا اداره مسولیت لري چې د افغانستان د ریلو زیربنا ته وده ورکړي، او د ترانسپورټیشن په سکتورکې د مقرراتو جوړښت چمتو کړي.[447]

پدې ربع کې، متحده ایالاتو د ټولنیزو چارو له وزارت سره کار وکړ تر څو دا اداره پر پښو ودروي. د متحده ایالاتو مرکزي قوماندې د ریلو ملي پلان په جوړولو کې مرسته کوي، چې دا به ریلو زیربنا ته د ودې ورکولو لپاره وړاندیزونه وکړي.[448] په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د DoT د فیدرالي ریل روډ اداري چارواکې د نورو امریکایي ادارو او ایتلافي ملګرو سره یوځای کار کوي تر څو دپایداره څارنې او د مقرراتو پلی کیدو لپاره د ریلو اداري ضرورتونه په خاصه بیاد ستراتیژیک پلان جوړولو، اصلي وړتیا، او کارکونکو ته وده ورکړي. د ریل زیربنا جوړولو په برخه کې متحده ایالاتو په مستقیمه توګه کومې پروژې ته بودیجه نه ورکوي، خو په غیرمستقیمه توګه د ADB او نورو ادارو له لارې یې مرستې رسیږي.[449]

## هوانوردۍ

متحده ایالاتو له افغانستان سره مرسته کوي ترڅو د هوانوردۍ قانون چې د 2012 په سپتمبر کې د پارلمان لخوا تصویب شو، پلي کړي. په قانون کې د ملکي هوانوردۍ اداري جوړول هم شامل و. پدې ربع کې، د فیډرال هوانوردۍ اداري چاراوکو د کابل نړیوال هوایي ډګر تفتیش کړ تر څو د ملکي هوانوردۍ نړیواله موسسه کې د شاملیدو لپاره اساسي ارزونې ترسره کړي او د افغان کنترول لپاره انتقالي پلانونه چمتو کړي. د کندهار، هرات، او مزارشریف هوایي ډګرونو ارزونې په پلان کې نیول شوي دي.[450] DoD ځان اماده کوي تر څو د فضاکنترول د متحده ایالاتو د هوایي برخې ګډې قوماندې څخه دافغانانو کنترول ته وسپاري، او همدارنګه د ملکي هوانوردۍ او ترانسپورټیشن وزارت ظرفیت زیاتوي ترڅو له نړیوالو معیارونو سره برابر شي او هم د ملکي هوانوردۍ عملیاتونه په خپلواکۍ سره سرته ورسوي.[451]

دې پایلې ته د رسیدلو لپاره، DoT د USAID په $10.6 میلیونه ډالره مرستې سره یو درې کلن روزنیز پروګرام پیل کړی چې په ترڅ کې به یې د هوایي ترافیک افغان کنترول کونکو، تکنیشن، او دخوندي الوتنې مفتشینو ته د نړیوال ملکي هوانوردۍ موسسې د منښت بنسټونه ور زده کوي.[452] دمتحده ایالاتو داهڅې د دې لپاره دي چې د اروپایي ټولنې لخوا د خوندیتوب معیارونو د اندیښنو له امله چې کوم ممانعت پر افغان هوایي لیکو ایښودل شوی لرې کړي.[453]

## زده کړه

USAID د 2002 کال څخه ديخوا، د ښوونځيو جوړولو، کوريکولم او روزنيزو پروګرامونو په لاره اچولو سره د زده کړې څخه ملاتړ کړې ده. د زده کړې په سکتور کې د USAID هڅه لومړيتوبونه چې د ESF لخوا يې بوديجه ورکول کيده پدې ډول دي:

- اساسي زده کړه، سواد زده کول، او تخنيکي-مسلکي زده کړه او روزنه (BELT)
- د لوړو تحصيلاتو پروژه (HEP)
- امريکن يونيورسيټي اف افغانستان (AUAF)

## اساسي زده کړه، سواد زده کول، او تخنيکي-مسلکي زده کړه او روزنه (BELT)

اساسي زده کړه، سواد زده کول، او تخنيکي-مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) يو درې کلن (د 2011 دسمبر — 2014 اکتوبر) بوديجوي پروګرام د 173$ ميليونه ډالرو په لګښت دی چې د دولت له لاسرسۍ نه لرې پراتو سيمو کې د ټولنې په اساس زده کړې له لارې اساسي زده کړه خلکو ته رسوي. دا پروژه تخنيکي-مسلکي زده کړه او ترينګ او همدارنګه د سواد زده کولو پروګرامونه هم وړاندې کوي. د 2012 کال د دسمبر تر31 پورې، 32$، USAID ميليونه ډالر د ښوونکو د روزنې (12$ ميليونه ډالر د افغانستان دبيارغونې خيريه بوديجې له لارې) او د 1-6 ټولګيو د کتابونو (20$ ميليونه ډالر د ښوونې وزارت) لپاره تخصيص کړې دي.[454] د BELT د برياليتوب په وړاندې لويه ننګونه د ولايتونو، ولسوالۍ، او ښوونځيو په



**د متحده ايالاتو د هوايي ځواک يو صاحب منصب** د بګرام په هوايي ډګر کې له يو افغان ماشوم سره د ښوونځی د کورنۍ وظيفې په اړه مرسته کوي، د محلي خلکو سره د مثبت چلند په کولو سره د جنګياليو کمولو هڅې. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواک تصوير)

کچه د کارونو څخه د څارنې او د USAID په مرسته د درسي کتابونو په ویشلو کې د وزارت کمزوری ظرفیت دی. د امنیت نشتون او یخ ژمی له امله ځینو سیمو ته لاسرسي امکان نلري.[455]

USAID وايي چې د وزارت د زده کړې معلومات اداري سيستم له لارې نتايج څاري، چې پدې سره د زده کونکو حاضري، د ښوونځيو موقعيت، د ساتنې اړتياوې، او همدارنګه د ښونکو شميرې او ورتياوې تر تعقيب لاندې نيول کيږي. وزارت به د نړيوال بانک په مرسته، د ښونکو د ترينګ او تړلو کړنو په اړه رپوټ ورکوي. بالاخره، د لاسته راوړنو کلنۍ بياکتنه به په نوی کال کې د نوي موخو په ټاکلو سره ترسره شي.[456]

## د لوړو زده کړو پروژه

د USAID په وينا، له کوم وخت نه چې په 2006 کال کې د لوړو زده کړو پروژه پيل شوې ده، په بريالی توګه يې د لوړو زده کړو ملي ستراتيژيک پلان په پلي کولو کې د لوړو زده کړو له وزارت سره مرسته کړېده. په خپل وروستۍ تکرار کې (د 2011 فبروري — د 2013 اګست)، HEP د وزارت ظرفيت زياتولو لپاره د مسلکي ترينګ، د کيفيت تضمين او اعتبار ورکول، دکوريکولم بياکتنه، د پوهنتون ملګرتيا، اکاډميک پاليسۍ، او مقرراتو په شمول تخنيکي مرستې کړي دي. HEP همدارنګه په کابل پوهنتون کې د عامه اداره او پاليسۍ ماسترۍ دوره پيله کړه چې په لومړی دوره کې يې 10 سړي او 10 ښځو ته د 2012 کال په اګست کې داخله ورکړل شوه. د 2012 کال د اګست تر 31 پورې، USAID د HEP لپاره $21.2 ميليونه ډالر تخصيص ورکړي ده.[457]

د USAID په وينا، د HEP پياوړتيا پدې کې ده چې کولی شي په دوامداره توګه د لوړې زده کړې لوړ کيفيت لرونکي پروګرامونه د نړيوالو معيارونو په اساس د امنيتي او لوجيستيکي ننګونو څخه ډک چاپيريال کې پلي کړي. پهرصورت، که څه هم ياد پروګرام د دريو مياشتنۍ رپوټونو له لارې خپل ورکړې او پايلې څاري، خو په روان وخت کې د خپلې اغيزې محاسبه کولو لپاره کره معلوماتو ته لاسرسي نلري. USAID د HEP دويم دور (2013–2017) لپاره داسې ارزونه ډيزاين کوي چې د پايلو اندازې او د معلوماتو راټولو ته زياته پاملرنه کوي.[458]

## د افغانستان امريکايي پوهنتون

دا پنځه کلن پروګرام (د 2008 اګست — د 2013 جولای) د $42 ميليونه ډالرو په لګښت د دې لپاره ډيزاين شوی چې د افغانستان امريکايي پوهنتون د انګليسي ژبې ليسانس دورې، او د زده کړې روانو پروګرامونو څخه داسې ملاتړ وکړي چې پر دوه اړخيزه هنري استعدادونو باندې يې پاملرنه زياته وي. د ليسانس دورې اسناد يې عبارت دي له: د سوداګرې اداره، معلوماتي تکنالوژي او کمپيوتر ساينس، سياسي علوم او عامه اداره، او ډله ايزې مطبوعات. AUAF همدارنګه د سوداګرې په اداره کې دماسترۍ سند ورکوي. د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، USAID د دې هڅو لپاره $39.6 ميليونه ډالر تخصيص ورکړې ده. د AUAF په وړاندې ستره ننګونه مالي مساله ده. USAID خبرداری ورکوي چې که چيرته لږ تر لږه په راتلونکو پنځو کلونو کې له AUAF سره په روانه اندازه مرسته ونشي، نو نشي کولی خپل روان کارونه همداسې وساتي.[459]

## د کارګرۍ بازار سروی

سيګار وړاندې له دې هم د افغانستان د لوړو زده کړو د کوريکولم کمزورۍ کيفيت ته اشاره کړې وه. د هيواد عامه سکتور تخنيکي ښوونځۍ او مسلکي ترينران د مسلکو پورې ځانګړې موخې يا اهداف نلري چې د شاګردانو يو شمير د سوداګرۍ يا صنعت له شرايطو سره سم وروزي. د دې لپاره چې د افغانستان تحصيلي موخې د صنعت له اړتياو سره برابر کړای شي، USAID په شپږو لويو ښارونو کې د وړو او مينځنيو کچو شرکتونو په اړه د کارګرۍ بازار سروی پيل کړې ده: کابل، مزار شريف، جلال آباد،هرات، کندهار، او کندوز. دا څلور سروی د دوو کلونو لپاره هر شپږ مياشتې وروسته بيا تکرارېږي.[460]

لومړی سروی د 2012 کال په اپريل کې بشپړ شو او و يې مونده چې د وړو او لويو شرکتونو 36% د تکړه کارکونکو اړتيا ښودله (هغه کار کونکي چې تخنيکي مهارت لري) او 35% يې د مسلکي کارکونکو اړتيا ښودلې وه(هغه کسان چې پرمختللی ترينګ او معمولا يوسند لري).[461]

پدې ربع کې، د سروی پايلې پدې ډول وې:[462]

- کندز د کم عايده کارونو له زياتې کچې څخه ځوريږي، پداسې حال کې چې کار ورکونکو بيا د کاري مهارتونو له نشتون څخه سخت ناراضه دي. دا بازار به د تخنيکي-مسلکي زده کړې ترينګ ته ښه ځواب ورکړي؛ USAID دې ولايت ته پاملرنه کوي.
- کابل د کم عايده کار له مينځنۍ کچې سره مخ ده او په عمومي توګه کار ورکونکو د کاري ځواک له شته مهارتونو څخه راضي دي. لکه څنګه چې د کابل نفوس زيات دي، USAID به د تخنيکي-مسلکي زده کړې ترينګ ته زياته پاملرنه وکړي تر څو په اړه يې د افغانانو مثبت درک زيات، او د تخنيکي مسلکي زده کړې ترينګ پروګرام کې يې ګډون ته وهڅوي.
- جلال آباد د کم عايده کارونو لږه کچه لري او په تخنيکي مسلکي زده کړه کې يې ګډون هم لږ دی.
- کندهار، مزار شريف، او هرات د تخنيکي-مسلکي ترينګ لپاره ډير منونکی بازار لري.
- تخنيکي-مسلکي ترينګ بايد د صنعت ځانګړي مهارتونه لکه محاسبه، بازار موندل، او دکمپيوټر سوادسره د صنعت د انتقال وړ مهارت لکه د ماشين ترميم او عملياتونو يو ځای کولو سره د انتقال وړ مهارتونو باندې زيات تاکيد ولري.

## روغتيا

سره له دې چې په افغانستان کې د مور-ماشوم د مړينې کچه په نړۍ کې د لوړو شميرو څخه لري، بياهم د 2002 کال څخه وروسته افغانستان پدې برخه کې کافي پرمختګ کړی. افغان ماشومان او بالغان اوږده ژوند لري، او د ماشوم د زيږيدنې پرمهال د ميندو مړينې هم کمې دي. په 2010 کال کې د USAIDپه مرسته د افغانستان د مړينې مطالعه وښوده چې د بالغان د عمر کچه په افغانستان کې 20–15 کلونه زيات شوي، چې دا څيړنه د 2012 کال په جنورۍ کې د سيګار په درې مياشتنۍ رپوټ کې تشريح شوې ده.[463]

DoD رپوټ ورکړې ده چې د 2002 کال په پرتله چې د ابتدايي روغتياپالنې 498 مرکزونه په افغانستان کې وې، اوس زيات له 1,970 مرکزونو څخه دي.[464] متحده ايالاتو له دې مرکزونو څخه په 13 ولايتونوکې 540 هغو ته يې د دريو روغتونونو په شمول مرستې چمتو کوي. د دې مرستې په کارونې سره، د 2002 کال په پرتله چې يوازې 9% خلک کولی شوای يو ساعت په پښو مزل کولو سره يو طبي مرکز ته ورسيږي، اوس 60% خلک کولی شي د پښو



**د شينډنډ روغتون وروسته** له هغه چې د انجينرانو قطعې تر نظارت لاندې بشپړ شي، 28 بسترونه به ولري، او ځايي خلکو لپاره به ډېر اړين طبي خدمتونه وړاندې کړي.
(د متحده ايالاتو د پوځي انجينرانو قطعې تصوير)

په يو ساعت مزل د ابتدايي روغتياپالنې يو مرکز ته لاسرسي ومومي.[465] په ښاري سيمو کې 97% خلک روغتيا پالنې ته لاسرسي لري، خو په کلو کې بيا دا شميره 63% ته او د کوچيانو په برخه کې 46% ته راټيټيږي.[466]

پدې ربع کې د روغتياپه سکتور کې د USAID ستر لومړيتوبونه پدې ډول دي:

- د روغتيايي خدمتونه لپاره د ملګرتيا قراردادونه
- د روغتياپاليسی پروژه
- د مشرې، اداره، حکومتولې پروژه

## د روغتيايي خدمتونه لپاره د ملګرتيا قراردادونه

د 236$ ميليونه ډالرو په لګښت د روغتيا لپاره د ملګرتياقراردادونو داپنځه کلن پروګرام (د 2008 جولای — د 2014 جنوري) د روغتيا وزارت سره مرسته کوي تر څو په ټول افغانستان کې له 540 څخه زيات طبي تسهيلاتو او زيات له 6,000 طبي پوستو کې د روغتيايي خدمتونو ابتدايي کڅوره او د روغتون خدمتونو اساسي کڅوره وړاندې کړي.[467] د 2012 کال د دسمبر تر 16 پورې، USAID د دې پروګرام لپاره 190$ ميليونه ډالر تخصيص ورکړې ده.[468] PCH د روغتيايي اساسي خدمتونو څخه د لوړې کچې تخصصي تشخيصي او معالجوي خدمتونه وړاندې کوي. همدارنګه دا پروګرام د ټولنې د قابلګۍ زده کړې قرارداد سره هم مرسته کوي، کوم چې په ټولنه کې مور او ماشوم دمړينې په کمولو کې رول لري. د يو کال په ترڅ کې تقريبا12 ميليونه ناروغان، چې 76% يې ښځې او ماشومان دي، د USAID په مرسته روغتيايي تسهيلاتو ته مراجعه کوي.[469]

## د روغتيا پاليسی پروژه

د روغتياپاليسی پروژه د 18$ ميليونه ډالرو په لګښت يو 18 مياشتنۍ (د 2012 جون — د 2013 نومبر) پروګرام ده، چې د عامه خصوصي ملګرتياو په مرسته د روغتيابنسټيزو اړتياو پوره کولو لپاره د عامې روغتيا وزارت ظرفيت زياتوي. د 2012 کال د دسمبر تر 16 پورې USAID د دې پروګرام لپاره 9$ ميليونه ډالر مقيدکړې ده.[470] HPP د خصوصي سکتور د

ظرفيت زياتولو لپاره کار کوي ترڅو د لوړ کيفيت خدمتونه وړاندې کړي، د HIV څخه د پاملرنې او مخنيوی پاليسيو ته وده ورکړي، او د ټولنيزې رسنۍ له لارې د کړنې بدلونونو ته وده ورکړي.[471] د HPP بشپړ شوي کارونه عبارت دي له: د عامې روغتياوزارت په چوکاټ کې د عامه خصوصي سکتور د ملګرتيا واحد سټاف پوره کول، د MoPH د جوړښت ارزونه بشپړ کول تر څو د خصوصي سکتور د پاليسۍ او مقرراتو پلي کولو لپاره يې وړتيا معلومه شي، د MoPH لخوا د HIV ملي پاليسي اوستراتيژۍ له پلي کولو څخه ملاتړ،او په کابل کې د عامه سکتور روغتيايي خدمت وړاندې کونکو سره يو ځای د جندر په اساس دتاوتريخوالي په اړه يو ترينګ په لاره اچول.[472]

## د مشرۍ، اداره، او حکومتولي پروژه

د 26$ ميليونه ډالرو په لګښت، د مشري، اداره، حکومتولي پروژې دا 18 مياشتنۍ پروګرام (20$ ميليونه ډالر روغتيايي مرستې؛ 6$ ميليونه ډالر دزده کړې مرستې) په مرکزي او ولايتي کچه د عامې روغتيا او زده کړې له وزارتونو سره کار کوي ترڅو د افغانستان په روغتيايي او زده کړې سيسټمونو کې د مشرۍ، اداره، او حکومتولۍ ظرفيت ته وده ورکړي. همدارنګه موخه لري چې دعامې روغتياوزارت په چوکاټ کې روڼوالی او حساب ورکونې ته وده ورکړي او له دواړو وزارتونو سره مرسته کوي ترڅو بوديجوي مرستې اداره کړي. د 2012 کال د دسمبر تر 16 پورې، USAID د دې پروګرام لپاره 16.2$ ميليونه ډالر مقيد کړې ده (13.7$ ميليونه ډالر د روغتيا لپاره،3.7$ ميليونه ډالر د زده کړې لپاره).[473]

USAID د کورنيو سروې، د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي اداري معلوماتي سيستم، د معلوماتو کيفيت ارزولو لپاره د USAID قراردادیانو، د پلي کونکی ملګري رپوټونو، او د خارجي ارزونې او نظارت له لارې د خپلو روغتيايي نوښتونو پايلې څاري. په هرصورت، USAID په افغانستان کې د خپل پروګرامونو پلي کولو په ترڅ کې له ګڼو ننګونو سره مخ دی. د حکومت روغتيايي سيستم کمزوری دی، او دوام لرونکې تخنيکي او اداري مرستې ته اړتيا لري. حکومت د دې وړتيا نلري چې د خپل روغتيايي سيستم د پايښت لپاره کافي عوايد تر لاسه کړي، څکه نو د بسپنه ورکونکو دوام لرونکې مرستې ته اړ دی. برسيره پردې، په ټول هيواد کې د امنيت نشتون د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په مخ کې، په خاصه بيا ښځو او ماشومانو ته، خنډ جوړوي. د ليږد بهير له پای ته رسيدلو او د بسپنه ورکونکو د مرستې له کميدو سره به دا ستونزې نورې هم زياتې شي.[474]

# د خصوصي سکتور پراختيا

متحده ايالاتو د خصوصي سکتور سره د ESF، TFBSO، او CERP له لارې مرسته کوي. د اقتصادي ودې هغې پروژې چې د USAID، ESF مرستو له لارې بوديجه ورکول کيږي، دادي:[475]

- داقتصادي موسسو جوړولو له لارې د افغانستان له جوړونې سره مرسته (ABADE)
- د اقتصادي ودې او حکومتولۍ نوښت (EGGI)
- دافغانستان لپاره د سوداګرې لاسته راوړل او آسانه کول I او II

## داقتصادي موسسو جوړولو له لارې د افغانستان له جوړونې سره مرسته

پدې ربع کې، USAID د اقتصادي موسسو جوړولو له لارې د افغانستان له جوړونې سره مرستې پروګرام ته 105$ ميليونه ډالر ورکړ تر څو د ټيټې او منځينۍ کچې افغاني موسسې

وهڅوي چې زيات کسان وګوماري، پانګونه زياته کړي، او د ملي توليداتو او خدمتونو خرڅلاو ته وده ورکړي. ABADE د خصوصي سکتور هغو سوداګريو سره مرسته کوي چې غوره اهرم او پايداره اقتصادي وده وړاندې کړي. د کال تر دسمبر پورې، پروګرام کارکونکي ګوماري، او خپل کاري پلانونه او د کړنې محاسبې نهايي کوي.[476]

## د اقتصادي ودې او حکومتولۍ نوښت

د ميليونه ډالرو په لګښت د اقتصادي ودې او حکومتولۍ نوښت پروګرام موخه دا ده چې د عامه مالي اغيزمني ځارنې لپاره د دولت ظرفيت زيات کړي. دا پروګرام د ملي او ولايتي بوديجو جوړولو، د ماليې اداره، او د عايداتو د توليد په برخو کې مرستې وړاندې کوي. همدارنګه د دولت په چوکاټ کې ښځو ته ستاژ چمتو کوي تر څو په مدني ټولنه کې د ښځو ګډون زيات شي. په 2012 مالي کال کې 110 ښځې د پروګرام څخه فارغې شوې، چې 85% ته يې پوره وخت دولتي کار پيدا شو.[477]

د 2012 کال د دسمبر تر27 پورې، EGGI د دولت له 38 ادارو سره مرسته وکړه چې د خپل 1391 لمريز کال (2012-2013) د پروګرام بوديجې په خپل وخت د بوديجې کميټې ته وړاندې کړي. د ماليې وزارت لخوا په ټول هيواد کې د ولايتي بوديجې ترينګ پروګرام سره مرسته کول، چې په نتيجه کې 88% ولايتي حکومتونه په اول دور کې او 98% يې په دويم دور کې خپلې بوديجې په وخت سره وړاندې کړل.[478]

اوس، EGGI په پلي کيدو کې له ننګونو سره مخ دی. د ماليې وزارت د ولايتي بوديجې پروګرام ځنډولی، او د افغانستان د ملکي خدماتو کميسيون هم د ګومارنې کړنلاره بدله کړې ده. کله چې پروګرام پای ته ورسيږي، هغې ښځې چې د دولت په ستاژ کې دي، اړې دي چې له نوي شرايطو سره ځان برابره کړي.[479]

## دافغانستان لپاره د سوداګرۍ لاسته راوړل او آسانه کول I او II

TAFA I او II، د83$ ميليونه ډالره مجموعي لګښت په درلودلو سره، د دې لپاره ډيزاين شوی چې دولت او خصوصي سکتور دواړو ته دنړيوالې سوداګرۍ او ترانزيت شرايط سم کړي او پدې سره اقتصادي وده، سوداګري او پانګونې ته پراختيا وبښي. TAFA د دې موخې لپاره په دريو برخو کې له افغان دولت سره مرسته کوي:د آزادې سوداګرۍ پاليسي، د ګمرکاتو سمون، او د سوداګرۍ آسانول. TAFA د سوداګرۍ نړيوال سازمان ته دافغانستان شامليدو په مرسته د وريښمو لارې نوی نوښت ته وده ورکوي، دوه اړخيزه او سيمه ييزه سوداګرې موافقتنامې پراخوي، او د ګمرکاتو او صادراتو کړنلارې ساده او اغيزمنه کوي. په دې ټولو ساحو کې د برياليتوب سربيره، TAFA تراوسه پدې نده توانيدلې چې د هدفمند ستراتيژيکه موافقت ليک په اساس له افغان حکومت سره د راتلونکې مرستې د جوړښت په اړه هوکړې ته ورسيږي. دا، په خپل وار سره، TAFA ته دبوديجې رسيدنه له ځنډ سره مخ کړې، او په خپل وخت د خدمتونو وړاندې کولو کې يې وړتيا له ګواښ سره مخ کړې ده.[480]

## دسوداګرۍ او ثبات عملياتونو لپاره وظيفوي ځواک

TFBSO برسيره پردې چې له افغان حکومت سره مرسته کوي ترڅو خپل طبيعي زيرمې په کار واچوي، دخصوصي سکتور نورو نوښتونو څخه هم ملاتړ کوي. د 2011 کال په مۍ کې، TFBSO دسوداګرۍ د ودې پروژه تاسيس کړه، چې په کابل او هرات کې يې د وړو او لويو کچو موسسو ته د سوداګرۍ اداري په هکله مشورې چمتو کولې. د 2012 کال د

دسمبر تر 31 پورې، TFBSO د افغاني شرکتونو او سیمه ایزو پانګونکو تر مینځ د پانګې اچونې فرصتونو زیاتولو لپاره 600 شرکتونو ته یې د لاربښونې سرچینې برابر کړې او په لاره یې اچولي دي، او د رابرسیره کیدونکې بازار د مساوي خصوصي بودیجې لپاره یې د پانګونې پایپ لاین جوړ کړی دی. دا ربع، د ودې پروګرام له 23 کمپنیو سره چې 500 تنه افغانانو ته یې کار ورکړی و مرسته وکړه ترڅو له $2.7 میلیونه ډالرو څخه زیاتې پیسې لاسته راوړي. د سوداګرۍ ودې پروژه هڅه کوي تر څو خپل دا بریالیتوب پراخه کړي او د AUAF سره دې هوکړې ته ورسیږي چې په کابل کې د ودې پروګرام جوړ او په لاره واچوي، او له 2014 څخه وروسته یې پایداره کړي.[481]

## مخابرات

د خصوصي سکتور تر ولکې لاندې د افغانستان مخابرات په چټکۍ سره وده کوي، او د هیواد دکامیابه اقتصادي کیسو څخه ګڼل کیږي.[482] په 2010/2011 کې، د مالیاتو عاید له مجموعي شمیرې څخه 45% د ټیلیکام څخه لاسته راغلي او تمه کیږي چې په راتلونکې کال کې هم د پام وړ اقتصادي وده وکړي.[483]

پدې ربع کې، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د $23 میلیونه ډالرو په ارزښت د دریو شرکتونو سره یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو په راتلونکي دووکلونو کې د افغانستان د نوري فایبر شبکه د هیواد د مرکزي او شمال ختیځه سیمې پنځو ولایتونو ته (بامیان، دایکندي، غور، تخار، او بدخشان) وغزوي. اوسمهال دا شبکه په 20 نورو ولایتونه کې شتون لري.[484] برسیره پردې، MCIT شپږ نور قراردادونه لاسلیک کړي ترڅو په ټول حکومت کې د پلن باند اړیکې په پراخولو سره د موبایل له لارې حکومتولي، د ظرفیت زیاتول، او د کلتوري نوښت پروژې چمتو کړي، او همدارنګه دخدماتو وړاندې کول او اقتصادي پراختیا لپاره د IT ظرفیت زیات کړي.[485]

همدارنګه پدې ربع کې، نړیوال سوله ساتي ځواکونه د افغان حکومت سره یو تفاهم خط لاسلیک کړ چې د وزارتي منظرې اداره کولو دفتر جوړې کړي، چې دا به بیا د رادیو سپکتروم تعاوني اداري پورې تمرکز کوي، په آنلاین ډول د افغانستان د امنیتي اداري کارونه ښیي، او کولی شي خپل کارونه له نورو ملتونو سره همغږي کړي. MSMO د دفاع، داخلي وزارتونو او د ملي امنیت عمومي ریاست په ګډون سره د ملي امنیت موسسې په توګه کار کوي.[486]

## سوداګري

د 2013 کال د سوداګرۍ سهولت په اړه د نړیوال بانک رپوټ چې پدې ربع کې خپور شو، افغانستان له 185 هیوادونو څخه د سوداګرۍ سهولت له نظره 168 مقام درلوده او د پانګه اچونکو څخه د ساتنې په برخه کې بیا افغانستان وروستۍ مقام خپل کړی و. پداسې حال کې چې د سوداګرۍ پیل کولو لپاره د اړینو ورځو له نظره افغانستان وروستۍ څلورم نمبر، او د ورځو د شمیر له نظره وروستۍ اووم نمبر خپل کړی و، افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه وشمیرل شو چې د صادرولو کار په سختۍ سره کیږي، د هر باري کانټینر لپاره په اوسط ډول 10 اسناد، 74 ورځې، او $3,545 ډالره لګښت راځي.[487]

د کانګرس تحقیقاتي خدمتونو د یو رپوټ په اساس، د افغانستان سیمه ایزه اقتصادي انسجام پایلې چې د وریښمو لارې نوی نوښت لخوا یې غوښتنه شوې وه، سره ګډ شوي دي. د متحده ایالاتو هڅې چې د افغانستان ګاونډیانو ته قناعت ورکړي تر څو د دې هیواد ثبات ته پرځپلو ځانګړو ګټو ترجیح ورکړي، ستونزمنې وې.[488] د ستراتیژیکو او نړیوالو مطالعاتو مرکز یو رپوټ په 2012 کال کې دا پوښتنه مطرح کړه چې آیا پاکستان، د بیلګې په توګه، کیدای شي د افغانستان سره تعاون یا یې پراختیا ته د سترلومړیتوب په سترګه وګوري. رپوټ زیاتوي چې نه چین او نه هم روسیه کافي غوښتنه لري چې د لیرد په دوره کې له افغانستان سره داسې مرسته وکړي چې د نورو بسپنه ورکونکو له اوږې څخه د مالي پیټی بار کم شي.[489] پداسې حال کې چې په تیرو شپږو میاشتو کې د افغانستان او پاکستان اړیکې ښې شوي، خو DoD وایي چې "د پولې په دواړو خواوو کې د پایداره تعاون او همغږۍ رامینځته کیدو" په وړاندې لاهم ډیرې ننګونې او نباورۍ شته دي.[490]

د 2012 کال د دسمبر په 5–1 نیټه، د متحده ایالاتو د سوداګرۍ وزارت، د USAID په ملاتړ، د متحده ایالاتو-افغانستان لومړی د سوداګرۍ انتخاب کنفرانس په کابل دایرکړ تر څو د افغان سوداګرو او د متحده ایالاتو انتخابي کمپنیو ترمینځ سوداګریزې ملګرتیاوې رامینځته کړي.[491] د متحده ایالاتو څلور کمپنۍ ګډون درلودې:[492]

- الفاګرافیکس، انکارپوریشن. — د چاپ او بازار موندلو د حل لارې
- هرتز اکویپمینټ رینتل — د لوړ کیفیت لرونکی کرایي تجهیزات
- راډیوشاک — د موبایل ټکنالوجي محصولات او خدمتونه
- ټیوټور ډاکټر — د شخصي لارښوني او ترننګ خدمتونه

## د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې شاملیدل

د 2012 کال د دسمبر په 7 نیټه د نړیوالې سوداګرۍ سازمان دخپل دریم کاري ډلې په غونډه کې وویل چې په 2013 کال کې د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې دافغانستان له مخکې له وخته شاملیدو څخه ملاتړ کوي. افغانستان د 2004 کال په نومبر کې د غړیتوب لپاره غوښتنه کړې و پدې موخه چې د 2014 کال تر پایه پورې شامل شي. غړیتوب یې تر اوسه پورې د اقتصادي، سوداګرۍ، او قانوني اصلاحاتو له امله ځنډول شوې ده. کاري ډلې د دولتي مالکیت، د ذهني شتمنۍ حق، د سوداګرۍ حق، او د خواره خوندیتوب په شمول دګنو پالیسو په اړه یې د توضیحاتو غوښتنه کړې ده.[493] USAID د سوداګرۍ او لاسرسۍ اسانه کولو پروګرام له لارې د افغانستان د دې هڅو څخه ملاتړ کوي.[494]

# 4
# د نورو ادارو
# نظارت



# منځپانګې

**د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه** **158**

**د نظارت روان فعالیتونه** **164**

**عکس په تیره پاڼه کې**
وروسته لدې چې د ژمې هوا د سړکونو له لارې د موادو رسول ستونزمن کړل، د 2012 کال په دسمبر کې د افغانستان په غرونو کې مخکنی پایګاه ته مواد دهوا له لارې رسول کیږي. (د امریکا د اردو عکس)

# د نورو ادارو نظارت

د سیګار د صلاحیت قانون پر اساس، سیګار باید د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزیران، د بیا رغونې د پروګرامونو د ادارې له ستونزو څخه په بشپړه توګه خبر وساتي، او د هر مالي کال له پای څخه وروسته، د 30 ورځو په موده کې د سیګار د نظارت او امریکا د بیا رغونې د هڅو د وضعیت په اړه د امریکا کانګرس ته یو راپور وړاندې کړي. په هر ربع کې، سیګار له نورو ادارو څخه د بشپړ شوی او روانو نظارت فعالیتونو د وروستیو معلوماتو غوښتنه کوي. دا برخه د وروستیو معلوماتو په اړه ده.

مشخصات وړاندې شوي متن ته ورته دي، لږ بدلون پکې راغلی تر څو د راپور له نورو برخو سره یو ډول وساتل شي: د بشپړو نومونو پر ځای لنډ او اختصار لوی ټکي، د ربط نښه، د تنقیط علامه، غوره شوې سپیلونه، او د لمړي کس پر ځای دریم کس راوړل شوي.

دا ادارې په افغانستان کې د نظارت فعالیتونه تر سره کوي او پایلې یې سیګار ته وړاندې کوي.

- د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (DoS OIG)
- د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د امریکا د اردو د پلټنې اداره (USAAA)
- د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

په 4.1 جدول کې د بیا رغونې د نظارت شپږ پروژې راغلي چې برخه اخیستونکو ادارو راپور ورکړی چې پدې ربع کې بشپړې شوي.

جدول 4.1

**د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د امریکا د نورو ادارو نوې بشپړې شوي پلټنې**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدو نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2013-030 | 12/7/2012 | د استخباراتو ضد ارزونې ته اړتیا ده تر څو د امریکا ځواکونو لپاره د نه ارزول شویو سیمیزو ژباړونکو لخوا امنیتي ګواښ کم شي |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2013-024 | 11/26/2012 | د امریکا د اردو د انجنیرانو قول اردو باید د افغانستان د بګرام په هوایي ډګر کې د اردو د ساختماني پروژو د قرارداد نظارت ښه کړي |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2013-005 | 10/5/2012 | د افغانستان د دفاع وزارت د مشاروینو پروګرام د فعالیت چوکاټ او ښې اداري ته اړتیا لري |
| د حکومت د حساب ورکول دفتر | GAO-13-185-R | 12/19/2012 | له افغانستان څخه د کملولو لپاره تیاری د امریکا دفاع وزارت پریکړه کونکي د اضافي تجهیزاتو د بیرته راوړلو لپاره د لګښتونو او ګټو اضافي تحلیل ته اړتیا لري |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | GAO-13-34 | 11/7/2012 | د افغانستان پراختیا: د امریکا د هڅو په اړه کیدای شي اداري له یوه شریک او ډیر پراخ معلوماتي بانک څخه ګټه واخلي |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | F-306-13-001-S | 10/12/2012 | د USAID/افغانستان د فعالیت پر اساس د والیانو د فنډ پلټنه |

سرچینې: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش ځواب، 12/21/2012، د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر ځواب، 1/2/2013، د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د حکومت د حساب ورکولو دفتر ځواب، 12/18/2012، د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د اردو د پلټنې د اداري ځواب، 12/18/2012، د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID د عمومي مفتش دفتر ځواب، 12/17/2012.

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیا رغونې په اړه درې راپورونه خپاره کړي.

### استخباراتي ضد ارزونې ته اړتیا ده تر څو د امریکا ځواکونو لپاره د نه ارزول شویو سیمیزو ژباړونکو ته امنیتي ګواښ کم شي

(راپور شمیره DODIG-2013-030 د 2012 کال د دسمبر په 7 خپور شوي)

لدې راپور څخه یوواځې رسمي چارواکي کار اخیستلای شي.

### د امریکا د اردو د انجنیرانو قول اردو باید د افغانستان د بګرام په هوایي ډګر کې د اردو د ساختماني پروژو د قرارداد نظارت ښه کړي

(راپور شمیره DODIG-2012-135 د 2012 کال د نومبر په 26 خپور شوي)

د امریکا د انجنیرانو قول اردو (USACE) په افغانستان کې د شمالي حوزي انجنیري (TAN) د کیفیت د ډاډ (QA) کارکونکو د بګرام په هوایي ډګر کې د اردو څلورو ساختماني پروژو چې 49.6 میلیونه امریکایي ډالره ارزښت لري، له ارزونې څخه ښکارې چې د قراردادیانو فعالیت څخه یې په مناسبه توګه د نظارت او د کیفیت د ډاډ مسولیتونه ترسره کړي ندي. په ځانګړې توګه، د کیفیت د ډاډ کارکونکو دا کارونه ندي ترسره کړي: د پروژو لپاره د کیفیت د ډاډ ضمیموي پلانونه جوړ کړي، وړاندې تر دې چې قراردادي ساختماني کار پیل کړي، د کیفیت د کنترول پلانونه تایید کړي، د کیفیت د ډاډ کارکونکو د څارنې د

فعالیتونو د کیفیت د ډاډ اسناد وساتي، د قرارداد کولو افسر د وظیفې په یاددښت کې مسولیتونه تعقیب کړي، او له تخنیکي متخصص څخه غوښتنه وکړي چې تخنیکي تفتیش ترسره کړي. پردې برسیره، د کیفیت د ډاډ کارکونکو ملکي د لوجیستیکي پراختیا پر پروګرام تکیه کړي، ترڅو غیر منظم تخنیکي تفتیش وکړي او د ساختماني ستونزو د موندلو لپاره یې پر خپلو تخنیکي تجربو تکیه کړي.

دا حالتونه منځ ته راغلي ځکه چې د USACE-TAN چارواکو د کیفیت د ډاډ کارکونکو څخه په پوره اندازه نظارت ندی ترسره کړی. د بیلګې په توګه، د کیفیت د ډاډ کارکونکو ویلي چې دوی له خپلو مسولیتونو خبر نه و، ځکه د USACE-TAN چارواکو د کیفیت د ډاډ کارکونکو لپاره چې په بیړني حالت کې کار کوي په پوره اندازه لارښونه او روزنه نه وه برابره کړي. پردې برسیره، د کیفیت د ډاډ کارکونکو ویلي چې یا خبر نه و یا یې اړتیا نلیدله، د تعقیبولو پوره وخت یې ندرلود، یا یې مناسب کارکونکي ندرلودل تر څو د کیفیت ډاډ لارښونه تعقیب کړي. په پایله کې، USACE په پوره توګه پدې ډاډه نه وه چې آیا د قراردادیانو لخوا د کیفیت کنترول پروګرامونه اغیزناکه و، او دا چې د MILCON ځلورو پروژو د قرارداد مقررات پوره کړي یا به یې پوره کړي.

## د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام د سرچینو لپاره د فعالیت چوکاټ او ښې ادارې ته اړتیا لري

(راپور شمیره. DODIG-2013-005 د 2012 کال د اکتوبر په 5 خپور شوی)

د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو (MoDA) پروګرام چارواکو د موخو، هدفونو او د فعالیت ښودلو لپاره یې د فعالیت د اداره کولو چوکاټ نده جوړ کړی، تر څو د پرمختګ ارزونه و کړي او د پروګرام پایلې اندازه کړي. د دې پرځای، د پروګرام چارواکو په افغانستان کې د شمالي اتلانتیک تړون سازمان د ماموریت او په افغانستان کې د امریکا د سپارلو د ګډې امنیتي قوماندانی پر چارواکو تکیه کړي، تر څو دا وګوري چې آیا د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ظرفیت لوړول اغیزناکه و. پر دې برسیره، د پروګرام چارواکو موخې او هدفونه نه و تاسیس کړي، تر څو دا وګوري چې آیا د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو بستونه په پوره اندازه او پروخت ډک شوي.

دا کار ځکه شوی چې د پروګرام او قوماندانی چارواکو د همکاری تړون نه و تاسیس کړی، تر څو ونډې او مسولیتونه وپیژني، اړیکي ونیسي او معلومات وویشي. نورو عاملونو ته چې د پروګرام چارواکو اشاره کړي، دا و چې د افغانستان د دفاع وزارت د وزارت د ظرفیت لوړولو لارښونه ندرلوده، او د لنډ محاله پروګرام ماهیت د راتلونکي لپاره شک را منځ ته کړی دی. له یوه چوکاټ څخه پرته، د پروګرم چارواکي نشي کولای د وزارت د ظرفیت لوړلو په اړه د پروګرام اغیزمنتیا معلوم کړي یا انفرادي کسان د پروګرام د پایلو د رسیدو په اړه مسول وګڼي.

پردې برسیره، کیدای شي د قوماندانی چارواکو د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو سرچیني په اغیزناکه او فعاله توګه اداره کړي نه وي. په ځانګړې توګه، چارواکو ونشو کړای د ټولو 97 تایید شویو مشاورینو د بستونو اړتیا دفاع وکړي، او له 28 څخه یې د مشاورینو پنځه بستونه چې مصاحبه ورسره شوي وه په غیر مشاوري بستونو کې له افغان چارواکو سره ځای پرځای کړي. دا کار لدې کبله شوی ځکه د قوماندانی چارواکو د مشاورینو د بستونو د پیژندلو او تصدیق لپاره معیار نه و جوړ کړي. په پایله کې، کیدای شي مشاورین په بشپړه توګه ونشي کړای خپلې تجربې تبادله کړي او د افغانستان د دفاع وزارت له چارواکو سره اوږد محاله اړیکي جوړې کړي.

## په منځني ختنځ کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش سیمیز دفتر

پدې ربع کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیا رغونې په اړه هیڅ راپورونه ندی خپاره کړی.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

پدې ربع کې، د حکومت د حساب ورکولو دفتر د افغانستان د بیا رغونې په اړه دوه راپورونه خپاره کړي.

## له افغانستان څخه د کمولو لپاره تیاری: د امریکا دفاع وزارت چارواکي اضافي تحلیلونو ته اړتیا لري ترڅو د اضافي تجهیزاتو د بیرته راوړلو د لګښتونو او ګټو باندې پوهه شي

(راپور شمیره GAO-13-185R د 2012 کال د دسمبر په 19 خپور شوی)

په لنډه توګه، د حکومت د حساب ورکولو دفتر وموندل:

- د اردو خدمات او د امریکا د دفاع وزارت ادارو له ځینو مګر نه له ټولو هغو لوستونو څخه چې د عراق له وتلو یې زده کړي له افغانستان څخه د تجهیزاتو د کمولو په پلان جوړولو کې کار اخیستی. د بیلګې په توګه، د عراق کمولو دا وښودل چې د تجهیزاتو د کمولو لپاره د مخکنې پلان جوړول مهم دي، او له افغانستان څخه د تجهیزاتو د کمولو په اړه د اردو خدماتو لا وړاندې د پروسو او طرزالعملونو په اړه لارښونه او هدایت خپور کړی دي. مګر، له عراق څخه د کمولو ټول اړوند زده شوې لوستونو څخه په افغانستان کې کار ندې اخیستل شوی. د بیلګې په توګه، د عراق د کمولو په وخت کې، اردو دا غوښتنه کړې وه چې د قراردادي تجهیزات دې حساب شي او بیا دې محاسبه په اتومات سیستم کې راوستل شي، اما په افغانستان د قراردادي تجهیزات پدې حسابولو کې شامل ندي. د حکومت د حساب ورکولو دفتر بیا ویلي چې د USFOR-A چارواکو را ته ویلي چې دوی د قراردادی د کمولو یو دفتر جوړوي او دا به په افغانستان کې د قراردادي د تجهیزاتو نظارت ښه کړي.
- د امریکا دفاع وزارت له افغانستان څخه د تجهیزاتو د کمولو لپاره پلان جوړ کړی (a) د قوماندانی چوکاټ او لارښونه تاسیس کړي، (b) هڅه یې کړي چې د شتمنی حساب ورکول ښه کړي، او (c) د ترانسپورټ کولو لاری یې تاسیس کړي او پراخې کړي، مګر ننګونې لا پر خپل ځای دي. د قوماندانی چوکاټ او لارښونه، د شتمنی حساب ورکول، او د ترانسپورټ لپاره لارې، درې هغه ساحې دي چې د حکومت د حساب ورکولو دفتر پخوا پیژندلي چې د کمولو د عملیاتو لپاره اهمیت لري. د قوماندانی د چوکاټ او لارښونې په اړه، CENTCOM د معمولو عملیاتو لپاره USFOR-A ملاتړ کونکي قوماندانۍ ټاکلې، او د کمولو په وخت کې د تجهیزاتو د کارونو لپاره USFOR-A د پایګا د تړلو او سپارلو لپاره پروسې جوړې کړي. د شتمنی د حساب ورکولو لپاره، د کال د سپتمبر په میاشت کې، USFOR-A په افغانستان د ټولو تجهیزاتو د حسابولو هدایت ورکړی تر څو هغه تجهیزات وپیژني چې د امریکا دفاع وزارت د ثبت په سیستمونو کې حساب شوي نه و. مګر، لکه څنګه چې په 1 موخه کی ویل شوي، د امریکا د دفاع وزارت چارواکي دا مني چې دوی د قراردادي پر تجهیزاتو نظارت نلري. د ترانسپورټ کولو په لارو کې، د امریکا دفاع وزارت له افغانستان څخه د ترانسپورټ کولو احتمالي ظرفیت او لارې تاسیس

کړي او ډېري کړي دي. مګر، د ترانسپورت کولو ځینې لارې د سیمې د پېچلې سیاسي جغرافیایي چاپېریال له کبه د تجهیزاتو د بیرته وړلو د عملیاتو لپاره محدود ظرفیت لري.

- د امریکا دفاع وزارت د تجهیزاتو برابرولو د ادارې کولو له پالیسۍ سره په مطابقت کې، د امریکا دفاع وزارت اضافي لارښونه خپره کړي چې خدمات باید د تجهیزاتو د بیرته راوړلو د لګښتونو او ګټو تحلیل وکړي یا داچې تجهیزات له منځه یوړل شي. مګر، داسې مشخصه لارښونه شتون نلري چې د اردو خدماتو څخه له افغانستان څخه د تجهیزاتو د بیرته راوړلو په اړوند د لګښتونو او ګټو ارزونه وکړي او مستند یې کړي او دا کار دوی ندی کړی. ځینو خدماتو مونږ ته وویل چې دوی د لګښتونو او ګټې غیر رسمي تحلیل کړی ترڅو له افغانستان څخه د مهمو تجهیزاتو د بیرته راوړلو سره مرسته وکړي. مګر، هیڅ یوه خدماتو ونشو کړای چې د دې لګښتونو او ګټې اسنادونه مونږ ته راکړي. په پایله کې، دا معلومه نده چې دا تحلیلونه تر کومې اندازې ترسره شوي دی. د تحلیلونو پر اساس، دا یوه لویه ستونزه ده کله چې له اوسنیو اړتیاو څخه د اضافي تجهیزاتو په اړه د بیرته راوړلو یا نه راوړلو په اړه پریکړه کیږي. کله چې یو اضافي شی د لګښت او ګټې له غوره پرته بیرته راوړل شي، د غیر ضروري ترانسپورټي لګښتونو او د غیر ضروري تجهیزاتو ساتلو اضافي خطر ورسره تړلی دی.

په پایله کې، د اردو خدمات کولای شي مهم تجهیزات د لګښتونو او اسنادونو له غور او تحلیل څخه پرته چې د پریکړې په پروسه کې ورڅخه کار اخیستل کیږي، بیرته راوړي لدې کبله چې د اردو خدماتو په دوامداره توګه فعالیت ندی کړی او تحلیلونه یې ندې مستند کړي تر څو له افغانستان څخه د مهمو اضافي تجهیزاتو د بیرته راوړلو د پریکړو ملاتړ وکړي، کیدای شي دا خطر شتون لري چې د اضافي تجهیزاتو د بیرته راوړلو لګښتونه به تر ګټو ډیر وي.

## د افغانستان پراختیا: کیدای شي ادارې به د امریکا د هڅو له عامه او هر اړخیز معلوماتي بانک څخه ګټه واخلي

(راپور شمیره GAO-13-34 د 2012 کال د نومبر په 7 خپور شوي)

په افغانستان کې د امریکا د پراختیا پروګرامونو څلور مهمي ادارې او حسابونه ورته موخې او هدفونه او فعالیتونه لري او په همدې دلیل تر لږې اندازې ورت کارونه ترسره کوي. په 2012 مالي کال کې، د امریکا اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) او واړه حسابونه چې د امریکا د پراختیایي ادارې (USAID) لخوا اداره کیږي، او د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP)، چې د امریکا د دفاع وزارت (DoD) لخوا اداره کیږي، د کرنې، دیموکراسی او حکومتداری، روزنه او روغتیا، انرژی او بریښنا، اقتصادي پراختیا او ترانسپورت په برخو کې ورته فعالیتونو ته فنډونه ورکړی. دواړو د افغانستان له 34 ولایتونو څخه په 33 ولایتونو کې او د افغانستان له 339 ولسوالیو څخه 249 ولسوالیو کې فعالیتونو ته فنډ ورکړی. د سوداګرۍ او ثبات لپاره عملیاتي ځواک (TFBSO)، چې د امریکا د فاع وزارت لخوا اداره کیږي، او د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF)، چې د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو (State) وزارتونو لخوا اداره کیږي، هم لکه ESF او CERP په 2011 کال کې په ورته برخو کې هڅو ته فنډ ورکړي. د ادارې د چارواکو په وینا، کیدای شي د پراختیایي هڅو د ورته کارونو ترسره کول ګټور وي، که ادارې له خپلو مهارتونو څخه د یو بل لپاره ګټه واخلي او خپلې هڅې سره همغږې کړي.

د USAID له پراختیایي فعالیتونو او د امریکا دفاع وزارت د CERP له فعالیتونو څخه د حکومت د حساب ورکولو دفتر تحلیل موندلي چې د USAID 28 او د دفاع وزارت CERP هڅو ته فنډ ورکړې چې کیدای شي یو بل سره ورته و. مګر د حکومت د حساب ورکولو دفتر په بشپړه توګه ونشو کړای چې دا وواېي چې دې هڅو پایله تکراري کارونه و، ځکه د USAID او د امریکا د دفاع وزارت د بانکي معلوماتو د توضیحاتو په فعالیتونو کې واټن او د جزییاتو په اندازه کې بې نظمي شتون درلود. پردې برسیره، کیدای شي د USAID د ځینو پراختیایي فعالیتونو معلومات پدې کې شامل نه و، ځکه هغه معلومات چې USAID ورکړي، ویلي چې د افغانستان معلومات — هغه معلومات چې سفارت د امریکا د مرستو د رسمي بانک په توګه ټاکلی — 13 روان قراردادونه پکې شامل نه و پشمول د افغانستان حکومت ته ځیني مرستې، چې د USAID د 2011 مالي کال د پراختیایی مکلفیتونو د نږدې 10% استازیتوب یې کاوه. دې غلطیو د حکومت د حساب ورکولو د دفتر توان محدود کړی تر څو دا رزونه وکړي چې آیا ورته فعالیتونو یوه مشتري ته ورته مواد او خدمات ورکړي. USAID د تطبیق کونکو ملګرو او کارکونکو لپاره بشپړ ستندرد طرزالعملونه نلري تر څو ملګري د خپلو پراختیایي فعالیتونو په اړه افغان معلوماتو ته راپور ورکړي، او کارکونکي د دې فعالیتونو په اړوند معلومات تایید کړي.

پداسي حال کې چې د امریکا ادارې له ډول ډول طریقو څخه کار اخلي تر څو په افغانستان کې پراختیایي هڅې همغږې کړي، دو ی د معلوماتو یو ځای نلري تر څو معلومات وساتي او ګټه ورڅخه واخلي. د USAID او د امریکا د دفاع وزارت چارواکو ویلي چې د ادارو تر منځ غیر رسمي اړیکي او غونډې د USAID او د CERP د هڅو د همغږۍ اصلي طریقه ده. د AIF د هڅو لپاره USAID او د امریکا د دفاع او د بهرنیو چارو وزارتونه د ادارو ترمنځ پلان کول ترسره کوي او د قانون پر اساس د ادارو له چارواکو څخه رسمي تړون ترلاسه کوي. د TFBSO هڅو لپاره، د امریکا دفاع وزارت په کابل کې په هرو دریو میاشتو کې د USAID او د بهرنیو چارو وزارت چارواکو د غونډې او رسمي موافقتنامې له لارې همغږي کوي. مګر، د داسې همغږۍ اغیزمنتیا کیدای شي د اړوندو کارکونکو پر لمړیتوبونو تړلې وي او کیدای شي د ډیرو کارکونکو برخه اخیستل او د معلوماتو د نه ساتلو له کبله کمزوري وي. د دې لپاره چې دا محدودیتونه حل شي، د حکومت د حساب ورکولو دفتر پخوا دا سپارښتنه کړې وه چې ادارې د خپلو پراختیایي هڅو راپور یوه عامه معلوماتي بانک ته ورکړي. USAID او د امریکا دفاع وزارت لدې سپارښتنې سره تر یوې اندازې موافقه کړې. پداسې حال کې چې افغان معلومات ته په افغانستان کې د امریکا د بهرنیو مرستو د هڅو د مرکزي معلوماتو راټولو دنده ورکړ شوي، د امریکا دفاع وزارت لا تر اوسه د خپل CERP د پروژو راپور یوه عامه معلوماتي بانک لکه افغان معلومات ته ندې ورکړی، او USAID ویلي کیدای شي دا به د افغان معلوماتو د کورني کنترول لخوا حل شي.

## د امریکا د اردو پلټنې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بیا رغونې په اړه هیڅ پلټنه نده بشپړه کړې.

## د امریکا د نړیوالې پراختیايي ادارې د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیا رغونې په اړه یو راپور خپور کړی.

### د USAID د افغانستان د والیانو د فعالیت پر اساس د فنډ پلټنه

(راپور شمیر F-306-13-001-S د 2012 کال د اکتوبر په 12 خپور شوی)

د 2012 کال د اکتوبر په 12 د "USAID د افغانستان د والیانو د فعالیت پر اساس فنډ" تر سرلیك لاندې د ادارې کولو یو مکتوب خپور کړ، اودا یې F-306-13-001-S شمیره وه. د USAID د عمومي مفتش دفتر د لمړی ځل لپاره دا پلټنه ترسره کړې تر څو دا وګوري چې آیا د فعالیت پر اساس د والیانو فنډ (PBGF) خپلو موخو ته رسیدلې تر څو د والیانو او د دوی ټیم لپاره مالي او تخنیکي مرسته برابره کړي، تر څو دوی پخپله د ټولنې د عامه پوهاوی اړتیاوې پوره کړي، خپلې اړیکې له خلکو سره خپلې اړیکې پراخې کړي، او دخپلې ادارې هر اړخیزه وړتیا ښه کړي. پدې مکتوب کې دا موضوعګانې شاملې وې:

- د فعالیت موخې او اندازې د فعالیت د اداره کولو له پلان څخه ایستل شوې. د فعالیت د موخو نښې او اندازې د فعالیت د ادارې کولو یو اړینه بشپړه برخه ده. د PBGF په پلان کې د اندازه کولو کوم اصول ندرلودل او د فعالیت له 103 ارزونو څخه، پدې کې یووائې د یوې ستراتیژیکي موخې لپاره د موخې یوه اصول شتون درلود. په یوه موخه کې داوه چې د افغانستان ټول ولایتونو ته د "امریکا د حکومت مرستي" ورکړل شي.
- PBGF د فعالیت ډیرې نښې لري. د فعالیت د اداره کولو یو پلان باید د اړتیا پر اساس نښې ولري او د پایلو د اداره کولو او راپور ورکولو د موخو لپاره باید ډیر لګښت ونلري. که څه هم ټولو ته د "فعالیت د نښو" نوم ورکړ شوی نه و، د PBGF په پلان کې له 100 څخه زیات د فعالیت اندازې شاملې وې.
- د فعالیت د ادارې کولو پلان نوی شوی نه و. د فعالیت د اداره کولو پلانونه باید په منظم ډول نوي شي او دا کار عموماً هر کال تر سره کیږي.
- د پروګرام پایلې باید واضح وي او ټول ورباندې پوه شي. د فعالیت د اداره کولو اساسي ګام د فعالیت د اداره کولو چوکاټ تاسیس کول دي، چې د پایلو هغې درجې پیژني چې یو پروګرام یې باید لاس ته روارړي. مګر، د پروګرام اسنادونو او د پروګرام مهمو چارواکو په دوامداره توګه د PBGF پلان شوي پایلې ندې تشریح کړي.
- لګښتونه کیدای شي د بودجه استازیتوب وکړی مګر حقیقي لګښتونه به نه وي. عموماً، د قرارداد لګښتونه باید له لګیدلي لګښتونو سره برابر وي. مګر، د آسیا بنسټ یو مالي راپور، چې چمتو شوی او افغانستان USAID ته وړاندې شوی، دا څرګنده کړي چې بنسټ پرته له دې چې د 1,020,000 امریکایي ډالرو تادیات په پام کې ونیسي، د ټول پروګرام تخمیني قیمت لګښت اخیستی.

- د ولایتونو د والیانو د دفترونو ډیر لګښتونه د موټرونو او تجهیزاتو د اخیستلو لپاره و. د همکار د تړون پر اساس، د PBGF پروګرام موخه داده چې د والیانو لپاره لنډ محاله مرسته برابره کړي تر څو دوی په ښه توګه وکولای شي د عملیاتو او عامه پوهاوی اړتیاوي پوره کړي، له خلکو سره خپلې اړیکي پراخې کړي او د خپلې اداري عمومي وړتیا ښه کړي. مګر، د موټرونو او تجهیزاتو ټول عادي لګښتونه د ټول پروګرام تادیه شوي فنډ 51% ته ورسیدل، د عامه پوهاوی عادي لګښت 18% و او د ظرفیت لوړولو عادي لګښت د ټولو لګښتونو 5% و.
- د معلوماتو د بانک راپور ورکول نه و ترسره شوي. د PBGF همکاری د تړون پر اساس د آسیا بنسټ باید د پروګرام د هر ربع معلومات د USAID د افغانستان د معلوماتو د اداره کولو سیستم ته وړاندې کړي. مګر، تر دې نیټې، د معلوماتو بانک ته چې د PBGF په اړه یوواځې معلوماتو راپور ورکړ شوی، د 2011 مالي کال د لمړي ربع لپاره و.
- د فعالیت د اداره کولو پلان تایید شوی نه و. د د همکاری تړون ټینګار کوي چې د تړون د افسر تخنیکي استازی (PBGF) مسولیت دی تر څو د نظارت او د ارزونې د پلان کتنه وکړي او تایید یې کړي. کله چې وپوښتل شو تر څو دا ثابت کړي چې پلان تایید شوی دی، نه تطبیق کونکي او نه هم د افغانستان د USAID کارکونکو اسناد وړاندې کړل چې وښیې پلان تایید شوی دی.

د اداره کولو په مکتوب کې د ستونزو د حل کولو لپاره اته عملي ګامونه شامل و.

## د نظارت روان فعالیتونه

د 2012 کال د دسمبر تر 30 پورې، برخه لرونکو ادارو د افغانستان د بیا رغونې په اړه د روانو نظارتونو 32 راپورونه ورکړي. د فعالیتونو په اړه چې راپور ورکړ شوی په 4.2 جدول کې لست شوي او د اداري لخوا لاندې تشریح شوي.

### د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

د امریکا د دفاع وزارت پر وړاندې ډیرې ننګونې شتون لري تر څو په بهر کې بیړنې (OCO) عملیات ترسره کړي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DoD OIG) د دغو ننګونو او لوړو خطرونو پر اساس یې لمړیتوبونه پیژندلي دي. په مالي کال کې، دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په بهر کې د بیړنیو عملیاتو پر نظارت کارکوي او د سرچینو ډیره برخه یې په افغانستان کې د عملیاتو ملاتړ کوي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په افغانستان کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د فنډ، د اردو ساختماني کارونو، د کارکونکو محافظت، او ایتلاف د ځواکونو د ملاتړ لپاره د قراردادونو اداره او نظارت په ساحو کې به خپلو کارونو ته په اداره کولو او بشپړ کولو کې دوام ورکړي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به له افغانستان څخه د ځواکونو د کمولو او دعملیاتو د تغیر ورکول موضوعګانې په اړه هم کار وکړي.

جدول 4.2

**د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې د امریکا د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې شمیره | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D00SPO-0087.000 | 12/18/2012 | تر او له 2012 کال څخه وروسته د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو پخپلو پښو دريدلو لپاره د مهمي وړتيا اغيزمنې ودې او سپارلو د پلان کولو ارزونه |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D000FL-0056.000 | 12/3/2012 | د 2012 کال د سپټمبر تر 30 پورې د افغانستان د ملي اردو د وجهې صندوق د دوام د پروژو لپاره د امريکا د دفاع وزارت او د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان برخې اخيستونکو هيوادونو  د مرستې ارزونه. |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D000AS-0052.000 | 11/1/2012 | د شيندند د روزنې قراردادونه |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D000AS-0001.000 | 10/5/2012 | د امريکا د ترانسپورت قوماندانی لپاره د افغانستان د څرخې وزر د پروګرام ملاتړ قرارداد د نظارت چوکاټ |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JA-0221.000 | 9/28/2012 | د افغانستان د بګرام هوايی ډګر د ځانګړو عملياتي ځواکونو د تاسيساتو د اردو ساختماني پروژو د قرارداد نظارت او اداره کول |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JB-0209.000 | 8/23/2012 | د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورينو د پروګرام لپاره د فنډ کنترول او توزيع |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0210.000 | 8/21/2012 | د امريکا او د ايتلاف هڅو ارزونه تر څو د افغانستان سرحدي پوليس وروزې، تجهيز کړي او مشوره ورکړي |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0202.000 | 8/10/2012 | د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تجهيز کولو ارزونه |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AT-0170.000 | 5/11/2012 | د C-27A/G222 لپاره د فالتو سامانون شتون |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0163.000 | 4/25/2012 | د امريکا د اردو او د ايتلاف پر هڅو نظارت تر څو د روغيتا د خدماتو حالت ښه کړي او د داود خان د اردو په روغتون کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لپاره دوامداره روغتيايي لوجيستيک ته وده ورکړي. |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0137.000 | 3/9/2012 | د افغانستان د ملي پوليسو د استادی/روزنې او لوجيستيکي ملاتړ قرارداد له پروسو او طرزالعملونو څخه نظارت |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AT-0129.000 | 3/8/2012 | د افغان د ملي پوليسو ځواکونو د ملاتړ لپاره د داترون د مخابرې قرارداد |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JB-0126.000 | 3/8/2012 | په افغانستان کې د اردو له ساختماني پروژو څخه د هوايي ځواکونو د انجنيری او چاپيريال مرکز د اداره کولو او نظارت قرارداد |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0090.000 | 2/28/2012 | د امريکا او ايتلاف هڅې تر څو د افغانستان په ملي اردو کې مشران وروزي |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-DT0TAD-0002.000 | 2/14/2012 | په افغانستان کې د اردو په غوره شويو تاسيساتو کې د اور د مخنيوی د ستندرد لپاره د ساختماني چارو د اطاعت تخنيکي ارزونه |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-DT0TAD-0001.000 | 2/14/2012 | د افغانستان په غوره شويو تاسيساتو کې د بريښنا له ستندرد سره د اردو د ساختماني چارو اطاعت تخنيکي ارزونه |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0085.000 | 1/6/2012 | د امريکا هڅې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سوق او ادارې د سيستم د پراختيا لپاره |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0075.000 | 12/7/2011 | د Mi-17 د بيا رغولو او د پيلوټ د ځای تغيراتو لپاره عملياتي قرارداد |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0031.000 | 11/17/2011 | د امريکا د ترانسبورت د قوماندانی لپاره د افغانستان د څرخي وزر د ترانسپورت قراردادونه |
| د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر-MERO | 12AUD79 | 12/2012 | د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په افغانستان کې د کم عسکري شتون لپاره انتقالي پلان کولو پلټنه |
| د امریکا د بهرنیو چارو وزرات د عمومي مفتش دفتر-MERO | 12AUD30 | 12/2011 | په افغانستان کې د مخدره موادو او قانون پلې کولو چارو د اصلاح سيستم نړيوال دفتر د ملاتړ پروګرام پلټنه |
| د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر-MERO | 11MERO1875 | 6/2011 | د بيړنې ګام پلان ارزونه — د کابل سفارت |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351772 | 9/20/2012 | په افغانستان کې د امريکا د دفاع وزارت طريقه، ترڅو په تير جنګ کې د امريکايی ځواکونو رول وپيژني |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 320924 | 7/5/2012 | د افغانستان مهمي مسلې |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351747 | 6/11/2012 | د امريکا دفاع وزارت د افغانستان د عامه محافظت ځواک ته سپارل |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351742 | 5/11/2012 | د دفاع وزارت د ځواکونو لپاره د امنيتي ځواک مرسته کونکي ونډ ّ |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351743 | 5/11/2012 | په افغانستان کې د مشورې ټيمونه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF100712 | 11/28/2012 | د USAID د افغانستان د سپارلو د پلانونو پلټنه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101412 | 10/14/2012 | د دريمو هيوادونو کارکونکو څخه د USAID افغانستان ګټه اخيستنې اروزنه |
| د عمومي مفتش دفتر | FF100612 | 10/9/2012 | پر لوړو معاشونو د USAID افغانستان د ادارې د کنترولونو ارزونه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101112 | 5/1/2012 | د USAID/افغانستان د کندهار د بريښنا د نوښت پلټنه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101712 | 10/25/2011 | د غوره شويو پروژو لپاره د USAID افغانستان د قوماندان د بيړنې ځواب پروګرام فنډ ارزونه |

سرچينې: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش ځواب، 12/21/2012، د سيګار معلوماتو غوښتنې په اړه د بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر ځواب، 1/2/2013، د سيګار د معلوماتو د غوښتې په اړه د حکومت د حساب ورکولو دفتر ځواب، 12/18/2012، د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د اردو د پلټنې د ادارې ځواب، 12/18/2012، د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID د عمومي مفتش دفتر ځواب، 12/17/2012.

لکه څنګه چې د میلیاردونو ډالر لګول په ا فغانستان کې دوام لري، له لمړیتوبونو څخه به د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د روزنې، تجهیز کولو، او دوام د قراردادونو د اخیستلو پر پروسې د نظارت او څارنې باندې کار کول وي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان شوي نظارت هڅې د افغانستان د امنیتي ځواکونو لکه د څرخې وزر د الوتکو، الوتکو، مهماتو، مخابرو او د شپې د لیدلو وسایلو د قراردادونو پر ادارې او نظارت باندې کار کوي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د اردو د ادارې لخوا د افغانستان د ملي پولیسو د قراردادونو د اداره کولو او بشپړ کولو د هڅو ارزونې او بررسی ته هم دوام ورکړي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د بیارغول، نوی ځایونو جوړل، پخلنځې او تفریح ځایونو جوړول، روغتیایي کلنیکونو، د پایګاه پراخول، او د پولیسو د ستیشنونو ساختماني کارونه دوام لري، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د اردو ساختماني پروژو د قرارداد له اداره کولو څخه په کلکه نظارت وکړي. د امریکا د دفاع وزرات د عمومي مفتش دفتر به د قراردادي لخوا د حکومت اداره شوي خپله شتمنی او د اردو د لوړې اړتیا وړ تجهیزاتو، د ادارې هڅې تر څو د افغانستان د دفاع وزارت په بنسټونو کې ظرفیت لوړ کړي او د مالي چارو پر اداره کولو باندې د کنترول پر حساب ورکولو باندې هم کار وکړي.

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر لخوا د جنوب لویدیځې آسیا د ګډ پلان کولو د ډلې مشري کیږي او د فیدرال او د امریکا د دفاع وزارت په بهر کې د بیړنې عملیاتو د نظارت فعالیتونو همغږې او ستونزې حل کوي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر له سیګار او له ملګرو عمومي مفتیشونو او د دفاع د نظارت ټولنې غړو سره خپلو کارونو ته دوام ورکوي ترڅو په افغانستان کې د نظارت ټولنې لپاره د 2013 مالي کال د پلټنې ستراتیژیک پلان چې اوس خپور شوی تطبیق کړي. د سیګار په مشری دا هڅه به د کانګرس او نورو اړوندو بنسټونو لپاره د بیارغونې د پروګرامونو له هڅو څخه ډیر فعاله نظارت برابر کړي.

## د پلټنې په برخه کې د عمومي مفتش د معاون دفتر

د دایمي آزادی د عملیاتو روان نظارت په ساختماني کارونو، د امریکا د کارکونکو د ځواکونو د محافظت پروګرام، د شتمنی حساب ورکول، غلط تادیات، د قرارداد اداره کول او مدیریت پشمول د ساختماني او ساختماني پروژو په اړه، د افغانستان د پولیسو د روزنې قرارداد، په افغانستان کې لوجیستیکي توزیع، روغیتایي خدمات، او د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره د فنډ ورکولو د پلان کولو او کنترولونو د نظارت په اړوندو برخو کې کارونه کوي.

### تر او له 2012 کال څخه وروسته د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو پخپلو پښو دریدلو لپاره د مهمي وړتیا اغیزمنې ودې او سپارلو د پلان کولو ارزونه

(پروژه شمیره D2013-D00SPO-0087.000 د 2012 کال د دسمبر په 18 پیل شوي)

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا د امریکا او د ایتلاف موخې، هدفونه، پلانونه، لارښونې، او شرچینې کافي دي تر څو د افغانستان ملي اردو او د افغانستان ملي پولیسو وړتیاو ته په ښه توګه وده ورکړي، اداره کړي، او مهم عملیاتي کارونه ورته وسپاري. پردې برسیره، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا کومو

مهمو عملیاتي کارونو ته اړتیا شته ترڅو له کال څخه وروسته ډېره وده ورکړ شي. پردې برسیره، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو وړتیا لپاره چې تمه کیږي او یا له 2014 کال وروسته به هم تر ودې لاندې وي کومو اصلاحي ګامونو ته اړتیا ده او دا ګامونه کوم دي. په حقیقت کې، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د ارزونه کوي چې کوم پلانونه او فعالیتونه باید جوړ شي چې د افغانستان د ځواکونو پخپلو پښتو دریدلو لپاره اړین دي تر څو عملیات پخپله ترسره کړي او دوام ورته ورکړي.

## د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې د افغانستان د ملي اردو د وجهې صندوق د دوام د پروژو لپاره د امریکا د دفاع وزارت او د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان برخې اخیستونکو هیوادونو د مرستې ارزونه

(پروژه شمیره D2013-D000FL-0056.000 د 2012 کال د دسمبر په 30 پیل شوي)

د دفاع وزارت د وزیر معاون (Comptroller)/مالي مشر افسر د دفاع وزارت/[USD(C)/CFO] د دې ارزونې غوښتنه کړې. د پلان لري تر څو پردې ټینګار وکړي چې دا لاندې محال ویشونه په ټولو مادي برخو کې په عادلانه توګه وړاندې شي:

- د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د تایید شوي دوام پروژو لپاره د برخه اخیستونکو هیوادونو محال ویش.
- د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې د افغانستان د ملي اردو وجهي صندوق لپاره د برخه اخیستونکو هیوادونو د مرستو مالي وضعیت محال ویش د تایید شویو پروژو د دوام لپاره امریکا ته وسپارل شو.

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا USD(C)/CFO د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د فنډونو له اخیستلو او لګښتونه څخه په سمه توګه استازیتوب کړی، او د امریکا او د شمالي اتلانتیک او په اروپا کې د متحدینو د اعلي قوماندانی مرکز تر منځ د تفاهم د یادښت پر اساس د فنډ د مرستو اداره کول او مدیریت شوی، تر څو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ او دوام سره مرسته وشي. پردې برسیره، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د خپلو اړوندو کارونو په اړه دمالي راپور ورکولو او له قانون او مقرراتو څخه اطاعت په اړه به د کورني کنترول اروزنه وکړي د دې ویل شویو محال ویشونو مسولیت لري. USD(C)/CFO د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر مسولیت لري ترڅو دخپلو ارزونو پر اساس نظر ورکړي.

## د شینډند د روزنې قراردادونه

(پروژه شمیر D2013-D000AS-0052.000 د 2012 کال د نومبر په 1 پیل شوي)

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آیا د شینډند په هوایي ډګر کې د ثابته او څرخې وزر طیارو د پیلوټانو لپاره د روزنې قراردادونه څخه په سمه توګه د فیدرال او د امریکا د دفاع وزارت د مقرراتو پر اساس مدیریت او اداره تر سره شوي. په ځانګړې توګه، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آیا د قرارداد مقررات پر ځای شوي او د قرارداد د نظارت اغیزمنتیا ارزونه به وکړي.

## د امریکا د ترانسپورت قوماندانی لپاره د افغانستان د څرخې وزر پروګرام ملاتړ قرارداد د نظارت چوکاټ

(پروژه شمیره D2013-D000AS-0001.000 د 2012 کال د اکتوبر په 5 پیل شوی)

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د څرخې وزر د ترانسپورت د قرارداد په اړه له څو پلټنو څخه خپله دویمه پلټنه ترسره کوي. ټولیزه موخه داده چې دا وکتل شي چې آیا د امریکا د ترانسپورت قوماندانی او د امریکا مرکزي قوماندانی چارواکي د قراردادونو لپاره د نظارت مناسبې پروسې او طرزالعملونه لري. لمړی پلټنه د "امریکا د ترانسپورت قوماندانی لپاره د افغانستان د څرخې وزر د ترانسپورت قرارارددادونه" و (D2012-D000AS-0031.000).

## د افغانستان د بګرام په هوایی ډګر کې د ځانګړو عملیاتي ځواکونو د تاسیساتو د اردو ساختماني پروژو د قرارداد نظارت او اداره کول

(پروژه شمیره D2012-D000JA-0221.000 د 2012 کال د سپتمبر په 28 پیل شوی)

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د اردو ساختماني پروژو لپاره اغیزمن نظارت برابر کړي. په ځانګړې توګه، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آیا د امریکا د انجنیرانو قول اردو د قراردادي له فعالیت څخه په مناسبه توګه نظارت کوي او د بګرام په هوایی ډګر کې د ځانګړو عملیاتي ځواکونو لپاره د ساختماني پروژو د کیفیت د ډاډ مسولیتونه په مناسبه توګه ترسره کوي.

## د افغانستان د دفاع وزارت لپاره د مشاورینو پروګرام د فنډ پر توزیع کنترولونه

(پروژه شمیره D2012-D000JB-0209.000 د 2012 کال د اکست په 23 پیل شوی)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آیا د افغانستان دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام چارواکو د امریکا دفاع وزارت نورو اداره ته دفنډ توزیع لپاره مناسب کنترولونه جوړ کړي. دا پلټنه د افغانستان د دفاع وزارت د مشاورینو د پروګرام د څو پلټنو په لړۍ کې دویمه پلټنه ده (پروژه لمبر D2012-D000JB-0093 پدې لړۍ کې لمړی پلټنه وه)

## د امریکا د حکومت او ایتلاف د هڅو ارزونه تر څو د افغانستان سرحدي پولیس وروزي او تجهیز کړي

(پروژه شمیره D2012-D00SPO-0210.000 د 2012 کال د اکست په 21 پیل شوي)

د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آیا د افغانستان د سرحدي پولیسو (ABP) د روزلو او تجهیز کولو لپاره د امریکا او ایتلاف د پلان کولو او تطبیق کولو هڅې اغیزمني دي. او پدې کې د افغانستان د سرحدي پولیسو په بیلا بیلو موقیعتونو او د کارونو په بیلا بیلو پړاونو کې د پایلو ارزول شامل دي تر څو د افغانستان د سرحدي پولیسو د ودې او د کورنیو چارو وزارت د ودې تر څو پروګرام اداره کړي، په اړوند د امریکا او ایتلاف د هڅو اغیز وکتل شي.

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تجهيز کولو ارزونه

(پروژه لمبر D2012-D00SPO-0202.000 د 2012 کال د اګست په 10 پيل شوي)

د امريکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آيا د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لپاره تجيهزات او مهمات، چې د افغانستان د ځواکونو په فنډ اخيستل کيږي، د اوسنې تاييد شوي اندازې څخه ډير اخيستل شوي دي. پردې برسيره، د عمومي مفتش دفتر په دا هم وګوري چې آيا په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموريت/د افغانستان د امنيت ګډې قوماندانی د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو له اوسنی اندازې څخه د تجهيزاتو او موادو ډيره ګټه اخيستنې په اړه، که شتون ولري يو پلان جوړ کړی. پردې برسيره، د امريکا د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آيا د امريکا دفاع وزارت يو وړانديز جوړ کړی ترڅو د افغانستان د امنيتي ځواکونو فنډ قانون تعديل شي تر څو ګانګرس صلاحيت پيدا کړي، که ورته اړتيا وي، تر څو پيژندل شوي اضافي تجهيزات او مهمات که شتون ولري، بيرته ترلاسه کړي. پردې برسيره، د عمومي مفتش دفتر پلان لري تر څو دا وګوري چې آيا د امريکا دفاع وزارت د افغانستان ملي ځواکونو څخه دباندې د پيژندل شويو تجهيزاتو او مهماتو چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو فنډ څخه اخيستل شوي، که شتون ولري، د بيرته ترلاسه کولو او يا بيرته ګټه اخيستلو لپاره پلانونه جوړ کړي.

## د C-27A/G222 لپاره د فالتو سامانون شتون

(پروژه شميره D2012-D000AT-0170.000 د 2012 کال د مې په 11 پيل شوی)

د افغانستان د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آيا د C-27A/G222 لپاره د فالتو سامانونو لګښت او شتون به د افغانستان هوايي ځواکونو لپاره د الوتکې دوامداره ګټه اخيستنې ته هم اجازه ورکړي.

## د امريکا د اردو او د ايتلاف پر هڅو نظارت تر څو د روغيتا دخدماتو حالت ښه کړي او د داود خان د اردو په روغتون کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لپاره دوامداره روغتيايي لوجيستيک ته وده ورکړي

(پروژه لمبر D2012-D00SPO-0163.000 د 2012 کال د اپريل په 25 پيل شوي)

د امريکا د دفاع وزارت د عمومفتش دفتر په منظمه توګه د امريکا او د ايتلاف د هڅو ارزونه کوي تر څو د افغانستان په کابل کې د داود خان د ملي اردو په روغتون (NMH) کې روغتيايی خدماتو اداره کول او د ناروغانو علاج، او اړونده د نظافت حالت او د روغتيا لوجيستيک پروسې ښه کړي. دا هڅه په ځانګړې توګه د عمومي مفتش د غوښتنې په اړه غبرګون ښيې، تر څو "په NMH کې د افغانستان د ملي ځواکونو لپاره د دوامدارې روغتيا د ودې، د روغتيا لوجيستيک او د روغتيا د خدماتو وړتيا له کارونو څخه په عملي توګه له نږدې نظارت ترسره شي." د امريکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش په يوه يادښت کې دا پيام د افغانستان لپاره د امنيت د سپارلو ګډه قوماندانی، قوماندان ته د 2011 کال د دسمبر په 2 رسول شوی.

## د افغانستان د ملي پوليسو د استادی/روزنې او لوجيستيکي ملاتړ قرارداد له پروسو او طرزالعملونو څخه نظارت

(پروژه لمبر D2012-D000AS-0137.000 د 2012 کال د مارچ په مياشت کې پيل شوي)

د امريکا د دفاع وزارت د عمومفتش دفتر د افغانستان د ملي پوليسو د استادی/روزنې او لوجيستيکي ملاتړ قرارداد د پلټنو په لړی کې دويمه پلټنه ترسره کوي. د پلټنو د لړی ټوليزه

موخه داده تر څو دا وکتل شي چې آیا د امریکا د دفاع وزارت چارواکې د قرارداد کولو له مناسبو پروسو څخه کار اخلي تر څو د ماموریت اړتیاوې پوره کړي او د فیدرال او د امریکا د دفاع وزارت د پالیسیو پر اساس د قرارداد نظارت په مناسبه توګه ترسره کوي.

د دې پلټنې لپاره، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آیا اردو، NTM-A/CSTC-A او DCMA د قرارداد لپاره په مناسبه توګه پروسې او طرزالعملونه لرلي. پردې برسیره، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش به دا وګوري چې آیا اردو، NTM-A/CSTC-A او DCMA په مناسبه توګه د قراردادي ارزونه کړي. پدې لړۍ کې لمړۍ پلټنه د "افغانستان د ملي پولیسو د استادی/روزنې او لوجیستیکي ملاتړ قرارداد" پلټنه ده، راپور شمیره DODIG-2012-094 د 2012 کال د می په 30 میاشت کې پیل شوی.

## د افانستان د ملي پولیسو د ځواکونو د ملاتړ لپاره د داترون د مخابرې قرارداد

(پروژه لمبر D2012-D000AT-0129.000 د 2012 کال د مارچ په 8 پیل شوی)

د امریکا د دفاع وزرات د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آیا د داترون د مخابرې د قرارداد ورکولو لپاره د اردو د اړیکو او بریښنایي تجهیزاتو قوماندانی اغیزمنې پالیسی او طرزالعلونه تطبیق کړي، مناسبه او عادلانه قیمتونو باندې یې خبرې کړي، پروخت سپارل یې تصدیق کړي، او د منل شویو اړتیاو پر اساس یې د کیفیت ډاډ اندازې تاسیس کړي.

## په افغانستان کې د اردو له ساختماني پروژو څخه د هوایي ځواکونو د انجنیری او چاپیریال مرکز د اداره کولو او نظارت قرارداد

(پروژه لمبر D2012-D000JB-0126.000 د 2012 کال د مارچ په 8 پیل شوی)

